Afghan Salar Library

۲۷ از ۲۸

# ورک سړی

## جاسوسي ناول



لیکوال: امیر عشیري
ژباړن: جبار فراز

# سریزه

## د لهجو کمال

خیني کسان د ادبي غونډو په کره کتنو کې د معیاري ژبې په پلویتوب خبرې کوي. که یو څوک په خپل شعر یا نثر کې مثلاً د "هګۍ" پر ځای "هویه" ولیکي یا د "کمیس" پر ځای "خت" وکاروي، نو دوی وربانديې نیوکه کوي چې "هویه" او "خت" معیاري کلمې نه دي. داسې بحثونه کله کله د یوې لهجې ویونکي خوابدي کوي او ممکن د ځوانو لیکوالو، شاعرانو د بې لارې کېدو سبب هم وګرځي، دوی به ګومان وکړي چې دا نظر سم دی او بیا به هېڅ کله د خپلې لهجې کلمې استعمال نه کړي.

کلمې که د هرې لهجې وي، کلمې دي، معیاري او نامعیاري ګردسره په کې نشته. د هغو کلمو په باب چې په اصل کې یوه وي، خو په مختلفو لهجو کې بې وینګ بېل وي، بیا یې د املا په برخه کې د معیاري بڼې خبره کېدای شي. لکه "پښه" چې په ختیزه لهجه کې "خپه" ویل کېږي. دلته لازمه ده چې ټول د کلمې اصلي بڼه (پښه) ولیکو، ځکه چې له یوې خوا "خپه" بیا له "خپه = مرور" سره التباس پیدا کوي او له بلې خوا په لیکلو کې د ګډوډۍ سبب، کېږي. یا مثلاً "مور" "مېر" بولي. که دوی د خپلې لهجې له تلفظ سره سم لیکل، وکړي، نو لویه ګډوډي به راجوړه شي.

دغه مثالونه وګورئ: "خنډ دې وکړ"، "تر ټولو تکړه"، "یو شخوند ډوډۍ" دا هغه جملې او فقرې دي چې په لوستلو یې سړی په عذابېږي. "خنډ" پخپله هم درنه کلمه ده، (ن) او (ډ) دواړه په کې ساکن دي او چې بیا بل ناغږن توری (د) هم ورپسې جوخت راشي، تلفظ یې لا سختېږي. "تر ټولو تکړه" کې بیا دا غم

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دی چې په سر کې يې (ت) وروسته (ټ) او وروسته بيا (ت) په کې راغلي دي. د دې فقرې تلفظ خصوصاً هغو کسانو ته سخت وي چې مورنۍ ژبه يې پښتو نه ده. "یو شخوند ډوډۍ" کې په "د" پسې "ډ" ژبه درنوي چې شخوند دې وويل، مجبور يې یوه شببه مکث وکړې، بيا ډوډۍ ووايې. د ښه کلام يوه ځانګړنه سلاست دی، سلاست دې ته وايي چې جملې په اسانۍ سره روانې ولوستل شي او ژبه په کې بنده نه شي. پورته مثالونه که داسې وليکو نو د سلاست ستونزه به يې له منځه لاړه شي: "ډيل دې وکړ" "تر ګردو تکړه" "يوه ګوله ډوډۍ" "ډيل" په کونړي لهجه کې د "خند" معنا لري، په کندهاري لهجه کې "ټول" ته "ګرد" وايي. "ګوله" د غزني او کندهار د سيمې خلک د "شخوند" په معنا کاروي.

موږ په مختلفو لهجو کې د یوه شي لپاره ګڼ نومونه لرو. څومره چې په يوه ژبه کې مترادفې کلمې زياتې شي، هماغومره ژبه وربانديې ښکلې کېږي. ممکن په يوه جمله کې "ببره" خوند وکړي، خو په بله کې بيا "تلوار" ښه ولګېږي او ښايي بلې جملې ته به "تادي" ښه موسيقي وروبخښي.

د معنا د دقيقې افادې لپاره هم په نورو لهجو کې داسې کلمې او اصطلاحات موندلی شو چې په خپله لهجه کې يې نه لرو. موږ "زړه مې بدېږي" کله د "خوا مې ګرځي" په معنا کاروو او کله د "خوا مې ورته بدېږي" په معنا. "کانی"، "تيږه"، "ډبره"، "کمر" او "ګټه" د اندازې له نظره سره يو شان نه دي. "لوی"، "غټ" او "ستر" ته د کاروني بېل بېل ځايونه ټاکلی شو. البته دا کار بايد په طبعي توګه ترسره شي، نه په لوی لاس. زه فکر کوم که موږ هر يو د هرې لهجې اصطلاحات په خلاص مټ وکاروو، نو ژبه به مو طبعي تکامل وکړي او هرې کلمې ته به خپل نقش ورکړي.

داسې خبرې هم شته چې په يوه لهجه کې به نسبتاً خېږه، خو په بله لهجه کې به يو څه نرمه وي. که يو چا ته ووايو "ته نه پوهېږې" ممکن راته خپه شي، خو که همدا خبره ورته داسې وکړو چې "ستا سر پرې نه خلاصېږي" هغومره به پرې بده ونه لګېږي. دلته د جملو اروايي اثر هم اهميت لري. په اوله جمله کې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مخاطب گرموو، یعني گناه ستا ده، ته نه پوهېږې. خو په دويمه جمله کې گناه د مخاطب د سر پر غاړه اچوو، "سر دې پرې نه خلاصېږي" داسې ضمني معنا هم لري چې گناه خو ستا نه ده، گناه دې د سر ده چې نه خلاصېږي. بني ادم تل غواړي بري الذمه وگڼل شي. ځينې توکماران په توکو کې چا ته وايي: "ته خو ډېر ښه سړی یې، خو هغه ورور دې سخت پدر نالتی دی" دوی سړي داسې ښکنځي چې ډېر بد پرې ونه لگېږي.

په لهجو کې ممکن د هغو شيانو لپاره هم نومونه ومومو چې فکر کوو، زموږ په ژبه کې به نه وي او د نيولوگيزم په مرسته ورته نوي نومونه جوړوو. يوه ورځ مې يوه ملگري ته وويل: زه خو کله-کله کلانکاري کوم. هغه وويل: زموږ په لهجه کې کلانکار ته "ستر چاری" وايي. د نيولوگيزم يوه ستونزه دا ده چې اکثره وخت داسې ترکيبي نومونو په کې جوړېږي چې تلفظ يې اسانه نه وي او د ښکلا پېژندنې له نظره بدرنگه وي.

که موږ هر يو د هرې لهجې اصطلاحات سره يو شان وکاروو، نو بالاخره به يوې واحدې ليکنۍ ژبې ته هم سره ورسېږو چې د معياري ژبې پلويان يې د جوړېدا هڅه او تمه کوي. که داسې وخت هم راشي چې ټول پښتانه لوستي وي، نو د واحدې ليکنۍ ژبې په برکت به ممکن واحده گړنۍ ژبه هم پيدا کړو او که داسې وشول، نو د قبيلويت له بنده به يو څه راووځو او د قوميت خوا ته به ورنژدې شو.

*ډاکټر محب زغم*

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د هند او پاکستان د اوسنی پولې په اول تمځای کې، چې نوم مې یې اوس هېر دی، اورګاډي ته وختلم. هغه مهال رسمي سرحد شتون نه درلود. دا اورګاډی کوېټې ته، چې د ایران پولې ته تر ټولو نژدې ښار دی، روان وو. د ترېن ډبې له یوه سره تر بله ټولې زړې او خنګ وهلې وې. هغه مهال همدا هم لوی غنیمت وو، ځکه هره خوا د وېرووونکي جګړې لمبې بلې وې چې پر هر څه یې خپله خونړۍ ژبه راتېره کړې او د زړښت په لوګیو یې لړلي ول.

پر یوه اوږده لرګینه څوکۍ کښېناستم. مخامخ مې یوه بهرنۍ ښځه او سړی ناست ول. سړی کشیش وو او ساده-پاده جامې یې اغوستې وې. په ونه دنګ وو او اوږد مخ یې درلود. ښځه بیا نسبتاً ځوانه ایسېده. سپینې عینکې یې پر سترګو وې. په دا نیمه شپه دواړه مطالعې ته ارم ول.

څو دقیقې وروسته کشیش خپل کتاب وتاړه او په دې پوښتنه یې د باندار ور پرانیست:

- هندی یې؟

ځواب مې ورکړ:

- نه، خو د هندوستان په ساحلي ښارونو کې څو کاله اوسېدلی یم او اوس بېرته خپل وطن ایران ته روان یم.

د ایران د نوم په اورېدو یې په روانه فارسي راته وویل:

- ستا د پوست له رنګه مې د هندي ګومان دریاندې وکړ، خو دا چې ایرانی یې، نو د سفر په ملګرتیا دې خوشحاله شوم.

- همداسې ده. د هندوستان تر سوځوونکي لمر لاندې کلونه-کلونه کار کول ان له یوه سپین پوستي څخه لا تور پوستی جوړوي، زه خو لا بیا هم د جنوبي ایران او ذاتاً غنمرنګه یم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کشیش لاس راوغځاوه او ویې ویل:

- زه جرمنی یم او لودویک نومېږم. څو واره مې ستاسې هیواد ته سفرونه کړي او اوس دا دی بیا ور روان یم. حتماً به دې ته هم حیران یې چې فارسي مې نو کله او چیرې زده کړې ده.

ورته کړل مې:

- دومره هم نه یم حیران شوی، ځکه خامخا د بهرنیو ژبو د زده کولو ښه استعداد لرې.

لودویک راته کړل:

- گومان دې پر ځای دی. فرانسوي، انگلیسي او ان عربي مې هم ښې زده دي. دا ځکه چې په دغو هیوادونو کې ډېر وخت اوسېدلی یم. بل دا چې زه د یوې تبلیغي مذهبي ډلې غړی یم. زموږ یوه دنده دا ده چې بېلابېلو هیوادونو او لیرې پرتو جزیرو ته ولاړ شو او هلته د عیسویت دعوت وکړو. اوس دا راته ووایه چې تا په هندوستان کې څه کار کاوه؟

ځواب مې ورکړ:

- ما هلته د سمندري ترانسپورټ په شرکتونو کې کار کاوه.

خو زه په حقیقت کې یو قاچاقبر وم او پر خپل دې خطرناک کاروبار پښېمانه هم نه وم، مگر بیا مې هم کشیش ته درواغ وویل.

لودویک وویل:

- دا خو ډېر ستړی کار دی!

- سرچېه، زه ډېر پکې خوشحاله وم.

- نو بېرته ورته راګرځې؟

- بالکل، چې څنګه مې په ایران کې کارونه خلاص کړل، دستي بېرته راستنېږم.

ورسره کتاب یې پر څوکۍ بغل ته کېښود او ویې ویل:

- نو لکه چې ملګرتیا مو ډېره لنډه ده؟

- همداسې یې وبوله... ربښتیا، دا مېرمن هم ستاسې د مذهبي ډلې غړې ده؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لودویک د سترګو تر کونجو ور وکتل او وروسته یې راته وویل:
- نه، نه یې پېژنم. همدلته سره شناخته شوو. ته کولای شې په انګلیسي ورسره وږغېږې.
وروسته یې هغې ته مخ کړ او ویې ویل:
- مطالعې نه یې ستړې کړې؟ شپه تر نیمایي اوښتې ده، لږ ارام وکړه.
ښځې له کتابه سر راپورته کړ، په موسکو شونډو یې ما و لودویک ته وکتل او ویې ویل:
- نه مې غوښتل چې ستاسې مزاحمت وکړم او داده اوسئ، مطالعه مې هېڅکله نه ستړې کوي
لودویک موږ دواړه یو و بل ته سره معرفي کړو. ایرما نومېدله. ویل یې د اتریش ده او په فیلیپین کې د خپل مېړه تر مړینې وروسته ایران ته خې او غواړي له هغې لارې د منځنی اسیا په هیوادونو کې وګرځي. ګړی وروسته درې واړه خوبولي شوو او پر خپل-خپل ځای مو سترګې پټې شوې...
لکه څنګه چې مې مخکې وویل زه یو مسلکي قاچاقبر وم او خوب و ویښتیا راته یوشان وه؛ یوه کوچني کړپ له هر څومره زور خوبه راویښولم. یو سپک ږغ مې واورېد، رابیداره شوم. راونه غورځېدم، بلکې صرف سترګې مې لوڅې کړې. په هېښتیا مې ولیدل چې لودویک یو کوچنی بیک پر څنګنو ایښی او چابک-چابک یو شی پکې لټوي. د لاسونو خوځېدو نه یې خیر شوم... په څېره کې یې د تلوار نښې له ورایه ښکارېدې. پوه شوم چې بیک یې خپل نه دی او شاید د ایرما وي. کله چې د مطلوب څیز له موندلو مایوسه شو، په ښی لاس یې د تندي خولې پاکې کړې، په چټکی یې بیک بند کړ او پر خپل ځای یې کېنېنود. سملاسې یې د خپل اوږده تور کمیس له جیب څخه یوه کوچنی پانه راوایسته، ورته ویې کتل، بېرته یې کټ-کټ کړه او جیب ته یې واچوله.
په دې کې مې چورت بند شو چې لودویک نو د ایرما په بیک کې څه شی لټول؟ اخیر دې پایلې ته ورسېدم چې دا دوه له شک پرته د یو او بل له کیسې خبر دي او

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

تر منځ بې ضرور بو راز شته. همدغه فکر مې پلټونکی حس راوپاراوه. نو بوې مناسبې موقع ته په تمه شوم تر څو د خپل دغه سوال ځواب پکې ومومم.

ایرما لا هماغسې ویده وه. خو دا چې ایا د هغې خوب هم زما د هغه په شان ټکماري وه که نه، خبر نه یم. لودویک خپل له سوچونو ډک سر شاته تکیه کړ. زما خوب نور وتښتېد بس هسې مې سترګې پټې کړي وې.

* * *

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د سفر دوهمه شپه وه. سبا منزل ته رسېدو. نژدې بورلس بجې وې چې بودم اورګاډی ودرېد. دا په داسې حال کې چې تمځای ته لا ډېره لار پاته وه. مسافر په وارخطايي له خپلو ځايونو راوغورځېدل. لودويک راځخه وپوښتل:
-کومه ستونزه ده؟
ورته کړل مې:
- حتماً ماشين کومه خرابي پيدا کړې ده او فکر نه کوم چې تر ساعت زيات دې ودرېږو.
تر خواب ورکولو سملاسې وروسته له ډبې څخه راووتم چې د اورګاډي د نابېره درېدنې لامل ځان ته مالوم کړم. کله چې راکښته شوم او شاوخوا سيمه مې تر نظر تېره کړه، نو شېبېږم حس مې خبرداری راکړ چې کيسه څه بل شاني ده. ځکه دا ځای د لاروهونکو او غلو مشهورې کلا نوکندي ته نژدې پروت وو. اورګاډی هم په دې خاطر درېدلی وو چې هغوی پر پټلۍ باندې قصداً بو خنډ ايښی وو. بېله خنډه خپلې ځوکۍ ته راستون شوم.
لودويک وپوښتل:
- څه کيسه وه؟
ځواب مې ورکړ:
- څو دقيقې وروسته حرکت کوو.
ايرما وپوښتل:
- دا ډېر خطرناک ځای ښکاري.
لودويک وويل:
- که نوکندي کلا ته نژدې وو، نو د بې رحمو لاروهونکو منګولو ته به ولوېږو.
پوه شوم چې يار لالا هم د نوکندي په باب مالومات لري. په همدې خبرو کې وو چې اورګاډی ناڅاپه بيا وخوځېد. مسافر هم بېرته پر خپلو ځايونو کښېناستل.

د اورګاډي له بیا روانېدو یو پاو نه وو تېر شوی چې نابېره درې وسله وال کسان چې مخونه یې لمر وهلي او پنډ-پنډ بریتونه یې درلودل او په لیدو یې سړي ته وېره ورلوېده، زموږ په ډبه راننوتل. د هغوی راتګ دومره ناڅاپي وو چې تا به ویل له ځمکې راوتلي دي.

سملاسي یې د توپکونو خولې مسافرو ته نیغې ونیولې. موږ ته لږ رانژدې وسله وال کس شا طرف ته ولاړ او خپل لوی او وېروونکی بدن یې پر یوه جوړی، چې له ډېره ډاره یې یو و بل په غېږ کې تېنګ سره نیولي ول، ور کوږ کړ. ښځې چیغه کړه، بېرته چابک خاموشه شوه. ځکه غله په اردو ورته وویل:

- غلې شه کنه په مرمیو به دې سوری-سوری کړم!

زه سره له دې چې جېبونه مې تش ول، بیا هم له ډاره یو غرت ولاړ وم او هېڅ مې سر نه خلاصېد چې دا تور دېیان له دې غریبو مسافرو څه غواړي؟ او ایا په نورو ډبو کې هم همدا معامله ده او که دغه درې تنه یوازې زموږ ډبې ته راپورته شوي دي؟ اورګاډی همداسې روان وو او زموږ په سینو کې زړونو توپونه وهل.

ایرما او لودویک موږ ته په نژدې ولاړ وسله وال کې سترګې ګنډلي وې. دغې صحنې ډېر دوام ونه کړ؛ څو دقیقې وروسته اورګاډی بیا کرار او د بریکونو ګړهاری یې واورېدل شو. د اورګاډي له درېدو سره سم دوه وسله وال زموږ دریو خوا ته راغلل او د توپک په څوکه یې له ډبې څخه د کوزېدلو اشاره راته وکړه.

ما بېله خنډه خپل بیک راواخیست او پاڅېدم، خو لودویک او ایرما لا ناست ول. یوه لاروهونکي په اردو ورته وویل:

- ژر کوز درکښته شئ!

ما د هغه د خبرو انګلیسي ترجمه ورته شروع کړه، لا مې جمله نه وه ختمه کړې چې لودویک او ایرما بیکونه ورواخیستل او په ما پسې شول. درې واړه لاروهونکي هم راپسې راکښته شول، سملاسي یې درې هوايي ډزې وکړې او موږ یې د اورګاډي پای طرف ته په مخه کړو. اورګاډی بېرته روان شو.

لودویک راته کړل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- عجیبه ده چې هیڅوک ان د ترټولو کارکوونکې مو هم مرستې ته نه راځلل!

ورته ومې ویل:

- ستا په فکر دا یو پوځي ترین وو چې وسله وال ساتونکې به یې لرل؟ همدا درې ته غله د ټولو مسافرو او ترین کارکوونکو د بې‌غملولو لپاره کافي ول... په دې توره او تیاره دښته کې څوک د داسې خلکو په مقابل کې درېدلای شي! خوره دا ده چې خپل برخلیک ته ځان وسپارو.

لودویک ورېل:

- ستا خو لودو زده ده. ونیسه زموږ د راکټ کولو لامل ځني وپوښته.

بده خبره یې نه وه کړې. سملاسې مې له هغوی سره پوښتلو ته ځان چمتو کړ. شا ته مې وکتل او ورته ومې ویل:

- موږ مو ولې بې‌غمل کړو؟

یوه یې راته وویل:

- موږ نه یو خبر!

لیرما وپوښتل:

- په دې تکه توره دښته کې به څه راسره وکړي؟

ځواب مې ورکړ:

- باید زغم وکړو!

زه خپله خو د اوږد تر ګړه وتلی سړی وم. یو عالم سړې او نوډې مې لیدلې وې او له دغسې پېښو مې خار نه خوړ. یوازې له دې وېرېدم چې هسې نه د لودویک او لیرما په څېر کې ولاړ شم. څکه سل په سل کې داډه وم چې دغه لاروهونکې په همدغو دوو کسانو پسې راغلې دي. خو په دې مې یا هېڅ سر نه خلاصېده چې زه نو ولې ورسره پسلو شوم. هغوی له هېڅ مسافر څخه شی وانه خیست. بس سیده موږ ته راغلل او راکوز یې کړو. نه پوهېږم څومره وخت د هغو دریو وسله والو په محاصره کې ولاړ وو. باید څه باندې نیم ساعت تېر شوی وو چې د خاموشۍ او تکې تورې دښتې له زړه څخه د اسونو د پښو ټکهارې واورېدل شو. شپه ورو ورو

اووه اسونه چې یوازې دوه تنه سپاره یې لرل، راورسېدل. له ولاړو وسله والو سره یو څه ووږغېدل. وروسته لودویک پر یوه او زه و ایرما یې پر بل اس کښېنولو. څېله هم پر نورو اسونو سپاره شول او پر داسې یوه لوري چې له تیارې پرته بل هېڅ شی نه ښکارېد، روان شوو.

داډه وم چې ډېر ژر به د تاریکی له زړه څخه د لاروهونکو استوګنځای راووزي او په ټوله کیسه به مې سر خلاص شي. حدس مې سهي وو، تر یو څه مزل وروسته یوه ودانۍ راښکاره شوه. ورو مې ایرما ته وویل:

- دا دی راورسېدو... ایا سره زر درسره دي؟

هغې راته کړل:

- په قسم سره درته وایم چې له سلو لېرو پرته بل خاورې لا ولاکه لرم. ایا هغوی ډېرې پیسې غواړي؟

ترې ومې وپوښتل:

- ایا دا سل لېرې د سرو زرو دي؟

- نه، کاغذي دي.

- ښایي لودویک کافي مال ولري.

- ستا په نظر له هغه سره سره زر دي؟

- خدای خبر، صرف یو حدس مې وواهه.

- که دې حدس سهي وو، نو یوازې به خپل ځان خلاص کړي، خدای خبر چې پر ما و تا به څه ټکه راپرېوزي.

ورته کړل مې:

- خیر، وګورو چې څه پېښېږي.

لودویک یو څو ګامه تر موږ مخکې روان وو. زه په دې اند وم چې دا مرموز کشیش خامخا ښې ډېرې پیسې لري، خو دا چې د نوکندي لاروهونکي څنګه د هغه په دې راز خبر شوي دي، په دې معما مې بیا هېڅ سد نه رسېد.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کرار-کرار نوکندي کلا رابنکاره شوه او د هغې د دروازې مخې ته له اسونو څخه پلې شوو. تکه توره تیاره وه، دروازه مو پوره نه لیدله. د وسله والو په لارښوونه کلا ته ورننوتو. یوې پوښلې گوښې ته یې ور دننه کړو او څو دقیقې وروسته یې ایرما راڅخه بېله کړه.

لودویک په اندېښمن انداز راڅخه وپوښتل:

- دا یې چیرې بوتله؟

- نه پوهېږم، زموږ نوبت هم را روان دی.

زه ډېر بد ناکراره او اندېښمن وم او سره له دې چې د ژوند په اوږدو کې مې بېشمېره ماجراوې لیدلې وې، بیا هم دلته لار و گودر را څخه ورک ول؛ نه مې وړاندې د تېښتې کومه موقع تر سترگو شوې وه او نه مې هم اوس لیدله. دا گړۍ بوازې خپل غم اخیستی وم او چې رښتیا شي لودویک و ایرما مې بېخي په یاد هم نه ول. شېبه وروسته ایرما چې د مخ بڼه یې الوتې وه، بېرته راغله او زما څنگ ته ودرېده. همدا چې یو څه ویلو ته یې خوله جوړوله، وسله والو ما ته د تگ اشاره وکړه.

په یوه کنډواله دالان کې تېر او یوې پوښلې خونې ته چې یوه پنډه پرده پر راخوړنده وه، ورننوتو. هلته دننه یو نفر ولاړ وو او شا یې زما خوا ته وه. څو شېبې وروسته یې مخ را واړاوه. زه او هغه دواړه د یو و بل په لیدو وازه خوله شوو:

- دا ته یې... له دې بلاوو سره څه کوې؟

ور مخکې شوم، غېږه مې ورکړه او پر مخونو مو سره ښکل کړل. ورته کړل مې:

- د دې لاروهونکو مشر ته (شانیها) یې؟ هیڅ مې زړه ته نه لوېږي.

- باید زړه ته دې ونه لوېږي... ډېر وخت کېږي چې په دې معامله اخته یم. هماغه وخت چې په بمبیي کې سره بېل شوو، زه سیده له لاروهونکو سره یوځای شوم. او تا نه خو نو بیا زما بیداري بنه درمالومه ده... ډېر ژر مې د هغوی مشر له منځه یوړ او اوس یې تاجه پاچا یم. دلته ستا لیدلو هم خوشحاله او هم حیران کړم ولا.

ورته ومې ويل:

- ته ما پرېږده، په هغو نورو دوو څه کوې؟ هغه ښځه يوازې سل لېرې لري... خو د کشيش په جيب لا نه يم خبر.

شانيها بوه مانداره خندا وکړه او په خواب کې يې راته وويل:

- خبر يم، لږ صبر لا وکړه، ساعتکی وروسته دې بېرته خوشې کوم.

- نو دا نور دوه همدلته پاتېږي؟

هغه اوږې وخنډلې او ويې ويل:

- تر اوسه لا مالومه نه ده... اوس ته بېرته هغوی ته ورشه او زما و ستا د شناخت په باب څه مه ورته وايه.

زه يې بېرته خپل اولني ځای ته بوتلم او لودويک يې شانيها ته ورووست. ايرما راځخه وپوښتل:

- زموږ سره به څه وکړي؟

خواب مې ورکړ:

- زه خپله هم ولاکه پوهېږم. بايد صبر وکړو. يا مو وژني يا مو خوشې کوي.

وروسته مې پوښتنه ځنې وکړه:

- ستا ځخه يې څشي وغوښتل؟

راته کړل يې:

- هيڅ، هغه ستا انګېرنه سهي وه. هماغه شی يې رانه وغوښت.

- خو ته چې راغلې ډېره پرېشانه او نارامه ښکارېدې.

- همداسې ده. غوږ شه وخت کم دی. ايا پر تا باور کولای شم؟

- دا په تا اړه لري، ځکه صرف ځليرويشت ساعته کېږي چې سره پېژنو او په دومره لږ وخت کې د يو چا پېژندل ناممکن کار دی.

ايرما وويل:

- پروا نه لري، زه يا هم باور درباندې کوم. که زما کار را وکړې، نو ښې ډېرې پيسې به هم ترلاسه کړې.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ومې ویل:
- څنګه کار؟

په چټکۍ یې خپل لاسي ساعت راخلاص کړ او بیله دې چې ولاړ وسله وال یې وویني د سترګو په رپ کې یې په لاس کې راکښېښود او راته ویې ویل:
- زه اوس یوه پټه درکوم، دغه ساعت به هلته یوسې.

ترې ومې پوښتل:
- صرف د دغه کوچني ساعت د وروړلو په بدل کې ډېرې پیسې راکوې؟
- هو، نورې پوښتنې مه راځخه کوه. او اوس پټه ښه سمه په یاد کړه: د تهران له لاله زار څوک سره یوه لنډه کوڅه ده. د هغې په پای کې د پاریس بوفې په نامه یو دوکان دی. هلته د شپې له نهو څخه تر لسو بجو پورې یو سړی راځي. په کیڼ لاس یوه نسواري رنګه دسکله(دستکشه) اغوندي او په همدې لاس سګرېټ نیسي. منځنۍ ونه لري. بهرنی دی، خو فارسي یې روانه زده ده.

ایرما تر یوه لنډ ځنډ وروسته زیاته کړه:
- هغه زما لیدلو ته په تمه دی، هر څوک چې دا ساعت ورکړي، کټمټ داسې ده لکه ما چې ورسره لیدلي وي. که یې زما پوښتنه درځخه وکړه، نو ټوله کیسه ورته وکړه او ډاډه اوسه چې هر څومره پیسې غنې وغواړې دربه یې کړي.

د ایرما ماموریت دومره اسانه هم نه وو. یو کوچنی ښځینه ساعت مې باید په پاریس بوفه کې داسې یوه کس ته ورسپارلای چې په چپه لاس نسواري رنګه دسکله اغوندي او په بدل کې مې ډېرې پیسې غنې اخیستلای. زه یو قاچاقبر وم او دغه وړوکی ساعت بوازې یو ساعت نه، بلکې یو له رازه ډک شی راته ښکارېده. ایرما ته مې وویل:
- بل څه ویل خو به نه لرې؟
- نه، بس همدا ساعت هغه نفر ته ور ورسوه.
- خو که زه هم ستا غوندې ایران ته ولاړ نشم او...

په خبرو کې راولوېده او ویې ویل:

- تا له شک پرته خوشي کوي.
- نه څه خبره یې؟
- پوښتنه یې مه کوه، پرېږده چې لږ د ارامۍ ساه واخلم...

په دې وخت کې لودویک راستون شو. پر څېره یې د نارامۍ نښې څرګندې وې.
زموږ خوا ته راغی، مګر چوپ و غږپ وو. ایرما ترې وپوښتل:
- ستا سره یې څه وکړل؟

لودویک هېڅ ځواب ورنه کړ. دوې درې دقیقې وروسته یې بیا ایرما بوتله. ساعت ته مې کتل، پنځه ویشت دقیقې ووتلې. په دې مې چورت خراب وو چې شانیها به څه-څه ورسره وکړي. مرګوني چوپتیا خپره وه. دا چوپتیا بودم د ډزو په ږغ ماته شوه او ورپسې یو کمزوره ښځینه اواز پورته او بېرته ژر ورک شو. زړه مې تر تلو وښوېد، ځکه هغه یو شناخته اواز وو. دېوال ته مې تکیه وکړه او سترګې مې پټې کړې. د ایرما نارامه او اندېښمنه څېره مې د ذهن پر پرده رابنکاره شوه. په غوږونو کې مې د هغې اواز ازانګې کولې... په همدې سوچونو کې وم چې یو وسله وال راغی او زه یې د شانیها ځای ته روان کړم.

هلته له ورننوتلو سره سم مې د ایرما پر لاښ سترګې ولګېدې چې په وینو لړند پروت وو. د مرمیو سوریان له ورایه پکې ښکارېدل؛ یوه یې پر زړه او بله یې د ځیګر پر راسته طرف لګېدلې وه. دواړو اړخونو ته یې پر ځمکه د وینو لیکې جوړې شوې وې. سپینې عینکې یې یو څو ګامه ها پلو پرتې وې. ما د ویلو لپاره څه نه لرل. شانیها ورغوښتی وم او داده وم چې د مقتولې په باب راسره ږغېږي. خاموش ولاړ وم او سترګې مې په جسد کې ګندلې وې.

تر سترګو لاندې مې ولیدل چې شانیها را وړاندې شو. په خاورو لړلي موزې مې بې ولیدلې. ورو یې پر ښی اوږه لاس راکېښود او ویې ویل:
- مړه ده. ولې لا ورته ګورې!

سر مې را اوچت کړ، د هغه تورو سترګو ته چې په سپینو کې یې د وینو سره رګونه لیدل کېدل، وکتل او ومې ویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- ډزې مې واورېدې!

ويې خندل او ويې ويل:

- او داسې دې وانګېرله چې د سفر ملګرې دې ووژل شوه.

- هو، مګر ومې نه انګېرله، بلکې ډاډه شوم چې ووژل شوه. ان چيغه مې يې لا واورېده.

شانيها د جسد له اړخه روان کړم او ويې ويل:

- خو ودې نه ويل چې ولې مې ووژله!

ځواب مې ورکړ:

- دا پوښتنه بايد زه ستا څخه وکړم!

- زموږ ژوند له وژنو، وينو تويولو او لوټلو څخه جوړ دی. تا ته خو ښه درمالومه ده، ځکه خپله دې هم همدا کار دی.

- خو زه صرف د مرمی ځواب په مرمی ورکوم، مګر تا يوه بې دفاع ښځه ووژله، هغه تش لاس وه.

زما تر پوړتنې خبرې وروسته يې د کوټې له يوې تاخچې څخه چې دوړو پر سر اخيستې وه، يو ځو لوټونه راواخيستل او ويې ويل:

- تا رښتيا ويل، صرف سل لېرې يې درلودې.

ما په غوسه ورته وويل:

- ما درته وويل چې هغه صرف سل لېرې لرې...

- ما داسې فکر وکړ چې ته هسې ما خطاباسې او غواړې هغه وژغورې.

بې له خنده مې يوه ټينګه څپېړه پر دا مخ وواهه او په درد مې ورته وويل:

- بيعقله، ته زما خبره هم زړه ته نه اچوې؟

د کوټې څخه دباندې مې د توپک د ګېټ کشولو ږغ تر غوږ شو، خطرناکه کيسه مې پېښه کړې وه، مګر شانيها ته مې دومره درد راغلی وو چې هېڅ شی مې په سترګو نه ليدل. ويل مې اوس دستې به خپلو کسانو ته امر وکړي چې دباندې مې په ګوليو سوری-سوری کړي، مګر هغه سر وځراوه، ورو-ورو يې پر مخ لاس تېر کړ. وروسته

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

يې دېوال نه بو نکيه توپک راواخيست او نابېره يې د يوه فهرېدلي ځناور غوندې کونداغونه رانه کش کړل. اکثره گوزارونه مې په لاس دفاع کول، خو بيا هم بو څو دانې راباندې ولگېدل. دا چې د هغه خوی بوی رانه مالوم وو، نو قصداً مې ځان پر ځمکه وغورځاوه. بو وخت يې وهل ودرول او په توند لهجه يې وويل:

- پاخه... ډېره غټه بيعقلي دې وکړه. که ستا پرځای بل هر څوک وای د دې چپلاخې خواب مې په مرمۍ ورکاوه. خو څه وکړم نه مې بو وخت ملگری وې او د هغې ملگرتيا په پار مې لږ وهل درکړل. تا ته ډېر ښه درمالوم يم چې د غوسې پر وخت د هيڅ شي او هيچا پروا نه کوم. بايد منه راځخه وکړې چې توپک مې درته سيخ نه کړ

ما په داسې حال کې چې د لاسونو ورغوو او د بدن دوو نورو ځايونو مې سخت درد کاوه او ستمی مې وو، ومې ويل:

- که دې ربښتيا زما د تېرې ملگرتيا خاطر لرلای، نو د هغې ښځې په اړه به دې زما خبره منلې وای او دا بايد ومنې چې ناحقه دې ووژله.

شانيها مې ستړگو ته ځير شو او راته کړل يې:

- اوس کار تر کار تېر دی، په دې اړه ږغېدل هيڅ فايده نه لري. هغه چې يې اول ځل دلته ما ته راوستله، يوه ډېره گرانه گوتمۍ يې په گوته وه. مگر دوهمه پلا مې ورسره ونه ليدله.

غاړه مې تازه کړه او ومې ويل:

- هو، همداسې ده، هغه گوتمۍ زما هم په ياد ده.

شانيها وويل:

- همدا گوتمۍ يې د وژلو سبب شوه، ځکه کله چې مې ځنې وغوښتله انکار يې وکړ او ما يې هم بېله وژلو بله چاره نه لرله.

- شايد دلته تر هغه لومړي ځل راوستلو وروسته يې په خپل بيک کې پټه کړې وي.

- همداسې يې وبوله. اوس ورځو او په گډه يې سامانونه تلاښې کوو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

له شانیها سره یوځای د لودویک دوی کوټې ته ولاړو. لودویک له خپل بیک سره ولاړ وو. د شانیها په لیدو یې شونډې پر خوځېدو راغلې؛ ته وا د خپل سر د سلامتۍ دوعا یې کوله. سره له دې چې د شانیها انگلیسي زده وه، بیا یې هم په اردو ورته وویل:

- ستا هغه د سفر ملگرې ووژل شوه.

وروسته یې ما ته مخ کړ او ویې ویل:

- ورته ترجمه یې کړه!

ما لودویک ته د هغه د جملې ژباړه شروع کړه. لودویک راته وویل:

- ځنې وپوښته چې ایا مور ایله کوې که نه؟

شانیها ته مې وویل:

- دی د خوشې کېدو هیله درځخه کوي.

شانیها وویل:

- په دې شرط مو ایله کوم چې د هغې وژل شوې ښځې گوتمۍ را پیدا کړئ. ما هغه صرف د هغې قیمتي گوتمۍ په خاطر ووژله.

لودویک د دې خبرو د ترجمې له اورېدو سره سم لاسونه په هوا کې پورته ونیول او ویې ویل:

- راشئ ما او بیک مې تلاشي کړئ. په قسم درته وایم چې گوتمۍ زما سره نشته.

شانیها پر ملا تینگ ووهلم او راته کړل یې:

- ونیسه تلاشي یې کړه، خو یاد دې وي چې تا بیا وروسته زه خپله تلاشي کوم.

زړه نا زړه ور وړاندې شوم او د لودویک تلاشي مې شروع کړه. سر مې خلاص شو چې ابرما د هغه لاسي ساعت له امله وژل شوې ده چې ما ته یې راکړ او دا د گوتمۍ معامله صرف د ساعت د پیدا کولو یوه پلمه ده، ځکه نوموړې تر هغو ناکراره او ترهېدلې وه تر څو یې ما ته خپل هغه له رازونو ډک ساعت راکاوه. چې ځنگه یې دا کار وکړ، ایله له ساه په ننوته. لمر غونډې راته روښانه وه چې شانیها به مې له سره تر نوکه په خورا ځیرتیا سره تلاشي کړي. د هغه د دقت کچه هم ښه راته مالومه

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وه. څکه بو وخت زما غوندې قاچاقبر وو. د لودویک د تلاښي په اوږدو کې مې
بودم بو فکر ذهن ته راغی او په پوره بیدارۍ او صفایي مې راسره ساعت د کشمش
د اوږده کمیس جیب ته ورښوی کړ. همدا زما د خلاصون او هغه ساعت د خوندې
کولو تر ټولو غوره لار وه. لیکن دا چې څنګه به بې بیرته له هغه ځایه راباسم ۲۰
دې مې نو داګړی خپله هم سر نه خلاصېد.

د لودویک د جامو تلاښې ختمه شوه. د شانیها په امر یې د بیک خوا ته ورغلم
او به خیر-خیر مې لاندې باندې ولټاوه. له بده مرغه هغه ګوتمی چې دی پسې
ګرځېد، ونه موندل شوه.

شانیها د ور وړاندې کېدو اشاره راته وکړه او راغی تلاښې یې راپکې پیل کړه. زه
و دی دواړه به خپلو کارونو ډېر ښه پوهېدو. له سره تر نوکه یې لوڅ-لپېر کړم. ما یې
هم هېڅ ډول ممانعت ونه کړ. وېل مې چې زړه دې غواړي هغه وکړه. د کونداغونو
شنه داغونه مې پر بدن لیدل کېدل.

شانیها یې په لیدو ورو وویل:

- ستا ملامتي وه!

ما کالي واغوستل. هغه مې د بیک خوا ته ورغی. هلته یې هم هېڅ ونه موندل.
وحشي خبرې نه مې یې وکتل، لکه زخمي مار سره اوښت او شونډې یې تېنګې په
غاښونو کې نیولې وې. ټول فکر و ذکر مې د کشمش په جیب کې وو. په دې مې
هم چورت بند وو چې دا زخمي مار به نو اخیر زما او کشمش سره څه وکړي. بالاخره
یې په اردو راته وویل:

- تګ ته ځانونه تیار کړئ!

سملاسي مې دا خوندور خبر لودویک ته ترجمه کړ. سترګې یې له ډېرې
خوشحالۍ وځلېدې او د سر په اشاره یې خدای ته شکر وایست چې له حتمي مرګه
یې وژغوره.

شانیها د دې امر تر ورکولو وروسته خپل ځای ته ستون شو. څو دقیقې چې تېرې
شوې بو تن وسله وال راغی او لودویک یې ورسره بوتلې. که څه هم لودویک په

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

اردو نه پوهېد او شانيها خان داسې نيولی وو چې انګليسي يې نه ده زده. خو بيا يې هم بيا خلي وروغوښت. هغه مرموز ساعت مې له لاسه وتلی وګاڼه. څکه د دې زيات امکان وو چې کشيش په خپل جېب لاس ننباسي او که يې دا کار کولای، نو ساعت حتماً په ګوتو ورتلی. بيا نو مالومه نه وه چې څه پېښېدل. ښايي ده هم د لاروهونکو له مشر څخه پټ کړی وای.

په زړه مې يو خدای خبر وو. څمکې خای نه راکاوه. سګرېټ مې ولګاوه او پر خپل بيک کښېناستم.

سره له دې چې قاچاقبر وم او رنګارنګ سختۍ مې تېرې کړې وې، مګر دغې يوې مې ماغزه راپوچ کړي ول. کشيش لودويک... د ايرما هغه لاسي ساعت چې ماته يې راکړ...

د هغې وژنه او په دې منځ کې د شانيها غوندې ډاکو راپيدا کېدل او په دا هر څه کې يې رول هغه پوښتنې وې چې ځوابول يې ساده کار نه وو.

د دې معما کيلي مې بوازې د هغه کس په لاس کې ليدله چې په تهران کې مې بايد ورسره ليدلي او د ايرما ساعت مې ورسپارلی وای. هغه هم په دې شرط چې ساعت بېرته په لاس راشي، دا شېبه خو د کشيش په ګوډانه(جېب) کې پروت وو.

لودويک بېرته راغی او نېغ د خپل بيک خوا ته ولاړ. ورسره ملګري وسله وال ما ته په اردو وويل:

- مشر امر کړی دی چې تاسې کوېټې ته بوزم، هلئ ژر ځانونه چمتو کړئ!

ما بېله ځنډه خپل بيک ته ورحمله کړل. ويل مې شانيها ممکن د خدای پاماني لپاره يا دلته راشي او يا هم ما ور وغواړي، مګر درک يې ورک شو او موږ له کلا څخه راووتو. ما او لودويک ته يې يو اس ځانګړی کړی وو.

غوښتل يې ما او لودويک پر يوه اس داسې کښېنوي چې زه مخ ته او هغه مې شا ته ناست وي، مګر ما د پښې د درد په پلمه ځان وځنداوه. په دې وخت کې له کلا څخه يو بل وسله وال راووت او ويې ويل چې بايد زه او لودويک پر جلا-جلا اسونو سپاره شو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

زه په زحمت اس ته وختلم. لودويک هم د يوه وسله وال په مرسته پر اس سپور کړل شو. يو وسله وال مو شا او بل مخ ته شو او په دې ډول د سپېده چاود مهال په خړه‌پړه هوا کې وخوځېدو.

د لمر په راختلو سره سره دښته په جهنم بدله شوه. که څه هم د هند له سوځوونکې هوا سره عادت وم، خو دغسې مزل بيا هم راته ربړوونکی او له زغمه وتلی وو. لودويک په خولو لوند خيشت شوی وو. ما بايد په هر ډول چې کېدای د هغه کميس په لاس راوړی وای، مگر هغه بيداره کت-کت کړ او پر مخ ته پراته بيک يې کښېښود.

څه سر مو در خوړوم په هغه کنډوکپر دښته کې تر ساعتونو-ساعتونو ستړي مزل وروسته بالاخره د کويټې د ښار ځنډې رابښکاره شوې. د ښار په يو کېلومترۍ کې يې موږ دوه له اسونو راکوز کړو. يوه وسله وال راته کړل:

- له دې ځايه پر پښو ولاړ شئ!

تر دې خبرې وروسته دواړو ملگرو سره وخندل، اسونه يې تاو کړل او پر راغلې لار بېرته ستانه شول. ما خپل لاس و پښې ځو واره سره وښوروول او بيا مې لودويک ته وويل:

- در روانېږه چې ځانونه ژر ښار ته ورسوو.

لودويک راته وويل:

- غواړم همدا نن تر لمر لوېدو مخکې د ايران خاورې ته ورواوړم او تا هم راسره بوزم.

ما ور وکتل او ومې ويل:

- دا ځانوژنه ده چې په کويټه کې له ارام کولو پرته مزل ته دوام ورکړو.

ويې خندل او ويې ويل:

- موږ کشبشان نه ستړي کېږو!

- مگر زه بيا داسې نه يم!

ویې ویل:
- یو پلا به ښار ته ولاړ شو او بیا به هلته پرېکړه وکړو.
پلي روان شوو. ټول فکر مې د لودویک پر تور کمیس چکر واهه. پرله پسې مې همدا پلانونه جوړول او خرابول چې څنګه یې هغه کمیس چې اوس یې پر اوږه اچولی وو، ترلاسه کړم، مګر هر پلان چې وای باید ناڅاپي او تصادفي بڼه یې لرلای. یاني له ګواښلو او زور ازمایلو څخه کار اخیستنه بیعقلي وه.
نژدې نیمه لار چې مو ووهله کمیس یې د اغوستلو په نیت له اوږې راکښته کړ. ما د هغه له بلنې پرته په دې پروسه کې مرستې کولو ته ورودانګل. لودویک راته وویل:
- زویه ستا مرستې ته اړتیا نشته.
مګر ما یې په خبره غوږ ونه ګراوه او په داسې حال کې چې کمیس مې په دواړو لاسونو نیولی او په سر وراغوست، ورته کړل مې:
- ته یو روحاني شخصیت یې او دا زما مسوولیت دی چې په هر حالت کې پام درباندې وکړم. دا سهي ده چې دین مې ستا له دینه بېل دی، مګر انسان طبعاً د روحاني خلکو درنښت کوي، په تېره بیا چې زه و نه د سفر دوه خوربدلي ملګري هم یو.
د دغو خبرو په ترڅ کې مې د یوه ماهر جېب‌وهونکي غوندې، ډېر تېز په کمیس لاس ورننه‌ایست، خو له ډېرې حیرانۍ له سره تر نوکه د کنګل په یوه ټوټه بدل شوم، ځکه ساعت هلته نه وو. نو څه شوی وو؟! بېشکه ده خپله موندلی او یو بل ځای یې پټ کړی وو. کشیش کاکا کمیس پر ځان سره سم کړ، بیګ یې واخیست او ویې ویل:
- درځه چې ځو!
هماغه شېبه مې یې د وژلو نیت وکړ او په دې تلاښ کې شوم چې ژر تر ژره یې کار ورخلاص کړم. نابېره مې ولیدل چې د شا له خوا یو غټ موټر راروان دی. پلان

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

يې په اوبو رالاهو کړ. چې راڅرګنډې شو لودويک د درېدو په پار لاس ورته پورته کړ. هغه چې ودرېد، له چلونکي يې ښار ته زموږ له بېولو هيله وکړه.

چلونکی يو هندی وو. د لودويک غوښتنه يې په خوښی ومنله. موږ دوه هم بېله خندېدو ورپورته شوو او بغل ته يې کښېناستو. تر دې ګريه خو مې پلان ناکام شوی وو، مګر زه داسې يو څوک نه وم چې دومره په اسانی لاس پر سر شم... تر اوسه مې لا د ايرما دا خبرې له ذهنه نه وې پاکې شوې:

(په تهران کې، لاله زار چوک، پاريس بوفه... يو سړی چې په کيڼ لاس يې نسواري رنګه دسکله اغوستې ده او د دغه ساعت ترلاسه کولو ته سترګې پر لار دی...)

اوس مې سر خلاص شو چې هغه شپه په تږېن کې لودويک د ايرما په لاسې بيک کې په خشې پسې ګرځېد... او ايرما ولې په نوکنديو کې پر دغه ساعت دومره ډارېدله... نو ګواکې د دې هر څه تر شا يو ډېر خطرناک راز پټ وو چې ان د کشيشی په جامو کې نغښتی لودويک هم په خبر وو... کرار-کرار پر شانيها هم شکمن شوم. لنډه دا چې دا ټول له يوه مخه مرموز او خطرناک خلک راته ښکاره شول.

ورو-ورو مې د غچ اخيستنې حس چې په تېره قاچاقبرانو کې تر نورو څواکمن وي، راوېښ شو. پرېکړه مې وکړه چې په هره بيه ان د لودويک د وژلو په بدل کې به هم د ايرما ساعت بېرته تر ګوتو کوم... زه يو قاچاقبر وم او ايرما د ژوند په وروستيو کې د خپلې هيلې د پوره کولو غوښتنه راڅخه کړې وه. پر دې سربېره بيا خپل شپېږم حس هم ارام ته نه پرېښودلم.

لودويک په خنګل پر تشي ووهلم او ويې ويل:

- ولې چوپ يې؟

ومې خندل او ورته ومې ويل:

- چې ارامځای ته ورسېدو، بيا به مجلس وکړو. ډېرې خبرې شته چې بايد پر وږغېږو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لودویک ورروغوندې په خپله پښه پر پښه ووهلم او ویې ویل:

- بالکل، باید د سفر او د هغه د خاطرو په باره کې باندار وکړو. خبرې رښتیا هم ډېرې دي.

زه چوپ شوم... لارې کوېټې ښار ته ننوته. چلوونکي وپوښتل:

- تاسې چیرې کښته کېږئ؟

ورته ومې ویل:

- د ښار په زړه کې له یوه هوټل سره نژدې.

لودویک وویل:

- ما هم همدا غوښتل.

په ښار کې د یوه رستورانت مخې ته پلي شوو. لودویک وویل:

- ته په دې ښار کې بلد یې؟

خواب مې ورکړ:

- راځه چې په یوه هوټل کې کوټه ونیسو.

روان شوو... هغه یودم پښه نیولی شو او ویې ویل:

- زما قصد بدل شو. غواړم یو ساعت وروسته هر څنګه چې کېږي زاهدان ته روان شم.

تر بازو مې ونیو او ورته کړل مې:

- نن شپه همدلته تېروو او سبا سهار په شنه خړه حرکت کوو.

لودویک نه قانع کېدی، خو ما دا نشوای زغملای چې بیا مې پلان خراب شي. نو چې هر څنګه کېدای باید هوټل ته مې بېولای. نوموړی ظاهراً ارام ښکارېد. کوټې ته له ننوتلو سره سم یې راته کړل:

- تر هر څه وړاندې باید په یخو اوبو ولمبېږو، کنه خولې مو پوست راسوځي.

له همدې خبرې وروسته یې سملاسي جامې وایستلې، له بیک څخه یې یو خانپاک راوایست او په یوه سپین بنیان کې تشناب ته ننووت. تشناب په کوټه کې دننه وو. له همدې امله په بېغمه زړه د هغه د شیانو لټولو ته وجوغېدم(اړم شوم). اول

مې بې هغه اوږد کميس په خير-خير وکوت. بيا مې څپلۍ او جوراپې وکتلې. په پای کې مې بيک راواخيست او دننه شيان مې ټول يو په يو وکتل. له بده مرغه ساعت مې ونه موند.

پر خپله بيعقلۍ خندا راغله او له خان سره مې وويل: ستا په خيال دا مرموز کشيش دومره احمق دی چې ساعت ما ته داسې په اسانۍ راوسپاري؟ همدلته مې هغه تر خان په کراتو-مراتو چالاک او هوښيار وګاڼه او خپله ماته مې ومنله. خو زما په اند د دغې ماتې پايله ښايي د هغه په وژلو جبران شوې وای. په دې کې مې شک نه ليد چې لودويک زما په دې شيطاني پلان غوږېدلی وو، خو په دې مې بيا سر نه خلاصېد چې اوس نو خپله هغه څه پلان لري. دا تر لمر هم روښانه وه چې نوموړی راپوه شوی او د وژل شوې ايرما ساعت يې يو خپ ځای پټ کړی او يا يې هم له خان سره تشناب ته وړی دی. په هر صورت، دا ګړی يې پيدا کول ستونزمن ول.

ليکن زه هم له هغو کسانو څخه نه وم چې ميدان ورخوشې کړم، ان د هغه پر وژلو مې هم دريغ نه کاوه. يوازنۍ موخه مې د ساعت بيا موندنه وه او پر دې لار له هېڅ پېښې نه ډارېدم.

په ذهن کې د خپل پلان د شاربلو په پار پر څوکۍ کېښناستم. د لا ښه تمرکز لپاره مې يو دانه سګرېټ هم ولګاوه. له هرې خوا چې مې راسنجوله د لودويک وژلو ته درېدلم. يانې د ساعت ترلاسه کول د هغه له منځه وړلو پرته ممکن نه راته ايسېدل. پر دې ډاډمن وم چې ساعت له هغه سره دی.

په همدې سوچونو کې وم چې هغه په ځانپاک کې پيچلی له تشنابه راووت. په يوه لاس کې يې هغه سپين بنيان وو او په بل يې د ځانپاک په يوه څنډه مخ وچاوه. ماته چې رانژدې شو، بنيان يې پر څمکه وغورځاوه، وېې خندل او وېې ويل:

- ايله چې له بدنه مې ستړيا ووته. ته نه لمبېږې؟

ومې ويل:

- ولې نه، اوس ورځم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د لمبېدو په نیت پاڅېدم. له تشناب څخه د لودویک تر راوتلو مخکې مې فکر کاوه چې ساعت یې هلته ورسره وړی دی، مګر کله چې لوخ‌لپړ راووت او هغه سپین بنیان یې هم پر څمکه وغورځاوه، نو په یوه عجیب حالت کې یې واچولم.

پرله پسې مې له ځانه همدا پوښتنه کوله چې ساعت یې نو چیرې پټ کړی دی چې داسې بېخاره او ارام ګرځي؟!

راته ویې ویل:

- ورځه نوبت دې دی... ولې ولاړ یې؟!

جامې مې وکښلې او تشناب ته روان شوم. په همدې وخت کې مې یو سوچ ذهن ته راغی او قصداً مې د تشناب دروازې ته یوه ګونه قدر چوله ورکړه، شاور مې را ایله کړ. خپله بېرته دروازې ته راغلم او له هغې چولې څخه مې کښېښ تر ځار لاندې ونیو. غوښتل مې د ساعت درک ولګوم چې ورسره دی که نه.

لودویک د شاور شورهاری اورېد او زه په څلورو سترګو ده ته څیر وم... نوموړي هماغسې په ولاړې شاوخوا سترګې وغړولې. څرګنده وه چې غوښتل یې زما له بابته ځان ډاډمن کړي. وروسته د کټ خوا ته پروت کوچني مېز ته ورغی، خپل تور رنګه انجیل یې ورواخیست او خلاص یې کړ. د کتاب پر شېرازه یې لاس راکش کړ او د ګروپ په رڼا کې یې د هغه داخل ته وکتل. وروسته یې ورسره بیاتي/غچي په احتیاط وردننه کړه. کله چې مې ولیدل د انجیل له شېرازه څخه یې د غچي په څوکه هغه کوچنی ساعت راوایست، غوښتل مې له ډېرې خوښۍ چیغې کړم، پر لودویک ورودغلم او ساعت یې له منګولو څخه وباسم. مګر ځان مې کابو کړ. ویل مې لږ زغم لا وکړه او وګوره چې هغه په دې بدمرغه ساعت اخیر کوي څه!

لودویک ساعت لاندې باندې په څیر-څیر وکوت او بېرته یې چابک په خپل ځای کې کېښېښود. د بریالیتوب نښې یې پر څېره راښکاره شوې. پر حق هم وو، څکه که یې یوه شپه و ورځ هم په خونه کې یوازې پرې ایښی وای لا به مې هم نه وای موندلی. هېڅ مې زړه ته نه لوېده چې دا بلاګی به یې په دومره جالب انداز په هغه سپېڅلي کتاب ننه ایستلی وي چې هېڅ لیدونکی یې کشف نه کړای شي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

پر لارې مې د لودویک په لاس کې انجیل ښېخې ډېر لیدلی وو، مګر حتا یو وار مې هم ذهن ته دا نه وه تېره شوې چې په شیرازه کې به یې ساعت ځای پر ځای کړل شوی وي. حتماً په یوه خاصه طریقه صحافي شوی وو.

نور مې کوم بل مقصد نه درلود، سیده تر شاور لاندې ودرېدم او څو دقیقې وروسته له تشنابه راووتم. کوښښ مې کاوه پر مېز پراته انجیل ته ونه ګورم. ځکه ممکن لودویک راباندې شکمن شوی وای. ویل مې څومره چې راباندې خبر دی همدومره بس ده، تر دې زیات یې باید پر ځان سور نه کړم.

په یوه رستوران کې د ماښامنی خوړلو په نیامت له کوټې څخه د وتلو پر مهال لودویک انجیل وروا خیست او ټیک داسې یې په لاس کې ونیو لکه کشیش چې کلیسا ته روان وي. ماښامنی مو په یوه له ګنې ګوڼې ډک خوړنځای کې وخوړله. خپل هوټل ته د راستنېدو پر لار یې راته وویل:

- سبا چې هر څنګه کېږي باید له دې ځایه روان شو. په کویټه کې نن شپه صرف ستا په خاطر پاتې شوم.

مننه مې ځنې وکړه او ورته ومې ویل:

- زما هم تلوار دی چې ژر تر ژره خپل هیواد ته ولاړ شم.

پر ټوله لار مې فکرونو د هغه په لاس کې پر انجیل چکر واهه او په دې سوچ کې وم چې څنګه به یې ځنې اخلم. اوس مې یوازنی پلان دا وو چې دغه کتاب تر ګوتو کړم. په کوټه کې یودم لودویک ودرېد، انجیل یې پرانیست او ویې ویل:

- غواړم د ایرما روح ته چې بېګناه ووژل شوه، دوعا وکړم. ته هم راسره مل شه.

زه مخامخ د خپل کټ پر څنډه ورته ناست وم او سترګې مې پکې ګنډلې وې. لحظه په لحظه د خپل پټ پلان پلې کولو ته ورلنډېدم، ځکه غوښتل مې ژر تر ژره له دې اروایي نارامی څخه ځان خلاص کړم. یودم مې د پلان د عملي کولو تکل وکړ، پاڅېدم او په چټکو ګامونو خپل بیګ ته ورغلم. څو شېبې مې ځان هلته اخته کړ، وروسته راولاړ شوم، د لودویک شا ته مې ځان ورساوه او په یوه تېز حرکت مې چاکو له جېبه راوایست. د چاکو د خلاصېدو پرغ کشیش واورېد، چابک یې شا نه

وکتل، خو کار تر کار تېر شوی وو، ځکه د سترګو په رپ کې مې تېره څنډه پر غاړه ور کېښېنوده. لودویک چې تر دې دمه یې ځان ارام ښودلی وو، په نارامۍ وویل:

- څه کېسه ده زویه؟ لېونی شوی خو به نه یې؟

ومې ویل:

- نه لېونی شوی نه یم خیر و خیریت دی، بس دا انجیل دې ما ته راکړه!

څه یې ونه ویل. انجیل یې بند کړ او نابیره وغورځېد. که مې کتل په لاس کې یې توپنچه وه. هېڅ مې ونه لیده چې له کومه او څنګه یې راوایستله. که زما پر ځای بو بل عام کس وای، تسلمېدی، مګر ما د خپلې قاچاقبرۍ په اوږدو کې ډېر چلونه زده کړي او تجربه کړي ول. همدا چې لودویک کېښناست تر څو تر پښو مې ونیسي، ما هم سملاسي ځان پر وروغورځاوه. انجیل پر مځکه ولوېد. په راسته لاس مې پر دا مری یو کاري ګوزار ورکړ او ورپسې مې چابک د وسله وال لاس تر مړوند ونیو او شا ته مې راکش کړ.

هېڅ مې زړه ته نه لوېده چې دا کشیش بلا وهلی به دومره خرزوره وي. لکه له اوبو راایستلی کب داسې په چټکۍ یې لاس و پښې وهلې، خو د خپل خلاصون لپاره نه، بلکې زما د راپرځولو لپاره. د وسله وال لاس پر مړوند مې ټینګ-ټینګ وواهه، خو توپنچه یې ونه غورځوله. مجبور شوم په غابنونو کې نیولې چاکو مې راواخیست پر لاس مې څو ځایه په وواهه. وینې ترې را ایله شوې او توپنچه یې وغورځوله ما سملاسې په پښه ووهله او تر کټ مې لاندې کړه.

له بې وسلې کېدو سره سم مې د شا له خوا په دواړو لاسونو تر مری ونیو. سټمی بې شو. لا مې ټینګ پسې خفه کړ تر څو له احمقانه ډغرو لاس واخلي، خو هغه ماته نه منله. ښیخې لکه د مرګ په کېسه کې چې نه وي. یو وخت مې ورته فکر شو چې سړی غواړي خپل ټول زورسره راغونډ کړي او په یوه خېز مې تر خپل سر واړوي. په دواړو لاسونو یې تر مړوندونو کلک ونیولم؛ غوښتل یې خپله مری له منګولو راخخه وباسي. اوس نو زما وار وو چې په مقابل کې یې ځان ټینګ کړم، خو هغه بلا وهلی لکه تور دېب داسې شی وو او دومره زر له پښو نه لوېد.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بالاخره د خپلې مرۍ په خلاصولو بريالى شو. تر څو ما ځان سره سماوه، ده سر تر بدن رالاندې کړ، په يوه تېز حرکت يې تر سر واړولم او پر ځمکه يې وغورځولم. ډېرې حساسې شېبې وې؛ سړي مې د وژلو پخه اراده کړې وه. راټوپ يې کړل. غوښتل يې چې پر ځيګر مې راکېښني، مګر زه په ټول توان چېچې خوا نه تاو او پر څلورو شوم. چې ځنګه هغه راوغورځېد ما له دې خوا په سر پر دا مخ وواهه. د لودويک تر خوله يوه لنډه چيغه راووته، دواړه لاسونه يې پر مخ ونيول او پر شا ولوېد. د ګوتو له چولو څخه يې وينې راوبهېدې. داډه او خوشحاله شوم چې بنه کافر وار مې پر کړی دی او نور يې کار تمام وبوله.

پسې ورپاڅېدم. پر دې ګوزار مې بسنه ونه کړه او پر اوږو او بازو مې څو ځايه سر سرکې په چاکو وواهه. لودويک د پزې، مخ او چاکو د ټپونو د درد له امله لکه مار سره تاو راتاو شو. وروړاندې شوم او ورته ومې ويل:

- اوس بايد زه ستا اروا ته د مغفرت دعا وکړم!

هغه لاسونه له مخ څخه ايسته کړل او ويې ويل:

- بنه نو، ايرما ساعت تاته درکړی وو؟

د لاس په شا مې دومره ټينګه څپېړه ورکړه چې بيا پر ځمکه ولوېد او ورته ومې ويل:

- د هغې قاتل ته يې نه شانيها... زه به ستا سره جوړ شم. پرېږدم دې نه.

لودويک پاڅېد او ويې ويل:

- ته له خپل ژوند سره لوبې کوې او بوه نه بوه ورځ به حتماً بيا سره مخامخ شو.

ما چابک انجيل راپورته کړ او ورغلم چې هغه توپنچه يې هم راواخلم، که مې کټل زخمي مار بيا بريد راباندې وکړ او د شا له خوا يې ونيولم. انجيل مې پر کټ وغورځاوه، خپلې دواړې پښې مې د ده تر بوه پښه راتاو کړې او زور مې کړ، پښه يې خطا او تعادل يې خراب شو. دواړه يو پر بل سربېره پر ځمکه ولوېدو.

نور يې خواک اوبه شوی وو او زما د نيولو توان يې نه درلود... جنګ بېرته له سره شو. تر ګرېوان مې ونيو او راولاړ مې کړ، همداسې مخ پر شا مې ډېوال نه

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ورساوه او هلته مې دومره کلک له دېوال سره وجنګاوه چې تر خوله یې چیغه راوونه. بدن یې مړ سړ شو. بیا مې راټینګ کړه او سر مې یې له دېوال سره ور وواهه. نور مې خوشې کړ؛ لکه یو نشه يي سره وځرځېد او درز پر ځمکه غوځار شو.

په هوټل کې پاتېدنه مې بې ګټې وه... انجیل او توپنچه مې دواړه راواخیستل او د خپل بیک خوا ته ورغلم. کورتی او یو څه نور شیان مې راواخیستل. کورتی مې پر لاس واچوله. لودویک ته مې وکتل. سوړګوټی پروت وو. نه پوهېدم چې مړ دی که ژوندی. له کوټې څخه راووتم.

بیک مې په دې خاطر راوانه خیست چې که د هوټل کارکوونکو له ملګري پرته لیدلی وای، راباندې شکمنېدل. په اوسنی بڼه د هېچا سترګه نه رااوښته.

یو څه ولاړم، یو پخوانی همکار مې راياد شو چې په کوټه کې اوسېد او ډېر وخت مې نه وو لیدلی. ویل مې که اوس هم پر خپل ځای وو، نو له کوټې څخه په ایستلو کې مرسته راسره کولای شي. دومره مې یاد ول چې کور یې د کوټې له ښاره یو څه وتلی وو. پلی ورروان شوم. په یو عالم تکلیف مې ځای پیدا کړ. د دروازې زنګ مې ورووکړنګاوه. یوې ښځې ور راته پرانیست او ویې پوښتل:

- څوک دې په کار دی؟

ورته ومې چې د تېمور په نامه یو ملګری مې پهکار دی. مېرمنې له څه ویلو پرته دروازه وتړله او بېرته کور ته ولاړه. ګړی وروسته یو دنګ ځوان چې سپین کمیس و پرتوګ يي اغوستي ول، راووت او په یو ډول شکمن انداز یې راڅخه وپوښتل:

- تېمور دې په کار دی؟ ځواب مې ورکړ:

- هو، هغه زما زوړ ملګری دی.

ځوان سر وښوراوه او ویې ویل:

- مهرباني وکړئ راځئ دننه!

زه هم ورپسې شوم. ځوان د یوې خونې دروازې ته چې کړکی یې روښانه وه، ودرولم او راته کړل یې:

- دلته درځئ. تېمور دوې درې دقیقې وروسته راځي.

د کوټې دروازه لږ لوړه وه او دوې زينې ورپورته شوې وې. پر زينو وروختلم، دروازه مې پرانېستله او همدا چې راخوړنده پرده مې پورته کړه تر څو خونې ته ورننوزم، ناڅاپه له دواړو خواوو حمله راباندې وشوه. د سترګو په رپ کې د کوټې په منځ کې پر ځمکه ولوېدم. ورسره جوخت يو څواکمن سړی چې پنډ برېتونه يې لرل او سوځېدلی مخ يې وو، پر څېګر راکېناست. پر غاړه يې چاکو راکېښود او ويې ويل:

- تېمور دې غوښت؟

ما چې خواب نه ځان جوړاوه، سر ته مې ولاړ سړي هغه ته وويل:

- ځنې ولاړ شه!

هغه خپل ملګري ته وکتل او ورته ويې ويل:

- نه، بايد رييس اجازه راکړي!

ما په زحمت نارې نېرې کړې او ومې ويل:

- تاسې ولې ما وژنئ، زه خو د تېمور ملګری يم؟ ډېره زړه انډيوالي مو ده، ورشئ ورته ووايئ چې زه يم.

خپل نوم مې ورواخيست، دواړو وخندل. يوه يې راځخه وپوښتل:

- ته بايد ايرانی يې!

ځواب مې ورکړ:

- ايرانی يم، مګر څو کاله کېږي په هند کې اوسم. زما او ستاسې د مشر تېمور کسب وکار يو دی.

پر څېګر ناست کس پر سر په سوک ووهلم او راته کړل يې:

- ډېرې غرنې مه وله، دا راته ووايه چې دلته چا رالېږلی يې؟

ملګري يې ورته وويل:

- درواغ وايي. ايرانی نه دی، پوليسو رالېږلی دی غواړې په لاس مو ورکړي. وګوره څومره ښه اردو وايي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بد پساو شوی وم. پر مری مې د چاکو تېره ژی پرته وه چې په یوه اشاره یې ښارګ راغوخولای شوای. قسمونه مې ورته وکړل چې ایرانی یم او له پولیسو سره هېڅ اړه نه لرم. خو په هېڅ لار یې نه راسره منله. یوازنی ټینګار یې پر دې وو چې زه دا ومنم چې د پولیسو اجنټ یم. همدا یوه خبره یې تر لکی راته نیولې وه: «که رښتیا راته ووایې نه دې وژنو!» مګر ما ته دا خلک رامالوم ول، د دې اقرار له کولو سره سم یې د خونې مخکه زما په وینو تکه سره کوله.

- ستاسې مشر تېمور چیرې دی؟ هغه ته مې ورولی!

پر ځیګر راناست کس، سترګې په سترګو کې راوګنډلې او ویې ویل:

- هغه یو ګړی وروسته راځي!

په دې پسې یې مانداره خندا وکړه او زیاته یې کړه:

- د تېمور په یوه اشاره به زما د لاس چاکو د سترګو په رپ کې خپله دنده اجرا کړي. چورت مه خرابوه، دا بلا دومره تېره دی چې په درد-مرد به ولا نه پوهېږې او سیده به دې پورته وخېژوي!

سر ته ولاړ کس ورو پر سر په پښه ووهلم او ویې ویل:

- اول ښه ټینګ لت درکوو، بیا دې وژنو!

ما ورته وویل:

- خیر، د خپل مشر تر راتګ پورې صبر وکړئ چې هغه څه فیصله کوي.

یوه یې وویل:

- د هغه فیصله مالومه ده؛ تر وژلو وروسته دې جسد د پولیسو د پوستې مخ ته غورځوي چې ستا همکاران او نور لاسپوڅي عبرت ځنې واخلي.

دواړو په ډکه خوله وخندل. په خندا کې یې زما له وژلو سره لېونی لېوالتیا ځپې وهلې. د بېګانه په سترګه یې راته کتل او فکر یې کاوه د پولیسو مخبر یم او غواړم دوی رسوا کړم. سره له دې چې پر غاړه مې چاکو پروت او پر سینه مې هغه لوی درووند سړی ناست وو، بیا مې هم زړه ته ډار لار نه وه کړې، ځکه ډاډه وم چې د تېمور له راتګ سره سم به دا هر څه پر بله واوړي او زه به په یوه ښاغلي مېلمه بدل

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

شم. نه پوهېږم دې ډرامې څومره دوام وکړ، خو یو وخت د کوټې له دباندې څخه یو ډډ او غوسه ناک نارینه اواز واورېدل شو چې ویې ویل:

- د وهلو ټکولو په زور اقرار په وکړئ!

پورتنی جمله یې په کوټه کې دننه ختمه کړه. اواز یې راته شناخته وو، څکه تېمور وو. زما په لیدو یې سترګې له ډېرې حیرانی بوتې راوختلې او ویې ویل:

- ملګرې دا نه یې؟

له دې سره یې زما پر څېګر ناست کس په لغته لاندې ولغړاوه. لاس یې راکړ او راپورته یې کړم. پر مخ یې بنکل کړم او ویې ویل:

- څومره بنه. ډېره بخښنه غواړم. ستا د راتلو پر وخت زه خپله دلته نه وم. بیا یې خبر راولېږه چې یوه شکمن نابلده سړي دې پوښتنه کوله او نیول شوی دی. راغلم چې له نژدې دې ووینم.

ومې ویل:

- ستا کسان ملامت نه دي. که د هغوی پر ځای زه وای، همداسې مې کول. د شکر ځای دا دی چې ستا راتلو ته منتظر شول او تر هغه مخکې یې کار راخلاص نه کړ. اوس به دې زما جسد نه ژړلای!

تېمور هغوی ته مخ کړ او ورته ویې ویل:

- احمقانو، دا زما زوړ یار دی، کلونه-کلونه مو یو ځای کار سره کړی دی. پر ما ډېر ګران دی. توبه که مو وژلی وای، بوه لا هم ولاکه د ژوند څکه راځخه کړې وای!

تېمور ته مې وویل:

- اوس د دې خبرو وخت نه دی، دا دی جوړ تیار یم. زما ستا مرسته په کار ده.

هغو دوو ته یې له خونې څخه د وتلو اشاره وکړه. چې سره یوازې شوو راځخه ویې پوښتل:

- بنه، زه څه کولای شم؟ امر کوه!

زما کورتی، انجیل او نور شیان پر مخکه پاشلي پراته ول. راټول مې کړل او ومې ویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- خدمت دا دی چې هر څنګه کېږي همدا نن شپه مې تر لمر خاته مخکې تر پوله واړوه.

تېمور ورو پر اوږه وټپولم او ويې ويل:

- نه تر ما په دې کيسو کې ډېر تکړه يې، نه پوهېږم چې زما څخه ولې مرسته غواړې؟

ورته کړل مې:

- بالکل سمې وايې، مګر ستا شناخت تر ما ډېر دی. زه کلونه-کلونه کېږي له دې ځايه لېرې يم او اوس د دې سيمې بې تاجه پاچا ته يې. څنډ مه کوه، يا خپله راسره ولاړ شه يا يوه بله لار ولټوه.

تېمور په چورت کې شو، وروسته يې وويل:

- غواړې دزداب ته ولاړ شې که کومې بلې نقطې ته؟

ومې ويل:

- که مې دزداب يا ميرجاوې ته ورسوې، نو ډېر لوی احسان به دې وي، خو زما اصلي هدف کرمان دی.

ويې ويل:

- په لومړني اورګاډي کې دې استوم.

په خبرو کې ورولوېدم او ورته ومې ويل:

- نه، زما وضعيت د دې نه دی چې په اورګاډي کې ولاړ شم، بايد پر کچه لار واوړم.

تېمور نيغ راوکتل، موسکی شو او ويې ويل:

- څه پېښه شوې چې اوس غواړې پر کچه واوړې هغه هم په دومره تلوار؟ کوم څوک خو به دې وژلی نه وي؟

- نه مې څوک وژلی، نه مې غلا کړې ده او نه هم له پوليسو په تېښته يم.

- نو بيا... ايا ملګرو دې يوه غوړه ګوله وهلې ده چې اوس غواړې چابک ځان ور ورسوې او خپله برخه ځنې واخلې؟

- همداسې ده. مخکې تر دې چې هغوې يې راڅخه ووهي، غواړم عباس بندر ته ځان ورسوم... نور ته خپله تکړه سړی يې او پوهېږې چې څه کيسه ده.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- چې داسې ده، نو بیا زه هم ونډه غواړم.
- که بریالی شوم، ولې نه!

زما په دې خواب هغه قانع شو او نورو پوښتنو ته اړتیا پیدا نشوه. چوپ او په فکرونو کې ډوب شو. له خبرې یې ښکارېده چې زما د خلاصون وسیله سنجوي. ګړی وروسته په داسې انداز پر خبرو راغی لکه حللار چې یې پیدا کړې وي او رانه ویې ویل:

- نه همدلته کښېنه، زه بېرته دستي راځم!

بیله خنډه د دروازې پر خوا روان شو... تر وتلو وړاندې پښه‌نیولی شو او ویې ویل:

- خامخا دې مشکل درحلوم... چورت مه خرابوه!

د هغه تر وتلو وروسته سملاسې د انجیل خوا ته ورغلم. په کورنۍ کې مې پېچلی وو. ترې رابهر او خلاص مې کړ. اوس مې د کتاب په صحافت او جوړښت پوره-پوره سر خلاص وو. یوازې یو څو شمېرلې پاڼې یې درلودې. په منځ کې یې یو غار وو، د کتاب په پرانیستلو سره سړي اسانه کولای شول چې له شېرازې څخه یې ساعت راوباسي. د چاکو په څوکه مې څنې راوابست او د پرتوګ جېب ته مې واچاوه.

تر سرحد څکه پر کچه لار اوښتم چې غوښتل مې له لودویک څخه خان ورک کړم. له دې پرته یوازنۍ وسیله اورګاډی وو او هلته خامخا له نوموړي سره مخامخېدم.

له دباندې څخه مې د یو چا د پښو ښکالو واورېده چې د خونې خوا ته رانږدې کېده؛ تېمور وو. ویې ویل:

- هر څه تیار دي ملګرې... که دې کوم بل شی هم په کار وي، ږغ وکړه چې اماده یې کړم.

ورته ومې ویل:

- یوه توپنچه او یو څو ریاله غواړم، بس نور نو شی نشته.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سملاسي يې بهر ولاړ يو نفر په توپنچه پسې واستاوه او د پيسو په اړه يې په کرمان کې د يو کس ادرس راکړ او راته ويې ويل چې هر څومره پيسې ترې وغواړم را به يې کړي. دوکان يې په علي خان سرای کې وو او صادق نوميد. تيمور ته مې وويل:

- د دغسې معاملو لپاره به ته او صادق خان حتماً تر خپل منځ يو شفر هم لرئ، کنه؟

ويې خندل او ويې ويل:

- بالکل!

او بيله خندا يې له خپلې گوتې څخه د سپينو زرو يوه گوتمی چې د عقيقو غمی پکې لگېدلی وو، راوايستله، په لاس يې کې راکښېښوده او راته کړل يې:

- زما او هغه ترمنځ په دغسې حالاتو کې تر ټولو ډاډمن او اعتباري شفر دغه گوتمی ده چې يو و بل ته يې سره لېږو رالېږو.

په توپنچه پسې تللی سړی راغی. تيمور توپنچه څنې واخيسته او ما ته يې راکړه. روسی ساخت وو. وروسته يې راته وويل:

- اماده يې؟

- ببخي! پر مخ يې ښکل کړم، شا ته ولاړ کس ته يې اشاره وکړه او راته ويې ويل:

- دا زما اعتباري سړی دی، لار هم ښه ورمالومه ده او تر کرمان پورې به درسره ملگری وي.

- سهي ده پوه شوم. ياني ستا د مخکنيو خبرو مانا دا وه چې دغه گوتمی بايد صادق خان ته ورسپارم!

- ملگرې ډېر هوښيار سړی يې. ورځه الله دې مل شه!

شپه مخ پر رڼا کېدو وه چې زه او د تيمور ملگری له کوټې څخه راووتو...

* * *

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ماسپښین مهال د کوره دلیل په نامه د اورګاډي یوه تمځای ته ورسېدو. دا ځای سرحد ته نژدې وو. د سفر ملګری مې ظهیر نومېد. لیرې یو ځو ونې ښکارېدې، ده ګوته ورته ونیوله او راته کړل یې:

- هلته یو کوچنی کلی دی، غرمنی به هورې وخورو بیا به حرکت وکړو او داسې به ولاړ شو چې تر پوله د شپې واوړو.

دغه لاړ ما ته په بشپړه توګه ناشنا وه. لس ساعته مسلسل د اس پر ملا ناستې ستړی هلاک کړی وم. ظهیر ته مې وویل:

-که تر لمر لوېدو په کلي کې ارام وکړو، نو ابله به یو څه انرژي پیدا کړو.

هغه وخندل او ویې ویل:

- د تېمور له قوله ته د هغه زوړ انډیوال یې، نو ډاډه یم چې له دمې پرته به تر پولې اوښتلو ته خان تینګ کړای شې.

ورته ومې ویل:

- باید همداسې یم، خو د تېرې او ورمې شپې بېخوبی له پښو غورځولو ته نژدې کړی یم.

په خیر-خیر یې راوکتل او ویې ویل:

- رښتیا هم. د ستړیا نښې دې پر مخ له ورایه ښکاري، مګر چاره نشته. د دمې کولو سوچ دې له ذهنه وباسه او پر ځای یې سبا شپه ارام وکړه. بل دا چې له پولې څخه ژر اوښتلو ته دې تلوار هم دی.

- هر څنګه چې وي یو دوه درې ساعته خوب باید خامخا وکړم.

د اوبو پټک یې راته ونیو او ویې ویل:

- اوس دې غاړه لږ تازه کړه، څو دقیقې وروسته رسېږو.

دا کلی نو په حقیقت کې یوه وچه پرښه وه چې زموږ له شنه او ښېرازه هغه سره اصلاً د پرتلې وړ نه وو. په کلي کې د ظهیر له بلدتیا څخه ښکارېده چې دې ځای ته دېر ځي راځي، ځکه نیغ یې د خان کور ته ورغی. هغه د غېږې روغبړ راسره وکړ

او سملاسي يې يوې کوټې ته بوتلو. لنډه شېبه وروسته سترخوان راته هوار شو. تر پزې مو خانونه ماړه کړل.

ظهير تر مړېدلو وروسته د کوټې يوه گوټ ته وځکېد او د مړي غونډې پر ځمکه اوږد-اوږد وغځېد. ما هم خان ايله کړ، خو سره له دې چې سترگې مو له ډېرې بېخوبۍ پټې-پټې کېدې، بيا مې هم نه غوښتل ويده شم او په يو عالم زحمت مې خان وينس ساتلی وو.

له پولې څخه د تېرېدو سوچ يوه شېبه ارام نه پرېښودم. گړۍ وروسته مې ظهير راوينس کړ او روانېدو ته مو خانونه چمتو کړل. د خان له کوره د راوتلو پر مهال د مازيگر شاوخوا پنځه بجې وې. ظهير وپوښتل:

- ايا دې لنډې دمې گټه درته وکړه؟

- ډېره اړينه وه. وينې مې چې تر مخکې زيات تکړه او بيداره يم او په راتلونکو خليرويشتو ساعتونو کې به د ستړيا نوم هم وانه خلم.

د کلي مخې ته پر غځېدلې لار چې ريک ملک تمځای ته وتلې وه، روان شوو، يو څه وروسته کچې نه ترې واوښتو او مزل ته مو دوام ورکړ.

ورو-ورو هوا تياره شوه او وخت ناوخت مو د جيبي څراغ په مرسته لار روښانوله. هر وار چې به مې له ظهيره وپوښتل چې تر سرحد پورې څومره لار پاته ده، همدا يو ځواب به يې راکاوه: تر څو هغه ځای ته چې ما ته رامالوم دی، ونه رسېږو، سم ځواب نشم درکولای.

لنډه دا چې ټوله شپه مو مزل وکړ. هغه د کلي دوه ساعته ارام ډېر تکړه کړی وم. ستړيا مې بېخي نه احساسوله. کله چې سپېدې وچاودلې او د اسمان شنې لمنې مو وليدلې، ظهير وويل:

- دا د ايران خاوره ده او تر سرحد څو کېلومتره راتېر شوي يو.

ورته ومې ويل:

- نو ولې دې وختي هلته پر سرحد نه خبرولم؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ویې خندل او ویې ویل:

- غوښتل مې تر سرحد څو کېلومتره وروسته دا زېرې دریاندې وکړم، خو پام دې وي چې تر ریګستان پورې باید خپل مزل ته همداسې ادامه ورکړو.

دا د(١٩٤١م) نومبر میاشت وه. د پلار و نیکه د خاورې لمر مې پسله کلونو-کلونو بیا تجربه کاوه. وچ-کلک سپېره ریکستان وو. چې سترګو دید کاوه نه شین بوټی لیدل کېدی او نه کومه ودانې. لمر هم ښه پوره ګرم او سوځوونکی وو. په داسې دوږخي هوا کې مزل د خدای تر کوره کړاوجن او سخت وو. چاره نه وه، بیا هم مخ په وړاندې روان وو. غرمنی مو د بلوڅانو په یوه کلي کې وخوړه او بیا وخوځېدو. څلور ساعته وروسته د ریګستان په منځ کې بلوچ آب چینې ته ورسېدو.

ماسپښین دواړو یو څه دمه وکړه. سره له دې چې نور له خطرونو رالیرې شوی وم، بیا مې هم د ایرما د دې لعنتي ساعت له اسیته(سببه) اروا نارامه وه. یوه شېبه مې هم له خانه نشوای بېلولای. دا لا څه چې ان سم خوب مې هم نشوای کولای، څکه پر ظهیر مې سل سلنه باور نه درلود. چې هر څنګه وو بیا هم د قاچاقبرانو د باند غړی وو او د دغسې خلکو پلټونکی حس زما د هغه په شان قوي او وېښ وي. بل دا وېره هم راسره وه چې ممکن خپل مشر تېمور پټ امر ورته کړی وي چې په ایران کې زما د اصلي مقصد په باره کې لا زیات مالومات حاصل کړي، څکه په څومره تلوار چې ما له هغه څخه د نقلیه وسیلې او نورو شیانو مرسته وغوښته، حتماً به راباندې شکمن شوی وي.

د قاچاقبرې په لین کې زه بیا هم تر ظهیر باتجربه وم، سترګې مې پټې کړې او خان مې پر خوب واچاوه. غوښتل مې په دې ډول یې شک ورویاسم. ایا پوهېږئ ظهیر څه وکړل؟ نوموړي تر ما مخکې پښې غځولي وې. دقیقه دوې وروسته کرار پر کیڼ بغل ولغښت او سترګې یې نیمکښه کړې. همدا چې زما له خوا ببغمه شو، کښېناست او پر څلورو زما د کورټۍ او نورو سامانو خوا ته ور روان شو. یو-یو یې په خیر-خیر تر لاس وابست. د انجیل په لیدو یې هغه ورواخیست او لاندې باندې یې وکوت، وروسته یې خلاص کړ او کله چې یې ولیدل چې یوازې یو څو شمېرلې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

پانې لري، نو هېښتيا يې لا څواکمنه شوه. ډېر يې سره واړاوه راواړاوه، غوښتل يې په راز يې ځان وپوهوي. چې څه په لاس نه ورغلل، نو کتاب يې وتاړه او بېرته يې پر خپل ځای کېښود. بيا يې زما سر نه پرته توپنچه ورواخيسته، ډېر په احتياط يې مرمۍ ځنې وايستلې او بېرته يې کرار پر خپل ځای کېښوده.

ځان مې له غټ خطر سره مخامخ وليد او ورانديونه مې رښتيا راوختله. سر مې خلاص شو چې تيمور دنده ورکړې ده چې له پولي څخه اوښتلو نه زما د تلوار او لېوالتيا راز مالوم کړي. داډه شوم چې هغه له بلوچ آب څخه تر روانېدو وروسته پر لارې يو مناسب ځای خپله اصلي څېره راښکاره کوي، په مرګ مې ګواښي چې حال ورته ووايم او که مې ورته نه وايه، نو مې پر دا سرسر ولي او پر خپله مخه ځي.

اوس نو په دې فکر کې شوم چې څنګه په يوه چټک او کامياب غبرګون سره وار پر لومړی کړم... سر نه مې تشه توپنچه پرته وه چې له يوې اوسپنې سره يې کوم توپير نه درلود. تر دې ځايه ظهير برلاسی وو، ځکه بې‌وسلې کړی يې وم.

يوازنی کار يو تېز بريد وو او هغه مې بايد تر روانېدو وړاندې پر کولای، ځکه پر لارې دا کار ناشونی وو. ورته ومې وکتل. دواړه لاسونه يې سره يوځای کړي او پر تندي ايښي ول. سترګې يې نه ښکارېدې چې بندې وې که پرانيستې. توپنچه يې ښی اړخ ته پر ځمکه پرته وه.

د هغه د مغلوبولو لپاره مې بايد د شا له خوا ګوزار پر کولای، بله چاره هم نه وه. د خپل دې تاکتيک پر برياليتوب هم چندانې ډاډه نه وم، ځکه لومړی ګام هغه اخيستی او زما هر خوځښت يې تر څار لاندې وو. يوازنی موخه مې د هغه توپنچه ترلاسه کول ول، کنه نو کيسه مکمله خرابېدله، ځکه په يوه چاکو خو څه نه وه جوړه.

هره شېبه پر ظهير بريد کولو ته چمتو وم، مګر دا چې دغه موقع کله په لاس راتله، خپله هم نه پوهېدم. د ده نيت هم ډېر واضح وو؛ د پلان لومړی پړاو يې چې زما بې‌وسلې کول ول، عملي شوی وو او اوس دې ته سترګې پر لار وو چې په يوه فرصت کې د خپل مشر امر پر ځای کړي. بالاخره پاڅېد. توپنچه يې واخيسته، تر

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ملا یې ونړله او بوغ یې راباندې وکړ چې تګ ته ځان چمتو کړم. د برید وخت رارسېدلی وو او که دا چانس راځخه تېر شوی وای، بل دغسې فرصت بیا په ګوتو نه راتلی. خپل ټول خدای راکړی وس او چالاکي مې باید کارولای.

سترګې مې پرانیستې او د ستړیا د ایستلو په پار مې غځونې وکړې. ظهیر مې اړخ ته ولاړ وو، ما کولای شول چې په ښی لاس یې تر پښو راکش او پر ځمکه غوځار کړم. ویې ویل:

- لمر پر لوېدو دی، باید روان شو!

څه مې ورته ونه ویل. ده چې ګام واخیست زه لاس په کار شوم او د سترګو په رپ کې راسته طرف ته ولغړېدم، په دواړو لاسونو مې د ظهیر پښې ونیولې او ځان ته مې راکش کړې. چې تر څو یې په کیسه سر خلاصېد، بیا د شا پر تخته پر ځمکه پروت وو. ځنډ مې ونه کړ چابک مې له جېبه چاکو راوکیښ او پر وروغوږځېدم. هغه په دې وخت کې توپنچه راایستلې وه، خو نور اوبه تر ورخ اوښتې وې، ځکه پر هماغه لاس مې کینه پښه ورکښېښوده او فشار مې ورکړ.

ظهیر تر راسته مړوند ونیولم او غوښتل یې چې هم چاکو راځخه وغورځوي او هم په یو ډول خپل وسله وال لاس خلاص کړي. دواړه چوپه خوله لګیا وو او هڅه مو کوله پر یو او بل برلاسي شو. یودم مې فکر شو چې هغه زما چاکووالا لاس خپلې خولې ته ورکشوي او غواړي غاښ په ولګوي. حساسې او نازکې شېبې وې. راسته پښه مې ازاده او ښه استفاده مې ځنې کولای شوه. همداسې مې وکړل؛ تر زنه مې ورلاندې کړه او پسې ورټېله مې کړه. له ډېره درده یې مجبوراً زما لاس خوشې کړ، خو سملاسې یې تر پښه ونیولم، ما هم دستې پر لاس څو ځایه په چاکو وواهه. په همدې شېبه کې مې توپنچه هم له لاسه ځنې وکښله. په دې ډول نو ګواکې وسله وال شوم. چاکو مې یوې ګوښې ته وغورځاوه، توپنچه مې پر ونیوله او ورو ترې راولاړ شوم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ظهير د تېي مار په شان څو واره يوې او بلې خوا ته تاو راتاو شو او وروسته کرار ودرېد. له سترګو يې غوسه او کرکه اورېدله. پر شا ولاړ، دېوال ته يې ملا تکيه کړ او ويې ويل:

- همالته مو بايد وژلی وای!

- اوس زه تا وژنم... وګوره زما تشه توپنچه پر څمکه پرته ده.

- اوس دې نيت څه دی؟

- هيڅ، شيان دې درواخله چې روانېږو. له دې ځايه چې لږ ليرې شوو، بيا به يو چل وکړم.

ظهير چې له ډېرې غوسې او کرکې يې غاښونه چيچل، خپلې بې رحمه سترګې ښغې راته ونيولې او ويې ويل:

- ښه دا ده چې تر روانېدو وړاندې همدلته راته ووايې چې زما په باره کې دې پلان څه دی، خو که غواړې چې ومې وژنې او مړی مې په رېګو کې وغورځوې، نو اشتباه کوې. ما تېمور ته ويلي دي چې که زه بېرته راستون نشوم، هغه بايد په تا پسې راووزي.

ترې ومې پوښتل:

- خيريت وو چې تاسې دوو دغسې يو پلان جوړاوه؟ لکه چې دې ته مو حساب کړی وو چې که زه ژوندی درڅخه خلاص شوم او ته پساو شوې، نو يوه لار به درپاته وي.

هغه چوپ وو، مګر همداسې بد-بد يې راته کتل. په غوسه او لوړ اواز مې ورته وويل:

- خبرې وکړه. تا او تېمور وښودله چې د باور او ډاډ وړ نه ياست، مګر نه، زه دې نه وژنم.

- قسم واخله چې نه مې وژنې!

- قسم نه اړتيا نشته!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بیا مې ورته وویل:

- شیان دې ټول کړه چې حرکت کوو.

- نه، اول باید قسم واخلې چې ما به نه وژنې!

- د نر یوه خبره وي!

ظهیر چابک خپل شیان راټول کړل. ما هم خپل سامان چې صرف یو څو گوتشمېر څیزونه ول، راواخیست، توپنچه مې تر کورتی لاندې ونیوله او ورته ومې ویل:

- درځه اسونه زین کړه!

هغه د اسونو په زینولو اخته وو. بودم مې خپله تشه توپنچه راپه یاد شوه. پر ماغزو چې مې ښه زور راوست راياد شول چې له کوټې څخه د راوتلو پر مهال مې باده توپنچه پر خمکه ونه لیده. شېبه‌م حس مې خبرداری راکړ چې هغه د ظهیر په گوتو ورغلې ده او غوارې پر موقع کار ځنې واخلي. بالکل عاقلانه پلان یې ترلی وو. څکه مرمی یې هسې هم له ده سره وې او که په کوم چل یې حتا یوه مرمی هم وراچولې وای، کار یې راکړوپولای شو.

د لا ډاډمنتیا لپاره مې پرېښود چې اسونه زین کړي. وروسته مې ورته وویل:

- درځه یو پلا بیا کوټه ښه سمه وگورو، هسې نه یو شی راڅخه پاته شوی وي.

ده په نرمه لهجه او خورا سړه سینه راغبرگه کړه:

- زه به ورشم!

ورته ومې ویل:

- نه، دواړه ورځو!

انگېرنه مې پرځای وه؛ توپنچه ده پټه کړې وه. مخ دېوال ته مې ودراوه او د بغل جېبونه مې یې ورتلاښي کړل، کوم غټ شی مې پکې پیدا نه کړ. زه هم تر ده په کمه نه وم. په یوه لاس مې توپنچه ونیوله، په دا بل لاس مې یې د راسته پښې پایڅه ورپورته کړه... شی نه وو. خو کله چې مې پر کینه پښه لاس ورتېر کړ، ومې لیدل چې د توپنچې څوکه یې په موزه منډلې وه. ترې راومې ایستله. ورپسې مې تر څټ

ونیو او دوه درې ځله مې تندی له دېوال سره وروجنګاوه. وروسته ځنې راشا ته شوم او ورته ومې ویل:

- در روان شه، ولې ولاړ یې؟

ظهیر نابېره سر وځرخېد، سر یې راته سیخ کړ او راباندې راپه هوا شو. توپنچه مې تیاره په لاس کې وه او کولای مې شول په یوه مرمۍ یې همالته سوړ-ګوړ پر ځمکه وغورځوم، خو دا کار احمقانه وو. د ټک په اورېدو سره د شاوخوا مېشتو بلوځانو پام دې خوا ته را اوښت او له شک پرته راپسې راتلل.

د ظهیر برید تېز وو، خو زما غبرګون بیا تر هغه لا چټک وو؛ ژر پر دوو پښو کښېناستم، داسې چې سر مې د هغه د دواړو پښو ترمنځ راغی. په دې ډول نو یار لالا همداسې زما د سر له پاسه تېر او شا ته پړمخې پر ځمکه ولوېد. پر همدې بېعقلانه حمله یې ځېل مقاومت پای ته ورساوه، ځکه ځېله ورروستۍ هیله یانې هغه تشه توپنچه یې له لاسه وتلې او له دې سره یې زما د مغلوبولو نقشه هم په اوبو لاهو شوې وه.

له راپاڅېدلو سره سم یې زما په لاس کې پر توپنچه سترګې ونښتې چې خوله یې د ده خوا ته وه. بد-بد یې له سره تر پښو راته وکتل او بې څه ویلو مخ پر دروازه روان شو. ورته ومې ویل:

-که کامیابه شوی وای، دستې دې وژلم، ځکه قسم دې نه وو اخیستی!

ودرېد او ویې ویل:

- زما یوازنی هدف دا وو چې توپنچه درځخه واخلم!

-بیا دې څه کول؟

څه یې ونه ویل او له خونې ځخه ووت. زه تر شا ورپسې شوم. پر اس تر سپرېدلو وړاندې مې زین په خیر-خیر سره وکوت، ځکه هغه د باور وړ نه وو، ممکن کوم پسات یې په کړی وای. اول ځېله سپور شوم، بیا مې هغه ته د سپرېدلو وویل. د اسونو تر روانېدو مخکې مې ورته وویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- که دې بیا دغسې بیعقلي وکړه، نو دا تر کورتۍ لاندې توپنچه مې نور نه درخخه درېغوم او د خپلې هغې مخکنۍ ژمنې هم په کیسه کې نه یم.

هغه مخکې زه ورپسې مو له بلوچ آب چینې څخه حرکت وکړ. هوا په بشپړه توګه تیاره شوې وه او موږ د سرحد په رېګستان کې مخ پر لوت زنګي احمد روان وو.

سره له دې چې هغه بې‌وسلې وو، بیا مې هم له توپنچې لاس نه ایسته کاوه. ځکه زه خپله هم د دوی په شان قاچاقبر وم او ښه په رسمیت مې پېژندل چې څه بدې بلاوې دي. شک نه وو چې که موقع په لاس ورتلای، حتماً بې زما د مغلوبولو هڅه کوله.

په هغه صورت کې نو خامخا وژل کېدم. پر لارې مې یو ځای ترې وپوښتل:

- ایا تا د تېمور په امر زما له توپنچې څخه مرمۍ وایستلې؟

- همداسې یې وبوله!

- نو بیا موږولې هلته په کویټه کې دا توپنچه راکوله؟

ویې ویل:

- ځکه تا یې غوښتنه وکړه.

- ولې دې خالي سلا کړم؟

- چې وژنې مې لا د دې پوښتنې ځواب نه درکوم.

- د ځواب اړتیا هم نشته، ستا او تېمور نیت راته مالوم دی.

- نو بیا ولې پوښتنه راڅخه کوې؟ خو یو شی دې باید په یاد وي، هغه دا چې په عباس بندر کې په ترلاسه شویو پیسو کې د تېمور ونډه باید هېره نه کړې، ځکه هغه درته په تمه دی.

- دا ژمنه ما له هغه سره په خپله هم کړې ده!

زه او ظهیر نور هغه پروني ملګري نه، بلکې سرسخت دښمنان وو. صرف په دې توپیر چې ما یې د وژلو نیت نه درلود، مګر هغه په هېڅ وجه صرفه نه راباندې کوله او په یوه کوچنۍ موقع کې یې توکر-توکر کولم. نومورې د ایران سرحدي کربنې نه

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

له نژدې پرتو پاکستاني بلوڅانو څخه وو. د دې خلکو په وینه کې د زړه‌سوي او ترحم په نامه ماده نشته.

پلان مې دا وو چې کرمان ته نژدې څنې بېل شم، ځکه عمومي سړک ته ورو‌تلي لارې سمې رامالومې نه وې او تر هغه ځایه مې د ده لارښوونې ته اړتیا درلوده. تو‌له شپه مو مزل وکړ او دا سبا ماپښین مهال لوت زنګي احمد ته ورسېدو. ظهیر وویل:

- دلته باید لږ دمه وکړو.

ورته کړل مې:

- نه، صرف د اسونو د اوبولو لپاره تمېږو، وروسته بېرته روانېږو.

ما دوې موخې لرلې؛ یوه دا چې ژر تر ژره کرمان ته ورسېږو او بله دا چې هغه د خپل شیطاني پلان له عملي کولو څخه راوګرځوم. په لوت زنګي احمد کې نژدې نیم ساعت ودرېدو او بېرته مو حرکت وکړ.

دا سبا غرمه مهال کرمان ته ور نژدې شوو. پرېکړه مې وکړه چې له ظهیر سره نور خپله لار بېله کړم. ورته ومې ویل:

- همدلته بې ستا خپله، زما بې خپله!

هغه لکه د دې خبرې د اورېدو تمه چې بې نه لرله، په هېښتیا بې راته وویل:

- خو زه باید تر کرمان پورې درسره ولاړ شم، ځکه ستا او صادق تر ملاقات وروسته باید تېمور ته بېرته د هغه ګوتمۍ ورورم.

په پرېکنده لهجه مې ورته وویل:

- د تېمور ګوتمۍ مې په‌کار نه ده، دا دی اوس یې لا واخله او ورته ووایه چې د صادق لیدلو ته له سره اړتیا نه لرم. بس چې ستا په وسیله بې خپله ملګرتیا تر دې ځایه راته ثابته کړه، همدا کفایت کوي.

هغه غابنونه سره وچیچل او ویې ویل:

- نو ستا له اوله لا نیت بل وو او هسې په چل‌-ول دې تېمور مجبور کړ چې تر پوله دې راواړوي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ګونټې مې ورکړه او ورته کړل مې:
- زما، ستا او تېمور کسب و کار ولاړ پر همدې چل-ول دی. کټمټ لکه نه چې په چل-ول راسره را روان شوې، ما هم همداسې وکړل. له دې پرته مې بله هېڅ چاره نه درلوده.
ظهير يوه شېبه چوپ وو. وروسته يې يوه له خنبم او کرکې ډکه خندا وکړه او ويې ويل:
- تېمور نه تر ما ښه پېژنې او درمالوم دی چې څومره کينه‌کښ انسان دی. دومره اسانه دې چيرې پرېږدي او کله چې يې راچپه او تر لغتو لاندې کړې، بيا به دا ټول حسابونه درسره تصفيه کړي.
په سره سينه مې ځواب ورکړ:
- زه هم همداسې يوې ورځې ته سترګې پر لار يم او هيله ده زما دا پيغام ښه په امانت ور ورسوې.
ځنې روان شوم. د شا له خوا يې راپسې ږغ کړل:
- هغه زما توپنچه؟
اس مې ورتاو کړ او ورته ومې ويل:
- هو رښتيا، راشه توپنچه دې واخله. خو دا چې زما د توپنچې مرمۍ ستا سره دي، نو ستا د هغې مرمۍ بيا د يادګار په توګه زه له ځان سره ساتم.
توپنچه مې ورو‌غورځوله. هغه چيغه کړه:
- اې لېونيه، مرمۍ مې په‌کار دي. دا تشه وسله نو څه په وکړم. په خدای قسم چې مرګ به دې زما له لاسه وي نه د تېمور له لاسه.
د زاريو او شکايتونو په کيسه کې يې نشوم. اس ستړی وو. بيا مې هم قيضه ټينګه- ټينګه راکش کړه چې تېز وخغلي. څه لار چې مې ووهله تر شا مې وکتل، ظهير نه ښکارېده. ګواکې تللی وو چې له تېمورسره په ګډه زما د وژلو پلان جوړ کړي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په کرمان کې مې درې ورځې تېرې کړې. په دې وخت کې مې هم ارام وکړ او هم مې له دوستانو، قربانو او ملګرو سره ولیدل. وروسته مخ پر تهران وخوځېدم چې د ایرما ماموریت پای ته ورسوم.

ملګرو او دوستانو ته مې وویل چې عباس بندر ته ځم او په وروستي ورځ له خدای‌پاماني پرته له کرمانه راووتم. پر لارې د هغه ساعت له اړخه اندېښمن نه وم او ډاډه وم چې له لودویک نامي سره نه مخامخېږم. اخیر هغه ورځ هم راورسېده چې په تهران کې د راسپارل شوي ماموریت تاکلي ځای ته ورننوتم.

د لاله‌زار واټ په یوه هوټل کې مې کوټه ونیوله. د شپې تر نهو بجو پورې مې په پاریس بوفه کې د هغه کس په اړه سوچ وکړ. په دې مې تقریباً سر خلاص وو چې د دغه سړي او ایرما تر منځ څه اړیکه ده.

زما د هوټل او پاریس بوفې تر منځ صرف پنځه دقیقې لار وه او کله چې ور ورسېدم، یوازې دوه تنه مشتریان لیدل کېدل او زما مطلوب کس پکې نه وو. د ایرما له قوله هغه د نهو او لسو بجو تر منځ هلته راتلی. د وخت تېرولو لپاره مې اسلامبول واټ درې ځله پلې ګز و بر کړ. داسې ښکارېده لکه ساعت چې ډېر ورو چلېږي. څو دقیقې د لاله‌زار واټ په سر کې د ماياک سينما مخې ته چې اوس يې سهېلا بولي، ودرېدم او همدا چې نهه نيمې شوې، د پاريس بوفې خوا ته رهي شوم.

دننه یوه خامه سره رڼا خپره وه، په فضا کې د لوګیو ګاټه اوربخې ګرځېدې. په دې حال کې د یوه ناشنا کس موندل اسانه کار نه وو. ډېری يې بهرنيان ول. دوې يو څه زړې ښځې هم پکې ليدل کېدې چې په يوه لاس کې يې څښاک او په بل کې يې سګرېټ نيولی وو. له بدمرغه هغه کس مې په سترګه نشو. لسو ته يوازې پنځه‌ويشت دقيقې پاتې وې.

څه کم لس بجې چې نور کرار-کرار نهيلی کېدم، درې تنه راننوتل. مطلوب کس يې دريم تن وو. په لومړي نظر مې وپېژاند. په چپه لاس يې نسواري رنګه دسکله اغوستې وه او يو تازه لګېدلی سګرېټ يې د همدې لاس په دوو ګوتو کې نيولی وو.

بوازې وو او له هېڅ مشتري سره يې سلام عليک ونه کړ. حتا شاوخوا يې هم ونه کتل. سيده ولاړ، د څښاکو ګيلاس يې ورواخيست او ودرېد. تر څار مې لاندې وو. سترګې يې ظاهراً په خپل ګېلاس کې وې، ليکن تر کونجو يې ټول مشتريان څارل. له شک پرته د ايرما يا يوه بل داسې کس په تمه وو چې ساعت يې ورسپارلای.

پاڅېدم، په داسې حال کې چې هغه ته مې شا وه له کورتۍ څخه مې يو سګرېټ راوايست، ورروان شوم او داسې مې وښودله لکه اورلګېټ چې مې په کار وي. مخامخ ورته ودرېدم او په انګليسي مې ترې وپوښتل:

- اورلګېټ لرئ؟

له راکتلو پرته يې سر وخوځاوه، د کورتۍ له جېبه يې يو کوچنی لېټر راوايست او سګرېټ يې راولګاوه. يو غليظ دود مې پو کړ او ورته ومې ويل:

- ايرما ته منتظر ياست؟

يودم يې سر نېغ ونيو، سترګو ته مې څير شو او ويې ويل:

- ايرما؟ نه، په دې نامه څوک نه پېژنم!

- مګر زه د هغې يو پيغام درته لرم!

هغه يو ځل بيا د ايرما له پېژندلو انکار وکړ او په سړه سينه يې وويل:

- لکه چې معشوقه دې ده، همدلته ورته ودرېږه، خامخا يو ګړی بعد راځي.

له سګرېټه مې يو بل دود کش کړ او ومې ويل:

- پر ما باور وکړه، ايرما رالېږلی يم چې د هغې پيغام درکړم. نومورې نور په دې دنيا کې نشته!

ناشنا سړي خپل پاته څښاک پر سر واړاوه او ويې ويل:

- بهر درته منتظر يم!

د پيسو تر ورکولو وروسته سملاسي دباندې ووت. زه دقيقه دوې وروسته ورپسې ورووتم.

هغه د سړک د غاړې له چړی سره ولاړ وو. چې ورنږدې شوم، ويې ويل:

- زما سره راځه!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

تر سړک واوښتو. د خپل موټر دروازه یې خلاصه کړه او شتمرنګ ته کښېناست، زه یې هم څنګ ته کښېناستم. څو شېبې وروسته روان شوو. تړې ومې پوښتل:

- چېرې ځو؟

سړي وویل:

- لکه څنګه چې ما پر تا باور وکړ، ته هم باید پر ما باور وکړې. بې پردې باید سره ووږغېږو. د ډېرو شیانو په باره کې باید پوښتنې درځخه وکړم، مثلاً په نوکندي کې څه پېښ شول او ایا د لودویک په نامه کس دې ولید که نه؟

ورته ومې ویل:

- یانې ته هم هغه پېژنې؟

- هو، لږ وخت کېږي چې سره پېژنو. خیر دا دې وي، اوس دا راته ووایه چې زما کور ته راسره ځې که له ښاره دباندې کوم بل ځای؟

- پر ما فرق نه لري. چې ستا خوښه وي.

- نو زما کور ته به ولاړ شو او هلته به د خپل دغه شناخت په ویاړ شوندې هم لندې کړو.

دولت دروازې ته له رسېدو سره سم د روزولټ واټ خوا ته تاو شو، څو یو څه لار وروسته یې ناڅاپه پر اکسلېټر پښه ټینګه کړه او ویې ویل:

- نظر مې واوښت، له ښاره دباندې یو ځای ته ځو!

د هغه دې بدلون شکمن کړم، مګر څه مې کولای شول، پر یو و بل مو باور کړی وو او زما یوازنی ډاډ هغه توپنچه وه چې په خپل جېب کې مې یې شتون احساساوه. موټر یې ډېر ګړندی چلاوه. تر څو فرعي واټونو تېر او شمیران واټ ته ورسېدو او هغه شبېه په شبېه موټر لا چټکاوه. د کېلومتر ستنه د اتیا او نوي تر منځ کښته پورته کېده.

ورته ومې ویل:

- دومره لوړ سرعت خطرناک دی!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه په داسې حال کې چې هر څو شېبې وروسته یې د تندي په هنداره کې شا ته کتل، وویل:

- کله چې زموږ تر شا راروان موټر چې دننه څراغ یې لګېږي، تر موږ تېر شو، نو ته چابک خپل سر کښته کړه.

په خبرو کې ورولوېدم او ورته ومې ویل:

- ایا هغه په موږ پسې څارو دی؟

- زما په خیال همداسې ده، احتیاط ښه دی!

د ضرابخانې په درې لارې کې د نیاوران خوا ته وګرځېد. تر شا راپسې موټر په لیونۍ منډه جوخت راپسې وو. زه یې هم تېرېدو ته سترګې پر لار وم. یو وخت تر موږ تېر شو. موږ دواړو سرونه خم کړل. سړي راته کړل:

- شی ونشو. فکر مې کاوه شاید دزې راباندې وکړي. البته د هغوی اصلي ښه نه وې.

- زه؟ هېڅ داسې دلیل نه وینم چې له امله دې هغوی ما په ښه کړي.

-ګران ملګرې، لودویک به هر څای لکه سیوری داسې درپسې وي. زه یې ډېر ښه پېژنم.

- مګر له هغه ښځه مې په کویټه کې خان ورک کړ او هېڅ امکان نه لرې چې راخبر شوی دې وي.

- په هر صورت، اوس دې مخ ته پام ساته. ایا وسله لرې؟

- هو او ښه مې هم خطا نه لري.

یو لوی چوک راغی. پر هغه د راګرځېدلو پر وخت مې د موټر په رڼا کې یوه ښځه ولیده چې د سړک پر منځ پرته وه. سړي ته مې وویل:

- ودروه. زما خیاله هغه زموږ ښځه تېر شوي موټر وهلې ده.

ده راته وویل:

- او دې ته نه ګورې چې داسې کش و پش والا ښځه د شپې دا وخت دلته څه کوي؟

- باید روغتون ته یې ورسوو!

له هغې ښځې څخه نژدې لس متره ها پلو یې موټر ودراوه او ویې ویل:

- ونیسه ورشه ویې ګوره چې ژوندی ده که مړه. او ګوره هر وخت چې مې د موټر بتۍ(ګروپونه) مړې کړې، نو په یوه توپ د سړک راستې خوا ته خان ورسوه او هلته پر ځمکه پروت وکړه.

- ستا په خبرو خو مې هیڅ سر ولاکه خلاصیږي.

- خیر ډېر ژر به دې سر په خلاص شي.

زه له موټره راکوز او د هغې ښځې خوا ته ورروان شوم. هغه بې حرکته پرته وه. یودم مې ورته فکر شو چې لږ سره وښورېده او په همدې ان کې زما ملګري د موټر بتۍ ګل کړې. زه هم بېله ځنډه د سړک ښی خوا ته وغورځېدم او هلته په ویاله کې پرېوتم. څو پرله پسې ډزو شپنی چوپتیا دړې-وړې کړه. څو مرمۍ ما ته نژدې پر ځمکه ولګېدې. له خان سره مې وویل: غواړي ومې وژني. خو په سبب مې یې سد نه رسېد. توپنچه مې په لاس کې نیولې وه، مګر د ویشتلو لپاره مې کومه نښه نه لیدله. اوس مې له دې ځایه د پاڅېدو زړه هم نشوای کولای.

د یوې لنډې شیبې لپاره د موټر بتۍ ولګېدې، ورسره جوخت ډزې وشوې او یوه سپکه چیغه مې تر غوږو شوه. دا پیښې دومره چټکې او پرله پسې وې چې تا به ویل پر یوه ځای شوي دي.

- ملګرې چیرې یې؟

- دلته د سړک پر غاړه!

راپاڅېدم. زموږ په څو قدمی کې له ولاړ موټر پرته مې بل څه نه لیدل. هغه ناشنا سړی مې خوا ته راغی او راځغه ویې پوښتل:

- لګېدلی خو به نه یې؟

- نه، دا دی وینې مې، جوړ تیار یم. ته څنګه؟

- زه هم جوړ یم. راځه ولې ولاړ یې. باید بېرته پر راغلې لار ستانه شو.

- هغه پر سړک پرته ښځه؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سړي خواب راکړ:

- هغه اوس هم هماله پرته ده، مګر نوره ژوندی نه ده. که مې یا د موټر بتی ژر نه وای مړې کړې او یا مې تا لارښوونه نه وای منلې، نو له شک پرته به اوس سوري سوري وای. له نېکه مرغه چې هغه وروستی ډزې زما د وسلې وې او هغه مې په ووژله.

- هغه تا ووژله؟

- په دې باره کې به بیا وروسته په تفصیل وږغېږو. اوس راځه چې ځو!

د هغې ښځې لاښ ته ورغلو. سړي له جېبه یو کوچنی څراغ راوایست او پر هغه یې ولګاوه. ښځه د شا پر تخته پرته او شاوخوا یې په وینو لړلې وه. خوانه او ښکلې وه. توپنچه یې یو څه ها پلو پر سړک پرته وه. سړی ورچوغ شو او د هغې لاسې دسکول یې وراخیست. وروسته یې ژر-ژر جسد وکوت او ما ته یې وویل:

- د هغوی تر راتلو مخکې باید له دې ځایه پښې سپکې کړو.

- د چا؟ هغه موټروالا ښې چې تر شا راپسې ول؟

- هو، دغه مېړمن هم په هماغه موټر کې سپره وه.

د دغو چټکو او سربدالوونکو پېښو په پیل کې لا زما له سږمو د وینو بوی وننښت. اوس مې کرار-کرار په ځینو نورو کیسو هم سد ورسېد. په سړي پسې شوم. څو شېبې وروسته مو موټر بېرته پر راغلې لار په منډه وو. دواړه چوپ و غړپ وو. اخیر ما چوپتیا ماته کړه او ومې ویل:

- اوس چېرې ځو؟

بېله خنده یې راته کړل:

- زما د یوه ملګري کره، پاته مجلس به هلته سره وکړو...

ما په جېب لاس ننه ایست، د ایرما ساعت مې راوایست، ورته ومې نیو او ومې ویل:

- دا د ایرما امانت ژر دروا خله او ما په ښار کې یو ځای کښته کړه.

هغه د سترګو له ګوټونو راوکتل او ویې ویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- ستا سره مې نور کار هم دی. ساعت اوس درسره وساته، چې ورسېدو بیا یې درځخه اخلم.

- مګر ما ته باید هر څه واضح وویل شي چې په دې ګردو(ټولو) کیسو کې زما دنده څه ده. که مې خوښه وه، ښه، که نه همدومره بس ده. اوس مې هم ډېر کار کړی دی.

هغه په نیمه غوسه او تونډ انداز راته وویل:

- ته بېحده تلواري یې، درته ومې ویل چې لږ صبر وکړه. حتماً دې زما خبرې پر زړه لګېږي. یو قاچاقبر باید زړور وي او له وژنو او نورو ورته پېښو باید ونه ترهېږي. په تېره بیا ته چې عملاً دې په ډېرو خطرناکو پېښو کې خپله زړورتیا هم په زبات رسولې ده.

- ښه نو ته زما له تاریخچې خبر یې؟

- هو، تر یو بریده... او دې ته به هم ضرور حیران یې چې څنګه خبر شوی یم!

- دومره لېوه یې هم مه راګرځوه، هسې خو داډه یم چې په ډېرو شیانو خبر یې.

وېې خندل او څه یې ونه ویل. خندا یې زرګونه ماناوې لرلې او د هغه د شخصیت څو اړخیزتوب یې غبرګاوه. بیا مو تر منځ خاموشي شوه. له همدې موقع څخه په استفاده مې د دغه سړي او زما د احتمالي دندې په باب سوچونه پر را ایله کړل. پر ملګرتیا مو ساعت دوه تېرېدل او هغه په دې لېوه موده کې د یوه جنایتکار، یوه پولیس او همدارنګه یوه باوري انسان په توګه خان ښکاره کړی وو. کله چې یې راته وویل چې یو قاچاقبر باید ډېر زړور وي، پوه شوم چې سړی تر لودویک په کراتو-مراتو خطرناک دی.

موټر په چټکۍ روان وو، خو چیرې؟ هېڅ نه پوهېدم. د خپل خان واک مې ګواکې هغه ته ورسپارلی وو. په اوایلو کې مې له دغو پېښو څخه د یوې وړاندوینه هم نه کوله او یوازې پلان مې دا وو چې له لیدلو سره سم به ساعت ورسپارم او بېر خپله مخه به ترې روانېږم. خو هغه دومره ماهرانه ولوبېد چې زړه نا زړه یې د هغې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مېرمنې په قتل ورگډ کړم. بنايي په هغه د پسې کېدو بل لامل زما پلټونکې او ماجراخوښوونکې حس وو. څو دقيقه يې خاموشي يې په دې سوال ماته کړه:

- په څښي کې فکر کوې؟

ومې ويل:

- د هغې مېرمنې په وژلو کې.

- اوه ملگرې، هغه مړه شوه، نور چورت مه پکې وهه. وروسته به يې په اړه نور مالومات هم درکړم. اول بايد خپل غم وخورو. اوس زما د يوه ملگري کور ته چې زما په شان بهرنی دی، څو. هلته به پر ډېرو شيانو سره وږغېږو. مطلب مې دا دی چې يو و بل به لږ سم او ښځکي سره وپېژنو. داده يم چې مخالفت به مې ونه کړې، ځکه زه له کلونو-کلونو راهيسې په تا پسې گرځېدم.

- په ما پسې؟ زما و ستا د ملاقات خو دوه ساعته لا نه کېږي.

- پوه نشوې. مطلب مې ستا په شان يو څوک دی چې همدومره زړور وي او د پېښو په غېږ ورتللای شي.

يو گړی په فکر کې شوم، وروسته مې ورته وويل:

- په هر صورت، اول بايد تا سم وپېژنم تر هغه وروسته به بيا خپله پرېکړه وکړم.

- داده يم چې له لودويک څخه تر رابېلېدو وروسته دې خپله پرېکړه کړې ده.

خواب مې ورنه کړ... موټر د شاهرضا واټ په منځ کې يوې کوڅې ته ورتاو شو او هلته د يوې درې پوړېزې ودانۍ مخې ته ودرېد. سړي د موټر کيلي په جېب کې واچوله او ويې ويل:

- زما د انډيوال کور ته تر ورتلو مخکې بايد يو و بل په نامه سره وپېژنو. زه وارنر نومېږم او کولای شې په همدې نامه راوبغ کړې.

ما هم خپل نوم ورواخيست. وروسته له موټره پلي شوو. څه کم دوولس بجې وې. ناپېژاند سړي چې تر دې وروسته يې وارنر بولو، د هغې وژل شوې مېرمنې دسکول په لاس کې ونيو او تر ما يو گام مخکې ودانۍ ته ننوت. ملگرې يې په دريم پوړ کې اوسېد. وارنر د دروازې زنگ وکړنگاوه. دقيقه دوې وروسته د دالېز

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ګروپ ولګېد، ورسره جوخت په کولپ کې کیلي وخرخېده او دروازه پرانیستل شوه.
کوم څه چې ما یې تصور نه وو کړی دا وو چې د وارنر انډیوال به یوه ښځه وي هغه هم ځوانه او ښکلې.

هغه تازه له خوبه راپاڅېدلې وه او زما لیدو هیڅ هېښه نه کړه. په جرمني یو څه سره وګړېدل وروسته وارنر یو و بل ته سره معرفي کړو. هغه انجیلا نومېده او روانه فارسي یې ویله. وارنر تر تخرګ لاس رالاندې کړ او ویې ویل:
- دا نو ډېر ښخاره ځای دی!

یوې تیاره کوټې ته یې ودرولم، ور یې ورپرانیست، ګروپ یې ولګاوه او ویې ویل:
- مهرباني وکړه درځه. انجیلا مې پخوانۍ ملګرې ده او دلته یوازې اوسي.

زه په شمېرلو ګامونو د خونې منځ ته ولاړم او هلته پر یوه پرته څوکۍ کښېناستم. وارنر هم مخامخ راته کښېناست. څه وخت وروسته انجیلا ځنباک راوړ، پر مېز یې دواړو ته کښېښود او ویې ویل:
- زه ځم ویدېږم. تاسې چې هر وخت وتلئ، دروازه درپسې پېش کړئ. ځېله کولپېږي.

وارنر وویل:
- فکر کوم ناشته به همدلته ستا سره وکړو.

انجیلا ځواب ورکړ:
- چې ستاسې خوښه وي. زه ځم ویدېږم.

هغه خوبخونې ته ولاړه او موږ یې یوازې سره پرېښودو. په دې شېبه کې مې د وارنر کینې لاس ته پام شو، یې دسکلې وو. سر مې خلاص شو چې دسکله یې صرف پاریس بوفې ته د راننوتلو پر وخت اغوستې وه او هغه هم یوازې د دې لپاره چې د هغه ساعت ځښتن یې ونه پېژندلای شي. دا هم راته څرګنده شوه چې ایرما وارنر نه پېژاند، ځکه همدا د دوی دوو تر منځ شفر وو. په دې اړه مې پوښتنه ترې ونه کړه،

څکه د پوښتنې شیان بې‌شمېره ول او په دومره لنډ وخت کې د ټولو سوالونو ځوابونه ترلاسه کوله ناشونې وه.

وارنر خپل جام پورته کړ او ويې ويل:

- د يو او بل د سلامتۍ او خوږې ملګرتيا د دوام په پار يې څښو!

نش جامونه مو پر مېز کېښېښودل. هغه راځخه وپوښتل:

- نور څښې؟

ځواب مې ورکړ:

- نه، بس ده. مرۍ مې لنده شوه.

وروسته يې يو سګرېټ ما ته راکړ، بل يې په خپله خوله کې ونيو او ويې ويل:

- اوس د يو او بل د پېژندلو وخت راورسېد. ښه، وايه له کومه ځايه يې راپيل کړم!

د ايرما ساعت مې د دوهم ځل لپاره له جيبه راوکيښ، پر مېز مې کېښېښود او ومې ويل:

- له دې ځايه يې راپيل کړه چې زما ماموريت يوازې د دغه ساعت درسپارل ول او د دا نورو پېښو يادونه ايرما نه وه راته کړې.

وارنر ورو غوندې ساعت ورواخيست، په لاس کې يې ونيو او ويې ويل:

- دا دی ساعت راورسېد، ارام شوې؟

- هو، مګر بايد همالته په پاريس بوفه کې دې ارام کړی وای.

وارنر وخندل او ويې ويل:

- اوس هم دومره جدي پېښه نه ده شوې؛ صرف يوه ښځه وژل شوې او د وژونکو کومه نښه يې هم هلته نشته. ايا دارېږې؟

- نه، بالکل نه، څکه په دې ښار کې ما څوک نه پېژني. بل دا چې لکه تا چې وويل، د وژونکي يانې ستا، کومه نښه هم هلته نشته.

- ګوره فکر دې وې چې زه و نه دواړه قاتلان يو. يانې که پوليس خبر شول، نو يوازې زه نه، بلکې ته هم راسره شريک يې.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په درد-درد مې ور وکتل، سملاسي پاڅېدم، سګرېټ مې په سګرېټ دانی کې مړ کړ او ومې ویل:

- دا ما ته ګډ یې؟

وارنر هماغسې په ناسته نیغ-نیغ راوکتل او ویې ویل:

- دلته یوازې زه او ته یو، انجیلا په خپله کوټه کې ویده ده.

- زه جدي یم، ټوکې مه کوه... ستا په خیال زه یو ډارن انسان یم چې ګواښې مې؟

هغه په لوړ اواز وخندل، بیا راپاڅېد او پر اوږه یې لاس راواچاوه... لاس مې یې په غوسه له اوږې وځانده او ورته ومې ویل:

- هر څه چې دې پر زړه دي صفا-صفا یې راته ووایه او دا هم بنه زړه ته تېره کړه چې ستا هېڅ ډول ګواښ نتیجه نه ورکوي.

وارنر هماغسې په سړه سینه راته کړل:

- ګواښ-مواښ نشته... ما کله داسې کوم څه وویل... ډېر بنه، قاتل زه یم، سمه شو؟ کښېنه تر اوسه لا د پټې سر دی. ډېرې کیسې پاته دي چې باید پر وږغېږو. بخښنه غواړم!

بېرته پر خپل ځای کښېناستم. تر یو بریده یې په مطلب پوهېدلی وم. ویې ویل:

- تر هر څه وړاندې د ایرما او د پولې د هغې غاړې پېښو کیسه راته وکړه.

د هغه د سګرېټو له کوټې څخه مې چې پر مېز پرته وه، سګرېټ راواخیست او له ایرما و لودویک سره له لیدلو بیا تر تهران پورې مې ټوله کیسه ورته تېره کړه. ویې ویل:

- ډېره تکړه سړی یې ولا... او خومره به خوشحاله شم که مې وړاندیز ومنې.

- وګورم چې وړاندیز دې څه دی!

- تر وړاندیز مخکې به د هغې مېرمنې په باره کې یو څه مالومات درکړم چې ګړی مخکې مې پښې پر سر ورواړولې، ښکه ډېر دې چورت پکې بند وو او څه ناڅه دې خوا هم په بده شوه.

- بنه خبره ده، ژمنه مو هم همداسې سره کړې وه چې دلته به مې له حاله خبروې.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وارنر دوهم سگرېټ نه خاشه ووهله او ويې ويل:
-که دې فکر وو هغه هم زما په شان بهرنی وه او ورسره پېژندل مې نه، صرف يو وار دوه مو سره ليدلي ول. البته د (ليدلو) په مانا به دې بيا زما سره تر يو څه ګډ کار کولو وروسته سر خلاص شي... کيسه داسې وه چې ياده مېرمن له هغه موټره کښته شوه چې زموږ څنګ ته تېر شو او هلته پر سړک پرېوته. پلان يې ډېر ټکره جوړ کړی وو او داده ول چې موږ به خامخا د هغې په ليدو ورکښته کېږو او ګورو به يې.

وارنر لږ خندني شو، وروسته يې ادامه ورکړه:
- اوس نو ته فکر وکړه که مو همداسې کړي وای، څه به راشوي وای؟

ورته ومې ويل:
- هماغه چې وشول... مرمی يې په موږ کې لګېدلې... مګر تا وويل چې اصلي هدف زه وم.
- نه ياره، هغه مې بوه بېخايه ټوکه درسره وکړه. تا هغوی څه پېژني؟ البته زما په موټر کې يې نه په سترګه شوی وې، نو زما تر وژلو وروسته بيا ستا برغمل کول ورته اسانېدل. ځکه تا نه د هغسې پېښو وړاندوينه کول لږ سخت ول، خو ستا په کسب کې...
- مګر دا دې ونه ويل چې د هغې صحنې له جوړولو څخه د هغوی هدف څه وو او څه کاره ول؟

وارنر خپل لاس پرانيست، د ايرما ساعت ته يې اشاره وکړه او ويې ويل:
- د دې ساعت ترلاسه کول. او نه پوهېږم چې ستا د هېښتيا وجه دا ده چې دا ساعت مې ولې داسې بې‌باکه نيولی دی او که د هغوی هويت؟ په هر صورت، دا زما په وړانديز پورې اړه لري...

ما ناړې تېرې کړې او ومې وپوښتل:
- ياني هغوی په دې ساعت خبر شوي ول؟ وارنر وويل:
- زه هم دې ته حيران يم چې نه څنګه د ګيډړې پر سکه ورور لودويک باندې برلاسی شوي او ساعت و ځان دواړه دې سهي سلامت ځنې راوايستل؟ هغه ډېر

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خطرناک سړی دی، همېشه څېرې او بڼې بدلوي. ته یې سم نه پېژنې. له لودویک او ملګرو څخه یې د خوندیتوب په پار سر له همدې ګړیه زما د ملګرتیا وړاندیز ومنه. پر تا یې څه فرق دی؛ یا له پولیسو څخه د شپانو پټ تېرول او یا زما سره همکاري. دواړې دندې پر پښتونې ولاړې دي، صرف موخې یې توپیر لري.

وارنر ادامه ورکړه:

- د پیسو په کیسه کې مه کېږه، هر څومره چې غواړې در کوم یې. نو باید نور دوه زړی نشې. څه یکې وایې؟

سپین او بې پردې مې ورته وویل:

- ستا سره د کار کولو ډول راته مالوم دی، مګر دا راته ووایه چې د چا په ګټه ده؟

یوه شېبه یې سترګو ته نېغ-نېغ راوکتل، وروسته یې ورو غوندې وویل:

- د جرمني په ګټه او داده یم چې وبه یې منې، ځکه د دې هیواد اتیا سلنه اوسېدونکي د ایران پلویان دي. او که دې زړه ته نه لوېږي، نو ورشه په خلکو کې وګرځه او له نژدې یې ووینه چې د جرمني په باب څه نظر لري.

موسکی شوم او ومې ویل:

- په کوم باور دې له دومره لوی رازه خبر کړم؟

نابېره یې توپنچه راباندې ونیوله. هېڅ ونه پوهېدم چې له کومه او څنګه یې دومره په تېزۍ راوایستله.

راته ویې ویل:

- سل په سل کې باور درباندې لرم ملګرې. دغه توپنچه د همدې باور ضامنه ده، ځکه کنه مجبور یم د خپلې خوښې خلاف ولاړ شم او یو بل قتل هم وکړم. ان که په اینده کې هم یوه ذره بې‌باوري درپکې ووینم، همداسې به وکړم. خدای دې وکړي چې هر څومره تکړه واوسې او یو عالم خدمت دې راته کړی وي، پر هر څه کربنه راکشوم او په یوه مرمۍ دې ژوند درختموم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وارنر غوښتل په دې اخطارونو زړه راخخه وباسي. له ځان سره مې وویل که چوپ پاته شم، نو زړه راباندې پیدا کوي. په دې حساب مې باید یو ځل بیا خپل ځان ورته ثابت کړی وای.

ورته ومې ویل:

- زه هم ښه درمالوم یم چې څوک او څه کاره یم!

د هو په نښه یې سر وښوراوه او ویې ویل:

- بالکل دې پېژنم او په همدې خاطر دې درښت کوم.

ما پسې زیاته کړه او ومې ویل:

- زه ذاتاً یو قاچاقبر یم، د خدای تر ابده ښې و بدې مې لیدلي دي او ستا داګواښونه یوه ذره اغېز نه راباندې لري. زه او زما ملګري یوازې ملګرتیا او وفاداری ته ارزښت ورکوو. ما خپله یو عالم سړې و تودې تېرې کړي دي او له وژلو و جنګېدلو څخه مې سترګه نه کېږي. پر ما توپنچه نیول یو بې‌پایلې او بې‌فایدې کار دی. توپنچه زه هم لرم. بل دا چې ډېر سورسترګي ملګري لرم چې همېشه مې څاري او د چا لاس نه راباندې پرېږدي.

توپنچه د وارنر په لاس کې درنه شوه، ورو یې پر مېز کېښښوده او ویې ویل:

- هېڅکله مې ستا غوندې زړور سړی نه وو لیدلی چې دومره سپین او بېخاره وېرغبدلای شي. تر دې وروسته زما وسله ستا په اختیار کې ده.

توپنچه مې بې راواخیسته او بېرته مې ده ته ونیوله، ورته ومې ویل:

- یوازې ستا خبرې کفایت کوي، بل شي ته اړتیا نشته!

د ملګرتیا په پار مو لاسونه سره ورکړل. وارنر وویل:

- سر له سبا سهاره خپل کار پیلوو. په تهران او نورو جنوبي ښارونو کې ګڼ ملګري لرو چې شپه و ورځ اخته دي. د دې فعالیت لمن د ایران تر پولو هم وراوښتې ده او ډېر ژر به وضعیت مثبتې خوا ته بدل شي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د ایرما د ساعت په باب مې ترې وپوښتل. راته ویې ویل:

- هغه زموږ ځارګره وه او په دې ساعت کې یې ډېر ارزښتناک مالومات رالېږلي دي، خو پام دې وي چې لودویک بیا د انګرېزانو یو ډېر خطرناک جاسوس دی. ان ستا ملګری شانبها هم د همدې ډلې یو سرسپارلی غړی دی. او که کوم وخت بیا پر نوکندي وربرابر شوې، ډېر احتیاط باید وکړې.

- خو لودویک به بیا ایران ته رانشي.

وارنر وخندل او ویې ویل:

- سرچېه، ډېر ژر به یې په تهران یا یوه بل جنوبي ښار کې ووینې. هغه داسې یوه سوسته درخته نه ده چې یو سپک باد یې راچپه کړي. زه بیا وایم چې ځنګه دې له هغه ځخه ځان خلاص کړی دی؟ عجیبه ده. سره له دې چې لودویک یو پنډ او ناتیاره شی دی، مګر بیا هم په چل او چلبازۍ کې جوړه نه لري.

د وارنر خبرې چې دې ځای ته راورسېدې، زه پاځېدم. راځخه ویې وپوښتل:

- خیر کړې؟

- خپل هوټل ته ځم. وخت راوښیه، سبا پر څو بجې سره وینو؟

وارنر یو څه فکر وکړ او ویې ویل:

- سهې ده. سبا پر نهه بجې همدلته سره وینو. خوښه دې ده؟

- مشکل نشته.

مخه ښه مې ورسره وکړه او بېله دې چې د هغه د وړاندیز په باره کې ژور سوچ وکړم، د انجیلا له کوره راووتم. د شپې نژدې دوې نیمې بجې وې. پلی مخ پر هوټل روان شوم. یو څه لار چې ولاړم، د شا له خوا یو موټر راغی او یودم ما ته نژدې د سړک غاړې ویالې پر ځنډه ودرېد. ورته ومې کتل، شترنګ ته یوه مېرمن ناسته وه. بل څوک هم ورسره نه وو. په کیسه کې یې نشوم او خپل تګ ته مې په عادي ډول ادامه ورکړه. راپسې راږغ یې کړل:

- ښاغلې... اې ښاغلې... تا ته وایم!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ودرېدم او شا ته مې وکتل. لاس يې د موټر له کړکۍ راايستلی وو او ما ته يې د ورتلو اشارې کولې. ويل مې ښايي مرستې ته اړتيا ولري. ورغلم، د وبالې پر دې غاړه مخامخ ورنه ودرېدم او ترې ومې پوښتل:

- څه مرسته درسره کولای شم؟

هغې له شونډو څخه خپل مړ سګرېټ را ايسته کړ او په موسکا يې راته وويل:

- ويښنه يوه کوچنۍ هيله مې درڅخه درلوده. که يې درته ووايم هسې نه راباندې غوسه شې چې ولې مې مزاحمت درته وکړ.

ډېره ښه فارسي يې ويله، خو له لهجې يې څرګنده وه چې بهرنۍ ده. په خبرو کې ور ولوېدم او ورته ومې ويل:

- نه، هيله کوم. لکه چې موټر دې خراب شوی دی.

بيا يې راته وخندل او ويې ويل:

- نه، کاشکې داسې وای.

وروسته يې په ګوته کې نيولي سګرېټ ته اشاره وکړه او ويې ويل:

- لېټر مې په‌کار وو. که درسره وي سګرېټ مې راولګوئ!

زما خيال وو چې هغه د يو بل شي په تلاښ ده، خو کله چې مې د لېټر نوم واورېد، حيران شوم.

- ولې حيران شوې؟ خير، ملامت هم نه يې. د شپې دا وخت پر خالي سړک باندې زما غوندې يوه ځوانه او يو څه ښايسته ښځه چې يوازې ده، لېټر درڅخه غواړي. که ستا پر ځای زه وای، هم حيرانېدم او هم غوسه راتله.

ما يوه پښه د وبالې پر ها بله غاړه تکيه کړه، سر مې ورنژدې کړ او مخ ته مې يې په خير-خير وکتل. ربښتيا هم ښکلې وه. ښايسته جامې يې په تن وې او خوشبويه عطر يې وهلې ول. سګرېټ يې په شونډو کې ونيو او په داسې حال کې چې زما سترګو ته يې کتل، ويې ويل:

- ولې ګورې؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ما جیب ته لاس کړ، اورلگیت مې راوایست او په داسې حال کې چې خاشه مې ترې را ایستله، ومې ویل:

- ما خیال وکړ چې ستا غوښتنه به تر یوې خاشې یو څه زیاته وي.

هغې سر وخوځاوه او وېې ویل:

- بالکل سمې وایې. یوه ځوانه او ښایسته ښځه د شپې دا وخت پر سړک د دې لپاره گرځي چې خپل یوازیتوب ختم کړي. که دې زړه غواړي خپل لومړی سوچ دې لا څواکمنولای شي. راځه موټر ته راوخېژه. سهار ته دوه درې ساعته پاته دي، که دې خوښه وي دا وخت به یو ځای سره تېر کړو.

- چې داسې ده، نو سگرېټ به په موټر کې درولگوم. ایا د موټر لیټر کار نه کوي؟

- نه ولا، خراب دی. ژر کوه. زه ډېره ستړې یم.

په چټکو گامونو پر موټر ورتاو شوم او اړخ ته یې کېنیناستم. سگرېټ مې ورولگاوه. دوه درې دوده یې کش کړل او موټر یې روان کړ. ترې ومې پوښتل:

- نوم دې څشي دی؟

هغې هماغسې د مخ په هنداره کې سترگې گندلي وې، راته وېې ویل:

- د یو او بل د پېژندلو لپاره ډېر وخت لرو.

زه یو عالم رنگینو خیالونو په مخه کړی وم، چې یودم د ښځ له خوا یو درونډ گوزار راباندې وشو. مخ ته ورونړېدم. چابک مې شا ته وکتل. سترگې مې دوړنې شوي وې. دومره مې ولیدل چې د یوه غوسه‌ناک سړي سوک راباندې راروان وو، نور په ځان پوه نشوم.

یو وخت راپر خود شوم. سترگې مې پرانیستې. ومې لیدل چې پر ځمکه پروت یم. هوا روښانه شوې وه او یو یخ شمال مې پر مخ لگېد. شاوخوا مې وکتل. ځو متره ها خوا یو څو ونې ښکارېدې. سترگې مې بېرته پټې کړې چې راپېښې شوي پېښې رایادې کړم؛ د انجیلا کور... وارنر... تش سړک... په موټر کې یوه ناسته ښځه... اورلگیت... سگرېټ... بغل ته یې کېنیناستم... درونډ گوزار راباندې وشو... د یوه غوسه‌ناک سړي سوک او....

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سترګې مې روڼې کړې او له ځان سره مې وویل:

- لا هم یو بیعقل او بې‌تجربې مخلوق یم. هغه ښځه خو په موټر کې یوازې نه وه، بلکې شا ته یې یو سړی هم ناست وو. مګر دا کوم ځای دی؟

په احتیاط پاڅېدم. سر مې یو څه درد کاوه. پر مخ مې لاس را تېر کړ. له سرېمو مې رابهېدلې وینه پر سنت وچه شوې وه. جامو ته مې وکتل، په وینو لړلې وې. له ښاره دباندې سیمه وه. یو څو ګامه چې وړاندې ولاړم، شا ته مې وکتل چې شاوخوا خار وکړم. څو متره ها پلو د سړک له غاړې سره د یوې مېرمنې پروت جسد تکان راکړ. ورنژدې شوم، ښه چې مې په ځیر ورته وکتل شناخته راته وایسېده. لکه یو ځای چې مې لیدلې وي. پر مغزو مې زور راوست. راياد شول؛ هماغه مېرمن وه چې تېره شپه ما او وارنر د سړک پر غاړه لیدلې وه. حیف زما پر بدمرغه قسمت؛ ایا هغې ښځې او سړي د غچ‌اخیستنې په نیت دلته راوړی یم چې د قتل په قضیه کې مې تورن کړي؟ نه، دا شونې نه ده او باید ژر تر ژره له دې ځایه پښې سپکې کړم.

یودم پر سړک یو موټر راښکاره شو او زما ټولې نقشې یې راګډېوډې کړې. ان د پټېدلو موقع مې هم ونه موندله. بله چاره نه وه، برخلیک ته تسلیم شوم او پر خپل ځای میخ ودرېدم. موټر په تېزی راغی او د هغې ښځې له جسد سره یې بریک وواهه. د چلوونکي اړخ ته ناست کس راکښته شو، جسد ته یې وکتل، وروسته یې ما ته مخ کړ او ویې ویل:

- خومره زړور قاتل یې حتا وهم نه تښتېدلې!

موټروان هم راکښته شو او له خپل ملګري سره ودرېد. دواړه یو ځای زما پر خوا راروان شول. له سره تر پښو یې تر سترګو وایستلم. یوه یې راخخه وپوښتل:

- توپنچه دې چېرې ده؟

ما چې په دې وخت کې بېرته پر ځان کابو پیدا کړی وو، ځواب ورکړ:

- باید اصلي قاتل وموندل شي! دواړو سره وکتل، یوه یې راخخه وپوښتل:

- مطلب دې دا دی چې دا ښځه تا نه ده وژلې؟ هر قاتل او مجرم د تحقیقاتو په شروع کې همدا خبره کوي او ځان سپین چرګ ښيي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وروسته یې ملګري ته مخ کړ او ویې ویل:
- باید پولیس خبر کړو!

په دې وخت کې یو بل موټر راورسېد او ټول پر لاښ راتاو شول. جسد سره لمر ته پروت وو. زه پر خپل ځای مجسمه غوندې ولاړ وم او د پولیسو انتظار مې کاوه. له ځان سره مې ویل چې پولیسو ته به له هر څه منکرېږم او یوازې به دا وروستی پېښه نر لکی ورته نیسم.

څه سر مو درخوړوم، اته بجې شاوخوا د پولیسو موټرد یوه امبولانس په بدرګه راورسېد. جسد یې ورپورته کړ. زه هم ولچک شوي لاسونه د پولیسو په موټر کې کښېناستم او مخ پر ښار مو حرکت وکړ.

پر لارې مې پر خپل وضعیت کې فکر وکړ او د دې پرځای چې په خواشینی شم، خندا راغله. اړخ ته مې د ناست پولیس راته پام شو او په درد یې راته وویل:
- بیعقله ته خاندې... لکه چې غواړې ځان پر لېونتوب واچوې!

په ارامی او سره سینه مې ځواب ورکړ:
- نه، بالکل نه. برعکس عقل مې ښخې برابر دی. پر خپل برخلیک او قسمت خندا راغله چې څه سپی پسات یې راوکړ.

هغه راته وویل:
- دا خو لا د پټې سر دی، پټې وروسته سورور دی!

سیده یې د پولیسو ماموریت ته بوتلم. په یوه اوږده دالېز کې یې تېر کړم، یوې لوېې کوټې ته یې ننه ایستلم، هلته یې ولچک راخلاص کړل او یو پولیس یې راباندې پیره کړ. پر یوه اوږده څوکی کښېناستم او سګرېټ مې ولګاوه. تقریباً نیم ساعت وروسته څلور تنه چې دوو یې د پولیسو دریشی اغوستې وې رانوتل او تحقیقات یې راڅخه شروع کړل. د تحقیقاتو تفصیل کیسه اوږدوي، ترې تېر به شم. هغوی مې د پوښتنو په جریان کې سرې سینې او پر ځان کابو ته ډېر حیران ول. د هغې ښځې او اورلګیت کیسه مې هم ورته وکړه.څلور واړه راته غوږ-غوږ ول. موضوع له هره اړخه ورته نوې وه. دوولس بجې شاوخوا تحقیقات خلاص شول او

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د یوه په امر بې نظارتخانې ته واستول شوم. کله چې د زندان دروازه راپسې وتړل شوه، وارنر راياد شو چې نهه بجې د انجیلا په کور کې راته سترګې پر لار وو... خوشحاله وم چې پولیسو ته مې د وارنر او انجیلا د کور په باره کې هېڅ نه ول ویلي. په یوه ګوښه کې کېناستم او پر خپل اوسني حالت مې چورتونه پر را ایله کړل چې وروسته به څه کېږي. ایا د قتل په جرم به مې اعدام کړي؟ ځکه د دوی په نظر خو هغه ښځه له شک پرته ما وژلې وه.

د پولیسو لپاره د پوښتنې ور ټکی دا وو چې که زه قاتل یم. نو د هغې تومانچه او دسکول مې څه کړل؟ په تحقیقاتو کې یې هم همدا سوال بار-بار تکراراوه او ما هر ځل هغه ښځه او سړی وریادول چې زه یې بېهوښه هلته غورځولی وم.

ویل مې چې وارنر به نو زما د نه راتلو په صورت کې څه کړي وي؟ څرګنده وه چې اول به زما هوټل ته سر ورایسته کاوه او هلته د منفي خواب ترلاسه کولو وروسته بې په نورو هلو ځلو لاس پورې کاوه. ایا ویه کولای شي چې تر دې خایه پل راپسې راواخلي که نه؟

په دې کوټه کې درې نور کسان هم راسره بندي ول. څو دقیقې وروسته رانژدې شول او مخامخ راته کېناستل. غوښتل یې د دوی دنیا ته تازه راغلی کس وپېژني او خبر شي چې څه جرم یې کړی دی.

د هغوی په لیکې-لیکې جامو کې مې سترګې ښخې کړې وې چې د یوه دد او وچ اواز مې پام ور واړاوه:

- ایا ته یې هم پر غلا نیولی یې؟

- نه، تر دې مې غټه دربه پېښه کړې ده، یوه ښځه مې وژلې ده!

دربو واړو تکان وکړ. دوهم یې وپوښتل:

- نو ته قاتل یې؟

- همداسې یې وبوله!

- خومره زړور یې ولا!

- او ناسې درې؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لومړي يې وويل:

- موږ درې سره يې پر غلا راوستلي يو. لا مالومه نه ده چې تر کومه وخته دلته يو، څکه وروستی حکم لا نه دی صادر شوی.

دوډی يې راوړه. ما خواړه نه درلودل، هغوی په خپلو خوړو کې ورګډ کړم. د زندان چاپيريال يوه ذره اغېز نه وو راباندې کړی، څکه په هندوستان کې څو واره تر دې چټل محبس ته لوېدلی وم.

زندان ته د لوېدلو ملامتي مې له څان پرته بل پر هېڅا نشوای وراچولای. ان د وارنر ګناه هم نه وه. ټولې دروازې مې پر مخ تړلي وې او هېڅ داسې انډيوال مې نه درلود چې اوس مې رانګولی وای. يوازې دوو کسانو پېژندلم: وارنر او انجيلا.

ويل مې که وارنر راخبر شي، زما د هغو بنو په بدل کې به حتماً د مرستې لاس راوغځوي. مګر داسې کومه وسيله مې نه درلوده چې هغه په خبر کړای شم. بل دا چې که احياناً خبر کړي مې هم وای، نو څه مالومه وه چې رښتيا به يې هم له دې خايه ايستلی وای که نه. يو بهرنی سړی وو او که يې زما د بېګناه ثابتولو لپاره لاس و پښې وهلای، نو شايد خپله رسوا شوی وای.

ما په ډېره اسانۍ کولای شول پوليسو ته د انجيلا کور وروښيم او د هغې مېرمنې پر قتل يو بل خپرکی هم ور زيات کړم. مګر زه له هغو کسانو څخه نه وم چې داسې کار وکړم. جېب هم دومره واک نه راکاوه چې يو وکيل ونيسم. همدا يوه پوښتنه مې بيا-بيا له خانه کوله: اوس بايد څه وکړم؟

د قتل په تور يې نيولی وم. د دوسيې پر وروستی پاڼه مې د اعدام حکم ليکلی وو چې ژر يا وروسته پر نورو پاڼو ور اضافه کېدله او داستان پای ته رسېد. اعدام يوه ترهوونکې او ډاروونکې کليمه وه، بيا مې هم کوښښ کاوه چې ډېره توجو ورته ونه کړم. اخير له فکر کولو ستړی شوم، دواړه لاسونه مې مخ ته لپه کړل او په زړه کې مې پر خپل حالت وخندل. چېرې وم، چېرې راغلم او چېرې به څم؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه درې نور بندیان خوشحاله ول. پر خبرو یې د زندان وېره نه لیدل کېده. هغوی هم زما غوندې د اور تر کُره وتلي خلک ول. یوازنی توپیر مو دا وو چې د دوی د دوسیې پر وروستی پاڼه د اعدام کلیمه نه وه لیکلې.

ډېر ژر مې له زنداني ملګرو سره شیدې ایله کړې.[1] ځان مې د فکرونو له منګولو راوایست او د هغوی په ډله ورګډ شوم. مسخرو او خنداوو ته مو ملا وتړله. د هر یوه د ژوند کیسه جالبه او له ماجراوو ډکه وه. هغوی تقریباً د خپلې کړی د یوه غړي په سترګه راته کتل او کوښښ یې کاوه چې د خپل برخلیک په باب له سوچ کولو مې لیرې وساتي. دې ته ورته صحنې مې څو واره په هندوستان او ان یو ځل په سنګاپور کې هم لیدلې وې. د ماښامنۍ وخت چې راورسېد، ما ته یې هم خواړه راوړل. له هغوی سره مې په ګډه ډوډۍ وخوړه. ساعت دوه وروسته هر یو په یوه کونج کې وغځېد. زما له سترګو خوب تښتېدلی وو. له نوکندي څخه بیا د انجیلا تر کوره او وروسته له تهرانه دباندې غځېدلی سړک او بیا د پولیسو تر ماموریت پورې ټولې پېښې مې د فلم د فیتې په شان د ذهن پر پرده تېرې کړې. ورو-ورو مې سترګې درنې شوې او خوب یووړم.

یوولس بجې مو د کوټې اوسپنیزه دروازه بېرته شوه او پېره‌دار زما نوم واخیست. ورولاړ شوم. له سره تر پښو یې راته وکتل او ویې ویل:

- راځه!

هغه درې غله هم راپاڅېدل، یوه یې راته کړل:

- تحقیق ته دې بیایي!

بل یې وویل:

- دا وار هم کتمت هغه د اولې پلا خبرې ورته وکړه. هېڅ بدلون مه پکې راوله!

لنډه مخه‌ښه مې ورسره وکړه او له کوټې راووتم. په څو دالېزونو کې تېر او په پولیس پسې تر شا د محبس له ودانۍ ووتلم. وروسته یې یوې کوټې ته ورننه کړم. لوکس کوچونه پکې پراته ول. د یوه مېز شا ته یو په ونه دنګ سړی په پوځي جامو

1 شیدې ایله کول - بانې شناخته کېدل او ټوکې ټکالې شروع کول.

کې ناست وو. له ورننوتلو سره مې سلام واچاوه، هغه سر راته وخوځاوه. اول یې ښه په غور راته وکتل بیا یې پر مېز په یوه پرېه دوسیه ځان بوخت کړ. څو دقیقې وروسته یې هغه یوه اړخ ته کېښوده او ما ته یې وویل:

- ته نور ازاد یې!

سړیه یا توکې راسره کوي یا مې یې له خبرو ناسمه اخیستنه وکړه. ترې ومې پوښتل:

- ازاد یم؟

- هو، اصلي قاتل تېره شپه نیول شوی دی، نو ستا یې په مخه ښه!

- نه‌منونکې ده!

- درته ومې ویل چې ازاد یې او کولای شې ولاړ شې!

ومې لیدل چې هغه پر خپله خبره ولاړ دی او دادمن ږغېږي. منته مې ځنې وکړه او پر شا له کوټې څخه رابهر شوم. هغه پولیس چې زه یې تر دې خایه بدرګه کړی وم، د وره مخې ته ولاړ وو. زما په لیدو یې وخندل او ویې ویل:

- ازاد شوې. ورځه مخې ته دې ګلونه!

په دالېز کې د جنايي څانګې مخ ته تېر او د ماموریت پر لرګینو زینو یوه شېبه ودرېدم. څو ژورې-ژورې ساوې مې واخیستلې او وروسته په چټکو ګامونو روان شوم. له ځان سره مې ویل چې په څلېرویشتو ساعتونو کې دننه-دننه بېګناه ثابتېدل له معجزې په کمه نه ده. دا څنګه کېدای شي چې یو څوک دې د قتل په شان ستر جرم ونیول شي او بېرته دې دومره ژر خوشي کړل شي.

له ماموریت څخه تر ثبت واټ پورې پلی ولاړم. چې څنګه مې تر چوک د اوښتلو تکل وکړ، د یو چا ږغ مې واورېد. شاوخوا مې وکتل. د وبالې پر غاړه یو ولاړ موټر مې ولید. یوه سړي سر ځنې رااېستلی او لاس یې راته ښوراوه. وارنر وو. ورمنډه مې کړه، د موټر دروازه مې خلاصه کړه او اړخ ته یې کېښناستم. موټر یې پونده کړ. لومړی پوښتنه یې دا وه:

- تېره ورځ او شپه په محبس کې ښه درباندې تېره شوه؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

شپږم حس مې راته وویل چې د ازادۍ سبب مې همدی دی او باید منه ترې وکړم. په خواب کې مې ورته کړل:
- د دې لويې مرستې له امله منه!
- منه پر څه؟
- زما د راخوشي کولو!
- اوه ګرانه، دا خو زما دنده وه. برابې چې دې څنګه له نیول کېدو خبر شوم، سملاسي لاس په کار شوم او نن لس بجې چې مې ستا د راخوشي کولو کارونه خلاص کړل، نو ایله مې زړه لږ پر پښتې شو. نه چې مې د ماموریت پر زینو د راکښته کېدو پر وخت ولیدې، نو کاملاً ارام شوم. زه ستا پوروړی وم او همدا یې د ادا کولو تر ټولو غوره فرصت وو.
سګرېټ ته مې خاشه ووهله او ومې ویل:
- خو ما خپله خان سپارلی وو. ستا سره د تماس نیولو امکان مې هم نه لید. په دې هم نه پوهېدم چې ته به تر راخبرېدو وروسته څه وکړې.
وارنر وویل:
- اوس د انجیلا کره ځو. هلته مې نوي جامې درته اېښې دي. تر استراحت او ارام وروسته به بیا نور مجلس سره وکړو. ښه اوس کیسه راته وکړه چې د انجیلا له کوره راووتې څه درپېښ شول؟
ومې ویل:
- ډاډه یم چې ته له هر څه خبر یې!
- بالکل، مګر ستا له خولې یې اورېدل غواړم!
له هغې ناشنا ښځې سره د مخامخېدو کیسه مې له الف څخه تر یا پورې ورته نېږه کړه.
وارنر وویل:
- ما دا تصور هم نه کاوه چې ته به تر دې بریده خام یې چې د سترګو په رپ کې به لومه بند شې هغه هم د یوه اورلګېت په خاطر.

ځواب مې ورکړ:

- بالکل سمې وایې، بس نو پېښه وه وشوه.

ورو یې پر اوږه وټپولم او ویې ویل:

- دا خو لا پیل دی، ممکن په راتلونکې کې تر دې لا بدې درپېښې شي. ان تر دې به لا اسانه پساو شې.

د انجیلا کور ته چې ورغلو، هغه په پخلنځي کې په دېګ پخولو اخته وه. زما د اواز په اورېدو راووته، لاس یې راکړ او ویې ویل:

- په بیا لیدو دې خوشحاله شوم!

داسې چلند یې راسره وکړ لکه خیر و خیریت چې وي او هېڅ پېښه چې نه وي راشوې. ورته ومې ویل:

- ودې نه پوښتل چې چیرې وم او پر جامو دا د وینو ټپلې له کومه شوې؟

انجیلا سترګې ښخې راته ونیولې او ویې ویل:

- د ډوډۍ تر تیارېدو پورې ته حمام وکړه او نوې جامې واغونده!

له ځوابه یې وپوهېدم چې دا ګړی په کیسه ځان خبرول نه غواړي. تر غرمنۍ خوړلو سملاسي وروسته پر یوه اوږده سوفه وغځېدم او ویده شوم.

مازیګر نژدې پنځه بجې له یوه خواږه او ژور خوبه راویښ شوم. وارنر نه وو. انجیلا یوازې پر یوه څوکۍ ناسته وه، په ګوتو کې له نیولې سګرېټه یې لوګي پورته کېدل او په یوه مجله کې یې سترګې ښخې کړې وې. یوه نرمه موسیقي هم چالانه وه. کښېناستم. د انجیلا هم سملاسي راته پام شو. راولاړه شوه او ویې ویل:

- خوب ډېر درته اړین وو. له ښناک سره څنګه یې؟

ځواب مې ورکړ:

- بد نه دی!

دستي یې یو ډک ګیلاس په لاس کې راکړ او مخامخ راته کښېناسته. ترې ومې پوښتل:

- وارنر چیرې دی؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خواب یې راکړ:
- ساعت مخکې ووت او تر اتو بجو وروسته راځي. ویل یې چې نه باید تر هغه وخته همدلته پاتې شې.
ومې خندل او ومې ویل:
- مجبور یم خبره یې ومنم. ځکه داریږم هسې نه یوه بله دربه راپېښه شي او یودم یا د هغې مېرمنې له جسد سره راپر هونښ شم.
انجیلا په لوړ اواز وخندل او ویې ویل:
- او اوس دلته زما سره نه داریږې؟
- سرچپه، ډېر خوشحاله یم!
- نڅا ته دې هوا کیږي؟
- ولې نه!
یوه شیبه سره تاو راتاو شوو. تر نڅا وروسته یې یو بل جام هم راډک کړ. همدا کیسه څو واره تکرار شوه؛ ورقصیږه، جام ډک کړه بیا ورقصیږه بیا یو بل جام... هر وار چې به د هوس پېریانو نیولم، بېرته به مې ځان کابو کاوه. اخیر د جامونو شمېر راځخه ورک شو. خو بخت مې دلته بیداره وو چې پر ما ځنباک دومره زر اغېز نه کاوه. له همدې امله مې لا هم حواس په کنټرول کې ول. هغې پرله پسې هڅه کوله چې معامله تر برید ور واړوي، مګر ما هر وار شاتګ کاوه. ملامت هم نه وم. ځکه مخکې څو ځله له دغسې ژر تسلیمېدونکو ښځو سره مخامخ شوی وم او د خپل عمل درنه و ترخه سزا مې لیدلې وه. پوهېدم چې د انجیلا دومره تلاښونه او د وارنر له خوا دلته زموږ یوازې پرېښودل فقط یوه ازموینه ده... دا مې د خپل تېر ژوند له تجربو څخه زدکړې ول.
بالاخره اوره بجې شاوخوا انجیلا دا ډرامه پای ته ورسوله او بېرته یې کالي واغوستل. پلمه یې دا وه چې د وارنر د راتلو وخت رانږدې شوی دی. کله چې بېرته عادې سره کښېناستو، هغې خوله پرانیسته او ویې ویل:
- د ښځو او ځنباک په مقابل کې دې مقاومت خورا تکړه دی!

د قاچاق د وختونو یوه کیسه مې ورته وکړه. یوه شپه له سینګاپور بندر سره نژدې له ملګرو بېل شوم. زړه مې غوښتل چې یوازې خپل سات تېر کړم. یوه بار ته ولاړم. هلته مې یو جام لا پوره نه وو ختم کړی چې یوې ښکلې او نیمه‌بربنډې ښځې ځان رانژدې کړ. چې مخ مې راګرځاوه بیا مو شناخت تر پولې وراوښتی وو. د بار تر بندېدو لږ مخکې یې خپل کور ته د بېولو بلنه راکړه. ما هم همدا له خدایه غوښتل. بېله خندېده مې ورسره ومنله. هلته یې په رنګارنګ اداګانو او چلونو د کاروبار، ملګرو او ډېرو [illegible]رو شیانو په اړه ټول حال راڅخه وپوښت. په دا سبا چې له خوبه پاڅېدم. هغه ف[illegible] مېرمن نه وه. [illegible] بل [illegible] به پخلنځي یا هم یوه بله کوټه کې به وي. ږغ و ږوغ مې هم تر غوږ [illegible] شکمن شوم. د کوټې ټولې ګوټ[illegible] مې ولټولې د هغې څرک نه وو. انجیلا راڅخه وپوښتل:

-نو بیا دې څه وکړل؟

-نابېره رایاد شول چې د کورتي جېب مې له پیسو ډک وو. په یوه منډه ورغ[illegible]م، خو پیسې همالته پر خپل ځای پرتې وې. ویل مې نو هغه چېرې او ولې زما له خبرولو پرته تری تم شوې ده؟ فکر کوم اته بجې شاوخوا یې له کوره راووتم. همدا چې په کوڅه کې مې پښه کېښوده، د شا له خوا یو چا تر بازو کلک ونیولم او په لوړ و امرانه ږغ یې راته وویل:

-زما سره راځه! چې مخ مې ور واړاوه او ورته ومې کتل، پولیس وو.

انجیلا په خبرو کې راولوېده او ویې ویل:

-ښه، ښه، پوه شوم! هغه ښځه پولیسه وه او خپل ملګري یې په خپل کور کې د یوه قاچاقبر له شتونه خبر کړي ول.

ما سګرېټ ولګاوه او ومې ویل:

-کاشکې یوازې همدومره وای. پولیسو مې ټوله تاریخچه را ایستلې وه او د هغې پر بنسټ یې ان زما په ملګرو پسې لا پل اخیستی وو. دا ټول د هغې مېرمنې د ښکلا په لومه کې د لوېدلو پایله وه. لنډه دا چې ځای پر ځای مې د تېښتې نیت وکړ، مګر پولیس لکه راپوه شوی چې وي، په هماغه امرانه انداز یې راته وویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- د کوڅې سر و پای دواړه نیول شوي دي او که دې کوچنی بیعقلي هم وکړه، نو پر دا سر دې ولم!

چاره نه وه، تسلیم شوم او د هغه په امر په یوه جیپ موټر کې قومندانی ته بوووړل شوم.هلته مې دوه نور ملګري چې په تېښته نه ول توانېدلي، هم ناست ول. تحقیقات راڅخه شروع شول او درې واړه په شپږ شپږ میاشتې بند محکوم شوو. له همدې بدې پېښې مې عبرت واخیست او د ښځینه چلونو په وړاندې د مقاومت کولو چل مې زده کړ.

انجیلا وپوښتل:

- تر راخوشې کېدو وروسته دې بیا هغه ښځه ولیده؟

- هو، په زندان کې مې ان یوه شپه د غچ اخیستنې سوچ له فکره ونه وت. له راخوشې کېدو وروسته له هغو دوو اندېوالانو سره یوځای د هغې په لټه شوم. اخیر مو د ممبي بندر په یوه دریمه درجه بار کې ومونده. ایا پوهېږې چې څه مو ورسره وکړل؟

انجیلا وویل:

- کیسه وکړه، جالبه ده!

زیاته مې کړه:

- یوه ملګری مې ورغی او شیدې یې ورسره ایله کړې. موږ دوه د بار په یوه ګوښه کې ورته خزه شوو. د شپې دوولس بجې مهال دواړه د هغې کور ته روان شول. موږ په پسې شوو. ګړی وروسته مو د وره زنګ ور وکړنګاوه. ښځې چې دروازه پرانیسته ما پورې وهله، هغې راسره زوورونه کړل چې بېرته یې وتړې، مګر په کور دننه کې موجود ملګرې هغه شا ته کش کړه او موږ دوه ورننوتو.

ما پر مرې چاکو ورکښېښود. هغې بیله خنده وپېژندلم او په ژړا و واویلا یې زارۍ پیل کړې. ویې ویل:

- زه پولیسه نه یم. هغه شپه پولیسو د بار ټولو ښځو ته امر کړی وو چې په قاچاقبرا پسې وګرځي او دوی ته یې ور معرفي کړي.

مګر ما ورسره ونه منله او غچ مې ترې واخیست.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

انجیلا په تلوسه وپوښتل:

- ودې وژله؟

ومې خندل او ومې ویل:

- نه، بالکل نه. د سر وېښتان مې ورغچي کړل چې هم مې د غچ اخیستنې پر اور اوبه توی شوې وې او هم د هغې پانیات (عبرت) شي. وروسته یې له کوره راووتو او پر خپله مخه ولاړو.

انجیلا وویل:

- ډېر کینه‌کښ انسان یې!

- باید واوسم. اخیر بو قاچاقبر یم او همدا مې د شغل غوښتنه ده.

- او اوس څنګه؟

- اوس هم همداسې یم!

وېې ویل:

- مګر زما په وړاندې مقاومت کول بېځایه کار وو، ځکه...

چوپ شوه.

ترې ومې پوښتل:

- ځکه څه؟

- ځکه ما و تا خو سره پېژنو او یو و بل ته مو د ملګرتیا لاس ورکړی دی!

- خو زه همداسې عادت شوی یم او تر دې دمه یې ګټه راته کړې ده.

هغه پاڅېده، ګیلاس یې را ډک کړ او وېې ویل:

- تر دې وروسته مو تر منځ رسمیات ختم دي!

او له دې سره پر څنګونو راکښېناسته، سر یې پر څیګر راکښېښود او وېې ویل:

- زه درباندې مینه یم!

په سترګو پورې مې سترګې وروګنډلې او ومې ویل:

- ایا دومره ژر مینېدل د باور وړ دي؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په ګونډو يې پر مخ ونيولم او ويې ويل:

- نه لېوني يې!

په غېږ کې مې ونيوله او ښکل مې کړه. د دروازې زنګ وکړنګېد. انجيلا وويل:

- وارنر دی!

هغه دروازې ته ورغله او ما پر سر و مخ لاس راتېر کړ. شېبه وروسته وارنر په خونه راننوت.

- ما ته منتظر وې؟

- هو، انجيلا راته وويل چې بايد درنه منتظر شم.

- نو بانې پرېکړه دې کړې ده؟

- وختې لا!

وارنر خپله کورتۍ پر څوکۍ وغورځوله. مخامخ راته کښېناست او ويې ويل:

- ښه غوږ راته ونيسه، سبا سهار به د کورت په نامه زما له يوه ملګري سره کرمان ته ولاړ شې. ترې ومې پوښتل:

- کورت ښځه ده که نر؟

وارنر وخندل او ويې ويل:

- له ښځې سره سفر ته سخت خوشحاله يې. نه، نر دی. ستا همزولی يې وبوله. په خپل کار کې ډېر تکړه دی او هر امر و لارښوونه يې بايد ومنې... البته زورزياتی مو بايد په منځ کې نه وي، بلکې بايد د ملګرتيا په فضا کې خپلې چارې مخته بوزئ. له دې خبرو څخه مې مطلب دا دی چې خپل پخوانی زورزياتی بايد هېر کړې. په دې لار کې د بريا کيلي سړه سينه او ارام فکر دی. تلوار هم شته هم نشته.

- او وروسته بايد څه وکړو؟

وارنر انجيلا ته چې څنګ ته يې ناسته وه، وکتل او ويې ويل:

- ستا او کورت ماموريت د يوه نفر تښتول دي، پوه شوې؟ هغه بايد له کرمان څخه راوتښتوئ او د زاهدان او مشهد پر لار مازندران ته ولاړ شئ. هلته د کورت د ښغر له ترلاسه کولو سره سم په رامسر کې زه هم درسره يوځای کېږم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خني ومې پوښتل:

- دا څنګه سړی دی؟

وارنر وویل:

- د متحدینو له ډلې څخه د یوه هیواد اوسېدونکی دی. لادزه نومېږي او د کرمان د ډبرو سکرو په کان کې د ایراني دولت لپاره کار کوي.

ورته ومې ويل:

- خو د دغسې خلکو راتښتول اسانه کار نه دی. په تېره بیا پر دغه لار چې تا اوس راوښوده. د کرمان او مشهد په اوږدو کې خامخا یو نه یو خطر راپېښېدای شي.

وارنر وویل:

- د لادزه راتښتول دومره هم سخت نه دي لکه نه چې فکر کوې. څکه له راتښتولو سره سم یې کورت سر ورخلاصوي او تر هغه وروسته بیا بېله کومې ستونزې او ببخاره د سفر د یوه ملګري په شان درسره ځي.

ومې پوښتل:

- نو هغه له دې تښتوني سره موافق دی؟

خواب یې راکړ:

- بالکل، مګر نه په پیل کې. هغه تا او کورت نه پېژني او په دې پلان هم خبر نه دی. له عمره پوخ دی او له کلونو-کلونو راهیسې په ایران کې اوسي. په هر صورت، کورت پوهېږي چې د هغه تر راتښتولو وروسته څه وکړي.

انجیلا له وارنر څخه وپوښتل:

- ایا دوی دوو ته یوه نقلیه وسیله هم ورکوې؟

وارنر خواب ورکړ:

- زما موټر ورکوم.

وروسته یې ما ته وویل:

- که کوم سوال لرې ویې کړه!

- له کورت سره کله وینم؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- هغه سبا سهار څلور بجې دلته راځي او له دې ځایه دواړه روانېږئ.
- نو زه باید یو ځل خپل هوټل ته سر ور ابسته کړم.
- چې ستا خوښه وي. ماښامنی په ګډه دباندې یو ځای خورو. د هوټل د کوټې کار دې ورخلاص کړه.

انجیلا وویل:

- نو زه به جامې واغوندم!

وارنر راڅخه وپوښتل:

- وسله لرې؟
- نه، هغه یې هماغه شپه راڅخه یووړه.
- لکه څنګه چې مې درته وویل کورټ ډېر تکړه مامور دی. د هغه هر امر باید ومنې او بله دا چې په کرمان کې باید له هېچا سره اړیکې ونه نیسې، څکه دا ماموریت ډېر په دقت پلان شوی او باید په چټکۍ تر سره شي. د بېرته راګرځېدو مسیر ستا پر غاړه دی. مطلب مې دا دی چې باید پر ریګستان راواوړئ، څکه شاید پر بله لار مو پیدا کړي.

ور څخه ومې پوښتل:

- ایا دا ټول ماموریت یوازې زما او کورټ پر غاړه دی، که کوم دریم کس هم مرسته راسره کوي؟

د وارنر ځواب ښکاره نه وو، بلکې ویې ویل:

- د کورټ سر مې په ټولو شیانو ورخلاص کړی دی. هغه پوهېږي چې څه وکړي. ته یې صرف خبرې اوره او عملي کوه یې!

انجیلا یې په خبرو کې ورولوېده او ورته ویې ویل:

- کورټ ډېر بلا مامور دی او په وارو-وارو یې په ورسپارل شویو ماموریتونو کې خپل نبوغ زبات کړی دی. خورا تکړه دی.

زه پاڅېدم او ورته کړل مې:

- په دې حساب نو زموږ دا ماموریت سل په سل کې کامیابه دی!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وارنر وویل:

- دا چې ستا لومړی ماموریت دی، نو باید درته ووایم چې سل سلنه کامیابي په هېڅ کار کې مه پیشبیني کوه. ته همېشه پنځوس سلنه ځان بریالی شمېره او پاته پنځوس ناسالومي پایلې یانې بریا یا ماتې ته ورپرېږده.

شېبه قدر چوپ شو، بیا یې زیاته کړه:

- اوس نو ته باید دوامداره په دې تلاش کې واوسې چې د دوهمې نیمایي(پنځوس فیصده) سلنه راکمه کړې او ځان بریا ته ورسوې. دا یاد ولره چې ستا سیال هم لاس‌تړلی نه دی ناست او د خپلې ځانګړې بیدارۍ په مټ کولای شي ستا ټول پلانونه په اوبو درلاهو کړي. یوازې موږ نه یو، بلکې دوښمنې جاسوسې شبکې هم سیوري غوندې راپسې دي او په ټول توان هڅه کوي زموږ عملیات راناکام کړي. په مقابل کې یې بیا موږ لګیا یو د هغوی په نقشو او پلانونو کې له بوټونو سره خېژو. په دې منځ کې یوازې هوښیاري او تدبیر او د دغو ځانګړنو پر وخت کارول اغېزناک تمامېږي.

وارنر داسې راته لګیا وو لکه یو استاد چې خپلو زدکوونکو ته درس ورکوي. ما و انجیلا یې په خوله پورې سترګې ګنډلې وې. په تېره زه یې خبرو ته غوږ-غوږ وم، ځکه د ژوند یو نوی او زړه‌پورې خپرکی مې پر پیلېدو وو. باید سم مې سر په خلاصولای. د نوموړي د بیانیې تر تمامېدو وروسته انجیلا وویل:

- زه به ورشم او جامې به واغوندم!

څو دقیقې وروسته درې واړه له کوره راووتو او استارا رستوران ته چې دغه ورځ یې د نخا لپاره یو سټېج هم جوړ کړی وو، د ماښامنۍ خوړلو په نیت روان شوو. دغه ځای انجیلا خوښ کړی وو.

زه او وارنر دواړه په نوبت له انجیلا سره لږ ونځېدو. کله چې وارنر دوهم وار نخا ته ځان جوړاوه، یودم مو له مېز سره یو له عمره پوخ خارجي سړی راښین شو او له انجیلا څخه یې د ورسره نځېدو هیله وکړه. هغې وارنر ته وکتل، خو د هغه سړي د

سپينې ږيرې او په رستوران کې د نڅا د اصولو مراعتولو په پار موسکه خوله پاځېده.
زه او وارنر چې سره يوازې شوو، نوموړي خپل جام پورته کړ او ويې ويل:
- يوه خبره مې هېره وه چې درته ويې کړم، کورت ته مې امر کړی دی چې که د سګيرت لادزه تښتونه په يو نه يو ډول له ناکامۍ سره مخ شوه، نو بايد بېله ځنډه هغه ووژني او دا بايد اوس لا درته ووايم چې دا کار بايد حتماً ستا په لاس وشي.
- زما په لاس؟
- ولې حيران شوې؟ زموږ په لين کې هر څه ايله دي. ولې ستا ملګري شانيها ستا په څو قدمۍ کې ايرما ونه وژله؟
ورته ومې ويل:
- هغه دا کار د پيسو لپاره وکړ.
وارنر ماناداره خندا وکړه او ويې ويل:
- په دې حساب نو بايد د ايرما د وژلو اصلي لامل درته ووايم. هغه دا کار د لودويک په اشاره وکړ.
ما چابک ترې وپوښتل:
- ياني شانيها او لودويک سره ملګري دي؟
وارنر وويل:
- شانيها ته د لودويک ملګری نشم ويلای. دا صفت مناسب نه راته ښکاري. شانيها د دغې ډلې خدمت په دې خاطر کوي چې ځان د دوی د احسانونو پوروړی بولي.
په داسې حال کې چې نبغ مې د وارنر سترګو ته کتل، ومې ويل:
- په دې حساب نو زه او شانيها تقريباً په يوه کتار کې ولاړ يو. ياني زه هم بايد ځان ستاسې تر احسان لاندې وبولم او په همدې خاطر مو پښو ته درولوېږم او چې څه تاسې واياست هغه وکړم.
پاڅېدم چې ترې ولاړ شم. وارنر تر مړوند ونيولم او ويې ويل:
- ساده کېږه مه، زما مطلب دا نه وو. تا ته مې له هماغې لومړۍ شپې څخه د ملګرې په سترګه کتلي دي او د لادزه د وژلو دنده په دې وجه نه ده درسپارلې چې ګواکې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ته هم شانیها غوندې یې. وختې مې لوړپوړو مقاماتو ته ستا نوم د خپلو نږدې همکارانو په لیست کې ورکړی دی او په اینده کې به ووینې چې کوم ځای ته رسیږې.

په همدې خبرو کې وو چې انجیلا بېرته مېز ته راستنه شوه. وارنر د خپناک ست ورته وکړ، مګر هغې منه وکړه. ما هم له خپل هوټل څخه د کډې رابارولو په نیت د وارنر د موټر کیلي واخیسته او روان شوم. همدا چې شترنګ ته کښیناستم، پام مې شو چې هماغه څو دقیقې مخکې له انجیلا سره نخښدلی سړی ولاړ دی او هنداره راټپوي. چابک مې هنداره کښته کړه او ترې ومې پوښتل:

-کار دې وو؟

هغه په داسې حال کې چې شونډې یې موسکې وې، وویل:

-که تکلیف نه وي، ما کور ته ورسوه!

یوه شېبه مې فکر وکړ او بیا مې ورته وویل:

- مهرباني وکړه راپورته شه!

سړی راغی اړخ ته مې کښېناست او ویې پوښتل:

-ته هم کور ته ځې؟

ځواب مې ورکړ:

-نه، بېرته خپلو ملګرو ته راځم. ستاسې کور چیرې دی؟

هغه پر کینه اوږه لاس راکښېښود او ویې ویل:

- همدلته نږدې دی. د روزولټ واټ په سر کې. سبا بیروت ته ځم، نو باید یو څو ساعته ارام وکړم. له سفرونو سره مینه لرم په تېره بیا د منځنی اسیا هیوادونو ته. ستا هم خوښیږي؟

له فکر کولو پرته مې ورته وویل:

-زما بیا په خپل هیواد کې ژوند خوښیږي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه وخندل، ورو یې پر اوږه وټپولم او ویې ویل:
- خامخا یوه وجه لري. ممکن بچیان او مېرمن در دغاړې وي. خو ما بیا د همدې سفرونو په خاطر ښځې واده نه دی کړی.
موټر مې ډېر تېز خغلاوه او چې تر څو هغه بله موضوع میدان ته رااچوله، زه یا وخته لا روزولټ واټ ته رسېدلی وم. په لاس یې د درېدو راته وویل. د کوزېدو پر وخت یې راته وویل:
- ستا او ستا له ملګرو څخه مننه!
زه بېله ځنډه لالهزار چوک ته راتاو شوم. موټر مې له هوټل سره پارک کړ، ولاړم خپل بیګ مې راواخیست او بېرته استارا رستوران ته راستون شوم. وارنر او انجیلا پر ستېج په نخا اخته ول. لومړی مې نیت شو وارنر ته د هغه سړي کیسه وکړم، مګر وروسته بېرته له دې پرېکړې پر شا شوم. غوښتل مې ځینې کیسې او پېښې یوازې له خپل ځان سره وساتم.
نیمه شپه مهال له استارا رستورانه راووتو او سیده د انجیلا کور ته ولاړو. وارنر راته وویل:
- د روانېدو تر وخت پورې څلور ساعته پاته دي، ته کولای شې لږ استراحت وکړې، ځکه سبا مکمله ورځ او شپه پر لارې دریاندې تېرېږي.
زه هم همالته پر یوه پرته سوفه وغځېدم، مګر خوب مې تښتېدلی وو. یو وخت مې سترګې درنې شوې او ویده شوم. یو چا وښورولم. سترګې چې مې روښې کړې، انجیلا مې سر ته ولاړه وه.
- زړه نه مې نه لوېده چې ستا خوب به دومره سپک وي.
- ته دلته څه کوې؟ لکه چې پام دې نه دی چې وارنر هم دلته نژدې ویده دی.
انجیلا په غېږ کې راکښېناسته او ویې ویل:
- نه، ورته پام مې دی. یو ساعت مخکې راویښه شوم او تر اوسه مې سترګې ستا په خونه کې وې چې کله به یې ګروپ ولګېږي. اخیر مې طاقت ونشو او خپله راغلم چې رابیدار دې کړم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خان ته مې راکلکه کړه او ورته ومې ویل:

- ته دا نه وایې چې که وارنر اوس راویښ شو او راغی زه و ته یې پر دې حال ولیدو، نو څه غبرګون به وښیي؟

هغې وخندل او ویې ویل:

- زه یوه خپلواکه ښځه یم. وارنر مې نه عاشق دی او نه مېړه. د هغه یې په څه، زه خو ستا سره مینه لرم.

کرار مې له خانه بېله کړه، پاڅېدم او ساعت ته مې وکتل. شل کم څلور بجې وې. انجیلا وویل:

- تلوار مه کوه، سهارنی مې چمتو کړې ده. تر څو ته خان اماده کوې هر څه به حاضر وي. بیا یې په غاړه کې لاس راواچاوه او ویې ویل:

- غواړم یوه پوښتنه درڅخه وکړم، خو ژمنه راسره وکړه چې رښتیا به راته وایې. ما او هغه خارجي سړي چې نڅا کوله وارنر څه درته وویل؟ په دې خو به یې خوا نه وه بده چې ولې مې د هغه وړاندیز ومانه؟

ومې خندل او ومې ویل:

- نه، په دې باره کې بېخي ونه ږغېدو. د کرمان د ماموریت په اړه یې یو څه نورې خبرې راته وکړې بس خلاص.

انجیلا خان نور هم راپورې کلک کړ او ویې ویل:

- خو ما ولیدې چې ته پاڅېدې او غوښتل دې ولاړ شې، خو هغه بېرته کېښنولې. زه واده یم چې...

خبرې مې ورغوڅې کړې او ورته ومې ویل:

- نه، ته خطاوتلې یې. هغه راته وویل چې که د سکیرت لادزه تښتونه ناکامه شوه، نو باید بېله ځنډه ووژل شي.

- څوک یې باید ووژني، ته که کورت؟

- زه!

انجیلا لږ راڅخه لیرې شوه او ویې ویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- داده یم چې نه به په دې کار کې بریالی کېږې!
وروسته د پخلنځي خوا ته روانه شوه او ویې ویل:
-کارونه دې ژر خلاصوه چې سهارنی تیاریږي!
زه په سهارني خوړلو اخته وم چې وارنر کوټې ته رانتووت. انجیلا سمدستي قهوه ورواچوله.
هغه ساعت ته وکتل او ویې ویل:
- دوې درې دقیقې وروسته کورت رارسېږي!
وروسته کښېناست، په وېښتانو کې یې ګوتې ووهلې او ویې ویل:
- د ماموریت په باره کې نورې خبرې نه لرم، هر څه مې درته وویل اوس نو وګورو چې کامیابېږو که نه.
په دې وخت کې د دروازې زنګ وکړنګېد. وارنر چوپ شو. انجیلا پاڅېده او ویې ویل:
-کورت دی!
وارنر ما ته مخ کړ او ویې ویل:
- نور یوه دقیقه هم ځنډ مه کوه. چابک درولاړېږه!
کورت له انجیلا سره یوځای کوټې ته رانتووت. شاوخوا څلوېښت پنځه څلوېښت کلن سړی وو او منځنی ونه یې لرله. له سترګو یو ځیرک او مرموز سړی ښکارېده.
وارنر یو و بل ته سره وروپېژندلو. له انجیلا او وارنر سره مې مخه‌ښه وکړه او په کورت پسې له کوره راووتم. د دروازې له تړل کېدو سره سم د داسې یوه انسان ملګری شوم چې فقط یوه دقیقه مخکې مې پېژندلی وو.
ماپښین مهال اصفهان ته ورسېدو. کورت ته مې وړاندیز وکړ چې غرمنی به په همدې ښار کې وخورو. هغه په ځواب کې راته وویل:
- نه، دلته درېدل بې‌احتیاطي ده. یزد ته پر لارې په اول کلي کې ډوډۍ خورو او بیا تر سهاره مزل کوو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دا چې ولې په اصفهان کې ونه درېد او د څه لپاره يې احتياط کاوه، بوازې ده ته مالومه وه. له شک پرته يې له دې ښار څخه بوه ترخه خاطره درلوده او نه يې غوښتل ياد يې راتازه کړي. په هر صورت، ما يې د مالومولو تلاښ هم ونه کړ. د هغه کلي نوم مې اوس ذهن ته نه راځي. له ور رسېدو سره سم کورت د يوې قهوه‌خانې مخې ته چې دوه دانې بسان هم ورته ولاړ ول، موټر ودراوه او ويې ويل:

- دا د غرمنی خوړلو لپاره مناسب ځای دی!

يو څو هگۍ مو وخوړلې. نژدې درې پاوه قدر ودرېدو. دا وار يې زه شټرنگ ته کښېنولم. کورت مې څنگ ته کښېناست. موټر مې عمومي سړک ته د ورننوتلو په نيت راناوکړ. بودم مې فکر شو چې د کيڼ طرف شاتنی ټاير پنچر شوی دی. کورت د بوه لېوني په شان له موټر څخه لاندې ټوپ کړل، ټاير يې وکوت او په غوسه يې وويل:

- دا تصادف نشي کېدلای!

ترې ومې پوښتل:

- يانې ته وايې يو چا قصداً پنچر کړی دی؟

- شک نشته، بل احتمال ناشونی دی!

حيران شوم. په دې سيمه کې چا پېژندلو... د کورت دا نظر مې چندانې زړه ته ونه لوېد او که زما پرځای تاسې هم وای، نه مو ورسره منله. شاوخوا مې وځارله. له يو څو بسانو او لاريو پرته چې هلته دلته ولاړ ول، بل داسې کوم مشکوک موټر په نظر نه راغی. پوښتنه دا وه چې دا پسات نو چا کړی دی هغه هم زموږ د سترگو په وړاندې؟ کورت بيا له ډېرې غوسې سور و شين شو او ويې ويل:

- ولې گورې، ونيسه چې ټاير ور بدل کړو، ناوخته کېږي.

په دواړو مو پر راواچول. ډېر تېز په اخته شوو. نژدې په پنځلس دقيقې کې مو کار ورو کړ. بېرته موټر ته وختلو. چې څنگه مو ځان حرکت ته جوړاوه، ناڅاپه يو ببرډېرى سړی چې خيرن کالي يې اغوستي ول او لکړه يې په لاس کې وه، راته شين

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

شو او یزد ته د بېولو هیله یې راڅخه وکړه. کورت له سره تر پښو ورته وکتل او بیا یې ورته وویل:

- نه کېږي، ومو بخښه!

ورسره سم یې زه پر پښه وتپولم چې حرکت وکړم. بېر ډېري په یوه څېز خان د موټر مخ ته ورساوه، بمپر یې ټینګ ونیو او ویې ویل:

- نه مو پرېږدم چې ولاړ شئ، خامخا به ما هم درسره بیایاست!

بږغ و بږوغ شو، خلک راباندې راټول شول. کورت له ډېرې غوسې شونډې تر غاښونو لاندې کړي وې او هغه سړي ته یې کتل. زه تر یو وخته د هغه امر ته منتظر وم، اخیر مې ورته وویل:

- د خلکو د تتولو او دغه زوږ ختمولو لپاره ښه دا ده چې دا سړی راسره بوزو. کنه داکش و پش به همداسې روان وي.

کورت چوپ وو. لیدل مې چې د حوصلې کاسه یې وخته لا لبرېزه شوې ده. لاس یې اماده پر توپنچه ایښی وو. له ځان سره مې وویل: دومره بیعقل به هم نه وي چې دلته توپنچه راوباسي!

راغونډو شویو خلکو ډېره هڅه وکړه چې هغه خیرن له خپل خره څه راکوز کړي، ان یوه لارۍ چلوونکي ست هم ورته وکړ، مګر هغه وچ شله وو چې خدای یو مالګې تروې دي که زموږ پرته له بل هېچا سره ګام هم واخلي.

بالاخره کورت تصمیم ونیو او خیرن سړي ته یې لاس وښوراوه چې راوخېژي. هغه هم په ډېره خوښی او یوه منډه شاتنی دروازه پرانیسته، راوخوت او یوه پنډه منه یې راځخه وکړه. ما سمدستې موټر پونده کړ او د خنډ د جبرانولو لپاره مې پر اکسلېټر پښه ټینګه کړه. کورت له هغه سړي څخه وپوښتل:

- څه کاره یې؟

هغه وخندل او ویې ویل:

- زما غونډې جامو او سر و ږېرېوالا به نو ستا په خیال څه کاره وي؟ یو د خدای بېوزله او بېکسه سړی یم او کلونه-کلونه کېږي چې له یوه ښاره بل ته ځم او په

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

همدې مې ګزاره ده. پر اسمان ستوری او پر ځمکه سیوری نه لرم. بس یو زه یم او یو مې دا اوږد سپین کمیس چې وینې ئې.

له خبرو، غورو او افکارو یې داسې ښکارېده چې یو د خدای ملنګ دی، دنیا ته یې شا کړې او د هیڅ شي هوا و هوس نه لري. کورټ یو چاکلېټ ورته ونیو. خو هغه یې لاس ورپورې واهه، له جیبه یې یو موټ تاریاک راوایستل او په خندا یې وویل:

- زما چاکلېټ دغه دي. ونیسه درواېې خله!

وروسته یې په خوله کې واچول او د چاکلېټ غوندې په غوړت-غوړت یې وخوړل. ما ته د هغه دغه کار عادي وو، لیکن د کورټ سترګې له ډېرې هېښتیا رډې-رډې راووتې. پلان مو دا وو چې تر لمر لوېدو مخکې باید یزد ته خان ورسوو، مګر د دې خیرن سړي مزاحمت مو ټولې کیسې راګډې‌وډې کړې. لمر و غر وو، خو موږ لا هم پر لارې وو. ګړی وروسته هوا پوره تیاره شوه. موټر مې په فول سرعت ځغلاوه. د یزد ښار د څراغونو له رابښکاره کېدو سره سم، خیرن سړي وویل:

- ما همدلته کښته کړئ!

موټر مې ورو کړ، کرار د سړک څنډې ته شوم او بریک مې وواهه. کورټ ځنې وپوښتل:

- دلته ولې کښته کېږې؟ هغه ځواب ورکړ:

- بس همسې، غواړم له دې ځایه پلی ښار ته ولاړ شم!

د پورتنۍ جملې تر ختمولو وروسته یې د سترګو په رپ کې د توپنچې خوله زموږ دوو خوا ته نیغه کړه. ما چې ویل خوب وینم. په همدې سربدالۍ کې ورک وم چې د هغه خیرن سړي امرانه ږغ مې واورېد:

- که دې موټر ته حرکت ورکړ، پر دا سر دې ولم!

ایله مو اوس سد سر ته راغی او پوه شوو چې دا ځنګه بلا ده. د لاسونو پورته کولو امر یې راته وکړ. چابک مو اجرا کړ. کورټ وویل:

- له دې کار څخه دې اصلي هدف څه دی، پیسې غواړې؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خیرن ماما په پزه کې وخندل او ویې ویل:

- نه کورت صاحب، پیسې نه غواړم. څو ساعته زه ستاسې مېلمه وم، اوس به بیا ساعت تاسې زما مېلمانه شئ له خیره سره. البته همدلته او بل دا چې له دغې وسلې پرته مو د هرکلي لپاره بل شی لرم هم نه.

بیا یې د خپلې توپنچې په څوکه پر لاسونو چې پر ځت مې نیولي ول، ووهلم او ویې ویل:

- او تا ته وایم اې قاچاقبره، خورا ژر دې بله دنده ځان ته پیدا کړه. بد نه یې روان، په کم وخت کې دې د کورت او وارنر باور ترلاسه کړی دی!

زه له ډېرې هېښتیا نژدې وم ښکرونه وکړم. ویل مې یا خدایه دا بیا څوک دی چې زما شجره ورمالومه ده؟ زموږ د ماموریت راز به چا رسوا کړی او څنګه تر دغه خیرن پورې رارسېدلی وي؟

کورت په فکرونو کې غرق و ترق وو. ته وا د حال په ژبه یې راته ویل چې ما دغه سرنوشت لیده چې دا خیرن مې موټر ته نه راپرېښود. اوس چې تقریباً ډاډه شوی وم چې هغه د متفقینو یو تکړه ځارګر دی، ور څخه ومې پوښتل:

- ایا د هرکلي وخت لا نه دی ختم شوی؟

هغه په هماغسې ارامۍ او سړه سینه راته کړل:

- صبر له لاسه مه ورکوه، اخیر به کرمان ته ولاړ شې!

کورت چوپتیا ماته کړه او ویې ویل:

- ستا خبرې زموږ دوو په اړه بالکل ښځایه دي، خو ته صرف دومره راته ووایه چې د دې توپنچې له کارولو او زموږ راګرځولو څخه دې موخه څه ده؟

خیرن سړي وویل:

- موخه مې ښکاره ده؛ هغه دا چې تاسې همدلته ودروم. د وسلې کارول هم اړین دي. او کورت صاحبه ته ښځایه لګیا یې د یوه عادي سړي په توګه ځان راباندې تېروې، ځکه له هر څه دې خبر یم چې د رسوا کولو ضرورت یې نه وینم. زه بر

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ګرځاند انسان یم او له یوه ښاره بل ته ځم، مګر ته او ملګری دې کرمان ته روان یاست!

کورت څه ونه ویل. زه د خلاصون د یوې لارې-لیکې په لټه وم، خو چې ومې سنجوله دې پایلې ته ورسېدم چې یوه وړه تېروتنه د سر په بیه راته تمامېدلای شي. ایله-بیله کورت هم په خطر کې راسره لوېږي. هغه خیرن سل سلنه راباندې برلاسی وو او خورا بده کانه[1] یې راکړې وه، تیک یو ساعت یې په همدې ډول ساتلې وو.

بالاخره یې یو وخت راته وویل:

-اوس کولای شې ولاړ شې، مګر اول زه تا کېږم. او کورته، ته به د موټر تر خوځېدو وروسته خپل لاسونه له څټ څخه کوزوې!

په داسې حال کې چې په ټولو حواسو هغه ته ځیر وم، موټر مې چالانه او کرار روان کړ. خیرن سرې په زوره وخندل او ویې ویل:

- ورځه ورځه قاچاقبره چې کورت ډېر په عذاب دی!

په سرعت له هغه ځایه لیرو شوو. د هغه خندا مې لا په غوږونو کې ازانګې کولې. کورت کرار خپل لاسونه راکښته کړل او ویې ویل:

-ښه پوره یې وغولولو... ټایر هم همدې خیرن پنچر کړی وو. ما خو په همدې وجه موټر ته نه راپرېښود.

وروسته په چورت کې ولاړ. یزد ته چې ننوتو، ترې ومې پوښتل:

- همدلته درېږو؟

سر یې راته وخوځاوه او ویې ویل:

- هو، له چوک سره نږدې ودرېږه!

له موټره کښته شو او ویې ویل:

- ته ورشه تېل ورواچوه، زه همدلته درته درېږم!

---

[1] کانه - پسات، چل.

ما نیل ورواچول. کله چې بېرته د کورت خای ته ورغلم، هغه نه وو. نیم ساعت وروسته راپیدا شو. ترې ومې پوښتل:

- چیرې وې؟

خواب یې راکړ:

- تللی وم چې تهران ته ټیلیفون وکړم.

- دلته خو داسې خای نشته چې ته ټیلیفون ختنې وکړای شې.

- ویل مې گوندې پیدا یې کړم... نه خیر، راځه چې دوړی وخورو.

د شپې لس بجې له یزد څخه ووتو. موټر بېحده گړندی روان وو. د امېر ستن د سل او سل و شل تر منځ کښته پورته کېده. هر وار چې به مې ورته وکتل، وار ېار به مې خطا شو. کورت شترنگ ته ناست وو. خبره یې سره پیکه غوندې وه. د احتمالي پېښو په فکر کې وم.

ترې ومې پوښتل:

- ستا په خیال هغه خیرن به څوک وو؟

هغه یوه ترخه خندا وکړه او ویې ویل:

- لمر غوندې روښانه ده چې څوک وو. موږ باید دا پوښتنه له ځانه وکړو چې چا ورته رسوا کړې وو؟ زما هدف یوازې دی نه، بلکې د دې سازمان دی. ځکه دا کیسه د لادزه له تښتونې سره مستقیمه اړیکه لرې. د هغه خیرن ماموریت دا وو چې موږ ساعت دوه وځنډوې بس خلاص.

کورت تر لنډکې ځنډ وروسته زیاته کړه:

- هغه بېخاره کولای شول موږ ووژنې، خو دا کار یې ونه کړ. ځکه ماموریت یې بل څه وو. په دې سره یې غوښتل صرف خپل زور راوښیې.

ومې ویل:

- خو زموږ په دې ماموریت له وارنر او انجیلا پرته بل هېڅوک نه وو خبر. اوس نو ستا په فکر څه ـ څه راته گورې؟

کورت چې سترگې یې په سړک کې وې، راته وویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- اوس دې لا دا سوال درخوابولای نشم. کرمان ته په رسېدو به غور پر وکړو. ته څه فکر کوې؟

- زه هغه خیرن سړي ته په فکر کې یم او لکه څنګه چې تا وویل باید د متفقینو د خارګرۍ ضد څانګې غړی وي، مهمه پوښتنه دا ده چې زموږ په باره کې چا او څنګه خبر کړی دی؟ د هغوی شبکه هم له شک پرته زموږ تر هغې په کراتو-مراتو څواکمنه ده او که دې په خپل سازمان کې د دې راز ایستونکی ونه موند، په ایران کې به مو ټول پلانونه له خاورو سره خاورې شي.

کورت وویل:

- په دې کې شک نشته چې د هغوی شبکه په منځنۍ ختیځ کې فول فعاله ده، مګر په دې سیمه کې زموږ خارګري او خارګرۍضد سازمان هم لکه یوه کلکه کلا داسې ټینګ دی او سوری پکې جوړول تقریباً ناشونې ده.

ومې خندل او ومې ویل:

- لیکن هغه خیرن ثابته کړه چې دا پولادي کلا ته ورننوتلای شي.

کورت په درد وویل:

- بس یې کړه، ستا د دې چټیاتو د اورېدو حوصله نوره نه لرم!

د سترګو له کونجو مې ورته وکتل او څه مې ونه ویل. څو دقیقې وروسته یې په ارامۍ او دوستانه لهجه راته وویل:

- بخښنه غواړم. زه و نه ملګري او همکاران یو، مګر هر خپل سازمان هم دغسې ښکاره نیوکې مناسب کار نه دی. دا چلونه او د یو و بل راتینګول په ټولو پټو سازمانونو کې شته. یوازې موږ نه یو چې د خپل دښمن راځملولو ته مو بلډې رانغښتي دي، بلکې هغوی هم پراخ تشکیلات او امکانات لري او هره شېبه په پوره څواک راسره جنګېږي.

زیاته یې کړه:

- زموږ او نورو عادي انسانانو دنیاوې ځمکه و اسمان توپیر سره لري. ته خپله یو قاچاقبر یې او پوهېږې چې زه څه درته وایم.

ما لنډه ورخلاصه کړه او ورته ومې ویل:

- هو، همداسې ده!

کورت بیا بخښنه وغوښته او هیله یې راڅخه وکړه چې د ده مخکنی خبرې هېرې کړم. زما لپاره همدومره کافي وه. تړوله شپه پر لارې وو. سهار سپیده چاود مهال دواړه یوې درنې ستړیا رالاندې کړو، خو بیا هم هېڅ چاره نه وه او باید مزل ته مو ادامه ورکولای. نهه بجې شاوخوا د کرمان ښار ځنډې رابښکاره شوې. کورت وویل:

- له ماپښین څخه بیا تر ماښامه استراحت کوو، ځکه ماموریت باید د شپې له خوا تر سره کړو.

کله چې ښار ته ننوتو او له تهران واټ سره موازي پر غځېدلي شاهپور واټ روان وو، لودویک راياد شو او ان سیوری مې پر خپل ځت احساساوه، ځکه په کوټه کې له نوموړي څخه له بېلېدو صرف پنځلس ورځې کېدې. شترنګ د کورت په لاس کې وو. موټر مو پر مشتاقیه چوک راکاږ شو، زرسیف واټ ته ورننووت او د هنري زدکړو اداري ودانۍ مخې ته ودرېد.

کورت راته وویل:

- ته همدلته اوسه، زه دستي بېرته راځم!

تګ و راتګ يې تر څلور دقیقې زیات وخت ونه نیو. له څه ویلو پرته بېرته شترنګ ته کښېناست او پر زرسیف واټ یې موټر پونده کړ. د واټ پای ته چې ورسېدو ورته ومې ویل:

- دا د ښار پای دی او له یو څو باغونو پرته بل داسې خاص شی نشته.

کورت ځواب راکړ:

- په زرسیف باغونو کې دمه کوو. تر نیمې شپې پورې همدلته تمېږو او د ماموریت له تر سره کولو سملاسې وروسته له ښاره وزو.

ترې ومې پوښتل:

- ایا ګرې مخکې دې په هغه ودانۍ کې له یو چا سره ولیدل؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- همداسې يې ويوله او غرمنی به له همدې کس سره په ګډه وخورو. ته به يې هم وويني. جرمنی دی او له کلونو راهیسې د يزد او کرمان په کانونو کې کار کوي. دا لیدنه زموږ د ماموريت برخه وه، څکه د لادزه په باره کې وروستي مالومات بايد همدغه سړی موږ ته راکړي.

د کورت خبرې تر هغو روانې وې تر څو يوه باغ ته ورسېدو. موټر يې ودراوه او څو هارنونه يې ووهل. شېبه وروسته د باغ ور بېرته شو او موټر مو ورننه‌ايست. دا يو کوچنوټی بڼ وو چې په شمالي برخه کې يې يوه يوپوړيزه ودانی اباده وه. کورت موټر ودراوه او ما ته يې وويل:

- درکښته شه!

په ګډه هغې ودانی ته ورننوتو. يو پوخ جرمنی سړی مخې ته راغی. له کورت سره يې پېژندل. زه يې هم ور معرفي کړم. هغه يې په دوکتور کومل راوپېژاند. يوې کوټې ته يې بوتلو. کومل دستې قهوه راته راوړه. بېرته چابک له خونې څخه ووت. له کورت څخه مې وپوښتل:

- ايا زه وروسته کولای شم يو څل ښار ته ولاړ شم؟

هغه په توندی راته وويل:

- نه ملګرې، خير مو په دې کې دی چې تر لمر لوېدو پورې له دې ځايه ونه‌وزو. بل دا چې په ښار کې به نو څه وکړې؟

ماسپښين يوه بجه دوکتور کومل کوټې ته راغی. موږ دوه لا همالته لکه بنديان ناست وو. تر غرمنی خوړلو وروسته کورت له هغه څخه وپوښتل:

- ايا لادزه په ښار کې دی؟

کومل له حيرانی په ډک انداز وويل:

- هغه څو ورځې مخکې له يزد څخه کرمان ته راغی او يو ساعت مخکې مې وليد. له دې پوښتنې څخه مو مطلب څه وو؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کورت د هغه خیرن سړي کیسه ورته وکړه او زیاته یې کړه چې ده فکر کاوه ښایي د متفقینو جاسوسي ضد سازمان یې په نقشه کې لغتې ورو هلي وي. کومل په دا ډول انداز ځواب ورکړ:

- ستاسې تر رارسېدو مخکې مې یو شفري تلگراف ترلاسه کړ چې د همدې ماموریت په باره کې وو. لادزه مې له تېرو ۲۴ ساعتونو راهیسې تر څار لاندې دی. ما فکر کاوه چې تاسې به پرون لمر لوېدو مهال دلته راورسېږئ.

کورت وویل:

- هغه خیرن سړي مزاحمت وکړ او څو ساعته یې وځنډولو.

دوکتور کومل وویل:

- اوس لا وختي دی. نیمه شپه مهال به هغه ستاسې په موټر کې وي، مگر په پلان کې باید هېڅ بدلون رانشي؛ یانې تاسې باید نوموړی له خپل کوره وتښتوئ.

کورت یې په خبرو کې ورولوېد او ویې ویل:

- سره له دې چې لادزه زموږ په پلان ناخبره دی، خو که خبر شي چې موږ له خطره خلاص کړی دی زښت به خوشحاله شي. موږ د پلان هره خوا دقیقه سنجولې ده، یوازنی اندېښنه مې دا وه چې ویل مې هسې نه په کرمان کې نه وي.

کومل وویل:

- لکه څنگه چې تاسې هم خبر یاست، د منځني ختیځ حالات لا خطرناک او نازک شوي دي او په دې نژدې راتلونکي کې به داسې پېښې وشي چې موږ به حتماً پکې شریک یو. اوسمهال دغه ټوله سیمه تر پولو پورې د متفقینو د جاسوسي ضد څارگرو تر سخت څار لاندې ده. له همدې امله په کلکه درته وایم چې زما له خبرتیا پرته به له دې ځایه سر دباندې نه باسئ او همدا مو د استراحت یوه خورا ښه موقع ده.

* * *

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د شپې پر یوولس بجې زه او کورت د لادزه د تښتولو په نیت له خپل تمځای څخه راووتو. دوکتور کومل د ماښامنی تر خوړلو ساعت وروسته له کوره ووت او موږ ته یې وویل چې یوولس نیمې شاوخوا د مشتاقیه چوک په مولاقلي کوڅه کې ورسره ووینو او له هغه ځایه بیا په ګډه د لادزه د کور پر خوا وخوځو. دا چې کومل ولې تر موږ وړاندې له کوره ووت په دې اړه به وروسته وږغېږو.

موټر ما چلاوه او داسې روان وو چې پر یوولس نیمې بجې د ملاقات ځای ته ورسېږو. له ډېر احتیاط سره-سره بیا هم یو څو دقیقې وختې ورسېدو. تیک پر یوولس بجې او دېرش دقیقې دوکتور کومل مو له موټر سره راشین شو، په چټکۍ یې د مخ دروازه پرانیسته، د کورت بغل ته کښېناست او ویې پوښتل:

- هر څه اماده دي؟

کورت ځواب ورکړ:

- دې شپې ته مو له ډېره وخته چمتووالی کړی دی.

کومل وویل:

- لادزه معمولاً پر لس بجې پر کټ پرېوزي او نیم ساعته وروسته ګروپ ګلوي. په دې حساب نو یو ساعت کېږي ویده دی او تاسې پر دوولس بجې کور ته ورننوزئ، د هغه خوب به لا درووند شوی وي.

پسې زیاته یې کړه:

- زما توصیه درته دا ده چې په هېڅ وجه له ړنا څخه کار مه اخلئ، بلکې په تپه تیاره کې یې له کوره راوباسئ. ډاډه یم چې وارنر به هم په دې باب لارښوونې درته کړي وي.

کورت وویل:

- وارنر هم کټمټ همدا ستا خبره راته وکړه چې باید له هېڅ ډول څراغ یا ګروپ څخه استفاده ونه کړو. اوس به د لادزه د کور نقشه تر نظر تېره کړو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دوکتور کومل یو کت-کت کاغذ له جېبه راوایست او پر خپل خنګون یې وغوړاوه. ما خپل کوچنی لاسي څراغ کورت ته ورکړ هغه پر پاڼه ولګاوه. کومل وویل:

- دا نقشه ما خپله په منډه-منډه کښلې ده. تاسې وینئ چې د لادزه خوبخونه تر نورو ټولو جزیاتو واضح ده.

ما و کورت د کور او خونې نقشه په دقت سره ذهن ته وسپارله. وروسته کومل د پتلون له جېب څخه یوه کیلي راوایسته او ویې ویل:

- دا یې هم د لادزه د کور کیلي!

کورت وویل:

- یوازنی شی چې زه دا ګړی ورته په چورت کې یم هغه د لادزه سپی دی؛ چې په مرمۍ یې وولو که...

کومل یې خبرې ورغوڅې کړې او ویې ویل:

- نه، نه، وسلې ته اړتیا نشته. زه په یو ډول وتوانېدم چې هغه نن خپل کور ته بوزم. پلمه مې دا ورته کړه چې زه نن له ښاره دباندې وزم، مېرمن مې په باغ کې یوازې ده او دا سپی به پېره پر وکړي.

کورت وویل:

- خو تاسې خپله هم یو لوی سپی لرئ!

کومل وخندل او ویې ویل:

- هغه څو ورځې کېږي ناروغ دی او درملنه یې روانه ده. په هر صورت، لادزه نن شپه یوازې دی او هیله‌من یم چې ستاسې لومړی تلګراف سبا سهار ترلاسه کړم.

له دې سره له موټره کښته شو او پر خپله مخه ولاړ. موږ هم بېله خنډه د لادزه د کور خوا ته وخوځېدو. واټونه تش او ښار په چوپتیا کې ډوب وو. سم مې نه یادېږي چې د لادزه کور دقیقاً چېرې وو، مګر دومره مې په یاد دي چې ناصري واټ نه ورننوتو او له ورننوتلو سره سم کورت د درولو اشاره راته وکړه. د کښته کېدلو پر وخت یې یوه بسته غاړې ته واچوله.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ښځې ومې پوښتل:

- دا د څیشي بسته ده؟

ځواب یې راکړ:

- څو دقیقې وروسته به دې سر خلاص شي!

د لادزه د کور مخ ته چې ورسېدو، کورت په ورسره کیلي دروازه خلاصه کړه او دواړه ورننوتو. د لاسي څراغ په رڼا کې مو نقشه یو ځل بیا له نظره تېره کړه. د لادزه د خوبخونې کړکۍ راته مخامخ وه. توپنچې په لاس وروورو دننه ورغلو...

په دې حالت کې که هر څوک په مخه راتلای، بېله ځنډه مو ډزې پر کولې او تکان هم چا نه اورېدل، ځکه توپنچې مو په یوه خاصه خاموشوونکې اله سمبالې وې. کورت تر ما دوه ګامه وړاندې روان وو. په ښي لاس کې یې توپنچه وه او په کیڼ لاس یې هغه بسته نیولې وه چې زه یې لا هم له محتویاتو ناخبره وم.

د خوبخونې له دروازې سره شبېه دوې ټکنې شوو. وروسته یې کورت لاستی ورتاو کړ او په پستو قدمونو وردننه شوو. کرار-کرار مو سترګې له تیارې سره روږدې کېدې او ډېر ژر مو پر کټ یو پروت کس ولید چې صرف یو لنډ نېکر یې اغوستی وو. زه له کورت سره اوږه پر اوږه ولاړ وم.

راته مخ یې کړ او ډېر ورو یې وویل:

- ژر تر ژره باید خپل کار وکړو!

- اول به یې زه راشروع کړم!

ومې پوښتل:

- ته څه کوې؟

بسته یې ما ته راکړه او د پتلون له جېبه یې یو لبسیرین ته ورته کوچنی شی راوایست، زما سترګو ته یې نژدې ونیو او ویې ویل:

- په دې یې بېهوښه کوم!

ومې ویل:

- خو د وارنر له قوله لادزه له خپلې تښتونې سره موافق دی!

کورت ووېل:
- سمه ده، خو هغه وخت موافقت کوي چې له ورپېښې ګواښه خبر شي. اوس دا هم نشو کولای چې له خوبه يې راپاڅوو، يو بل خونډي ځای يې بوزو او له کيسې يې خبر کړو. له راوېښېدلو سره سم يې مجبوراً بايد د وسلې په زور له دې ځايه وباسو. که ښه غور وکړې، نو موټر ته د لادزه د بېولو يوازنۍ بې‌سرخوږي لاره همدا ده او که تا ته يوه بله بهتره لار درمالومه وي، ژر يې راته ووايه چې ناوخته کېږي. اوس راپورته نشي. هله راته ووايه!
بېله خندا مې ورغبرګه کړه:
- نه، نه ده رامالومه!

کورت د لادزه کټ ته ورغی. هغه پر کيڼ اړخ ويده وو. ده هغه کوچنی شی سرمو ته ورنژدې کړ. زه هم لږ ور وړاندې شوم. لادزه د خوب له نرۍ ښخه د بېهوښۍ دنيا ته ولېږدېد. دې کيسې تر دوو دريو ثانيو زيات وخت ونه‌نيو همدا چې د هغې الې په پای کې کوچنی سور غمی زرغون شو، کورت راته ووېل:
- بېهوښه شو!

له دې سره يې د داډ لپاره څو واره وښوراوه؛ تا چې ويل مړی پروت دی. هغې وړوکې الې ته مې له حيرانۍ خوله وازه پاته شوه، ځکه هېڅ مې زړه ته نه لوېده چې دومره لوی کار دې کولای شي.

کورت پر خپله دې بريا په مزه-مزه وخندل. بيا يې بسته پرانيسته. هغه په اصل کې يوه لويه کڅوړه وه او بېهوښه لادزه مو پکې واچاوه. وروسته مو په دواړو له خونې ښخه وايست. زه مخکې وم، کورت راپسې وو. د کور له دروازې ښخه تر وتلو مخکې مې کوڅې ته سر ورايسته کړ، هېڅوک نه ښکارېد. ان د پوليسو د ګښت ځرک هم نه وو. په يوه منډه د کوڅې ها بلې غاړې ته واوښتو او کڅوړه مو د موټر پر شاتنۍ څوکۍ کښېنوده. کورت چابک شترنګ ته کښېناست، موټر يې چالان کړ او د سترګو په رپ کې له هغه ځايه ليرې شوو.

ومې ویل:
- له نېکه مرغه چا ونه لیدو...
کورت مې خبرې راغوځې کړې او ویې ویل:
- کنه نو یو غټ جرم راڅخه کېدی!
همداسې هم وه، څکه که په کوڅه کې پولیس یا هم کوم بل څوک په مخه راغلی وای، له شک پرته مو واژه. خو خوشبختانه دې ته هېڅ اړتیا پېښه نشوه او په ارامۍ د لادزه پر تښتونه وتوانېدو. زاهدان ته پر تللي سړک له کرمان څخه ووتو. کله چې مې په دې ماموریت کې د کومل د اغېزناک رول یادونه وکړه، کورت وویل:
- هغه په منځنۍ ختیځ کې زموږ د شبکې یو مفکر او نوښتګر شخصیت دی. په دې ماموریت کې یې کلیدي رول درلود. وارنر امر راته کړی وو چې کرمان ته له ننوتلو سره سم اړیکه ورسره ټینګه کړم. دا دې هم پاته نه وي چې تهران او انقرې ته د کومل پر لاس لېږل کېدونکي مالومات هم خورا-خورا اغېزناک او مهم دي.
خپنې ومې پوښتل:
- له انقرې څخه دې مطلب څه دی؟
کورت وویل:
- زموږ د شبکې د منځنۍ ختیځ، شمالي افریقا او لیرې ختیځ لوی مرکز په انقره کې دی. ټول امرونه له هغه ځایه ورکول کېږي. تر دې زیات نو زه هم نور مالومات نه لرم او ستا څخه هم هیله کوم چې پوښتنې ونه کړې.
بیا مې نرې وپوښتل:
- ایا وارنر کومل ته له تهران څخه زموږ د راروانېدو خبر ورکړی وو؟
- کرمان ته زموږ دوولس ساعته سفر لا پاته وو چې وارنر کومل له دې ماموریته د بوه تلګراف له لارې خبر کړ، خو هلته هغه خېرن راته خندل شو، ویې خندولو او معاملې یې راګډې‌ودې کړې.
سګرېټ مې ولګاوه او ومې ویل:
- له دې هر څه سره-سره د خېرن چل-ول کار ونه کړ او موږ دا دی بریالي شوو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کورت ځواب راکړ:

- کومل راته وویل چې کله د وارنر شفري تلګراف راته راغی او دلته تاسې ځنډ وکړ، نو چابک مې پر پلان له سره غور وکړ، ټول اړخونه مې وسنجول او ځینې اصلاحات مې پکې راوستل. همدا وجه وه چې زموږ ماموريت له ځنډ سره مخ نشو.

ساعت نه مې وکتل، نژدې دوې بجې وې او دا وخت تقريباً سل کېلومتره له کرمان څخه راليرې شوي وو. کورت موټر ګړندی چلاوه او د سړک قانوني سرعت يې نه مراعاتوه. ما هره دقيقه پر شاتنی ځوکی پرتې کڅوړې ته کتل چې که لادزه وښوري، نو کورت په خبر کړم. تر ځلورو بجو همداسې يخی پروت وو. کورت ته مې وويل:

- داړه يې چې لادزه به پر هوښ راشي؟

- ګړی وروسته پر هوښ راځي. لږ صبر لا وکړه.

د شپې کمبله کرار-کرار ورټولېده او د سهار سپېدې رادبره کېدې. کورت ستړی ښکارېده. زه شترنګ ته ورواوښتم. راته کړل يې:

- فکر نه کوم د تګلوري بدلون ته به اړتيا وي. زما په نظر په ريګستان کې تر تېرېدلو همدا سړک غوره دی، ځکه کوم خطر نه وينم. نو ښه دا ده چې تر زاهدانه همدا سړک واخلو او له هغه ځايه به بيا عمومي سړک ته واوړو.

ومې ويل:

- چې ستا څنګه خوښه وي هغسې سمې ده. زه خپله د وارنر له لارښوونې سره سم ستا په خدمت کې يم. که دې وروسته نظر بدل شو او غوښتل دې چې پر ريګستان واوړې، لارښوونه دې پر ما ده.

- چې رښتيا شي د لارې بدلون زموږ او تر راويښېدو وروسته د لادزه په وضعيت پورې هم اړه لري.

هوا چې پوره روښانه شوه، کورت وويل:

- هغه راويښ شو، موټر دروه!

موټر مې د سړک پر غاړه ودراوه. کورټ کښته شو، شاتنۍ دروازې ته ورغی او کڅوړه یې پرانیسته. بودم یې چیغه کړه:

- دا سړی خو لادزه نه دی!

زه لکه پر چا چې نابېره یو بد بړغ وشي، بې اختیاره مې ټکان وخوړ. شا ته مې وکتل، پر یوه توروشمه شاوخوا څلوېښت کلن سړي مې سترګې ولګېدې. وېښتان یې شناوي ول، سترګې یې له کولکونو راوتلي وې او تر کوناټو په کڅوړه کې دننه پر څوکۍ ناست وو.

کورټ له غوسې په راپارېدلې پرېشانۍ کې ډوب ولاړ او یوه ناڅرګند ټکي ته څیر وو. زما حال هم تر ده ښه نه وو، ځکه لیدل مې چې ټول زیار مو اوبو وړی او د لادزه پرځای مو یو بل نفر راپه هوا کړی دی.

هغه چې موږ دواړه چوپ و غړپ او حَان په سپېره دښته کې ولید، په ګنګوړه ژبه یې وویل:

- تاسې... تاسې... څوک یاست... زه... زه... ولې دلته یم؟

کورټ چې دا ګړی یې اړخ ته ناست وو، د زخمي پړانګ غوندې پر ورپه هوا شو، تر مرۍ یې ونیو او چیغه یې کړه:

- خر بیعقله، تا د لادزه په خوبخونه کې څښي کول؟

ومې لیدل چې که لږ لا وځنډېږم او مداخله ونه کړم، نو کورټ به هغه د خدای ناخبره بدمرغه ووژني. چابک لاس په کار شوم او په یو عالم زحمت مې هغه بېګناه سړی له منګولو خنې وایست او ورته ومې ویل:

- کورته هغه بېګناه دی!

د کورټ څېره له ډېرې غوسې تکه سره اوښتې او د غاړې رګونه یې پړسېدلي ول.

هغه سړی یې یوه ټینګه چپلاخه وواهه او ورته ویې ویل:

- راته ووایه څوک یې؟

هغه بېچاره وابس و غوزی ناست وو. ما ته په زاریو شو چې له کورټ څخه یې خلاص کړم. پوښتنه مې خنې وکړه:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- ته څوک او څه کاره یې؟

هغه چې له ډېره داره ګنګوړه شوی وو، په توړی ژبه راته وویل:

- زه د لادزه صاحب مزدور یم!

کورت چې په خیر-خیر یې ورته کتل، وویل:

- دا دی بیا یې وغولولو. موږ احمقانو فکر کاوه چې کامیاب شوي یو. ان کومل هم له دې حیلې ناخبره وو. هغه نو اوس په دې سوچ کې دی چې لادزه زموږ سره دی.

د لادزه مزدور چې له وېرې یې سمې خبرې لا نشوای کولای، غوښتنه راڅخه وکړه چې بېرته یې کرمان ته بوزو. کورت چې سترګې یې لکه د وینو پیالې تکې سرې اوښتې وې، ما ته وویل:

- زه خو دا وژنم!

خبرې مې ور پرې کړې او ورته ومې ویل:

- نه، دا لېونتوب دی!

کورت په هماغه تونده لهجه په خبرو کې راولوېد او ویې ویل:

- دا تا ته لېونتوب ښکاري؟ دا بلاګی اوس زموږ په ټولو کیسو خبر شوی دی، که مو ژوندی پرېښود، په غم مو اړوي.

ترې ومې پوښتل:

- اوس غواړې څه وکړې؟ خو نور چې هر څه کوې، ستا خوښه ده، مګر دا سړی به ایله کوې.

ویې ویل:

- خیر یو کار به وکړم...

په دې پسې یې توپنچه راوایستله او هغه سړي ته یې له موټره د راکښته کېدو اشاره وکړه. ما دستې کورت تر مروند ونیو او ومې ویل:

- مه یې وژنه... بېچاره بېګناه دی!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کورت مې لاس په درد راپورې واهه او هغه بدمرغه یې له موټر راکښته کړ. له خان سره مې وویل که څه ونه وایم او چوپ ورته ودرېږم حتماً یې وژني. سملاسي مې له موټره ورټوپ کړل، د ده او مزدور تر منځ ودرېدم او ومې ویل:

- چې داسې ده نو اول باید ووژني بیا هغه!

کورت په غوسه راته وکتل او راباندې چیغه یې کړه:

- اې لېونیه دا د خپل بادار د تښتولو له پلانه خبر شوی دی، خامخا باید له منځه یووړل شي. امر درته کوم چې له مخې مې ایسته شه!

دوارې پښې مې په یوه موزه کې واچولې او وچ ځواب مې ورکړ:

- نه، امکان نه لري. نه یې وژنې!

کورت چې زما کلک هوډ ته وکتل، سرزوري یې پرېښوده او ویې ویل:

- سهي ده، ایله کوم یې!

وروسته په خلق‌تنګی روان شو، شترنګ ته کښېناست او راته ویې ویل:

- ژر کوه راوخېژه!

ما چابک د لادزه مزدور شاتني سیټ ته ورپورته کړه او خپله د کورت اړخ ته کښېناستم. کورت سګرېټ ولګاوه او له مزدور څخه یې وپوښتل:

- د خپل بادار په کټ کې څه وخت پرېوتې؟

هغه اول ما ته وکتل بیا یې ځواب ورکړ:

سم مې په یاد نه دي. تر ماښامنۍ خوړلو وروسته لادزه صاحب امر راته وکړ چې د ده پر کټ پرېوزم او چې لامل مې ترې وپوښت، ویې ګواښلم چې که یې امر ونه منم، وبه مې وژني.

لږ چوپ شو، بیا یې زیاته کړه:

- د بادار په ځای کې د پرېوتو له امله خوب نه راتلی. شاوخوا نیم ساعت وروسته هغه راغی او راڅخه ویې پوښتل:

- ولې نه ویدېږې؟

زه له کټه راکښته شوم او ومې ویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- زه ستاسې په ځای کې نشم ځملاستلای!

کورت ترې وپوښتل:

- ښه، بیا؟

مزدور ځواب ورکړ:

- دا وار یې ډېر په مینه چلند راسره وکړ او په خندا یې راته وویل:

*(اوس به دې ښه ارام ویده کړم!)* ما چې ویل وژني مې. ډک جام یې راوړ او راته ویې ویل: *(دا وڅښه. شراب دې خوښېږي؟)* ما له وچ ډاره په لړزېدلو لاسونو جام ترې واخیست او تش مې کړ. بېرته یې پر خپل ځای ځملولم. تر هغه وروسته په ځان نه یم پوه شوی تر څو دلته ستاسې سره مخامخ شوم.

کورت بیا ترې وپوښتل:

- ایا تر ماښامنۍ خوړلو مخکې یا وروسته لادزه یوازې وو؟

- هو، یوازې وو.

ما وویل:

- دغه د خدای بېچاره او له هر څه ناخبره سړی باید ونه وژل شي.

کورت وویل:

- ستا دې زړه‌سوي لکه چې پر ما هم اغېز وکړ، کنه په دغسې حالاتو کې زه رحم محم نه لار نه ورکوم او یوازې هغه څه کوم چې باید وشي.

ورته ومې ویل:

- ګوره پر ما بل ګومان مه کوه، ممکن پر وخت زه تر تا هم بې رحمه واوسم، مګر دلته زما و ستا دواړو سر خلاص دی چې دا سړی بېګناه دی. نه دې واورېدل چې لادزه شراب په څښلي او ځان یې ترې بې‌غمه کړی دی؟ له شکه پرته یې په هغه جام کې نشه یي مواد اچولي ول.

کورت وویل:

- همداسې یې ویوله. اوس باید دا مالومه شي چې هغه څنګه او له کومه د خپلو تښتونې په پلان خبر شوی چې داسې یې ځان ایستلی دی؟

ومې ویل:

- که لادزه ربښتیا هم له دې پلان سره موافق وای، بیا یې نو داسې کار نه کاوه. بل احتمال دا دی چې ممکن د یو بل چا له خوا ګواښل شوی او مجبور شوی وي.
حیرانوونکې خو دا ده چې کومل سل سلنه داډ راکړ.

کورت وویل:

- د حیرانۍ وړ نه ده، ځکه که فرضاً لادزه ربښتیا هم یو چا ګواښلی وي، نو بیا دا کار حتماً له کومل سره د نوموړي له لیدنې وروسته شوی دی. دا په دې خاطر چې که تر دې مخکې وای، نو کومل به یې خامخا پر څېره باندې د نارامۍ نښې لیدلای شوای.

ومې ویل:

- د متفقینو د دې ټولو چلونو او خطایستنو ریښه باید په تهران کې ولټوو.

کورت راته وکتل، سترګې یې راپکې وګندلې او ویې پوښتل:

- په تهران کې؟

- هو او دلیل یې هم لکه ورځ داسې روښانه دی؛ مطلب مې هغه ځیرن سړی دی چې یودم یې په یوه لویه ډرامه کې پساو کړو.

خو شیبې خاموشي شوه. د لادزه مزدور پوښتنه وکړه:

- ایا ما ایله کوئ؟

کورت ببله خنده ځواب ورکړ:

- هو، کولای شې همدلته کښته شې!

ومې ویل:

- نه، څو کېلومتره وروسته یې په ابارق کې کښته کوو.

مزدور وویل:

- هو صاحبه، هلته کرمان ته د تللو وسایل ډېر دي او که تګ ونشې، نو له ګرمۍ څخه د ساتلو ځایونه پرېمانه دي.

ناڅاپه کورت موټر ودراوه، راتاو یې کړ، مخ پر کرمان یې روان کړ او ویې ویل:

- بېرته کرمان ته څو او دغه سړی هم راسره بیایو!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- مګر کورټه له وارنر سره مو په رامسر کې د ليدلو ژمنه کړې ده!

کورټ په يوه داسې خندا چې غوسې ښې پکې وهلې، راغبرګه کړه:

- چې داسې ده، نو بيا ښه ده چې د انجيلا کره ورسره ووينو!

- نو بيا بايد يو تلګراف ورولېږو.

- له کرمانه به يې ورواستوو.

موټر يې لېونی ځغلاوه. شا ته مې وکتل. مزدور په دې خوښ ښکارېده چې بېرته يې خپل منزل ته بيايو. بدمرغه تازه-تازه د مرګ له خولې ژغورل شوی وو. درې واړه چوپ و غړپ ناست وو. ما په وروستيو دوو درېيو ورځو کې پر پېښو شويو عجيبو و غريبو حادثاتو چورت واهه او هڅه مې کوله چې د دې بندې مانجې[1] سر پيدا کړم او په يو نه يو ډول د لادرې د تښتوني د پلان د ناکامولو تر شا پراته عوامل وپېژنم. مګر له بده مرغه هېڅ په لاس نه راتلل.

د کورټ له کړو وړو هم ځرګنده وه چې فکراً په همدې ختو کې نښتی دی. ماسپښين مهال کرمان ته ننوتو. کورټ له يوې غرفې څخه کومل ته چې په خپل کارځای کې وو، ټيليفون وکړ. تولې يې په شمار لس خبرې ورسره ونه کړې. چابک يې غوږی کېښوده او په يوه منډه بېرته شترنګ ته کېښناست. ما ته يې وويل:

- دا سړی هم راسره بيايو تر څو کومل يې په خپلو سترګو ووينې او خبر شي چې څه سپي پسات راشوی دی.

کومل هغې پرونۍ کوټې ته بوتلو. مزدور هم راسره وو. کورټ مزدور ته په اشاره وويل:

- ډاکټره دا سړی پېژنې؟

کومل موسکی شو او ويې ويل:

- مطلب دې څه دی؟

کورټ په داسې حال کې چې خوله يې په موسکا کړه نيولې وه، وويل:

- هغه زموږ له لادرې څخه دغه شي جوړ شوی دی!

---

1 مانجه - تار. په خانګړې توګه هغه تار چې کاغذ باد په الوزول کېږي.

بیا یې ټول داستان ورته تېر کړ او په پای کې یې زیاته کړه:

- غوښتل مې همالته یې وولم، خو ښه شوه چې ژوندی پاته شو تر څو نه یې هم ووینې. اوس حیران دې نه یم چې لادزه نو څنګه د خپلې تښتونې په پلان خبر شوی وو او داسې چل یې راسره وکړ؟

کومل چې سترګې یې په مزدور کې پاته وې، وویل:

- هیڅ مې زړه ته نه لوېږي چې د لادزه پرخای دې تاسې دغه کس تښتولی وي او د دې پېښې تر شا په شته عواملو مې هم سد نه رسېږي.

ما وویل:

- بوازنی لوی لامل یې هماغه خیرن سړی کېدای شي چې پر لارې راته څنډ شو. له دې څرګندېږي چې کیسه له همدې ځایه شرېدلې او د متفقینو څارګر راخبر شوي دي.

کومل وویل:

- په دې کې خو هیڅ خبره نشي کېدای چې سبال نه رسوا شوې یو او په خورا مهارت یې په پلان کې لغتې راووهلې، مګر اوس باید یو غابن‌ماتوونکی غبرګون وښیو او دا یې هم پر ما.

کورت ترې وپوښتل:

- یانې مطلب دې دا دی چې بیا باید د لادزه د تښتولو کوښښ وکړو؟

- هو، هغه همدا نن شپه او زه خپله هم ګام پر ګام درسره یم. تر ټوپان وروسته د راغلې ارامی دغه فرصت باید په هیڅ وجه له لاسه ورنه کړو، بلکې باید په یوه لا درانه ټوپان یې بدله کړو او پر دې هم ډاډه یم چې خپله لادزه او په دې کار کې ورسره ملګري به یې هېڅکله دا ټمه ونه لري چې تاسې به تر ماتې څلېرویشت ساعته وروسته بیا لاس په کار کېږئ. دې ته ورته غبرګونونه د څارګری په ډګر کې نادر او په عین حال کې چټک موردونه دي چې د جنګ تر سرېدو مخکې باید بېرته سړی میدان ته وروګرځي او حریف راچپه کړي. او د دې د جبران له یوې کارې او لا درانه ګوزار پرته په بل شي نشي کېدلای.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کورت وپوښتل:

- دا مزدور بې اوس څه په وکړو؟

کومل یوه شیبه په فکر کې ولاړ. بیا یې مزدور دباندې وایست او بېرته یوازې کوټې ته راغله. د لادزه د بیاتښتونې په پلان جوړولو مو شروع وکړه. ټول اړخونه مو یې په دقیقه توګه وسنجول.

کورت چې په پیل کې له دغو عملیاتو سره مخالف وو، اوس راضي او خوشبین ښکارېده. د لادزه مزدور هم د پلان یوه مهمه برخه شوه او په دې ډول یې برخلیک روښانه شو.

د عملیاتو د پیل وخت د شپې دوولس بجې وټاکل شوې. د شپې پر یوولس نیمې بجې د لادزه له مزدورسره یوځای د کومل له کوره ووتو او په موټر کې سپاره شوو. کورت شترنګ ته ناست وو. د لادزه د کور د کوڅې په خوله کې کومل د دربېدو په دود لاس وښوراوه. زه، کورت او مزدور کښته شوو. کومل د بیره‌دار په توګه په موټر کې پاته شو. کورت توپنچه راوایسته، مزدور یې مخ ته واچاوه او ګواښ یې ورته وکړ چې که یې غاړه وغړوله ویه یې وژني.

د لادزه په کور کې یو لوی سپی هم وو. د ورننوتلو پلان داسې وو چې مزدور به اول کور ته ننوزي. هلته به د هغه سپی چاره کوي او وروسته به موږ ته ور راخلاصوي.

د کور دروازې ته ور ورسېدو. د زنګ تنۍ ما ووهله. د زنګ له کړنګا سره سم سپې د ور شا ته ځان راورساوه. مګر غپا او شر و شور یې جوړ نه کړ. دا د هغه دوا سپیانو څخه وو چې په ارامۍ او چوپتیا کې یې پر نابلده خلکو برید کاوه. سملاسم مو د غولي پر خښتو د پښو ښکالو تر غوږ شوه. ښکالو ورو-ورو د دروازې شا ته راورسېده. کورت یو ځل بیا مزدور وګواښه او په دې ډول یې ورته شوې لارښوونه وریادې کړې. له دې سره جوخت له هغې خوا د لادزه ږغ واورېدل شو چې له پوښتل:

- څوک یې؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ما او کورت چابک د دروازې دوو اړخونو ته له سترګو نهام ودرېدو. مزدور خواب ورکړ:

- زه يم بادار صاحبه!

لادزه په چټکۍ ور پرانيست او په سره سينه يې وويل:

- نه يې؟ راځه دننه. ما فکر نه کاوه چې ژوندی به يې.

مزدور کور ته ننووت. د پښو د کښهارې له ليرې کېدو سره جوخت مې وويل:

- که مزدور خپل بادار له اصلي کيسې خبر کړ، بيا نو زما و ستا کيسه غرکه وبوله.

کورت وويل:

- ياني په خطر کې لوېږو؟

- مالومداره، له دې پرته نو بل څه کېدای شي؟

کورت وويل:

- دا وار د بېهوښۍ د دوا پرځای له وسلې کار اخلو. ځکه وېښ دی او که يې غاړه وغړوله، نو ته بايد د وارنر امر عملي کړې او په يوه مرمۍ يې له دنيا تېر کړې.

په خواب کې مې ورته وويل:

- همداسې به وکړم تر څو ته هم ووينې چې پر مهم وخت رحم او زړه‌سوی نه پېژنم.

کورت وويل:

- زه چې له يوې خوا خپل پلان نه ګورم او له بلې خوا لادزه هم کور دی، نو فکر نه کوم چې دا وار دې يا وتښتېدلای شي او يا دې هم کوم بل څوک راباندې تېر کړي.

- زه دې ته انديښمن يم چې که يې مزدور حال ورته ووايي، نو څه به راپېښ شي. ايا هغې به مو بيا اوبه يوسې او که به په يوه بل مصيب اخته شو؟ په هر صورت، بايد بيداره واوسو. خواب يې راکړ:

- د مزدور له خوا دې زړه ېغمه کړه. هغه يو ډارن او بې‌زړه شی دی او د داسې احمقانه کار تمه نشې ځنې کېدلای. څو واره مو د دې تېروتنې خطرونو ته ورپام کړل همدا يې بايد زموږ د اوامرو منلو ته چمتو کړي. ډاډه يم چې د فرصت په موندلو سره به خامخا دروازه راته پرانيزي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ما د لاسي ځراغ په رڼا کې هر څو شېبې وروسته ساعت ته کتل. دېرش دقیقې تېرې شوې، خو لا هم د دروازې کړپ ونه‌خوت. کورت ورو-ورو پر مزدور باور له لاسه ورکاوه. په دې بې‌باورۍ یې یو څه نارامي او اندېښنه هم ګډه وه. د نومړي له ښکاره چوپتیا مې دا درک کوله چې وضعیت مو تر تصور لوړ خطرناک دی. انتظار تر ځلوېښتو دقیقو واوښت.

اخیر کورت پر خبرو راغی او ویې ویل:

- لکه چې ستا ګومان رښتیاکېدونکی دی.

ما چې خوله خبرو ته جوړوله، د دروازې کړپې شو. لکه یو څوک چې یې کولپک ورخوځوي. موږ دواړو پر دروازه غوږونه کښېښودل. د دروازې په کولپ کې د کیلي پېچلو کړیچهارۍ مو واورېد. کورت ورو پر اوږه وټپولم؛ د دې مانا دا وه چې نور یې زړه ارام شوی او کارونه له پلان سره سم روان دي. لنډه شېبه وروسته دروازه نیم‌کښه شوه. مزدور راڅرګند شو او د چوپتیا په دود یې پر شونډو ګوته نیولې وه. وروسته یې په لاس د ورننوتلو اشاره راته وکړه.

د سترګو په رپ کې کور ته داخل شوو او ځانونه مو د ودانۍ دروازې ته ورسول. ما دروازه پرانیسته. دواړه وسله په لاس په تیاره کې ډوبې ودانۍ ته ورننوتو. هماغسې د برابې شېبې غوندې په احتیاط او پسټو ګامونو روان وو. پلان څرګند وو او هغه دا چې د لادزه له لیدلو سره سم مو باید چابک خپل کار کولای. د لادزه په خوبخونه کې د پرون خلاف نن یو خام سور ګروپ روښانه وو. د کټ دوه قدمۍ ته چې ور ورسېدو، کورت په غوږ کې راته وویل:

- خپله یار لالا دی او که پرون هم دغسې رڼا وای، تېروتنه مو نه کوله.

تر دې خبرو وروسته ورمخکې شوو. زه هم لنډ په پسې وم. دواړه یې د کټ له څنډې سره نښتي ودرېدو. کورت کرار د لادزه پر اوږه لاس کښېښود او ورو-ورو یې وخوځاوه. لادزه سترګې پرانیستې او چې خوله یې وازوله، کورت یې پر تندي توپنچه ورونیوله او ورته ویې ویل:

- ښور ونه خورې، پاڅه او زموږ سره راځه!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لادزه په داسې حال کې چې سترګې يې ردې-ردې راختلې وې، موږ دواړو ته يې له سره تر پښو وکتل او بيا يې په توري ژبه وويل:

- څه... څه... کيسه ده... تاسې... تاسې... څوک ياست؟

کورت ورته وويل:

- اوس د سوال او ځواب وخت نه دی، دباندې به دې بيا سر درخلاص کړو.

لادزه وپوښتل:

- جامې واغوندم؟

ما ورته وويل:

- نه، په همدې لباس کې دې بيايو.

- چيرې؟ لطفاً راته ووایاست. يا ما وژنئ؟

کورت ورته وويل:

- څومره ډېرې خبرې کوې. تا هېڅوک نه وژني.

بيا يې تر لاس ونيو، له کټه يې راکښته کړ، پر ملا يې توپنچه ورکښېښوده او ويې ويل:

- پام چې شورماشور جوړ نه کړې، زموږ توپنچې بې ږغه دي او د سترګو په رپ کې به دې ږغ درخاموشه کړي.

لادزه له ويرې په ډک انداز ځواب ورکړ:

- نه ښاغلې، ډاډه اوسه، دومره بيعقل نه يم!

- افرين، همدا هوښياري دې په ګټه ده، ځکه ستا د سر د سلامتي تضمين کوي. اوس درځه چې ځو!

وروسته يې ما ته اشاره وکړه. زه مخکې لادزه راپسې او کورت د هغه تر شا راوان شو. له خوبخونې چې راووتو کورت راته کړل:

- يو ځل دباندې سترګه وغړوه!

ولاړم د کور دباندنۍ دروازه مې پرانيسته او دباندې مې شاوخوا ځار وکړ. چوپه چوپتيا وه، بېرته راغلم او ورو مې وويل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- راځئ، شی نشته!

لومړی زه ووتلم او بیا اوله زینه ودرېدم. توپنچه په لاس د هغوی راوتلو ته منتظر شوم. ناڅاپه مې د کورت پرغ واورېد وروسې د دوو نفرو د پښو خړپهاري پورته شو چې د لیرې کېدو په حال کې ول وروسته بیا درووند شی پر ځمکه راولوېد او ما مجبوراً بېرته دالېز ته ورمنډه کړه. هغوی زما څخه صرف درې څلور گامه لیرې ول. تپه تیاره وه، له جیبه مې لاسي څراغ راوایست او پر ځمکه مې واچاوه. کورت په وینو سور پروت وو او مړ-مړ زگېروی یې خوت. د هغه پر دې حال لیدلو مې ټول وجود رایخ-یخ کړ. بغل ته یې پر گونډو شوم، سر مې یې راپورته کړ او ورته ومې ویل:

- کورته... کورته!

کرار او په زحمت یې سترگې پرانیستې او پرې-پرې یې وویل:

- نه... نه ولاړ شه... ولاړ شه کومل منتظر دی. ورشه له کیسې یې خبر کړه... وارنر ته ووایه چې کورت ووژل شو...

د څیگر په کیڼ طرف کې یې چاکو تر لاستي پورې ننوتلی وو او لیدل مې چې د جرمني څارگریز سازمان دا زبردست مامور د ژوند وروستی سلگی وهي.

ساه یې بنده-بنده کېده او پر دې حال که روغتون ته هم ورول شوی وای، گټه یې نه کوله. څکه پر زړه وهل شوی وو او وینو یې دارې وهلې. ورته ومې ویل:

- کورته چا ووهلې، لادزه؟

بوازې دومره وتوانېد چې ووایي:

- نه، د شا له خوا...

او وروسته یې د تل لپاره اواز خاموش شو. سر مې یې کرار پر ځمکه کېښېود او پاڅېدم. له دغسې صحنو سره مخکې هم په وارو-وارو مخامخ شوی وم. حتا کله ناکله داسې هم پېښېده چې نیمژوانده ملگری به مو پر میدان پرېښود او څپله به وتښتېدو، خو د کورت دغې کیسې څه بل ډول اغېز راباندې وکړ. حالات د دې نه ول چې په لادزه او هغه بل ناپېژاند کس پسې وگورم. توپنچه په لاس مې خوبخونې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

نه سر ور ایسته کړ چې که یو سیوری-میوری ووینم او دزې پر وکړم، مگر له کوره یومخ داسې هدیره جوړه شوې وه چې له ما پرته بل هیڅ ژوندی‌سره پکې نه وو.

له ودانۍ رابهر شوم او په یوه منډه مې خان کوخې ته ورساوه. ډېر ګړندی روان وم. کالي مې په وینو سره ول او که ګښتي پولیسو لیدلی وای، له شکه پرته یې بیا د قتل په تور زندان ته اچولم.

موټر ته چې ورسېدم، د شترنګ تر شا مې څوک ونه لید. پر موټر چې ورتاو شوم یودم مې پر کومل سترګې ولګېدې چې د موټر اړخ ته پروت وو. تکان مې وخوړ. جوړ وو او ډېر ژر مې راپر هوښ کړ. سترګې یې پرانیستې او ویې پوښتل:

- نه یې؟

- هو زه یم... په تا څه وشول؟

هغه بیا راځخه وپوښتل:

- کورت چیرې دی؟

- هغه مړ شو. اوس راځه چې تا کور ته ورسوم.

کومل د موټر پر دروازه خان تکیه کړ او په هېښتیا یې وویل:

- څشي؟ کورت د لادزه په کور کې ووژل شو؟ نه، نه یې منم پر هغه په داسې یوه کوچنۍ ماموریت کې څوک نشي برلاسه کېدای. دا دروغ دي!

ورته ومې ویل:

- پر لارې به یې توله کیسه درته وکړم، اوس ژر کوه درځه چې خو!

هغه په داسې حال کې چې لاس یې د سر پر شاتنی خوا نیولی وو، موټر ته ورپورته شو او ویې ویل:

- ان ما هم فکر نه کاوه چې یو څوک به مې داسې ناخبره ګیر کړي، مگر پر څټ له لومړي ګوزار سره سم بیا په خان نه یم پوهېدلی.

موټر مې چالانه کړ او د کومل د کور خوا ته روان شوو. پر لارې مې د کورت د وژل کېدو داستان ورته تېر کړ. بیا مې ترې وپوښتل:

- ایا ته یې په موټر کې دننه ووهلې؟

کومل خواب راکړ:

- هو، خو چې راپر هوښ شوم پر سړک پروت وم او دا عجیبه ده چې زه هغه یا هغوی نو ولې له موټره دباندې ایستلی وم؟ تر دې لا پسې عجیبه د کورت وژنه ده چې په سلو رګونو کې مې یو رګ هم نه مني. هیڅ د منلو نه ده چې هغه نور زمونږ د مامورانو له کتاره وتلی دی.

نرې ومې پوښتل:

- ایا ستا په خیال لادزه به له خپل کوره تښتېدلی وي؟

- هغه له شک پرته د متفقینو له خارګرو سره نژدې لرې او ستاسې تر ورتنونلو مخکې بې په کور کې د هغوی یوه مامور خان پټ کړی وو.

ومې ویل:

- عجیبه دا ده چې زه بې ولې ژوندی پرېښودم او نغربه داده به چې کورت د لادزه مزدور د شا له خوا په چاکو وهلی دی.

کومل مې په خبرو کې راولوېد او ویې ویل:

- نه ملګرې، د مزدور پلار هم په دومره چالاکۍ او ګړندیتوب سره کورت نشي وژلای. قاتل حتماً د متفقینو یو تکړه مامور دی چې د لادزه سره ورته غوږې وه او لکه څنګه چې تا وویل، باید نه یې هم وژلی وای

د کومل کور نه ورسېدو. هغه کښته شو. د پټ کوټ یې حلاص کړ. وروسته بیرته موټر ته راوخوت او ویې ویل:

- درننوزه!

بنی مې ولګولې او ومې ویل:

- که ستا اجازه وي زه غواړم همدا نن شپه تهران ته ولاړ شم. لنه د زاهدان له لارې څکه وارنر به راته سترګې پر لار وي.

- زما په اند سپیده چاود مهال چې حرکت وکړې ښه به وي.

ساعت ته مې وکتل او ومې ویل:

- دومره وخت نه دی پاته. تر څو سپیدې چاودې زه به تر ایارق تیر شوی یم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه په سوچ کې شو، وروسته يې وويل:

- زه به د يوه شفري تلګراف په وسيله وارنر له کيسې خبر کړم او پوهېږم چې د کورټ وژنه به يې زيات اغېزمن کړي، ځکه د منځني ختيځ د شبکې يو زبردست مامور يې له لاسه ورکړ.

کومل د کورټ پر وژل کېدو او لادزه د تښتونې پر ناکامېدو د خواشينی ښکاره کولو په ترڅ کې لاس را اوږد کړ او ويې ويل:

- هيله ده ډېر ژر دلته يا يو بل ځای بيا سره ووينو.

د مخه ښې په نيت مو لاسونه سره کښېکاږل. په داسې حال کې چې حواس مې په خپل ملګري کورټ کې پاته ول، د تهران پر خوا مې راهی کړل. خو د زاهدان نه، بلکې د يزد او اصفهان له لارې. مسير مې قصداً بدل کړ. يوازې وم او موټر مې ډېر تېز ځغلاوه. په ذهن کې مې د لادزه د تښتونې دوارې هڅې اوښتې را اوښتې.

کورټ په منځني ختيځ کې د جرمنی جاسوسي شبکې له نکړه اجنټانو څخه وو او داسې مازې سړی نه وو چې په دومره سادګۍ مغلوب او ووژل شي. نو د دې پېښې لامل څه وو؟ دا پوښتنه به راتلونکې پېښې ځواب کړي.

دا سبا لمر لوېدو مهال تهران ته ورننوتم او سيده د انجيلا کره ولاړم. په دې نيت نه چې ګواکې هلته واړوم، بلکې غوښتل مې له وارنر سره ووينم. له نوموړي سره دغسې ژر تر ژره ليدنه اړينه وه، ځکه هغه زما او کورټ په ماموريت پوره حال نه درلود او تاکلې وه چې زموږ د تلګراف له ترلاسه کولو وروسته به رامسر ته حرکت کوي.

ويل مې که سملاسي ورسره ونه وينم، پروا نه لري، ورته منتظر به شم او په دا بغل کې به د ښکلې انجيلا په ديدن هم مشرف شم...

څه کم اته بجې مې د هغې د کور مخې ته موټر ودراوه او همدا چې د کښته کېدو په نيت مې دروازه خلاصوله انجيلا مې وليده چې راوونه او شاوخوا ته له کتلو پرته چابکه-چابکه د واټ پورتنی خوا ته روانه شوه. زه سملاسي له موټره راکښته او په يو څو متره واټن کې ورپسې شوم. څو متره چې ولاړه تر سړک واوښته او پر هغه

بله غاړه ولاړ تور موټر ته ورروختله. موټر د سترګو په رپ کې په تېزۍ روان شو. هڅه مې وکړه چې دننه ناست کسان یې ووینم، خو ونه توانېدم، ځکه تاریکه وه. صرف پلېټ نمبر مې یې په یاد کړ.

انجیلا چېرې ولاړه او په هغه موټر کې څوک سپاره ول؟ داګرۍ مې د دغو پوښتنو هېڅ خواب نه درلود. که څه هم پوهېدم چې وارنر د هغې په کور کې نشته، بیا هم پر زینو ورروختلم او د دروازې زنګ مې وواهه، خو څوک نه وو. بېرته په موټر کې کښېناستم او ولاړم.

د وارنر د لیدلو یوازې یو بل ځای پاته وو؛ پاریس بوفه. د ده له قوله چې هره شپه یو ځل سر ورایسته کوي. هلته به د شبکو مامورانو خپل پټ مالومات سره تبادله کول. له همدې وجې وارنر ورتګ نه قضا کاوه.

اته نیمې بجې وې. په پاریس بوفه کې څوک نه لیدل کېدل. بېرته خپل مخکني هوټل ته ولاړم او کوټه مې ونیوله. تر څو مې ځان سره تیاراوه بیا لس بجې وې... موټر مې همالته له پاریس بوفې سره درولی وو؛ ویل مې که وارنر تر ما مخکې هلته راورسېږي، نو وبه یې پېژني.

لس بجې مې ځان بوفې ته ورساوه. څو تنه بهرنیان او ایرانیان هلته دلته پر مېزونو ناست ول او څښاک یې کاوه. هر یوه ته جامونه پراته ول. د څښاک راوړلو سپارښت مې ورکړ. لګیا وم تر بڼو لاندې مې شاوخوا څار کاوه، کرار مې پر اوږه لاس راکښېښودل شو. مخ مې ورواړاوه، یو ځوان وو چې په یوه لاس کې یې جام او په بل کې یې سیګار وو. په ماته ګوډه فارسي یې راڅخه وپوښتل:

- اورلګېت لرئ؟

بېله خنده مې یې سیګار ته خاشه ووهله. هغه یو څو دوده ځنې کش کړل او بیا یې راڅخه وپوښتل:

- عربي مو زده ده؟

ځواب مې ورکړ:

- نه، یوازې مې انګلیسي زده ده.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سړي چې منځنی ونه او لمروهلې څېره یې لرله، لنډ وخندل او ویې ویل:

- څومره ښه. ما لا فارسي نه ده زده کړې. تاسې یو چا ته منتظر یاست؟

په پوره ارامی مې ځواب ورکړ:

- نه، اکثره د وخت تېرولو او شونډو لندولو لپاره دلته راځم. دا مې اوس یو ډول عادت ګرځېدلی دی...

ځوان په سړه سینه راته وویل:

- فکر نه کوم دې ځای ته دې د عادت له‌مخې راغلی یې، خامخا یو چا ته منتظر یې.

یو ګړی مې ځېرې ته ځیر شو، بیا یې زیاته کړه:

- که تېروتلی نه وم، نو مخکې مې هم همدلته له یو بل کس سره لیدلی یې. پوره مې نه یادېږي چې کله، خو ښېخې ډاډه یم چې یو ځای دوه نور هم په مخه سره ورغلي یو، البته ستا زه نه یم په یاد. زما کسب او بوختیا بیا پر وخت او موقع له هوښیاری کار اخیستل دي.

سر مې په خلاص شو چې له کومه راروان او څه کاره دی، صرف یو څه شکمن وم او په دې هم ډاډه وم چې زه یې دلته په پاریس بوفه کې لیدلی یم. خو د دې لپاره چې پر خان یې لا ګرم کړم، په ځواب کې مې ورته وویل:

- همداسې به وي ښاغلی...

په خبرو کې راولوېد او ویې ویل:

- زما نوم فاروق دی!

- ښاغلی فاروق، لکه څنګه چې مې درته وویل اکثره شپې دلته راځم، خو دا په دې مانا نه ده چې خامخا به یو چا ته منتظر یم.

- ګوره ښاغلی ریما...

د خپل نوم په اورېدو مې تکان وخوړ او ترې ومې پوښتل:

- ما په نامه پېژنې؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- اوه، بالکل، د حیرانتیا وړ نه ده. د خلکو دقیقه او بشپړه پیژندنه زما دنده ده. له دې پرته بل هیڅ کار نه لرم او اوس دا درته ویل غواړم چې پر ما پوره باور وکړه.

- د خښې لپاره... په مطلب دې سم ونه پوهېدم!

فاروق خپل سګرېټ په سګرېټدانۍ کې پوچ کړ. له جامه یې غوړپ وکړ او ویې ویل:

- ډېر ساده، کولای شو یو ځای کار سره وکړو!

- ستا په خبرو مې هیڅ سد نه رسېږي. لږ سپین ووېغېږه!

- اوه، ولې له موضوع ځنځه دباندې وزې؟ نه اوس دلته بناغلې وارنر ته سترګې پر لار یې، همداسې نه ده؟

- ادامه ورکړه، درته غوږ یم!

فاروق زیاته کړه:

- وارنر زما سره هم په اړیکه کې دی او د نړیوال ارزښت لرونکې مالومات ټول زه ورکوم. که تر دې لا په ساده ټکو کې درته ووایم، نو زه په هیڅ کوم ځانګړې خارګرې یا خارګرې ضد سازمان پورې تړلی نه یم. له ټولو ځنځه پیسې اخلم او کله ناکله د محرمو مالوماتو د ادلون-بدلون لپاره د دنیا هر ځای ته چې اړتیا وې ځم... هیله ده زما په دې خبرو دې سد رسېدلی وي.

- اوس زما ځنځه څه غواړې؟

دوهم سګار چې مې وررولګاوه، راته ویې ویل:

- تر څو چې مو سره پیژندلې نه وي، شی نه درځنځه غواړم. مګر دا دې ستا په یاد وي چې یو څورا مهم خبر لرم او څنګو یم چې هم یې درباندې وپلورم او هم یې درسره تبادله کړم.

ما له مقدمې پرته ورته کړل:

- یانې نه یو مسلکي جاسوس یې. کنه؟

فاروق موسکی شو او ویې ویل:

- نو ایا خبره خلاصه ده او ما و تا یو و بل سره پیژندلي دي؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ما شک له خانه لیرې کړ او سیده مې ورته وویل:

- ته بې همداسې وانګېره او اوس...

- اوس د خپل خبر خرخلاو یا تبادلې ته تیار یم!

- دا څنګه خبر دی؟

- بېخي مهم. دومره مهم چې ستاسې شبکه بې رانیولو ته پوره-پوره لېواله ده

ما یو څه فکر وکړ، بیا مې ورته وویل:

- ګوره ښاغلی فاروقه، باید یو څه صبر وکړې. مثلاً سبا شپه لس نیمې بجې به بیا سره ووینو او په دې اړه به یوې سودا ته سره ورسېږو.

فاروق وویل:

- سهي وايې. ته پر خپل سر دا پرېکړه نشې کولای، له وارنر سره باید سلا وکړې.

- همداسې ده او که وخت لرې لږ منتظر شه، هغه ګړی وروسته دلته راځي.

فاروق نېغ-نېغ راوکتل او ویې ویل:

- مګر زه غواړم صرف ستا سره دا معامله وکړم او پر دې هم داډه اوسه چې دا سودا سل په سل کې ستا په ګټه ده. دغه مالومات به دې د جرمنیانو په شبکه کې ستوری دروځلوي او چې رښتیا شي هغوی پر تا ډېر حساب کوي.

پر یوه دوه‌لارې بې درولی وم. له ځان سره مې ویل چې دا به نو څنګه خبر وي چې دغه مسلکي جاسوس بې دومره ګرم-ګرم صفتونه راته کوي؟ خپله مې دومره پیسې نه لرلې چې سودا ورسره وکړم. له بلې خوا تر اوسه لا هغه ځای ته هم نه وم رسېدلی چې پر خپل سر یوه مهمه پرېکړه وکړای شم. د وارنر له خبرولو پرته دغسې کار نه ګوتې ور وړل له اورسره لوبې وې. لنډه دا چې هېڅ نه پوهېدم څه ځواب ورکړم.

فاروق چې مې چوپتیا ته وکتل، ویې ویل:

- که د پیسو په باره کې فکرجن یې، نو کولای شې دا بله ښه انتخاب کړې یانې د مالوماتو ادلون-بدلون. کنه ستا تاریخچې ته په پام سره یو قاچاقبر باید شتمن وي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- بالکل بناغلې فاروقه باید شتمن واوسم، مګر د خپل کار په خای کې، نه دلته.
اوس دا راته ووایه چې زما څخه کوم ډول مالومات غواړې؟
فاروق وویل:
- لومړی ستا د سفر د هغې ملګرې نوم چې په نوکندي کې ووژل شوه او دوهم له هغې څخه دې وارنر ته کوم پیغام راوړ؟
- زما و ستا ترمنځ تضمین څشي کېدای شي؟
- یو پر بل باور او ډاډ بسنه کوي. بل دا چې په ټوله نړۍ کې مسلکي جاسوسان هم تر خپل منځ او هم له نورو نوکیو[1] یا نامسلکي جاسوسانو سره همداسې معاملې کوي. که په دې ډګر کې غولونې او تېرایستنې دومره عامې وای، بیا نو دغه ډول مالومات بېخي له‌منځه تلل.
خان ته مې سګرېټ ولګاوه او ومې ویل:
- سهي ده. پر خبرو دې باور کوم. هغه ښځه ایرما نومېده. اوس نو ته د خپلو مالوماتو په اړه راته ووایه. مثلاً که له یو کس سره تړلي دي، نو هغه څه نومېږي او که نه، نو دا څه ډول مالومات دي؟
فاروق په خواب کې راته وویل:
- مالومداره له یوه کس سره تړلي دي او که یې نوم درته واخلم، نو په ټوله کیسه دې سر خلاصیږي. خو زه بیا هم د ایرما د نامه په مقابل کې د هغه نفر نوم دربنیم تر څو ستا پوروړی نشم. هغه انجیلا نومېږي. اوس بیا ستا وار دی چې د ایرما پیغام راته ووایې!
ما د تاسف په علامه سر وښوراوه او ومې ویل:
- له بده مرغه په پیغام یې خبر نه یم، صرف یو شی مې ورته راوړ.
- مګر زه ډاډه یم چې ته په خبر یې.

-که دې زما خبرې زړه ته لوېږي، نو حقیقت همدا وو چې درته ومې وایه. ایرما یو کوچنی ساعت راکړ او ما هغه وارنر ته ورکړ او دا چې په دې ساعت کې څه راز وو، تر دې ګړیه یوه ذره حال نه په لرم.

فاروق وویل:

- چې داسې ده، نو بیا باید د پیسو سودا ته سره ننوزو. زه د خپلو پاته مالوماتو په بدل کې پنځه زره فرانکه نقد غواړم.

ما له سوچ او څنډ پرته ځواب ورکړ:

-سبا شپه پر یوولس بجې دغه پیسې همدلته وغواړه!

فاروق په بې‌پروایي اوږې وخنډلې او ویې ویل:

-نه، دا ډېر ناوخته دی. سبا د ورځې پر یوولس بجې په قشنګ کافه کې سره غواړو.

- دا ځای ما ته نه دی رامالوم!

فاروق لاس راوغځاوه او ویې ویل:

- د شاه اباد واټ په منځ کې سبا پر یوولس بجې سره غواړو. هېر دې نشي: پنځه زره فرانکه نقد!

خدای پاماني یې واخیسته او ولاړ. وارنر لا هم نه وو راغلی او زه په بې صبری ورته منتظر وم. کیسه چې تر دوولسو بجو واوښته، نهیلی شوم. بیا د انجیلا کور ته ورغلم. له لیدلو سره سم یې ځان غېږې ته راواچاوه او ښکل یې کړم. ښځې یې دې ته نه پرېښودلم چې د وارنر پوښتنه ځنې وکړم، پرله پسې راته لګیا وه:

- مینه درسره لرم... کله راغلې... کورت چیرې دی؟

سترګو ته یې خیر شوم، غوښتل مې د خپلو خبرو غبرګون پکې ووینم. ورته ومې ویل:

-نن لمر لوېدو مهال راورسېدم او سیده دلته راغلم چې له وارنر سره ووینم.

انجیلا د خبرو په منځ کې راولوېده او په توندی یې وپوښتل:

- دلته پر څو بجې راغلې؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دا هسې یو ساده سوال نه وو، بلکې یوه ځانګړې مانا یې لرله. غوښتل یې وپوهیږي چې له کور څخه د دې د وتلو پر وخت خو به نه یم راغلی، مګر دا چې زه یې په هدف رسېدلی وم، نو بیله ځنډه مې ورته وویل:

- بخې مې نه دي په یاد، ډېر معطل هم نشوم. بس چې دروازه راته خلاصه نشوه، بېرته خپل هغه مخکني هوټل ته ولاړم او یوه کوټه مې ونیوله.

له دې سره د هغې راپارېدلي حواس بېرته ارام شول، مګر د دې لنډ سوال او ځواب په اوږدو کې مې د دې د حالت بدلون ته پوره-پوره پام وو. ترې ومې پوښتل:

- وارنر چیرې دی؟

زما د پوښتنې تر ځواب یې پښه واړوله او د کورت لمنه یې ونیوله. ورته ومې ویل:

- کورت له لادزه سره یوځای د خزر سمندر ساحل ته نژدې یو ځای ما او وارنر ته سترګې پر لار دی.

درواغ مې څکه ورته وویل چې یو مې دا څو ساعته مخکې په یوه ناپېژاند موټر کې لیدلې وه او بل یې فاروق نوم راته اخیستی وو او د ورسره ترړلو مالوماتو په بدل کې یې غتې پیسې راڅخه غوښتي وې. له همدې امله پر دغې ښکلې ښځې شکمن شوی وم او اوس په احتیاط ورسره ږغېدم. همدارنګه مې د لادزه او کورت د ځای له یادولو څخه یو بل هدف درلود چې پوهېدم ډېر ژر به یې ترلاسه کړم. انجیلا د دې خبر په اورېدو ټکان وخوړ او ما یې په ظاهري ارامه څېره کې د نارامۍ نښې له ورایه لیدلې. په سره سینه یې وویل:

- وارنر ته ستاسې له خوا تلګراف راونه رسېد. هغه بېچاره اوس هم تلګراف ته په تمه دی تر څو ژر تر ژره رامسر ته حرکت وکړي.

ما په هماغه حق په جانب څېره ورته وویل:

- د تلګراف رالېږلو لپاره شرایط برابر نه ول، نو خیر مو په دې کې ولید چې زه خپله تهران ته راشم او وارنر راسره بوزم. او که یې همدا نن شپه پر لیدلو بریالی شوم، سملاسي یې راسره روانوم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

انجيلا خپل ساعت ته وکتل او ويې ويل:

- لمر لوېدو مهال له تهران څخه ووت، اوس بايد بېرته راستون شوی وي.

- نو دلته راځي؟

- مالومداره. همداسې مو سره ټاکلې وه، خو دا هم شونې ده چې سيده خپل کور ته ولاړ شي. خير، ته همدلته ورته منتظر شه. زه به دستي يو گيلاس قهوه درجوړه کړم چې ستړيا دې ووزي.

بوازې يې پرېښودم او پخلنځي ته ولاړه. لس دقيقې وروسته يې يو گيلاس قهوه راوړه او پر مېز يې راته کېښوده. خپله مخامخ راته کېښناسته او ويې ويل:

- کاميابه ماموريت وو. وارنر به ډېر په خوشحاله شي او له شک پرته به تر دې لا بو درونډ ماموريت دروسپاري. که ربښتيا راباندې وابې، نو له دې خايه د وتلو پر وخت مې هېڅ زړه نه نه لوېده چې له کورت سره دې اوړه پر اوړه عمليات وکړای شي. مگر اوس دا دی وينم چې خطاوتلي وم.

ورته ومې ويل:

- ان د کورت هم زړه نه نه لوېده، خو کله چې مو لادزه له خپل بستره راوايست او له کرمان څخه ووتو، نو زما د پر وخت او گټورې همکارۍ ډېره ستاينه يې وکړه. همدارنگه يې ژمنه راسره وکړه چې وارنر ته به مې د يوه نکړه او باوري مامور په توگه ورو پېژني.

انجيلا قهوې ته په اشاره وويل:

- سړېږي!

ما په داسې حال کې چې سترگې مې په دې کې ښخې وې، لاس مې د گيلاس خوا ته ور روان کړ... درز گيلاس چپه شو، زه چابک راپاشا ته شوم او بخښنو ته مې کش وکړ. په عين حال کې مې له جيبه يو دوسمال هم راوايست او پر مېز مې تېر کړ. انجيلا پخلنځي ته وخغاسته، يوه ساپه يې راوړه چې مېز په پاک کړي. وروسته يې وويل:

- په کيسه کې يې مه کېږه... اوس دستي بل گيلاس درجوړوم!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- نه، مننه. یو جام څښاک پر بهتر دی.

اوړو ته یې خند ورکړ او ویې ویل:

- چې ستا خوښه وي!

بیا یې دوه جامه راوړل، پر مېز یې کېښودل او د یو و بل په سلامتی مو یو څو غړپه څښي وکړل. انجیلا خپل جام واخیست، پاڅېده او راغله زما سره کېښناسته. د یوې مکارې ښځې په شان یې ناز و نواز راکړ او ویې پوښتل:

- ایا لادزه هیڅ ډغرې ونه وهلې؟

- نه، څکه بیهوښه وو او هغه وخت راپرهوښ شو چې له کرمان څخه سل کېلومتره لیرې شوي او شپه ختمه شوې وه. او کله چې کورت په کرمان کې نوموړي ته د شته گواښ کیسه وکړه، نو نه یوازې دا چې ناراضه نشو، بلکې مننه یې هم وکړه. له دې وروسته مو ډېر عادي سفر سره وکړ.

- خو زما بیا په کورت اندېښنه ده. یوازې دی او که د متفقینو جاسوسان یې پتنځای پیدا کړي، له شک پرته یې ژوندی نه پرېږدي. ته خپله هم ښه پوهېږې چې دا خفیه جاسوسي لګې-درګې څومره خطرناکه دي. موږ تاسې د جګړې په زمانه کې ژوند کوو او له دوښمنو جاسوسانو سره مخامخېدنه څه مازې خبره نه ده.

- بالکل انجیلا جانې. دغو ټولو ټکو ته مې پوره-پوره پام دی، مګر د کورت له اړخه بېغمه اوسه. هغه او لادزه په ډېر خوندي ځای کې په یوه وړه کښتی کې پټ دي.

انجیلا وخندل او ویې ویل:

- هسې نه یو یې په یخ تابوت او بل یې په تاوده بستر کې پروت وو.

خبره مې د هېښتیا په دود ونیوله او ترې ومې پوښتل:

- مطلب دې څه دی؟

هغې په هماغه انداز ځواب راکړ:

- هیڅ، بس هسې یو حدس مې وواهه، څکه ستا خبرې مې سمې زړه ته نه لوېږي. وایم هسې نه کورت ته یوه بده ورپېښه شوې وي.

- نه، خیر و خیریت دی. زه صرف وارنر ته منتظر یم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وروسته مې خپل لاسي ساعت ته وکتل شل باندې دوولس بجې وې. د انجيلا دا خبره چې «مسې نه کورت ته يوه بده ورپېښه شوې وي.» يو تش گومان او عادي عبارت نه ښکارېد. تر شا يې ډېر څه پراته ول. نور مې نو په دې کې يوه ذره شک هم نه ليد چې هغه يوه دوه اړخيزه جاسوسه وه. دې پايلې ته خپله د دې او فاروق د خبرو له شنني څخه رسېدلی وم، مگر بيا مې هم ژونديو او کلکو ثبوتونو ته اړتيا لرله.

څه کم يوه بجه د کور زنگ وکړنگېد. انجيلا مې له اړخه پاڅېده او ولاړه چې دروازه پرانيزي. له کوټې څخه د وتلو پر وخت يې وويل:

- فکر کوم وارنر دی. بل نو څوک کېدای شي!

څو ثانيې وروسته وارنر په کوټه رانووت. په تلوار-تلوار مې خوا ته راغی او لومړۍ پوښتنه يې د کورت په اړه وه. په جديت مې ورته وويل:

- بايد همدا اوس-اوس حرکت وکړو. کورت او لادزه د خزر سمندر په ساحل کې يو ځای راته منتظر دي!

د وارنر پر څېره د حيرانۍ نښې راښکاره شوې او ويې ويل:

- مگر موږ نه ول سره ويلي چې تاسې بايد سملاسي يو شفري تلگراف راولېږئ؟

- همداسې ده، مگر د دې کار امکان په لاس نه راغی. اوس بايد ژر تر ژره حرکت وکړو!

وارنر وويل:

- نو درځه زما په موټر کې به ولاړ شو. هغه بل موټر همدلته پرېږده!

ما چابک د موټر کيلي انجيلا ته ورکړې او له وارنر سره يوځای د نوموړي له کوره راووتم. زه شترنگ ته کښېناستم او وارنر مې اړخ ته کښېناست. په چټکۍ مخ د خزر سمندر پر خوا روان شوو. پنځوس متره شاوخوا چې ولاړم، موټر مې يوې کوڅې ته تاو کړ او بريک مې وواهه. وارنر وپوښتل:

- ولې ودرېدې؟

- گوره وارنره دا مې صرف يوه ډرامه وکړه. هغه ټولې خبرې دروغ وې!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه داسې فکر وکړ چې یا لېونی شوی یم یا هم یوه بله جدي عصبي ستونزه راپېښه شوې ده. پر اوږه یې لاس راکېښېنود او ویې ویل:

- چټیات وایې، ناروغ خو نه یې؟

ډېر ارام او په سړه سینه مې ورغبرګه کړه:

- نه، خو ته باید دا ومنې چې کورت ژوندی نه دی. د لادزه په کور کې ووژل شو او ما یوازې خان دلته راورساوه چې تا له پېښو او حادثو خبر کړم.

- ما ته چې د کورت له خوا تلګراف نه راغی، شېږم حس مې راته وویل چې حتماً یوه بده پېښه شوې ده او وپوهېدم چې د دې ماموریت رازونه د متفقینو لاس ته رسېدلي دي. دا دی هغوی په ربښتیا هم وتوانېدل چې پر وخت یو خوراکاري ګوزار وکړي.

- او دا داسې یو ګوزار دی چې جبران هم نه لري!

- نه، داسې نه ده. ډېر ژر به یې غابنونه ورېږېنوم. اوس باید زما کور ته ولاړ شو. غواړم هر څه په تفصیل سره راته ووایې. بیا به یو راپور ترې جوړ او تحلیل کړم...

پر انجیلا مې د پیدا شوي شک له امله احساس کړه چې زموږ له راوتلو سره سم به دا هم له کوره وتلې وي. په دې حساب نو هلته زما ولاړ موټر یوازنی وسیله وه چې نوموړې کار ځنې اخیستلای شوای. سره له دې چې پر خپل دې ګومان ډېر باوري هم نه وم. بیا مې هم باید د ډاډ ترلاسه کولو یا لږ تر لږه وسوسې لیرې کولو په پار د خپل موټر یو خبر اخیستلای.

موټر مې بېرته له کوځې راوایست او د انجیلا د کور پر خوا روان شوم. وارنر وپوښتل:

- چیرې ځې؟

- لږ صبر وکړه درته وایم!

ګومان او وړاندوینه مې پرځای وه او موټر مې هلته نه وو. وارنر ته مې وویل:

- وګوره زما موټر غلا شوی دی!

هغه حیران شو او ویې ویل:

- د شپې دا وخت د موټر غلا عجیبه ښکاري!

- هیڅ عجیبه نه ده، ځکه غل زموږ تاسې ځپل ملګری دی او موټر یې هم لندمهاله غلا کړی دی. بېرته یې همدلته دروي. په بله ژبه دا یوه دوستانه غلا ده.

- ستا په خبرو مې هیڅ سر نه خلاصېږي. دوستانه غلا بیا څه مانا؟

- زما د دې خبرو د ربښتیا کېدو لپاره بنه دا ده چې خپله د انجیلا کور ته یو سر ورایسته کړې او که هغه هلته نه وه، نو غل به درمالوم شي.

- یانې مطلب دې دا دی چې موټر انجیلا بېولې دی؟ د شپې دا وخت نو هغه چیرې ځي؟

وارنر زما په ټینګار د انجیلا کور ته ورغی او له هغې خوا په چورتونو او اندېښنو کې ډوب راستون شو.

ترې ومې پوښتل:

- څه خبره ده، انجیلا کور وه؟

- نه، ډېر زنګونه مې ورووهل، دروازه خلاصه نشوه. ستا ګومان پرځای بولم.

- ډېر ژر به دې په هر څه سر خلاص شي او زما هغې ساختګي ډرامې هم خاصه موخه لرله؛ نه مې غوښتل نوموړې د کرمان د ماموریت له ربښتیني حاله خبره شي، ځکه پر صداقت یې شکمن یم. اوس نوموړې داسې فکر کوي چې زه و نه رامسر ته روان یم.

- نه پوهېږم. د انجیلا دوه‌اړخیزتوب ناشونی راته ښکاري او که همداسې وي، نو په تا له شک پرته پوهېدلې ده.

د ده له راتګ وړاندې مې د انجیلا د پوښتنو ګروېږنو کیسه هم ورته وکړه. راته کړل یې:

- درځه زما کور ته. هلته به پر دغو پېښو دقیق غور وکړو. موضوع هم پېچلې او هم خورا مهمه ده.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د شپې پر دوې بجې وارنر مخامخ راته ناست او د کرمان د ماموریت راپور ته غوږ-غوږ وو. په کیسه کې مې کرار-کرار تر لاس نیولی تهران ته راوست. د انجیلا د کور مخې ته مې ودراوه او د سترګو لیدلی حال مې په تکي په تکي ورته بیان کړ. په پای کې مې له فاروق سره د لیدلو او ترمنځ مو د شوي مجلس داستان هم په واورېد.

وارنر په داسې حال کې چې له سره تر پښو غوږ-غوږ وو یو سګرېټ یې پوچاوه بل یې لګاوه. زما د خبرو تر تمامېدو خو شېبې وروسته یې چوپتیا ماته کړه او ویې ویل:

- فاروق ښه پوره پېژنم. یو مسلکي جاسوس دی او ګڼې راکړې-ورکړې مو سره کړې دي. سبا پر یوولس بجې غواړم دا سودا په خپله ورسره وکړم.

ورته ومې ویل:

- مګر هغه یوازې زما سره معامله کوي. پنځه زره مارکه یا یو بل مهم خبر غواړي.

وارنر وویل:

- سهي ده. مشکل نشته. پر ټاکلي وخت ورشه او ورسره ووینه. مګر معامله مه ورسره کوه. بلکې ورته ووایه چې پیسې مثلاً له ښاره دباندې یو بل ځای درسپارم او پر دې هم ټینګار مه کوه چې حتماً باید مالومات درکړي.

په خبرو کې ورولوېدم او ومې ویل:

- اما فاروق ته باید د یوه نوکاره او خام سړي په سترګه ونه کتل شي. که مې د پیسو ورکولو لپاره کوم بل ځای ته بلنه ورکړه، خامخا به شک راباندې وکړي او له معاملې څخه به پر شا شي.

وارنر په سګرېټدانۍ کې خپل سګرېټ پوچ کړ او ویې ویل:

- هغه زه تر تا ښه پېژنم. یو دلال جاسوس دی او په پیسو پسې هر ځای ځي. ان د پولې ها بلې غاړې ته هم. او د خپلو مالوماتو د خرڅولو لپاره شرایط ایښودل یې صرف یوه بازارتېزي ده. ځکه ته یو نوکی ورته ښکاره.

وروسته پاڅېد او ویې ویل:

- بوازې زه نه، بلکې د متفقينو جاسوسان هم هر وخت له فاروق او نورو جاسوسي دلالانو سره اړيکې نيسي. اوس ورشه يو سترګه پټه کړه چې سبا ته لږ تازه شې.

خپل کټ يې ما ته راپرېښود او خپله تر هوايي بادپکې لاندې پر يوه کوچ پرېووت.

له خوبه چې راکښېناستم، نهه بجې وې. وارنر پر يوه پاڼه راته ليکلي ول: *ياد دې وي چې زه و ته په رامسر کې يو. زه پر لس بجې بېرته کور ته راځم.* يادابښت مې وسوځاوه او د وارنر په انتظار کښېناستم. خان د محبس بندي راته ښکارېده. هغه هم داسې محبس چې دروازې يې پرانيستې وي، خو سړی ځنې وتلای نشي. مشکل دا وو چې د انجيلا په اند موږ په رامسر کې وو، نو احتياط بايد شوی وای.

اخير لس بجې شوې. څو دقيقې وروسته د دروازې په کولپ کې کيلي تاو شوه او ورپسې وارنر يو کوچنی لاسي دسکول په لاس راننووت. دسکول يې پر مېز کښېښود او ويې ويل:

- نغښې سمې شوې، دا يې هم پنځه زره فرانکه. اوس ښه غوږ راته ونيسه! د پيسو ورکولو ځای په قلهک کې يو کور دی چې د جرمني په سفارت پورې اړه لري. لکه مخکې چې مې درته وويل فاروق ته هماغه وړانديز وکړه، که يې زړه وو، له خان سره يې ياد ځای ته بوزه او د هغوی لپاره يې په دغه دسکول کې پرتې پيسې هم وروښيه. دا کار پر نوموړي ډېر اغېز کوي او د معاملې منلو ته يې تياروي.

وارنر خپل لاسي ساعت ته وکتل او ويې ويل:

- لس نيمې دي او ته بايد داسې وخت روان شې چې ټيک پر يوولس بجې د ژمنې ځای ته ور ورسېږې.

ترې ومې پوښتل:

- او ته څه کوې؟

بيله خنده يې وويل:

- زه همالته نژدې درته ګرځم او پام دربانديې کوم. که اړتيا شوه خان هم ښکاره کوم او دا ډېره مهمه ده. ځکه ته لا هم د دغسې پټو سوداوو په سربُر پوره نه پوهېږې.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خبرې مې ورغوږې کړې او ومې ویل:

- مګر دا مه هېروه چې زه یو قاچاقبر یم او دې ته ورته ګنې پټې او خپګې معاملې مې کړې دي.

وارنر ورو پر اوږه وټپولم او ویې ویل:

- پوهېږم ملګرې، مګر فاروق او د هغه غوندې نور خلک داسې عجیب خناوران دي چې شیطان ته هم بازي ورکولای شي.

د وتلو پر وخت یې د کور کیلي او د پیسو دسکول دواړه راکړل. موټر مې راپورنده کړ. داسې یوه لار مې واخیسته چې نیک پر بوولس بجې د قشنګ کافې مخې ته ودرېږم. له ور رسېدلو سره سم مې فاروق ولید چې د کافې دروازې ته مخامخ د یوه مېز تر شا ناست وو او سیګار یې دوداوه. زما په لیدو موسکی شی او د سر په اشاره یې خوا ته وروبللم.

- نه ملګرې. پیسې حاضرې دي؟

ما بېله خنډه د دسکول خنځیر کش کړ او ورته ومې ویل:

- دا دی ویې ګوره!

فاروق تر ښو لاندې دسکول ته وکتل. وروسته لږ شا ته وځکېد او ویې ویل:

- نو سودا شوې وبوله!

چې د کیسې شروع کولو ته یې خوله جوړوله، ما یې خبرې ورغوږې کړې او ورته ومې ویل:

- سودا بالکل شوې ده. خو دلته نه، بلکې یو بل ځای.

فاروق په نارامۍ سره تندي ته ګونځې ورکړې او ویې ویل.

- مګر موږ خو همدا ځای سره ټاکلی وو!

- په هر صورت. که غواړې چې د انجیلا اړوند مالومات وپلورې. نو زما سره هغه ټاکلي ځای ته ولاړ شه. بېغمه اوسه یوه ذره چل-ول پکې نشته او دا پیسې ستا دي.

هغه لږ فکر وکړ بیا یې وویل:

- دا بېشکه د وارنر پلان دی. نو زه یې هم منم. درځه...

پر یوولس نیمې بجې په قلهک کې د جرمني سفارت اړوند هغه کور مخې ته له موټره پلي شوو. د وارنر له خوا په راکړل شوې کیلي مې دروازه پرانیسته او له فاروق سره په ګډه ورننوتم. د سالون فرنیچر ساده او کم ول. یو څو عادي څوکۍ او مېزونه پکې پراته ول. د پنځو زرو فرانکو بیک مې پر یوه لنډکي ښیښه‌یي مېز باندې کېښود. زه پر یوه څوکۍ کېنناستم. فاروق وار له مخه لا ناست وو. ورته کړل مې:

- ښه اوس مهرباني وکړه او د انجیلا په اړه مالومات راته ووایه!

هغه د کورتۍ له لوړ جیب څخه یو نازک سیګار راوایست او تیلی یې ورته وواهه. د شنو لوګیو یوه ګاټه[1] لوخړه یې له خولې راووته او ویې ویل:

- کیسه ډېره ساده ده. تاسې باید په انجیلا پوهېدلي وای چې متفقینو ته جاسوسي کوي. نوموړې ستاسې د شبکې ټول مالومات د متفقینو د جاسوسی‌ضد شبکې یوه غړي ته چې په رتبه تورن دی او تل ملکي جامې اغوندي، ورسپاري.

له کوټې څخه دباندې یو شناخته اواز واورېدل شو چې ویې ویل:

- په دې خبر وم ښاغلی فاروقه!

فاروق په هېښتیا ځان سره ورټول کړ او هغه لور ته یې وکتل چې اواز ترې اورېدل شوی وو. د اواز څښتن مې وپېژاند. څو شېبې وروسته د سالون دروازه نیمکښه شوه او وارنر پکې راڅرګند شو. فاروق یوه له نارامی ډکه خندا وکړه او ویې ویل:

- وارنره ته یې... پوهېدم چې دلته زما د راوستلو پلان ستا دی...

وارنر وړاندې راغی، د فاروق بغل ته پر پرته څوکۍ کېنناست او ویې ویل:

- همداسې باید شوي وای. ته هم پوهېږې چې په دغسې وختونو کې باید سړی خپل ملګری یوازې نه پرېږدي او پسې څارو وي.

- مګر دا خو ستاسې خپل کور دی.

- سمې ده، مګر دوې خبرې دي؛ یوه دا چې د معاملې څارنه واجب ده او بل دا چې دا ښځې ډېر وخت مې ته نه وې لیدلی.

- نو زما خبرې دې واورېدې؟

---

1 ګاټه - غلیظ

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وارنر سګرېټ ته خاشه ووهله او ويې ويل:

- هو، ليکن پوره ونه رغېدې. نه تر دې په کراتو-مراتو ډېرو شيانو خبر يم. لکه چې د پانه برخې لپاره يې نورې چنې هم وهې که څنګه؟

فاروق وويل:

- نه وارنر صاحب داسې نه ده. چې په څه خبر وم، درته ومې ويل.

- البته زه شک پکې نه لرم او د انجيلا د دوه‌اړخيزتوب خرګندې نښې هم شته، مګر بوازې دا کفايت نه کوي. د بېلګې په توګه بايد راته ووايې چې نومورې له هغه تورن سره د تهران په کوم ځای کې ويني. دا زما لپاره مهم ټکی دی. يا هم دا چې د هغه کره-وره او څېره څنګه ده. دا دوې پوښتنې مالومات تر يو بريده بشپړوي.

فاروق خبره لږ دې خوا ها خوا کړه او وروسته يې وويل:

- د دوی تر منځ ليدنه ډېره لنډه وي. اکثره په آستارا کافه يا د دې ځای په بار کې سره ويني. کله ناکله هم په يوه موټر کې دننه.

- دوهمه پوښتنه دې ځواب نه کړه!

- هغه نسبتاً ځوان دی، ماته-ماته فارسي وايي، ظاهراً د تاريخي اثارو د ليدلو لپاره ايران ته راغلی دی او له نژدې دوو مياشتو راهيسې دلته اوسي. په دې موده کې دوه ځله يې د جنوب او يو وار د شمال دوره وهلې ده.

- او بيا... ادامه ورکړه!

فاروق وچ دېوال ته ولاړ وو او د وارنر له پوښتنو ځوابولو پرته يې بله هېڅ لار نه لرله. زياته يې کړه:

- ان په آستارا کافه کې مې د هغه او انجيلا يو ګډ عکس هم اخيستی دی.

وارنر وويل:

- وينې، دا دې په زړه‌پورې خبره وکړه!

فاروق د خپلې سپينې کورتۍ لاندنی استر څيري کړ، يوه ټوټه غوړ کاغذ يې ځنې رابېل کړ، د هغه له منځه يې يو ريل راوايست، وارنر ته يې ورکړ او ويې ويل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- دله وگوره، دغه سړی چې د انجیلا اړخ ته ولاړ او دې ته گوري، هماغه تورن دی. زما د مالوماتو پر اساس فیلیپ نومېږي. شاید دا یې مستعار نوم وي. په هر حال، هغه په همدې نامه ایران ته راغلی او له ځو ورځو راهیسې د تهران شمال ته په سفر تللی دی.

وارنر وویل:

- دا ریل هم زموږ دی!

فاروق ځواب ورکړ:

- نه...

خو د وارنر کاتو بېرته چوپ کړ. د دې ټول مجلس په اوږدو کې زه خاموش وم، ځکه لیدل مې چې وارنر څومره په مهارت فاروق د داسې رازونو څرگندولو ته مجبوراوه چې اصلاً یې څرگندول نه غوښتل. اوس مو نو گواکې سودا تکمیل شوې وه او بوازې د پیسو ورکړه پاته وه. وارنر پاڅېد او ویې ویل:

- د دې بریالیتوب خوښي باید په شونډو لندولو ولمانځل شي!

هغه بلې خونې ته ولاړ او څو دقیقې وروسته ځنباک په لاس راستون شو. دریو وارو ته یې جامونه ډک کړل او ویې ویل:

- ونیسئ مهرباني وکړئ!

وروسته وارنر راته مخ کړ او ویې ویل:

- فاروق ته پیسې ورکړه!

د بیک ځنځیر مې کش کړ، بنډلونه مې یو په یو روواېستل او د فاروق مخ ته مې کېښودل. د وروستي بنډل له ایښودلو سره جوخت د فاروق څېره بدله شوه او د بېره وارخطا کس په شان ترهېدلی وغورځېد. کورتی یې ورسره واخیسته او د دروازې خوا ته یې منډه کړه. له دروازې سره نژدې یې لپه‌کړي لاسونه پر مخ ونیول. توازن یې هم لږ سره خراب او کوږ-وږ شو. وارنر ته مې وکتل، هغه هم حیران-حیران ورته کتل. ورته ومې ویل:

- دا ولې؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وارنر سملاسي پاڅېد او ورنږدې شو چې پوښتنه پر وکړي. خو فاروق بودم سره وځرځېد او پر ځمکه راوپرېد. زه هم ولاړ شوم او خوا ته یې ورغلم. د مخ رنګ یې ورو-ورو سپینېده، سترګې یې پټې وې او مړ-مړ زګېروی یې کاوه. وارنر وویل:

- ما ته خو دا جالبه ده!

- باید فوراً یې درملنه وکړو!

- چیرې؟ په کوم ډاکټر؟ لږ به وګورو ممکن بېرته سم شي. ښایي د زړه حمله پر راغلې وي.

ما چابک یو بوتل اوبه راوړې او پر مخ مې وروشیندلې. بیا مې ژر-ژر د کمیس غوټې ورپرانیستې. د فاروق لا هماغسې زګېروی وو. وارنر کرار-کرار پر باړخو وټپاوه او ږغونه یې پر وکړل، مګر د هغه له خولې ځخه بوازې زګېروي اورېدل کېدل چې هغه هم مخ پر کمزوره کېدو ول. بل هېڅ غبرګون یې نه ښود. وارنر پر ور کوږ شو، پر زړه یې غوږ ورکېښود او ویې ویل:

- زړه یې غوړځي، مګر ډېر کرار!

موږ په همدې کیسو اخته وو چې فاروق په زحمت سترګې لوڅې کړې. پر سترګو یې یوه نرۍ پرده راخپره وه او ښکارېده چې سم یې نه لیدل. وارنر وویل:

- کیسه نوره زموږ له وسه ووتله؛ پر ده د زړه حمله راغلې ده او څو دقیقې بعد یې کار خلاصېږي.

له وارنره مې وغوښتل چې په موټر کې یې نږدې روغتون ورسوو. مګر هغه بېخاره ولاړ وو او سګرېټ یې دوداوه. بیا یې وویل:

- فایده نه لري. د جګړې پر کرښه د ورځې زرګونه کسان مري، نه اوس پر دا یوه نفر دومره زړه سوځې؟

په خواب کې مې ورته وویل:

- زما په دې زړه پر سوځي چې دا زموږ دوست وو او باید په هماغه اوله دقیقه کې مو یوه باوري روغتون ته وړی وای. مثلاً د سفارت روغتون ته او بېله شکه به ژغورل شوی هم وای.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وارنر ووېل:

- نه ملګرې تېروتلی یې. هر څه چې مو کړي وای ګټه یې نه کوله. څکه کار یې خلاص وو او پر لارې یې ساه ورکوله.

فاروق ته مې وکتل. وروستی سلګۍ یې وهلې او په یو ډول نیمه بېهوښه حالت کې وو. په وجود یې لړزه ګډه وه او ښکارېده چې په یوه دردوونکې حالت کې دی... بودم وغورځېد، پښې یې تر ګېډې پورې راټولې کړې. لاسونه یې راپورته کړل او خپله مری یې کلکه په ونیوله. لکه یو څا چې له دننه څخه تر ستوني نیولی وي او دی اوس هڅه کوي څان ترې خلاص کړي. دا یو ډول خیالي ډغرې وې. عضلې یې په وېروونکې بڼه سره راټولې او ډېر ژر بېرته سره ایله شوې. لاس و پښې یې ولوېدې او نور یې ښور ونه خوړ.

وارنر ووېل:

- مړ شو!

ما دستې پر زړه غوړ ورکښېښود؛ ولاړ وو. وارنر داسې ارام او بېغمه ولاړ وو لکه د یوه خونړي او خطرناک دوښمن مړي ته چې ګوري. ورته ومې ویل:

- اوس باید څه وکړو؟

موسکی شو او په داسې حال کې چې د فاروق له مړي څخه د لیرې کېدو په حال کې وو، ویې ویل:

- چې هوا تیاره شوه مړی له دې خایه باسو او ته اوس راشه دا پیسې بېرته په بیک کې واچوه.

زه د جسد له اړخه راپاڅېدم او د کوټې په منځ کې د پراته مېز خوا ته ور روان شوم. سترګې مې د پیسو په بنډلونو کې ګنډلې وې، یودم مې ذهن ته دا فکر راغی چې هسې نه دغه مسلکي جاسوس وارنر مسموم کړی وي. کیسه مې څو دقیقې له سره کړه او د فاروق د حالت داسې چټک او نابېره بدلون مې تر غور لاندې ونیو. لمر غوندې څرګنده وه چې دا کار وارنر د داسې زهرو په وسیله کړی دی چې د وژنې وجه یې طبیعي او د زړه حمله وایسي. پر هماغه مخکنۍ څوکۍ کښېناستم او

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سګرېټ مې ولګاوه. وارنر د مېز ها بلې خوا ته ولاړ وو او ورو-ورو يې له سګرېټه دودونه جګول.

- څښتي ته په سوچ کې يې ږيما جانه؟

- د فاروق پر مړينه فکر کوم. طبيعي نه ښکاري.

وروسته مې په جام کې پاته څښاک پر سر واړاوه او تش جام مې سترګو ته ونيو.

وارنر چې يو باتجربه او ځيرک سړی وو، په خندا شو او ويې ويل:

- ګومان دې بالکل سهي دی. فاروق مې مسموم کړ او همدا له هغه څخه د غچ اخېستنې يوازنۍ لار وه.

- ښه دا تا مړ کړ؟

- ډېره څرګنده وه. نه بايد هماغه شېبه لا راپوهېدلی وای چې نوموړي نه مې جام په لاس کې ورکړ.

- مګر هغه خو ستا ملګری او همکار وو!

وارنر زما د ارامولو په نيت راته شروع شو:

- زما او زما د نورو ټولو همکارانو لپاره ملګری لفظ مانا نه لري. موږ د هېواد لپاره کار کوو او پر دې لار د هېڅ له وژلو لاس نه اړوو. ان پر خپل خاين سکه ورور هم زړه نه سوځو. دا يوازې زما نه، بلکې زموږ د مشرانو تګلاره هم ده.

- فاروق څښتي کړې ول؟ يوازې يې د انجيلا خيانت راته رسوا کړ بس.

وارنر په خواب کې راته ووېل:

- پوهېږم. مګر زه له ډېره وخته د داسې بوډې موقع په لټه وم چې نوموړی په لومه کې بند کړم او د اروپا د ماتې غچ ترې واخلم... کېسه داسې وه چې يو کال مخکې يې په مېلان کې اړيکه راسره ونيوله. هغه وخت يې هم همدا ډنده وه. زمونه مو سره وکړه چې خبر به يې خبر سره ايښوو، ده يو څه تازه ښې معلومات راکول او ما يې بدل کې د انګلستان د وسله جوړونې يوې فابريکې اړوند معلومات ورسپارل. راکړه ورکړه مو وکړه. زه سملاسي له مېلانه راووتم او د پاريس له لارې فرانکفورت او برلين ته ولاړم.

وارنر دلته لږ پښه ونيوله، بيا يې ادامه ورکړه او ويې ويل:

- د فاروق له خوا د راسپارل شويو مالوماتو پر بنسټ مې خپلو تکړه مامورانو ته دنده وسپارله، خو ډېر ژر او صرف ۴۸ ساعته وروسته يې عمليات ناکام شول. دا لا څه چې ان دوه تنه يې د دوښمن جاسوسي‌ضد شبکې ته په لاس ورغلل او تر دې گړېه ورسره بنديان دي. موږ اوس په دې هڅه کې يو چې له يوې ډيپلوماتيکې لارې يې په بوه تبادله کې راوباسو.

وارنر زياته کړه:

- فکر کوم اوس به دې سر خلاص شوی وي چې فاروق څه بوه سپې ناخواني راسره کړې وه. هم يې مالومات جعلي ول، هم دوه‌اړخيز لوبېدلی وو او زموږ خوله يې له سپېرو خاورو راډکه کړه. بله يې لا دا چې د انگلستان د وسله‌جوړونې فابريکې اړوند مالومات يې د بنو غوړو پيسو په بدل کې زموږ پر غليمانو پلورلي ول. اوس نو چې ربښتيا شي ما هم له ده سره د دغسې کولو حق درلود.

زه يې په خبرو کې ورولوېدم او ومې ويل:

- تاکولای شوای دغه ناخواني په يو بل ډول جبران کړې.

- مثلاً څه مې کړي وای؟ د دغه انجام پلان مې نژدې يو کال مخکې ورته ترلی وو. هماغه د ميلان له ملاقات راوروسته مې بيا ونه ليد او هر ځای چې به مې پل پسې واخيست، زما تر ورسېدو مخکې به يې پښې سپکې کړې وې. يو ځل په سکندريه کې پر پېښن شوم، خو د سترگو په رپ کې يې خان راځخه ورک کړ اخبر دا وو چې دلته به تهران کې په گوتو راغی.

- او عجيبه خو دا ده چې ځنگه يې دا وار خطر احساس نه کړ او پټ نشو!

وارنر وويل:

- دا کريډيټ نو بايد ما ته راکړل شي. هوښياري مې وکړه او په پاريس بوفه کې د ورسره مخامخېدو پر وخت مې هېڅ داسې احساس ورنه کړ چې زموږ تر منځ گواکې بوه کوچنۍ بده پېښه هم شوې ده. ځښاک مې ورته راوغوښت. خو واره مو نورسره وليدل او ان د باور راخپلولو لپاره يې يو وار د پټو مالوماتو راکړې‌ورکړې ته هم

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ورسره تیار شوم. همدا وو چې راباندې باورې شو، مګر په دې توله موده کې مې حتا یوه شېبه هم د هغه د وژلو پلان هېر نه کړ او پرله پسې د یوه طلايي فرصت په لټه وم.

- او دا طلايي فرصت ما په لاس درکړ!

وارنر راغبرګه کړه:

- دا فکر دې بالکل له ذهنه پاک کړه ملګرې. فاروق په یوه لار له تهران څخه تښتوای وتلای. ګام پر ګام مې تر نظر لاندې وو!

د فاروق د وژلو اړوند د وارنر دلایل د نوموړي د یوه همکار په توګه راته قانع کوونکي ول، مګر د دومره درنې سزا وړ هم نه ول. دومره خطرناکې محاکمې یوازې د جاسوسی پر ډګر د لوبېدونکو لوبغاړو ترمنځ تر سره کېدې. وارنر پاڅېد، د فاروق جام یې هم ورسره واخیست او ویې ویل:

- دلته باید نور وخت ضایع نه کړو!

- خو د فاروق مړی باید وباسو!

- د دې چاره مې وخته لاکړې ده. خلک مې ګومارلې دي چې ورک یې کړه. اوس د انجیلا مخنیوی تر هر څه مهم دی.

- هسې نه فاروق پر انجیلا درواغ تړلي وي؟

وارنر وخندل او ویې ویل:

- د فاروق پر مالوماتو یوازې پنځوس سلنه باور کوم او انجیلا صرف تر څار لاندې نیسم او همدا چې یو څرک په لاس راغی، کار خلاص دی. هغه وخت نو بیا نوموړې نور هغه ښکلې انجیلا نه، بلکې یوه خاینه او دوه‌سره ماموره ده چې دواړه سرونه یې تر دې دمه زموږ په تاوان تمام شوي دي.

د خبرو لړی مو د موټر سیټ ته وغځېده او پر لارې هم د انجیلا پر وضعیت سرا وږغېدو. ما وویل:

- د انجیلا په خیانت کې چنداني شک نشته. د دې دعوې یو روښان او نه‌ماتېدونکی دلیل په کرمان کې زما و کورت وروستی ماموریت دی چې د متفقینو جاسوسې نه

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

شکه راخبره کړل شوې وه. په دې مې بیا هېڅ سر نه خلاصېږي چې زه ولې د لادزه په کور کې ونه وژل شوم، ایا دا یوه معجزه وه او که زه یې په لیست کې نه وم.

وارنر وویل:

- چې انجیلا مو گیر کړه، دا او دې ته ورته تولې پوښتنې به څواب شي!

ماپښین پر یوه نیمه بجه ښار ته ورسېدو او سیده د وارنر کره ولاړو. د شپې تر اتو بجو همالته وم. خو وارنر شپږ بجې مهال ووت او نژدې اته بجې بېرته راستون شو. یو څه فکرجن ښکارېد او پر څېره یې د نارامی نښې څرگندې وې. زما د پوښتنې په ځواب کې یې یوازې دومره راته وویل:

- د منځني ختیځ په تېره ایران پېچلو حالاتو ته اندېښمن یم چې د سمسمکي او دوام هېڅ څرک یې نشته. ډېر ژر به عجایبې و غرایبې پېښې ووینو.

نور یې څه ونه ویل. ما هم ټینگار پر ونه کړ. ځکه راته مالوم وو چې که ځان هم پر مړ کړم، څه به ترې بوت نه کړای شم. د سگرېټ له لگولو وروسته یې څو واره کوټه له سره تر پایه گز و بر کړه. په چورتونو کې ورک وو. اخیر یې راته مخ کړ او ویې ویل:

- همدااوس په انجیلا پسې ورځو. مگر ته باید ځان په ونه وینې. مطلب مې دا دی چې د هغې په نظر اوسمهال زه و ته له تهرانه دباندې یو، نو همدا یې د څارلو خورا ښه موقع ده.

ورنه ومې ویل:

- شک نشته چې انجیلا په بیدارۍ او هوښیارۍ کې تر ما و تا په کمه نه ده. د کرمان ماموریت لاربنوده هم خپله دا وه، په دې حساب نو راخبره ده چې موږ رامسر ته نه یو تللي.

- دغسې دوه‌سره ماموران اکثره یوازې د سر د سلامتی په لټه وي او په نورو شیانو کې ډېر ری نه وهي. له همدې امله ډېر ژر په لومه کې هم بندېږي. په هر صورت، باید تر څار لاندې یې ونیسې. همدا نن شپه یې کور ته یو پلا ورشه، که هلته نه وه،

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

نو آستارا کافې ته سر ورابسته کړه. هلته به یې حتماً ووینې او لکه څنګه چې مې درنه وویل هغه باید تا ونه ویني.

د انجیلا په څار پسې د وارنر له کوره راووتم. د نوموړې له کورسره نژدې په یوه کوڅه کې مې موټر ودراوه او پلی ور روان شوم. یو ساعت شاوخوا همالته څارو وم. زما دغه کار په هغه ځای کې ډېر خطرناک هم وو او که پولیسو لیدلی وای، شاید راباندې شکمن شوي وای. چې د هغې پر نشتوالي داډه شوم، پټ ودانۍ ته ننوتم. د انجیلا په اپارتمان کې تپه تیاره وه. له دې څخه ښکارېده چې هغه تر لمر لوېدو وړاندې وتلې ده او که وروسته وتلې وای، نو د دروازې له پاسه ګروپ به لګېدلی پرېښود. ځنډ ښه نه وو، چابک بېرته راووتم او آستارا کافې ته ولاړم.

نژدې لس بجې یادې کافې ته ورسېدم. هغه باید اوس همالته وای، ځکه د فاروق په وینا نوموړې د متفقینو له هغه جاسوس سره همدلته لیدل. درې پاوه وخت مې په آستاره کافه کې خاورې شو، خو د انجیلا څرک ونه لګېد. له هغه ځایه مې له وارنر سره پر ټلیفون خبرې وکړې او ورته ومې ویل چې که یې خوښه وي، نو د ماموریت پاته برخه به سبا ته پرېږدم. وارنر سپارښته راته وکړه چې د کافې تر تړل کېدو پورې همالته پاته شم، ځکه داډه دی چې انجیلا هر ځای وي کافې ته حتماً یو وار راځي.

یوولس بجې شاوخوا مې د یوه اشنا سړي په راتلو د هیلو غوټۍ موسکۍ شوې. دا هماغه کس وو چې هغه بله شپه مو مېز ته راغی او انجیلا ته یې د نڅا بلنه ورکړه او بیا وروسته ما تر کوره ورساوه.

شېبه حس مې راته وېل چې د همدې کس لکۍ باید له انجیلا سره غوټه وي. دا زما خپل شخصي ګومان وو او اوس مې یې باید پایله عملاً په خپلو سترګو لیدلای. هغه سېده بار ته ننووت، بېرته ژر ترې راووت، یوه مېز ته کېناست او یوه خدمتګار ته یې سپارښت ورکړ. نه مې غوښتل چې ورسره سترګه په سترګه شم، له همدې امله یې شا ته دوه مېزه ترمنځ یوه نسبتاً ګوښه مېز ته کېناستم، سر مې ځوړند ونیو او تر ښو لاندې پسې څارو شوم. خدمتګار یو جام ورته کېښود. لیدل مې چې هره شېبه غلچک-غلچک خپل لاسي ساعت ته ګوري. شېبه وروسته یو

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

نورو شمه ډنگر سړی یې مېز ته ورنژدې شو. پښه یې د ده د مېز په پښه کې بنده شوه او یو څه ړنگ ـ بنگ شو. سملاسي یې بخښنه وغوښته. مگر دا بخښنه تر عادي هغې لږ اوږده وه. وروسته هغه ډنگر سړی پر خپله مخه ولاړ.

دا پېښه د یوه عادي کس له سترگو په بشپړه توگه یوه طبیعي صحنه وه. اما ما چې هم په تېر ژوند کې له پولیسو سره زیات مخ شوی وم او هم مې په روانه دنده کې سترگې لا خلاصې شوي وې، دا تکر مې په هېڅ وجه یو کوچنی تصادف نشوای بللای. څکه همدا چې هغه ډنگر سړی له مېز سره وجنگېد او په بخښنه غوښتلو یې شروع وکړه، نو داسې مې احساس کړه چې اصلاً یې ناست ته یو مهم پیغام ورکړ او دا د هغه د شونډو له خوځېدو څخه راته څرگنده شوه. په هر صورت، ډنگر سړی د سترگو په رپ کې ورک شو.

دا گړی مې له هغه پرته بل هېچا او هېڅ شي ته پام نه وو. دقیقه دوې وروسته سړی پاڅېد، د مېز پیسې یې تحویل کړې او په چټکو گامونو له کافي څخه ووت. زه هم په یو څو گامه واټن کې ورپسې شوم. د لاله‌زار واټ په بر سر کې تاو او د یوه پلورنځي مخې ته ولاړ چالان موټر ته ورو‌خوت. موټر چې بوازې یو چلوونکی پکې ناست وو، سملاسي وخوځېد. پلېټ نمبر یې شناخته راته وایسېد؛ هماغه موټر وو چې تېره شپه انجیلا پکې سپره شوې وه.

خدای بخښایه وو. چابک مې خپل موټر پسې ورکش کړ او د څو ثانیو په فاصله کې په پسې شوم. هغوی اسلامبول واټ ته وگرځېدل. ډاډه وم چې د دغه بهرني سړي موخه په یوه خوندي ځای کې له انجیلا سره لیدل دي. خورا مې زړه غوښت چې همدغه شېبه زما تیلیفون ته منتظر وارنر ته یو زنگ ووهم او له جریانه یې خبر کړم، مگر دا نازکه شېبه د دې کار نه وه...

موټر په شاهرضا واټ کې تېر او د پوهنتون ختیځ ته غښدلي واټ ته ورننووت. د دې واټ په منځ کې یوې کوځې ته ورو‌گرځېد. هلته یودم ودرېد، هغه سړی په منډه ترې پلی شو او موټر بېرته روان شو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

زه مخکې ورغلم او د هغه کور مخې ته مې بریک وواهه چې هغه بهرنی بې د دروازې خلاصېدو ته منتظر وو. ناڅې-ناڅې رېږونه مې ورکړل، لکه موټر چې یوه خرابي پیدا کړې وي. ورسره سم مې د سړې د شک لیرې کولو په پار شټرنګ ته یو څو سوکه هم ورکړل. تر بنو لاندې مې ټول پام هغه ته وو. دوې درې ثانیې وروسته دروازه خلاصه او سړی کور ته ننووت. دروازه‌خلاصوونکی مې ونه لید.

له موټره راکښته شوم، بانټ مې پورته کړ او په ماشین کې اخته شوم. د کور د لا نبې پېژندنې لپاره مې هر څو شېبې وروسته هغې خوا ته کتل. نابېره مې ولیدل چې د دوهم پوړ د یوې کړکۍ چې څراغ یې روښانه وو، پرده کش او یوه ښځینه سایه راښکاره شوه.

بانټ مې بند کړ، شټرنګ ته کښېناستم او روان شوم. د وارنر کور هماغه نژدې وو. له ور رسېدو سره مې په یوه ساه کیسه ورته تېره کړه. وارنر وار له مخه لا جامې اغوستې او تیار ناست وو، بېله خندا راسره راووت. نوموړی مې د هغې کوڅې په خوله کې کښته کړ او خپله یو څو ګامه ها پلو په موټر کې ورته کښېناستم.

لاندې باندې لس دقیقې وروسته وارنر بېرته راستون شو. اړخ ته چې مې کښېناست، ویې ویل:

- په دې کې نور هیڅ شک نشته چې انجیلا دلته د متفقینو له جاسوسي‌ضد شبکې سره همکاري کوي. زه به یې هم همدا نن شپه غم وخورم...

ترې ومې پوښتل:

- ایا د وژلو نیت یې لرې؟

هغه وخندل او ځواب یې راکړ:

- مالومداره، مګر نن شپه نه. غواړم له دې کور څخه یې د راوتلو پر وخت په خپلو سترګو ووینم.

له دې سره بېرته د هغه کور خوا ته ولاړو. دا ځل‌رنه د شپې تر دوولسو بجو وغځېده. شل باندې دوولس بجې وارنر په تلوار راغی. غوسه او نارامه وو. زما پرځای شټرنګ ته کښېناست. د موټر چالانولو پر وخت یې وویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- باید سره لاسونه یې ونیسو!

خنې ومې پوښتل:

- څوک، انجیلا؟

- هو، ومې لیدله. هماغه تور موټر ته وختله چې تا یې مخکې یادونه وکړه.

- تا ته یې پام نشو؟

وارنر نیمکښې راوکتل او ویې ویل:

- څه بېځایه پوښتنه. څنګه یې لیدلی وای؟ البته که زما پرځای ته وای، ممکن لیدلی یې وای.

ورنه ومې ویل:

- مطلب مې دا وو چې ستا سیوری خو به یې نه وي تر سترګو شوی؟

په توندۍ یې ځواب راکړ:

- ومې ویل چې نه. په منډه او تلوار راووته او په یوه توپ څو شیبې مخکې رارسېدلي موټر ته وروخته. د کور دروازه هم سملاسي بېرته وتړل شوه. شاید زما تر راتلو وروسته له هغه کوره یو یا څو نور کسان هم راوتلي وي.

د دغه سوال و ځواب پر مهال مو موټر پر تخت جمشېد واټ ختیځې خوا ته ګړندی روان وو. زه لا هم په دې سم نه پوهېدم چې دا جرمنی جاسوس په دې توره شپه او دومره سرعت د انجیلا له څارلو څخه اصلاً څه هدف لري. ایا غواړي پر لارې یې مخ نه ورولوېږي او راویې ګرځوي او یا دا چې تر هغې وړاندې یې کور ته ځان ورسوي تر څو له موټره د راکوزېدو پر مهال یې سره لاسونه ګیر کړو چې نور نو د څه ویلو ځای پاته نشي.

وارنر ته مې وویل:

- نیت دې څه دی؟ دومره تېز سرعت خطرناک دی...

وارنر په داسې حال کې چې سترګې یې په سړک کې وې، وویل:

- غواړم پر لارې یې راوګرځوم او که له لوړ سرعته دارېږي، نو کولای شې همدلته کښته شې!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- نه، زه نه داریږم. مگر دومره لوړ سرعت باید یو عاقلانه او منطقي دلیل ولري.

- یو څه صبر وکړه، هیڅ شی نه پېښېږي. خیر و خیریت دی.

سره له دې چې موټر لا هماغسې په لېوني منډه ځغلېد، خو د هغه نااشنا موټر څرک لا نه وو پیدا شوی. یو څه چې نور ولاړو، پر یوه څلورلارې یودم د یوه موټر سرې بتی رابښکاره شوې. وارنر په لاس اشاره وکړه او ویې ویل:

- دا هماغه موټر دی چې موږ پسې راوتلي یو!

موټر مو دومره ورنږدې کړ چې نمبر پلېټ مو یې لوستلای شو. وارنر راته کړل:

- ورته وگوره، ایا هماغه موټر دی؟

ځواب مې ورکړ:

- هو، هماغه دی. خو له بده مرغه پر شاتنی ښیښه یې تورکر راخړېږي او داخل یې نه ښکاري.

- پروا نه لري... زموږ ښکار انجیلا په شاتني سیټ کې ناسته ده او یو څو دقیقې وروسته به مو په منگولو کې وي.

کرار-کرار مو تر منځ واټن رالنډ او اخیر یوه متر ته ورسېد. وویرېدم چې هسې نه ورسره ټکر شو. همدغه شیبه مې دا فکر هم ذهن ته راغی چې ښایي وارنر غواړي موټر ورسره پر بغل کړي او بیا ما ته ووایي چې دزې پر وکړم. وړاندې روان موټر گړی وروسته د سړک ښی طرف ونیو او کرار شو. وارنر هم سملاسي موټر کرار کړ او بیا ورنږدې شو. ناڅاپه زموږ د موټر د منغر راسته خوا د هغه بل موټر له چپه طرف سره ولگېد. خو دا لگېدنه دومره زورروه نه وه چې د وړاندني موټر توازن ورخراب کړي، بلکې وارنر صرف غوښتل چې هغه درېدو ته مجبور کړي.

ناپېژاند موټر له دې قصدي ټکر سره جوخت موټر بغل نه کړ، پر دامبر یې د بریکونو گغاری پورته شو او ودرېد. وارنر هم سېده پسې ورغی او په شا کې یې دومره ټینگ موټر ورووهه چې د هغوی گاډی څو متره وړاندې ولاړ. له دې سره سم وارنر او د هغه موټر چلوونکی دواړه راکښته شول. یو د جنگ او دا بل د یوې خاینې ښځې د نیولو په نیت یو و بل ته مخامخ سره ودرېدل. زه هم له وارنر سره

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بوخای شوم. زما د تصور خلاف هغه ناپېژاند چلوونکی ایرانی وو. حیران شوم. وارنر د هغه نیوکو ته له پام کولو پرته موټر ته ورنژدې شو او سر یې وردننه کړ. له دې سر جوخت ناڅاپه له داخله یوې ښځې په فارسي چیغه کړه:

- اې ښاغلې لېونی شوی یې که څه بلا؟

راپورې یې واهه... زه هم پر خپل ځای میخ شوم. له موټر او نمبر پلېټ پرته نور ټول شیان سرچپه شوي ول. وارنر بېرته زما خوا ته راغی... پر څېره یې د هېښتیا او سربدالی نښې له ورایه ښکاره وې. حیران وو څه ووایي. شک نه وو چې انجیلا یې هلته په خپلو سترګو لیدلې وه، مګر پر کومه ولاړه؟!

چلوونکي چې زموږ دوو حیرانتیا ته وکتل، له جنګه یې لاس واخیست، راوړاندې شو او ویې پوښتل:

- تاسې په څا پسې ګرځئ؟ لږ پاته وه چې ستاسې دا تېروتنه زموږ څلورسرو ژوند واخلي. د خدای فضل وشو چې ما شېرنګ راستې خوا ته تاو کړ، کنه ستاسې دغه ډول وهلو زموږ موټر حتماً چپه کاوه.

په دې وخت کې د موټر ور خلاص او وتړل شو. یوه خوانه ښځه راغله او له څه ویلو پرته یې زه چې تر وارنر ورنژدې وم. یوه ټینګه چپلاخه ووهلم او ویې ویل:

- هیڅ عاقل انسان دغسې کار نه کوي لکه تا چې وکړ.

ما په داسې حال کې چې د چپلاخې پر ځای مې لاس تېراوه، ومې ویل:

- دا یو سوءتفاهم وو او...

هغې په هماغسې تونده لهجه او غوسه وویل:

- سوءتفاهم چیرې وو، سمدم مو زموږ د وژلو نیت درلود!

وارنر تر بازو ونیولم او راته ویې ویل:

- همدومره مجلس بس دی، درځه چې ځو!

موټرچلوونکی یې مخې ته ودرېد او ویې ویل:

- د موټر تاوان باید راکړې!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ما د دغې سربدالوونکې صحنې د ختمولو په نیت ترې وپوښتل:

- څومره کېږي تاوان دې؟

پنځه سوه رياله يې وغوښتل او ما بېله خندا وروشمېرل. چابک موټر ته وختلم. وارنر دا وار زما پر څنګ ناست وو. ګډوډ او په سوچونو کې ورک وو. څنې ومې پوښتل:

- اوس چېرې ځو؟

ځواب يې رانه کړ. سوال مې بيا تکرار کړ. دا وار يې له سګرېټه دود کش کړ او ويې ويل:

- زما کور ته درځه. د انجيلا موندلو امکان ډېر کم دی. دا ده يم چې په کيسه يې سر خلاص شوی، له هغه کور څخه تر راوتلو وروسته پر لارې يو ځای له موټره کښته شوې ده او په يوه مناسب وخت کې ممکن سبا، د متفقينو د جاسوسي ضد شبکې په مرسته له ايرانه وايستل شي.

ومې ويل:

- تا وويل چې هغې يو ګلداره کميس اغوستی وو. که دې فکر وو دغې ښځې هم ګلداره کميس اغوستی وو. بنابې ته خطاوتلی يې او پر دغې مېرمنې دې د انجيلا خيال کړی وي.

وارنر څه ونه ويل او لا يې هم د انجيلا په تېښته کې فکر بند وو چې په نهايت مهارت او بيداری يې دواړو ته بازي ورکړې وه. په ښکاره مې ليدل چې دغې پېښې پر وارنر څومره بد اغېز کړی وو. يوه بجه د وارنر کور ته ورسېدو. نوموړی له جامو سره لګه مړی پر کټ ولوېد. يوازې دومره يې رانه وويل:

- ته هم استراحت وکړه!

د انجيلا تېښتې او پر وخت هوښياری زه هم فکراً يو ګړی بوخت کړم. خو ورو ورو مې سترګې درنې شوې او خوب يووړم. د وره د زنګ کړنګا راويښ کړم. چې سترګې مې پرانيستې د لمر وړانګې د کوټې پر دېوال پرتې وې...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سترګې مې وموښلې/وسولولې. زنګ بيا وکړنګېد. پاڅېدم او دروازه مې پرانېسته... يو جګ او څهارشانه سړی راڅرګند شو، په جرمني يې سهار په خير راته وويل او له څه پوښتلو پرته کور ته رانووت. په انګليسي مې ترې وپوښتل:

- څوک دې په کار دی؟

خواب يې راکړ:

- نه مې په‌کار يې ريما صاحب... خطاوتلی خو به نه يم؟

په شکمن انداز مې ورغبرګه کړه:

- نه، نه يې خطاوتلی. تاسې څوک ياست؟

موسکی شو او ويې ويل:

- ډېر سره پردي هم نه يو، وار دوه مې له وارنر سره ليدلی يې. دومره وه چې هلته به وخت او حالاتو د نېغو اړيکو نيولو اجازه نه راکوله او اوس خوښ يم چې بالاخره دا فرصت په لاس راغلی او له يوه تکړه مامورسره مخامخ ولاړ يم!

وروسته يې په ډېر طبيعي انداز او څانګړې بېخاری تر بازو ونيولم او راته کړل يې:

- راځه کښېنه چې خبرې سره وکړو!

لا هم شک لاس نه وو راڅخه اخيستی. مخامخ سره کښېناستو. ترې ومې پوښتل:

- ته وارنر پېژنې؟

هغه په داسې حال کې چې سګرېټ ته يې خاشه وهله، وويل:

- زما خياله شک دې لا هم نه دی راڅخه ختلی. هو؛ زه، ته او وارنر درې واړه د يوه سازمان لپاره کار کوو او زه دلته د مالوماتو ترلاسه کولو لپاره نه يم راغلی، فقط غوښتل مې سره اشنا شو.

په خبرو کې ورولوېدم او ورته ومې ويل:

- خو وارنر ستا هېڅ يادونه، نه ده راته کړې!

له سګرېټه يې لوخړه پورته کړه او ويې ويل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

زما یا نورو همکارانو معرفي کول تر هغو بې گټې دي تر څو یې اړتیا نه وي پېښه شوې. خو نه بیا د جرمني خارگري شبکې ته یوه ورپېژندل شوې خبره یې او که ماموریت نه وای راسپارل شوی نو دا وخت دي دلته لیدو نه نه راتلم. بیا به همداسې سره پردي وای لکه مخکې. بل دا چې دا عجیبه نه ده؛ د یوې شبکې دوه ماموران په یوه نړېن یا یوه الوتکه کې سپاره وي. خو یو او بل نه سره پېژني.

- خو زما پوښتنه دې راخواب نه کړه. اوس مو لږ سره وپېژندل. بده نه ده که خپل نوی همکار یو څه نور هم وپېژنم.

لنډ یې وخندل او ویې ویل:

- کولای شې په هانس راته ووایې!

- نه. ښاغلی هانسه کومې مهمې موضوع تر دې درشله راوستلی یې؟

هانس نېغ‌نېغ راته وکتل او ویې پوښتل:

- وارنر پرایي شپه ستا سره وو؟

- هو او دې ته حیران یم چې څنگه له ما پرته او بوازې له کوره وتلی دی. ان یو یاداښت یې هم نه دی پرې ایښی.

- ایا مخکې هم دغسې د یاداښت له پرېښودلو پرته وتلی دی؟

- نه. همدې تکي خو زه په اندېښنه کې اچولی وم.

هانس وویل:

- تېره شپه مو انجیلا ولیدله؟

په خواب کې مې ورته وویل:

- دا پوښتنې څه مانا لري، تاسې باید تر ما په دې کیسو ښه خبر واوسئ!

په خبرو کې راولوېد او ویې ویل:

- هېڅ. هسې یوه پوښتنه مې وکړه.

- او اوس یې خواب هم غواړې؟

- بالکل. البته که دې خوښه وي!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- مشکل نشته. ما له تېرو ۴۸ ساعتونو راهیسې انجیلا نه ده لیدلې او حتماً به وارنر د نوموړې اړوند تازه مالومات له شبکې سره شریک کړي وي. کنه؟

هانس په هېښتیا راڅخه وپوښتل:

- د څښي په اړه مالومات؟

پوښتنې یې حیران کړم. په خندا مې ورته وویل:

- ټوکې کوې؟

- اوه ریما صاحب، زموږ په کارونو کې د ټوکو لپاره ځای نشته. ته فرض کړه چې وارنر تر دې دمه شبکې ته د دغو مالوماتو پر لېږدولو نه دی توانېدلی، نو ونیسه لطفاً اوس دغه خبرې ته ما ته وکړه!

د هغه سختې او امرانه لهجې اغېزمن کړم او بېله خندې مې د انجیلا اړوند ټوله کیسه ورته وکړه. همدارنګه مې په پای کې سرچینه یانې فاروق، هم وروښود. هانس په خیر راته غوږ وو. بیا یې دوهم سګرېټ ولګاوه، پاڅېد او ویې ویل:

- پاته باندار به له دې کوره دباندې او یو بل مناسب ځای سره وکړو، ځکه خورا ډېرې خبرې او کیسې شته.

-نو د وارنر تر راتګه به وګورو!

- د هغه شتون زموږ تاسې پر کار کوم اغېز نه لري او که دې زما سره تګ زړه نه غواړي، نو هیله ده په دوستانه فضا کې بېرته خپلې مخکنۍ دندې ته ستون شې. او داده یم چې هم به دې لاسونه ډک وي او هم به دې دا هر څه له یاده ووزي.

د هغه خواب خلق‌تنګه کړم، ومې ویل:

-ستاسې شبکه مې دومره اسانه پر خدمتونو سترګې پټوې؟ ګوره هانس صاحب تش یا ډک لاس پر ما فرق نه لري او د وارنر وړاندیز مې یوازې و یوازې له ماجراجویانه ژوند سره د خپلې شخصي لېوالتیا پر بنسټ ومانه. زه له خطرونو سره طبعاً مینه لرم، که په مخکنې کار کې مې پیسې تر دې ځای ډېرې وې.

هانس ووېل

- اوس بیا همااغه وپلمتېږ ره درنه کوم. پر تا ره و وارنر څه فرق لرو؟ دواړه د پوځ شبکې غړي یو او که لا هم ماجراجویانه ژوند خوند درکوي. مو خندا مه کوه. درڅخه جې څو. وارنر به هماله درباندې ووېښه!

د پوښتنو ګرویږنو رواني لړۍ نه مې د پای ټکی کېښود. چابک مې جامې واغوستې او بوخای له کوره ورسره ووتلو. زړه مې راته ویل چې بوه خورا مهمه پېښه شوې ده. د انجیلا وضعیت. د وارنر تري‌تم کېدل او تر هر څه مهم د هانس نابېره ملاقات او څوارخیزو و مبهمو سوالونو تولو پر دې دلالت کاوه چې بوه لویه کېسه ده. د هانس په موټر کې کېناستو. زما و وارنر پروني موټر مې په سترګه نشو. پر لارې دا فکر راولوېد چې هسې نه زه هم د فاروق د هرکلي له برخلیک سره مخ شم. پر شاهرضا واټ تېر او شمیران واټ ته ورننوتو. قلهک ته له رسېدو سره یې نګلوری بدل کړ. دا دوهم ځل وو چې پر دې لار تېرېدم. لومړی وار له فاروق سره بوخای پر تېر شوی وم چې بیا وروسته یې وارنر په هغه کور کې د ژوند کمبله ورټوله کړه. سر مې خلاص شو چې هانس ما هم هماغه کور ته بیایي. انګېرنه مې پرځای وه. هماله یې موټر ودراوه او راته ویې ویل:

- درکښته شه!

دواړه کور ته ننوتو. بوازې د هماغې خونې دروازه خلاصه وه چې فاروق پکې مسموم شوی وو. هانس مخکې زه ورپسې وم. هغه کورټې وکښله. پر بوه څوکی یې واچوله او ویې ویل:

- فکر کوم دا ځای به درته شناخته وي؟

بیله خندا مې ورغبرګه کړه:

- هو. دا دوهم وار دی چې راځم!

مانداره موسکا یې وکړه او ویې ویل:

- اول وار هغه وخت چې فاروق مړ شو؟

- بنه. ته هم خبر یې؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- بالکل، څنګه کېدای شي چې زه او زما دستګاه د یوه نړیوال مسلکي خارګر له مړینې خبر نه وي؟
- هو، ما هم هماغه شېبه وارنر ته په کلکه وویل چې د دې جاسوس وژنه بېعقلي ده.
هانس وخندل او ویې ویل:
- خو هغه نیوکه در رد کړه او په رنګارنګ دلایلو یې د فاروق وژنه درباندې ومنله!
- همداسې ده. دلیل یې دا وو چې نوموړي یو وخت غټه ناخواني ورسره کړې وه.
هانس د یوې خونې خوا ته ورغی، دروازه یې ورخلاصه کړه او یو چا ته یې وویل:
- هغه راوله!
څو شېبې وروسته مې یو نفر ولید چې د دوو دنګو کسانو په منځ کې د هغې خونې په دروازه کې راڅرګند شو او زموږ خونې ته راغی. هانس راڅخه وپوښتل:
- دا سړی پېژنې؟
پر مخ یې ږیره ولاړه وه، په خیر-خیر مې ورته وکتل. نکان مې وخوړ، بې اختیاره راشا ته شوم او په هېښتیا مې وویل:
- نه، دا ناشونې ده. دا څنګه ژوندی دی؟
هانس وخندل او ویې ویل:
- ولې نه، شونې ده. دا هماغه مسلکي خارګر فاروق دی ښه ورته وګوره. هماغه سړی چې د ځان لپاره مړ، خو زموږ لپاره ژوندی وو.
مخکې ورغلم چې لا یې ښه وپېژنم. ویل مې هسې نه هانس مې خطاباسي او یا زه خپله تېروتلی یم، مګر دا یو ګومان هم سهي نه وو. هغه سړی چې پرانیستې تنې والا سپین بخنکاک او خړ پتلون یې اغوستی وو هماغه نړیوال مسلکي جاسوس فاروق وو چې دوې ورځې وړاندې یې په همدې کوټه کې د خپلې مړینې یو استادانه تمثیل وکړ. ایا په دې کې وارنر ورسره شریک وو؟ دا پوښتنه مې سملاسې د ذهن پر پرده راپورته شوه. فاروق چوپه خوله ولاړ وو او سترګې یې په ما کې ښخې وې. هانس راڅخه وپوښتل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- ودې پېژاند؟

خواب مې ورکړ:

- بالکل. هماغه فاروق دی چې ځان يې دلته زموږ مخې ته مړ کړ. بېشکه چې په تمثيل کې غښ استاد دی!

هانس هغو دوو کسانو ته د فاروق بېرته بېولو اشاره وکړه. چې سره بوازې شوو، ور څخه ومې پوښتل:

- ايا وارنر په دې خبر دی؟

هانس پر يوه لاستوره څوکۍ کښېناست، سګرېټ يې ولګاوه او ويې ويل:

- هو، بالکل په خبر دی. ان انجيلا هم په خبره ده، مګر دا مسخرې به ډېر ژر ختمې او نن شپه پر يوولس بجې به ووينې چې وارنر څنګه له دې ساختګي صحنو او تمثيلونو خبر وو. ان په کرمان کې زموږ د تکړه مامور کورت د وژل کېدو راز به هم درته څرګند شي.

هانس له هغه مرموز کور څخه دباندې وايستلم. غرمنی مې د نومورې د يوه ملګرې کره چې ويل يې د ايتاليا سفارت کارکوونکی دی، وخوړله او د شپې تر اتو بجو هماله وو. پر نهه نيمې بجې پر مازندران واټ له تهران څخه ووتو.

هېڅ نه پوهېدم چې چېرې مې بيايي. بوازې يو ځل مې د منزل پوښتنه ترې وکړه، راته ويې ويل چې له ښاره دباندې يو ځای ته ځو. پر دې هم داډه وم چې روانه غيرعادي پېښه لا هم ختمه نه ده شوې. په اوسني تهران پارس کې چې هغه وخت ښه دښته وه، له موټره کښته شوو. هانس د جېبي ساعت په رڼا کې خپل لاسي ساعت ته وکتل او ويې ويل:

- هغوی پر رارسېدو دي!

د شپې په تپه تياره کې په يوه لويه دښته کې چې له ښاره څه باندې شل کيلومتره ليرې وه، داسې کسانو ته انتظار وو چې بوازې هانس پېژندل. لس بجې شاوخوا د ښار له لورې د يوه راروان موټر بتۍ رابښکاره شوې. هغه موټر خپل څراغونه دوه واره ګل او بېرته ولګول. هانس له دې خوا ورته اشاره ورکړه. هغه موټر له عمومي

سړکه راکاږ او زموږ خوا ته راغی. لنډه شېبه وروسته له دوو اشنا څېرو سره مخامخ شوم: وارنر او انجیلا...

زه هر څه زیات د وارنر حالت حیران کړم. دوه ته پر پیره ول، مگر انجیلا ازاده وه. راغله لاس یې راکړ. سخت سربداله شوی وم. ان د مړه فاروق ژوندي لیدلو هم دومره نه وم حیران کړی. څو دقیقې وروسته یو دریم موټر هم راغی او دوو کسانو فاروق ترې راکښته کړ. هانس له مامورانو سره پر خبرو بوخت وو. ما له انجیلا وپوښتل:

- دا څه کیسه ده؟ په هیڅ شي مې ولاکه سر خلاصیږي...

هغې کرار راته وویل:

- ان زما په اړه هم تر دې دمه خطاوتلی وې. یو گړی صبر وکړه، هانس به دې په هر څه سر درخلاص کړي!

په دې وخت کې له لیرې څخه د یوې کوچنۍ الوتکې ږغ واورېدل شو. څو دقیقې وروسته زموږ سر ته راورسېده. زموږ ټولو نفسونه په سینو کې بند ول او یوازې د الوتکې د ماشین اواز د صحرا درنه چوپتیا ماتوله. د ټولو سترگې پاس په اسمان کې وې. دغه مهال هانس په خپل جیبي څراغ الوتکې ته اشاره ورکړه او کښېناستو ته یې راوبلله. هغې دوهم څرخ وخوړ او راغله کښېناسته. په داسې توره تیاره کې بېله کومې لاربښوونې د الوتکې کښېنولو غټه استادي غوښته.

د الوتکې له کښېناستو سره سم انجیلا په خنگل ووهلم او ویې ویل:

- د وارنر خطرناک قمار دوې درې دقیقې وروسته پای ته رسېږي!

هانس په جرمني ژبه مامورانو ته یو څه وویل او خپله الوتکې ته ورغی. زه او انجیلا هم ورپسې شوو. پر لارې مې ترې وپوښتل:

- ایا له وارنر سره یو دوې خبرې کولای شم؟

هغې لاس راټینگ کړ او ویې ویل:

- بیعقلي مه کوه. که زه نه وای، نو اوس به د دغې الوتکې دریمه سپرلی ته وای.

- زه؟! نه، دا امکان نه لري!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- پر دې به بیا وروسته هانس درسره وړغېږي. هغه نن سهار وختي وارنر د تېښتې په حال کې ونیو. وارنر د متفقینو لپاره کار کاوه او دا چې ولې ستا په مخ کې د فاروق د وژنې هغه تمثیلي صحنه جوړه شوې وه، په دې به دې بیا وروسته زه و هانس سر درخلاص کړو.

زه یې په خبرو کې ورولوېدم او ومې ویل:

- مګر ما بیا د وارنر پرځای ستا د نیولو تلاښ کاوه. د تېرې شپې توله ډرامه ستا د ګیرولو لپاره روانه وه.

- ته چې له کرمان څخه راغلې، زه په هر څه پوه شوم!

الوتکې ته ور ورسېدو. دوه‌ماشینه وه. دوه پیلوټان او یو ملکي کس ترې راکښته شول. ملکي مامور له هانس سره ودرېد او خبرې یې ورسره شروع کړې. وارنر او فاروق هم د پېره‌دارانو په بدرګه الوتکې ته راورسېدل. هغه ملکي مامور له هانس څخه بېل او د اسیرانو خوا ته ورغی. د یوه-یوه پر مخ یې څراغ ورواچاوه، وروسته یې هانس ته چې شا ته یې ولاړ وو، وکتل او یو څه یې ورته وویل. ورپسې یې سملاسي وارنر او فاروق الوتکې ته وخېژول. هغه دوه پېره‌داران هم پسې وروختل. شېبه وروسته هغه ملکي مامور موږ ټولو ته لاس راکړ، الوتکې ته وخوت او دروازه یې په ځان پسې وتړله.

نور د لاسي څراغ اشارې ته اړتیا نه وه، ځکه الوتکه پر راغلې لار بېرته والوته... تر یو وخته یې ږغا اورېدل کېده. موږ هماغسې پر خپلو ځایونو مېخ ولاړ وو. وروسته مو بېرته مخ پر ښار راهئ کړل. شتېرنګ ته زه ناست وم. پر لارې هانس راته مخ کړ او ویې ویل:

- ستا مړي زورور ول کنه کار دې کړوپ وو!

انجیلا وویل:

- مخکې مې ورته وویل چې که زه نه وای، نو تباه وو!

زه بې په خبرو کې ورولوېدم او ومې ویل:

- چې ربښتيا شي پر ما د وارنر د خيانت بوی هم نه وو لگېدلی او په ټول توان د انجيلا نيولو ته اړم وم. وارنر همدا يوه سرينده راته ږغوله چې دا يوه دوه‌سرې خارگره ده او له متفقينو سره اړيکې لري. ما هم ورسره ومنله، ځکه له کرمان څخه د راستنېدو پر وخت بې چلند شکمن کړم.

هانس وويل:

- د وارنر په اړه مو ځينې شک‌پاروونکي راپورونه ترلاسه کړل. سملاسې لاس په کار شوو او تر څارنې لاندې مو ونيو. د پروسې د لا چټکولو لپاره مو خپل يو ډېر تکړه جاسوس چې اوس يې هويت نشم څرگندولای، د متفقينو جاسوسي کړښو ته ورننه‌ايست تر څو له دوښمنو جاسوسانو سره د وارنر د تماس پر وخت هغه هم دخيل او باخبر وي. له ښکه مرغه کله چې تا په آستارا کافه کې د فيليپ په نامه يو بهرنی تعقيباوه، زموږ نفوذي جاسوس د متفقينو په استازيتوب له وارنر څخه د ده په خپل کور کې زموږ د شبکې اړوند پټ مالومات اخيستل.

هانس تر يوه لنډکي ځنډ وروسته زياته کړه:

- زموږ د سازمان دغې پر وخت هوښياری خورا مهم رازونه نه يوازې په ايران، بلکې په منځنې ختيځ کې هم له خپرېدلو راوگرځول او وارنر يې په لومه کې بند کړ. زموږ نفوذي څارگر له وارنر سره د راکړې-ورکړې پر وخت ونوانېد چې هم له اصلي اسنادو څخه عکسونه واخلي او هم خپل‌منځي مکالمه ثبت کړي. دا د نوموړي پر ضد هغه پاخه او نه‌انکارېدونکي اسناد ول چې د ده لاسونو ته يې ځنځيرونه ورواچول.

له هانس څخه مې وپوښتل:

- د وارنر هم لکه چې د دې کيسې بوی تر سږمو شوی وو چې غوښتل يې وتښتي؟

- هو، نن سهار سپيده چاود مهال له کوره راووت، د متفقينو له جاسوسي شبکې سره يې اړيکه ونيوله او د پرونی شپې د اسنادو ورکولو په بدل کې يې زر ليرې ترې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وغوښتلې. ده دغه پيسې پرون شپه زموږ له نفوذي مامور څخه چې د متقفينو په استازيتوب يې معامله ورسره کوله، هم غوښتې وې، خو هغه سبا ته ځنډولې وې.

تر لږ ځنډ وروسته هانس زياته کړه:

- خو کله چې متقفينو وارنر ته ځواب ورکړ چې دا ژمنه د هغوى له خبرتيا پرته ورسره شوې ده، نو د سړي په اوږو کې شگې پيدا شوې او ځان يې په خطر کې وليد. له همدې وجې يې پښو سپکولو ته خيال شو. غوښتل يې په اصفهان کې د متقفينو جاسوسي ضد اداري ته ځان ورسوي. خو له نېکه مرغه زموږ دوو اوځارو مامورانو سملاسي ونيو.

هانس تر دوهم ځنډ وروسته بيا ادامه ورکړه:

- د هغه موټر په اړه چې وارنر وواهه او فکر يې کاوه انجيلا پکې ناسته ده، څه نشم درته ويلاى.

ومې ويل:

- ټينگار نه درباندې کوم، مگر ايا د فاروق په اړه پوښتنه درڅخه کولاى شم؟ ځکه د دې شيطان ژوندي پاتېدنه مې هيڅ زړه ته نه لوېږي.

انجيلا وويل:

- دا د وارنر لوبه وه!

هانس يې خبرې ورغوڅې کړې او ويې ويل:

- وارنر د فاروق ځنباک ته يو ډول ځانگړې درمل وراچولي ول چې پر هغه يوه ساختگي د زړه حمله راولي. دا کار يې د دې لپاره وکړ چې تا د انجيلا پر وژلو راضي کړي او داډه يم چې که تېره شپه له انجيلا سره مخامخ شوي واى او وارنر يې د ويشتلو امر درته کړي واى، حتماً دې عملي کاوه... همداسې نه ده؟

- هو. همداسې ده. ځکه زه هم ډاډه شوى وم چې انجيلا په دواړو خواوو کې لگيا ده! هانس وويل:

- په هر صورت. بالاخره دغه خطرناک قمار ختم کړل شو او اوس به يې د ايران نر پولو اړولې وي. بل دا چې د کورت قاتل فاروق وو. نوموړى کرمان ته ستاسې تر

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

روانېدو درې ساعته وړاندې له تهرانه وتلی وو، هلته یې د متفقینو له جاسوسي ضد شبکې سره اړیکې نیولې وه او ستاسې د ماموریت مالومات یې ورسپارلي ول. هغوی سملاسي ستاسې د مخنیوي هڅې پیل کړي وې. زما د دغو خبرو پر مهال به فکر کوم ستا په ذهن کې د هغه ملنګ سړي خبره درګرځېدلې وي چې په وچه شلګې موټر ته درختلی وو.

- بالکل!

- فاروق تر تاسې مخکې کرمان ته رسېدلی او له یوه داسې کس سره یې کتلي ول چې موږ یې لا هم نه پېژنو. هغه پر خپل وار لادزه ته خبر ورکړی وو. په دې سره یې کرمان ته ستا او کورت د بېرته ورتګ په صورت کې چې هغوی یې وړاندوینه کړې وه، ستاسې دواړو د وژلو پلان ترلی وو، مګر عجیبه دا ده چې ته یې ژوندی پرېښودې. ډاکټر کومل هم په خپل راپور کې دې ټکي ته اشاره کړې وه چې ته ولې ونه وژل شوې؟!

له هانس څخه مې وپوښتل:

- وارنر زما په لاس د انجیلا له وژلو څه ترلاسه کول غوښتل؟

- وارنر غوښتل وو چې انجیلا د ده په شکمنو کړنو خبره شوې ده، نو له همدې امله یې ستا په لاس د نوموړې د وژلو پلان جوړ کړ. دا چې ولې یې خپله نه وژله، زما په اند په دې سره یې غوښتل تا د متفقینو د جاسوسي شبکې په ګټه وکاروي او فکر نه کوم له دې پرته دې بل لامل ولري، ځکه په دې صورت کې ته قاتل کېدلې.

ما وویل:

- فکر نه کوم چې وارنر دې خپل پلان په دغه ډول لکه ته چې فکر کوې، پر ما عملي کړی وای. باید هېره نه کړې چې له وارنر سره د مخامخېدو او ستاسې په خفیه اداره کې د شاملېدو پر وخت زه یو عادي کس نه وم.

- پر دې هر څه سربېره بیا هم دا دعوه نشې کولای چې څوک دې په خپله ګټه نشي استعمالولای. سر له نه دې زه خپله د روزنې دنده پر غاړه اخلم.

ښار ته د رسېدو پر وخت شپه تقریباً ختمه شوې وه. هانس راڅخه وپوښتل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- ایا غواړې چې د وارنر د کور کیلي درکړم؟

زما پرځای انجیلا ځواب ورکړ:

- دی زه خپل کور ته راسره بیایم!

هانس هغې ته له څه ویلو پرته ما ته مخ کړ او ویې ویل:

- نو درځئ د انجیلا کور ته ځو!

د انجیلا د کور مخې ته زه او انجیلا له موټره کښته شوو. هانس شمرنګ ته کښېناست او ویې ویل:

- سبا سهار پر نهه بجې راځم!

وروسته یې ما ته ګوته ونیوله او زیاته یې کړه:

- ستا سره یو ډېر اړین کار لرم!

د هغه له تلو سره سم انجیلا تر تخرګ لاس راالاندې راکړ او ویې ویل:

- خوښه یم چې بېرته سره یوځای شوو!

په زینو کې د ختلو پر وخت مې ورته وویل:

- زه بیا په دې ډېر خوښ یم چې ستا په وینو مې لاسونه رنګ نشول!

پر اوږه یې سر راکښېښود او ویې ویل:

- راباندې ګران یم، ځکه مې دې په غیاب کې کلکه دفاع وکړه...

په عراق کې د رشیدعلي ګیلاني د کودتا ناکامۍ چې په بصره کې د انګرېزي ځواکونو تر کوزېدو وروسته وشوه، په منځني ختیځ کې د نازي جرمني پر جاسوسي سازمان ژورې منفي اغېزې وکړې. دغه پېښې داسې وخت وشوې چې زه هم د یادې شبکې غړی وم او طبعاً باید د کودتا او هغې د ماتې په اړه لږ و ډېر مالومات راکړل شوي وای، مګر زما خبرتیا به اکثره د تهراني ورځپاڼو تر سُرخیو نه ورتېرېده. د دغې ناخبرۍ سرچینه د وارنر ملګرتیا وه چې د خپلو خاینانه کړنو په زندان کې یې زه هم بند ورسره ساتلی وم. د نوموړي له رسوا او نېول کېدو وروسته مې په جرمنۍ جاسوسي شبکه کې مخه خلاصه شوه او هانس میدان راته پراخ کړ.

تر دې دمه مې په ایران کې د جرمنیانو له مخفي شبکې څخه چې په اسیا او افریقا کې د دوی د پراخ سازمان یوه څانګه وه، یوازې وارنر او او انجیلا پېژندل، خو د وارنر تر نیول کېدو وروسته مې امکانات زیات شول او په ډېرو شیانو د پوهېدو و خبرېدو موقع په لاس راغله.

له دغو رازونو څخه یو یې په دا سبا نهه بجې هانس د انجیلا په کور کې راته رسوا کړ. دا هغه هېښوونکي رازونه ول چې په اصل کې یې د دوی د خپلې څارګرې شبکې د نه‌جبرانېدونکې ماتې څرګندونه کوله. هانس راته وویل:

- د عراق تر کودتا دوه ساعته مخکې د متفقینو جاسوسي ضد څانګې ته د دغې کودتا اړوندو اسنادو کاپي رسېدلې وه.

انجیلا یې په خبرو کې ورولوېده او ویې ویل:

- دا ډېره خطرناکه شېبه وه. ان خپله ته هم د متفقینو دومره ګړندي غبرګون ته ګوته په غاښ وې او هېڅ توقع دې نه لرله.

هانس د تایید په نښه سر وښوراوه او ویې ویل:

- هو، د عراق خاورې ته د هغوی د ځواکونو ننوتنې موږ ټول حیران کړو، څکه د کودتا پلان او جزیات نهایت پټ ول چې له یو څو لوړپوړو کسانو پرته بل هېچا لاسرسی نه ورته درلود. حتا زموږ د شبکې یو څو ګوتشمېرو مشرانو په برلین، انقره،

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

تهران او بغداد کې د دې کودتا مشرتوب کاوه او داده وو چې په هماغو لومړيو ساعتونو کې به يې د بريالیتوب اعلان وشي. خو لکه څنګه چې خبر باست ناڅاپه د انګلستان جنګي بېړۍ د بصرې اوبو ته رانوتې او زموږ ټولې نقشې يې په باد بووړې. دومره يې لار و ګودر راخخه ورک کړل چې په هيڅ وجه مو له کودتاچيانو سره مرسته نشوای کولای.

هانس تر يوې لنډې دمې وروسته زياته کړه:

- له انقرې څخه د پرونۍ شپې د رارسېدلي راپور هيڅ تمه مې نه درلوده. په دغه راپور کې چې له بغداد څخه زموږ د يوه ډېر بلا مامور له خوا رالېږل شوی دی، د يادې کودتا د ماتې اصلي لامل په ګوته شوی او پکې ويل شوي دي چې ټوله کيسه په تهران کې زموږ د يوه مامور خيانت شوړولې ده.

انجيلا وويل:

- او دا مامور به هم له شک پرته وارنر وو، کنه؟

هانس ځواب ورکړ:

- همداسې ده. تر کودتا يوازې دوه ساعته مخکې د وارنر له خوا د کودتا د پلانونو او نقشو عکسونه متفقينو ته ورکول کېږي او د دې معاملې په بدل کې صرف پنځلس سوه لېرې ترلاسه کوي.

ما چې تر دې دمه غوږ-غوږ وم، چوپتيا ماته کړه او ومې ويل:

- دا د نوموړي تر ټولو لوی خيانت دی!

هانس وويل:

- د دې ماتې جبران ناشونی ښکاري، ځکه دا په منځني ختيځ کې د جرمني امپراتورۍ يو ډېر لوی پلان وو چې په کاميابېدو سره يې ګڼ نور پلانونه هم په ثمر رسېدل. چې ربښتيا شي عراق يو نه ماتېدونکی سنګر ښکارېد او بيا وروسته ايران او هندوستان دواړه بېله خونړيو جګړو زموږ لاس ته لوېدل.

ترې ومې پوښتل:

- ايا د دې ماتې د جبرانولو لپاره به په يو بل ډول اقدام وشي؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- شک نشته، همدا اوس-اوس یو بل پلان تر کار لاندې دی. خو دا چې څنګه عملي کېږي، لا څرګنده نه ده، مګر دا باید ومنو چې د عراقي کودتا ناکامی خورا منفي او ناوړه تاثیرات غورځولي دي او په ایران کې یې زموږ وضعیت تر دې بریده راخراب کړی دی چې د سمبدو هیله یې هډو کېدای نشي. نور بد خبرونه هم پر لارې دي چې وروسته به ترې خبر شې. لنډه دا چې کیسې یومخ غړکې دي....

هانس د داسې یوه تریخ حقیقت په اړه رغېدی چې سترګې نشوای پر پټېدلای. پېچلي سیاسي اړودوړ د ایران سیاست لا پسې کړکېچن کړ او له دلته هلته تړلاسه کېدونکو خبرونو راته ښکارېده چې د بحران پر درشل ولاړ دی او نن یا سبا به یې پولې د بېخونده پېښو شاهدې وي. د ۱۹۴۱م د اګسټ پر ۱۶مه هانس له ځان سره د اورګاډي تمځای ته بوتلم چې له اهواز څخه د یوه راتلونکي مسافر هرکلی وکړو. پر پلاټفورم مو قدم واهه. هانس هر څو شېبې خپل لاسي ساعت ته کتل او بېرته یې په اوسپنيزه پټلۍ کې سترګې ګنډلې. څېره یې نیولې غوندې وه او په چورتونو کې ورک ښکارېد.

بالاخره د اهواز د اورګاډي شپېلک واورېدل شو او څو شېبې وروسته خپله اورګاډی هم تر پُل لاندې راڅرګند شو. هانس تر مټ ونیولم او ویې ویل:

- زموږ رییس څو ثانیې وروسته له اورګاډي راکښته کېږي. هغه په ایران او منځني ختیځ کې د ډګر جنرال کاناریس ښی لاس او یو متفکر مغز دی.

ما له چوپتیا پرته بل څه نه لرل او په داسې حال کې چې وروـوررو رانژدې کېدونکي اورګاډي ته مې کتل، د نوموړي خبرې مې په خیر اورېدې. اورګاډی تر موږ تېر او لږ ها پلو ودرېد. هانس بېله څه ویلو د اورګاډي د پای خوا ته په منډه شو. زه هم ورپسې شوم. دواړه د وروستی ډبې له دروازې سره ودرېدو. یو څو مسافر راکښته شول. دقیقه دوې وروسته یو دنګ سړی چې په کیڼ لاس کې یې یو پنډ بیک نیولی وو، له اورګاډي راووت، نېغ زموږ خوا ته راغی او هانس ته یې لاس ورکړ. هانس هم بېله څنډه زه ورمعرفي کړم. هغه ما ته تر سر څوځولو وروسته بېرته

هانس ته مخ کړ او له دې سره سم دواړه اوږه پر اوږه روان شول. زه دوه گامه وروسته وروسې شوم.

هانس موټر ته له رسېدو سره سم شاتنی دروازه پرانیسته او په اصطلاح د خپل غوره شخصیت خرگندونه یې وکړه. موټروانی یې ما ته راوسپارله. هانس غوښتل زما خنگ ته کېنېني. خو هغه سړي راوگرځاوه او له ځان سره یې کېښناوه. د دغه سړي اوسېدنځای د جرمني سفارت په باغ کې اماده شوی وو. دې پېښې گواکې زما مقام رااسماني کړ. ځکه تر هغه گړیه مې د یاد هیواد سفیر او نور ډېر مهم شیان نه ول لیدلي.

دغه جرمنی سړی مشهور لرغون پېژاند ماکس فن اوپنهایم وو چې د جرمني د جاسوسي سازمان د لوی رییس ډگر جنرال کاناریس له خوا د ایران ځانگې مشر ټاکل شوی وو. ماکس فن اوپنهایم په ایران او همدارنگه د منځني ختیځ هیوادونو کې د انگرېزانو په وړاندې فعالیت کاوه. اوس تهران ته د تازه راپیدا شوي بېړني حالت د کابو کولو او سمولو لپاره راغلی وو.

د ده، هانس او جرمني سفیر تر منځ ناسته دوه ساعته شاوخوا وغځېده. یو وخت هانس راووت. یو څه خوښ ښکارېده. خنگ ته مې کښېناست. سگرېټ یې ولگاوه او ویې ویل:

- ښار ته خو!

ترې ومې پوښتل:

- ایا له اوپنهایم سره خبرې بوې پایلې ته ورسېدې؟

له سگرېټه یې یوه ټینگه لوخړه پورته کړه او ویې ویل:

- هغه له نویو پلانونو سره راغلی دی او تقریباً ۴۸ ساعته په تهران کې تېروي.

چې د نویو پلانونو په باب مې پوښتنه ځنې وکړه. په ځواب کې یې راته وویل:

- اوس څه نشم درته ویلای، خو دومره به ووایم چې زموږ مخکنی وضعیت بدل شوی او ډېر ژر به ایران ته د متفقینو خواکونه راننوزي.

- ایا ښار ته د یو چا د لیدلو لپاره خو؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- هو، له داسې يو ځا سره وينو چې زموږ د ليدلو هيڅ تمه نه لري. موږ تاسې بايد ډېر بيداره واوسي او فرصتونه بايد غوږ راځخه ولاړ نشي.
- ياني له خپل ځواكمن سيال سره د غيږې نيولو وخت رارسېدلی دی، كه څنګه؟
- همداسې يې وبوله او په تا مې ډېر زړه داده دی!
- ستا مطلب دا دی چې زه بايد يوازې ميدان ته ورووزم؟
- نه، يوازې نه يې، زه هم درسره يم. دومره ډېر هم مهم نه دی. يوازې سره سينه او چټک عمل مو تر منزله رسولای شي.
- په موضوع مې سد ورسېد، اوس دومره راته ووايه چې نر دی كه ښځه؟
هانس وويل:
- څومره چې خبر يم ښځه ده او له اوپنهايم سره په يوه اورګاډي کې تهران ته راغلې ده. زموږ د ورسره مخامخېدو پر وخت به يې پر راتګ دوولس ساعته اوښتي وي. پلټونكي حس كرار ته نه پرېښودم او غوښتل مې په دې اړه خپل مالومات بشپړ كړم. چې پوښتنې ته مې خوله جوړوله، هانس وويل:
- نور مالومات مه راځخه غواړه، ځكه فعلاً تر دې زيات څه نشم درته ويلای. البته تر عملياتو پيلولو مخكې دې هم په هر څه خبروم او هم د كار سرُ و بُر درښيم.
د ماپښين نژدې يوه بجه وه چې له هغه بڼ ځخه جرمني سفارت ته ولاړو. دغسې ځای ته مې د ورنګ لومړی ځل وو. هانس په لاس اشاره راته وكړه چې د ودانۍ ختيځې دروازې مخې ته موټر ودروم. وروسته دواړه پلې شول او زه تر شا ورپسې شوم. په يوه دالېز كې تېر او يوې زېرخانې ته كښته شوو. لاندې يوه لويه كوټه وه چې دېوالونه يې په يوه ځانګړې څرمن پوښل شوي ول. ان د دروازې پر شا و مخ يې هم يوه پنډه څرمن مېخ وه. د كوټې يوه اړخ ته له سره تر پايه مخابراتي دستګاوې پرتې وې. زموږ له رانوتلو سره سم يو بل ځوان هم رانووت. هانس په جرمني يو څه ورته وويل او هغه ځوان سملاسې د مخابراتي دستګاه مخ ته پر پرته څوكۍ په كار بوخت شو.

هانس د کورتي له جیب څخه یو کټ کاغذ راوایست او هغه ته یې په لاس کې ورکړ. ځوان سملاسي د دغه شفري تلګراف لیږلو ته اړم شو. له هانس څخه مې وپوښتل:

- څښي ته منتظر یې؟

ده د سترګو له کونجو راوکتل او ویې ویل:

- ځواب ته!

- له کومه ځایه؟

- له انقرې څخه!

شل دقیقې شاوخوا وروسته دستګاه خپله چالانه شوه او انقرې ځواب راولیږه. هانس هماغه تایپ شوې فیته راواخیسته، په یوه فلزي کوټی کې یې کېښوده او راته ویې ویل:

- درځه چې ځو!

دستګاه ته ناست ځوان هم پاڅېد او په موږ پسې له کوټې څخه راووت. هانس د خونې دروازه وتړله او درې واړه له زېرخانې څخه راووتو. د مازیګر تر ځلورو بجو هماله په سفارت کې پاته شوو. په دې ټوله موده کې هانس د تړلو دروازو تر شا په کار بوخت وو. یوازې مې دوه ځله ولید؛ یو د غرمنی خوړلو او بل پر یوه ځوکی د ارام کولو پر وخت.

څه کم ځلور بجې د هانس د کوټې بنده دروازه بېرته شوه او انجیلا ترې راوونه. ترې ومې پوښتل:

- ته هم دلته وې؟

ځواب یې راکړ:

- له ډېر وخت راهیسې. تر هانس لا یو ساعت مخکې. ته راته وګوره ځومره ستړې یم.

موږ په همدې خبرو کې وو چې سالون ته یو د منځنۍ ونې ځښتن سړی په تلوار او منډه رانتووت. یو تور بیک او یوه مېرمن ورسره وه، موږ ته له پاملرنې پرته د هانس په کوټه ننووت. له انجیلا څخه مې یې په اړه پوښتنه وکړه، هغې راته وویل چې دا یو مامور دی، په بغداد کې اوسي او کله ناکله تهران ته راځي.

نور یې څه ونه ویل. ما هم سر په ونه ګرځاوه... پنځه دقیقې وروسته هغه سړی بېرته راووت او په هماغسې تلوار ورک شو. له دې سره جوخت هانس زه ورروغوښتم. پر مېز یو خلاص تور چرمي بیک پروت وو. له هغه یې یو سپین پاکټ راوایست. د پاکټ څلور واړه ګوټونه او منځ لاک و مهر ول. ما ته یې راکړ او ویې ویل:

- دغه پاکټ باید اوپنهایم ته ورسېږي. سترګې پر لار دی!

نور یې څه ونه ویل. د پاکټ دننه شیانو په باره کې یې هم مالومات نه راکړل. ما ترې وپوښتل:

- چیرې باید ورسره ووینم؟

هانس د مېز له شا راولاړ شو او ویې ویل:

- تر فردوسي میدان پورې دې زه هم ملګری یم. پر لارې به موقعیت وټاکو.

له کوټې تر وتلو وروسته یې انجیلا ته وویل:

- ته همدلته اوسه...

موټر چې مو د سفارت له دروازې ووت، هانس راته وویل:

- اووه بجې بېرته سفارت ته راشه. زه همدلته یم.

- تر هغه وخته خو ډېر وخت پاته دی.

- فکر نه کوم اوپنهایم دې د پاکټ تر اخیستلو سملاسي وروسته راخوشي کړي، مګر که بیا هم وزګار شوې، نو یوه شمېره درکوم پر هغې زنګ راووهه.

شمېره یې راکړه او راته ویې ویل چې غوږېږورته کوونکي ته ځان په پرستو ورو پېژنه. موټر مې ډېر تېز چلاوه. خورا ژر فردوسي میدان ته ورسېدو. هانس مې د یاد میدان جنوب لوېدېځې خوا ته کښته کړ او زه پر شاهرضا واټ روان شوم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دولت دروازې ته له رسېدو سره سم د څلورلارې ترافیکو په لاس د درېدو اشاره راکړه. ټېنګ بریک مې وواهه. د شا له خوا دوه موټران راپسې ول. راغلل دوو اړخونو ته مې ودرېدل. زما ټول پام ترافیک ته وو. په همدې وخت کې مې ښی لاس ته د ولاړ موټر دروازه ډېره ټېنګه خلاصه او بېرته وتړل شوه. ما چې تر څو مخ ور اړاوه او په کېسه مې سر خلاصاوه، وخته مې موټر ته یو سړی او یوه ښځه راپورته شوې ول. ښخه مې څنګ ته او سړی مې شا ته کېښناست. ښځې مې پر تشې توپنچه راونیوله. له دې سره مې خوله پټه او په ملا کې مې یوه نری وربښکه/څانګه وخغلېده.

هغوی دومره ګړندي راباندې راغلل چې هېڅ مې سر نشو خلاص. په دغسې بېړنیو حالاتو کې پر خان کابو ساتل ډېرې ارزښت لري او ډماغي خواک غواړي. د موټر دننه یوه ترهوونکې چوپتیا واکمنه وه. که ووایم چې ورځ اوبو راخخه وړې وو. نو درواغ به مې نه وي ویلي. د داسې یوې لارې په لټه وم چې لږ تر لږه د هغوی د دې ناخاپي او غیرمنتظره عمل لامل مالوم کړای شم.

لار خلاصه شوه او ما له روانېدو پرته بله چاره نه لرله. موټر مې چالان کړ او په خلورلارې کې تېر شوم. څو متره ها پلو مې موټر سړک څنډې ته ودرولو کړ. نیت مې وو چې ویې دروم. هغې د تورو وېښتانو څښتنې مېرمنې توپنچه پر تشې راټینګه کړه او په درنه فارسي یې رانه وویل:

- ونه درېږې. همداسې سیده درځه!

اوس بېرته پر اعصابو لږ واکمن شوی وم. ترې ومې پوښتل:

- ایا پوښتلای شم چې زما سره مو څه کار دی؟

شا ته ناست سړي په فارسي ځواب راکړ:

- ودرېږه اوسه. وزنو دې نه!

بیا مې وپوښتل:

- نو څه غواړئ؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دا مکالمه مو له دولت دروازې څخه تر شمیران پېچومي پورې پر لارې سره وکړه. د شمیران واټ په پیل کې مې یودم موټر د سړک راسته طرف ته کړ، ټینګ بریک مې ونیو او ومې ویل:

- اوس راته ووایاست چې زما څخه څښې غواړئ؟

په دې ټول وخت کې مې حواس په هغه چرمي بیک کې ول چې د سترګو له کونجو مې ورته کتل. ښځې بد-بد راته وکتل، خپلې توپنچې ته یې اشاره وکړه او ویې ویل:

- داسې یوه توپنچه به حتماً ستا سره هم وي!

سره له دې چې په مطلب یې وپوهېدم، بیا مې هم ترې وپوښتل:

- موخه دې څه ده؟

هغې په هماغه تونده او څپونکې لهجه راته وویل:

- زما په موخه پوهېدلو ته اړتیا نشته. صرف غوښتل مې سر درخلاص کړم چې دا یوه بې ږغه توپنچه ده. دومره بې ږغه چې که دې اوس دلته وولم، نو ستا شا ته ناست زما ملګری به یې لا د ډزې اواز وانه وري.

- ښه، نو غواړې ومې وژنې؟

- نه، بالکل نه. مګر که سرغړونه وکړې او زموږ خبرو ته غوږ ونه نیسې، نو یوازې یوه مرمۍ درباندې مصرفوم بس خلاص.

ګوابښ یې دومره ربښتینی او سخت وو چې له غاړې اینبودلو پرته مې بله هیڅ چاره ونه لیدله. په دې مې هم سر خلاص شوی وو چې هیڅ ډول تلاښ خلاصون نشي رابخښلای... بغل او شا ته مې دوه وسله وال کسان ناست ول. د دواړو له چلنده څرګنده وه چې هم ما غواړي او هم هغه چرمي بیک. سړي راته وویل:

- ژر کوه، ته او موږ دواړه باید چابک خپل منزل ته ځانونه ورسوو!

ما ښځې ته وکتل او ځنې ومې پوښتل:

- امر دې وایه، څه وکړم؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغې هغه چرمي بیک خپل ملګرې ته ور واړاوه او بیا یې ما ته وویل:

- زموږ هدف په دغه بیک کې پروت پاکټ دی او څو دقیقې وروسته به یې بېرته درکړو. اوس خو دې سر خلاص شو چې نه تا وژنو، نه دا پاکټ درڅخه وړو.

دا حدس مې وهلی وو او کله چې هغې خپل ملګرې ته بیک ورکړ، زما سترګو ته د اوپنهایم او هانس څېرې ودرېدې. هغه دوې خښمګینې څېرې چې یوه ذره رحم او زړه‌سوی یې نه پېژاند. ښځې بیا خپلې توپنچې ته اشاره وکړه او ویې ویل:

- درځه!

- چېرې؟ پر همدې سړک؟

- هو، ته پر همدې سړک در روان شه، وروسته زه لار درښیم.

موټر مې چالان کړ. په وجود مې وېره ګډه وه. پر ځان نه ډارېدم، ځکه ډاډه وم چې وژني مې نه او بوازنی هدف یې هغه پاکټ دی.

د ښځې په امر مې موټر په شېبه کې روان کړی وو. یو وخت چې مې د تندې په هنداره کې شا ته وکتل، هغه سړی مې ولید چې څوړند سر ناست او چابک-چابک په یو کار اخته دی.

ښځې د موټر د لا چټکولو امر راته وکړ. د ضرابخانې دوه‌لارې ته له رسېدو سره سم یې ښی خوا ته د تاوېدو اشاره راته وکړه. اوس سلطنت اباد ته پر غځېدلي سړک روان وو. هر څو شېبې مې د تندې په هنداره کې شا ته کتل او غوښتل مې د شا نه ناست سړي حال واخلم چې په پاکټ څه کوي. یو وخت یې یوه کوچنی کامره راوایسته او ژر-ژر یې د پاکټ له اسنادو څخه عکسونه واخیستل. سلطنت اباد ته نژدې ښځې له خپل ملګري څخه په انګلیسي وپوښتل:

-کار خلاص شو؟

هغه په داسې حال کې چې سر یې څوړند نیولی وو، وویل:

- هو، کار خلاص شو. اوس کولای شو بېرته خپل موټر ته واوړو. راپسې دی.

ښځې په شاتنۍ هنداره کې شا ته وکتل او ما هم په هنداره کې یو ګړندی موټر ولید چې ورو-ورو رانژدې کېدی. وروسته ښځې ما ته مخ کړ او ویې ویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- همدلته ودرېږه!

ما چابک موټر د سړک راسته خوا ته واړاوه او ودرېدم. لنډه شېبه وروسته هغه تر شا راپسې موټر هم بریک وواهه. بېله خنډه یې دروازه خلاصه شوه او یو سړی ترې راکښته شو. د قدمونو ښکالو یې رانژدې شوه. راغی د ښځې د خوا دروازه یې پرانیسته. په لیدلو مې یې تکان وخوړ. هغه لودویک وو؛ هماغه کشیش چې په کوټه کې څنې بېل شوی وم. اوس دا دی مخامخ راته ولاړ وو او راته کتل یې. د حال په ژبه یې ډېر څه راته ویل. ورو یې سر وښوراوه او په دې ډول یې وپوهولم چې د کوټې د پېښې غږ یې ګواکې دا دی بالاخره راڅخه واخیست. وروسته یې هغې ښځې ته وکتل او ترې وېې پوښتل:

-کار وشو؟

زما شا ته ناست سړي ورسره چرمي بیک زما بغل ته راوغورځاوه، خپله سملاسې کښته شو او وېې ویل:

- په بریالیتوب سره وشو. اوس درځئ چې ځو!

ښځې بیک ته په اشاره راته وویل:

- وینې ته، بیک او دننه پکې پروت پاکټ درې واړه جوړ و روغ یاست او اوس کولای شې چې همداسې سهي سلامت او په ډاډ سره د ښاغلي اوپنهایم لیدلو ته ورشې. نوموړی د لاک او مهر پاکټ ترلاسه کولو ته سترګې پر لار دی.

وروسته له موټره کوزه شوه. لودویک او هغه بل سړی د خپل ګاډي خوا ته ستانه شول. ښځه یو څو شېبې ولاړه وه، بیا یې راته وویل:

- ډاډه یم چې بیا به هم سره وینو. او ګوره هېر دې نشي چې زموږ ټولو توپنچې بې ډزغه دي. نو ستا خیر په دې کې دی چې زموږ دغه ناڅاپي لیدنه یومخ هېره کړې. ایا هغه ښځه دې په یاد ده چې همدلته نژدې ووژل شوه؟ اوس چې د دې قتل دوسیه ترل شوې او وارنر نیول شوی دی، نو غواړم درته ووایم چې هغه وارنر ووژله. دا یې لومړی کار وو او هېر مو کړ، خو دوهم کار یې بانې زموږ لپاره خدمتونه، هغه به یې هېڅکله هېر نه کړو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په خواب کې مې ورته وویل:

- او تاسې باید یاد ولرئ چې زه وارنر نه، بلکې یو قاچاقبر وم او لا هم یم. هیله ده د دې تورو په مانا دې سر خلاص شوی وي.

هغې مانداره خندا وکړه او ویې ویل:

- خیر، ته په همدې سوچونو کې اوسه... خدای پامان!

د هغوی موټر پر راغلې لار بېرته ولاړ. یوازې شوم. سګرېټ مې ولګاوه. غوښتل مې په دې ډول پاشلې فکرونه سره راغونډ کړم... پر هغه چرمي بیک مې سترګې ولګېدې. خلاص مې کړ او پاکټ مې ترې راوایست. لاک و مهر یې جوړ ول. لاندې باندې مې په خیر-خیر وکوت د خلاصېدو هېڅ نښه مې پر ونه لیده. حیرانوونکې وه چې د متقفینو هغه جاسوس یې خنګه له دننه پرتو موادو څخه عکسونه اخیستي ول. له ځان سره مې وویل:

- شک نشته چې تر تصور لوړ مهارت یې کارولی دی!

سګرېټ مې نیمايي ته رسېدلی وو. روان شوم. موټر مې تېز څغلاوه چې ژر تر ژره ناپرانیستي پاکټ اوپنهایم ته ور ورسوم. ډاډه وم چې نوموړی به یوه ذره شک هم پر ونه کړي.

په عین حال کې مې هغې مېرمنې او لودویک ته هم له ډېرې غوسې اینه او سړي ایښېدل. پوهېدم چې ژر یا وروسته به بیا راباندې راګرځي او د دغه کار په بدل کې به مې لکه وارنر، خپل خدمت ته مجبوروي. د مېرمنې وروستی جملې مې په غوږونو کې ازانګې کولې: *(خیر، ته په همدې سوچونو کې اوسه!)*

مګر ما هم لنډه ورخلاصه کړې وه چې زه وارنر نه، بلکې یو قاچاقبر یم... له ځان سره مې وویل:

- زه باید هغوی ته عملاً دا وروښیم چې زما په پېژندلو کې یې اشتباه کړې ده!

یو شی چې ما یې تصور نه وو کړی، له لودویک سره مخامخېدنه وه هغه هم په داسې ډول. نوموړي په دې سره رانه وښوده چې تر اوسه راپسې څارو وو. شونډې مې موسکې شوې. د دې موسکا سرچینه کینه او نفرت وو. دغې پېښې مې د

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سوری راخلاص کړ او د لودویک او هغې ښځې په اړه مې د یوه ځانګړي پلان جوړولو اراده وکړه.

د مازیګر لس باندې پنځه بجې وې چې د جرمني سفارت اړوند بڼ ته مې موټر ورننه‌ایست. د یو څو ولاړو موټرانو شا ته مې بریک وواهه. بېله خنده کښته شوم او په تلوار او لنډو ګامونو په زینو کې وختلم.

بڼ په یوه درنه چوپتیا کې ډوب وو. د اوپنهایم تر کوټې پورې مې له څوکیدار پرته بل هېڅوک په سترګه نشو. ان د ودانۍ دالېز هم تش تور وو. د اوپنهایم لنډمهالي دفتر ته چې ورننوتم، نوموړي قدم واهه او شا یې زما خوا ته وه. زما په لیدو یې په نیمه غوسه انداز راڅخه وپوښتل:

- چېرې وې؟ له ښاره تر دې ځایه صرف پنځلس دقیقې لار ده!

په سړه سینه مې ځواب ورکړ:

- بالکل، باید وختي رارسېدلی وای، خو د موټر بې‌وخته خرابی وځنډولم.

نور یې څه ونه ویل. چرمي بیک مې وروسپاره او تري ومې پوښتل:

- زه مو په کار یم؟

راته کړل یې:

- اوس ورشه او په هغه مخامخ کوټه کې لږ ارام وکړه. که اړتیا شوه، ږغ درباندې کوم.

له دفتره یې راووتم او په مخامخ کوټه ننوتم. د کوټې په منځ کې یو ګیردی ښیښه‌یي مېز پروت وو. چارچاپېره چرمي کوچونه پر راخرخېدلي ول. کښېناستم او سګرېټ مې ولګاوه. سره له دې چې د پاکټ پر خوندیتوب بېغې ډاډه وم، بیا هم لږ اندېښمن وم چې هسې نه د اوپنهایم سر په خلاص شي. هغه یو ځیرک او هوښیار سړی وو. تر هانس او نورو ورته کسانو یې تجربه، مطالعه او مشاهده پراخه وه.

ما خپله خو چې هر څه وکتل پر پاکټ مې د هغه جاسوس له خوا د لاسوهنې یوه ذره اثر هم ونه موند. مګر اوپنهایم زه نه وم. هغه پر دې سربېره چې یو لرغونپوه

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وو. په خپل نوي مسلک باني په ایران کې د جرمني خارګریزي شبکې مشرتوب په چارو کې یې هم پوره-پوره لاسبری درلود.

وخت ډېر ورو روان وو. زه په یو عالم نارامیو او اندېښنو کې ډوب وم. هره شېبه مې د هغه له خوا د احضارولو تمه لرله. پنځه نیمې، شپږ او شپږ نیمې بجې شوې. ما لا هم په موقت زندان کې اړولې ول او پرله پسې سګرېټ مې څکول. پر پنځه ویشت کم اووه بجې د کوټې دروازه خلاصه شوه او اوپنهایم راننووت. چابک ورته پاڅېدم. هغه راوړاندې شو او ویې ویل:

- ډېره منته. ایا هانس درته ویلي دي چې نن شپه یو ماموریت لرې؟

- هو. تاکلې ده پر اووه بجې په سفارت کې ورسره ووینم.

- باني تر اوسه یې د دې مهم ماموریت جزیات نه دي درته ویلي؟

- نه، خو خو دقیقې وروسته به ترې خبر شم.

اوپنهایم سګرېټ راته ونیو او ویې ویل:

- زمونږ سره ستا د ملګرتیا په دې لنډه موده کې دې فعالیتونه ستایلووړ دي او هیله ده د جنګ تر پایه همداسې تکړه پاته شې. دا ګړی مې نور نه یې په کار او کولای شې هانس ته ورستون شې. هېره دې نه وي چې د نن شپې ماموریت دې ډېرخې مهم دی.

مخه ښه مې ورسره وکړه. په یوه منډه مې ځان موټر ته ورساوه او همداسې په تلوار له بنې څخه راووتم. څه باندې اووه بجې د هانس په دفتر کې وم. د څو ساعته مخکې ماموریت په باب یې ونه پوښتلم. ښله خنده یې له شا ته پرتې یوې اوسپنیزې الماری څخه یوه شین رنګه دوسیه راوایسته، پر مېز یې کېښېښوده او ما ته یې خپل اړخ ته د کښېناستو اشاره وکړه. د دوسیې لومړی پاڼه د یوې مېرمنې نیمکښ[1] عکس وو چې اوږده وېښتان یې لرل، لنډ لستوڼوالا سپین کمیس یې اغوستی وو او لاندې ورته لیکلي ول: (شاپو خولی).

---

1 نیمرخ.

هانس وویل:

- دې ته عکس ښه په خیر وګوره. دومره چې ان بیا یې په پټو سترګو هم وپېژندلای شې! تري ومې پوښتل:

- دا تر عکس لاندې شاپو خولې څه مانا؟

- دا د دغې مېرمنې نوم دی او په خپل سازمان کې په همدې نامه يادېږي.

تر يوې لنډې دمې وروسته يې زياته کړه:

- ټول ژوندلیک یې په دغه شل مخیزه دوسیه کې لیکلی دی. نور عکسونه یې هم شته. زما په اند پر لوستلو یې وخت ضایع کولو ته اړتیا نشته، زه به یې لنډ درته بیان کړم.

وروسته يې سګرېټ ولګاوه او ويې ويل:

- *شاپو خولې* د متفقينو جاسوسي سازمان ته پر خپلو ټولو لېږل کېدونکو راپوروتو ۷۵ شمېره وهي. دا يې دوهم مستعار نوم دی، مګر په مېلمستياوو او نورو ورته عامه ځايونو کې يې بيا نوم کريستين دی.

دا درې نومه والا ښځه اصلاً د هنګري ده. ياد هيواد چې زموږ ځواکونو ونيو دا جرمني ته ولاړه، له هغه ځايه پټه فرانسې ته ور واوښته او بيا پسې انګلستان ته ولاړه.

ما وويل:

- دلته نو ستاسې خارګره شبکه ملامته ده چې ولې يې په جرمني کې نه نيوله.

هانس ځواب راکړ:

- کريستين يوه قاتله او خطرناکه جنايتکاره نه وه چې په اسانۍ نيول شوې وای، بلکې يوه ډېره تکړه جاسوسه وه چې پر هنګري د جرمني تر بريد يو کال وړاندې يې د متفقينو له جاسوسي سازمان سره کار پيل کړی وو. بل دا چې په يادو دريو هيوادونو کې د نوموړې سفر دومره ښکاره و عادي نه وو چې په يوه اسانه نيول شوې وای، بلکې داسې پټه تېره شوه چې زموږ شبکه بېخي په پوه هم نشوه. همدارنګه هره شبکه همېشه د خپلو شته وسايلو څخه په کاراخيستنه د دوښمن پر خاوره د هغو مامورانو خلاصون ته لومړيتوب ورکوي چې ژوند يې له ګواښ سره مخ وي. په دې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

منخ کې یې بودم فکر کېږي چې یو بل مهم مخالف جاسوس وخته لا تر پولې خنې اوښتی دی او نور یې لاس نه ور رسېږي. دغسې پېښې تېښتېدنې نهایت زیات ګړندیتوب او چالاکي غواړي. دغه‌راز باید د تېښتېدلې کریستین...

تر لنډ خنډ وروسته یې ادامه ورکړه:

- مطلب مې دا دی چې باید ډېر ژر مو نوموړې پل پیدا کړی وای. مګر داسې وخت په خبر شوو چې سلګونه کېلومتره راخخه لیرې شوې وه او خارنې یې زیات وخت غوښت. یوازې یو خل لږ ورنژدې شوو. خبر راغی چې کریستین په وارسا کې په یوه درې پوړیزه ودانی کې ده. کور مو تر خار لاندې ونیو او راوتلو ته یې سترګې پر لار شوو. همدغه شېبه بل خبر را ورسېد چې هغه په دوسلډورف کې لیدل شوې ده. دا یو حیرانوونکی خبر وو. خو وروسته بیا څېړنو وښوده چې ښکار د هغه کور تر محاصرې وړاندې تېښتېدلی وو.

زه سر تر پښو غوږ-غوږ وم. کرار مې په پزه کې وخندل او ومې ویل:

- او اوس غواړئ چې ستاسې له مکملې جاسوسي شبکې څخه تېښتېدلې دا ښځه زه په یوازې ځان هغه هم د ډېرو کمو مالوماتو په لرلو سره په لومه کې بنده کړم؟! نه ښاغلې هانس، که زما منې نو د دې کار لپاره خپل یو بل باتجربه او تکړه مامور وګومارئ، ځکه زما تر وس لوړ ښکاري.

هانس بد-بد راته وکتل او ویې ویل:

- نه ما انتخاب کړی یې او باید دا ماموریت نه مخته بوزې. ان که ماته پکې وخورې هم پروا نه لرې... تهران نه د کریستین راتګ د بدخونده ماضي د جبرانولو یو ښه فرصت دی.

- حتا زما د سر په بیه هم؟

- دلته د سر ورکولو یا اخیستلو بحث له سره مطرح نه دی. کریستین با شاپو خولی د تېښتې یا ځان خلاصولو پر وخت وسله نه کاروي، بلکې له نورو ځانګړو نګلارو کار اخلي او دا په جاسوسي عملیاتو کې خاص د دغې مېرمنې یو منحصر بفرد

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مهارت دی. انسان ګوته په غاښ ورته پاتېږي. دا کار دې ته هم طبعاً ډېر خوند ورکوي.

هانس د دغو کلیمو د ادا کولو پر مهال زما سترګو ته ښغ‌ښغ کتل. په اخیر کې یې راځخه وپوښتل:

- تر دې ځایه خو به کوم سوال نه لرې؟

- نه!

بیا یې په دوسیه کې سترګې ښخې کړې. کرار یې پاڼه ورواړوله. پر دوهمه پاڼه یو بل عکس وو: یوه د تورو وېښتانو ځښتنه مېرمن لیدل کېده. هانس وپوښتل:

- دا پېژنې؟ ځواب مې ورکړ:

- کریستین ده. وېښتان یې رنګ کړي دي چې ونه پېژندل شي.

پر دریمه پاڼه یې دریم عکس راواړاوه او ویې ویل:

- دلته یې بیا بله څېره اخیستې ده. وګوره د کینې بارخو تپ یې بېخي ښکاري نه. دا بدلون یې په قاهره کې د جراحي عملیاتو په برکت په ځان کې راوستلی دی. سره له دې چې دې کار یې د ښکلا رڼا لږ ورته کړې ده، مګر بیا هم د ښایسته ښځو له کتاره نه ده وتلې.

په څلورم عکس کې د مخکنیو دریو خلاف، مکمله ښکارېده. په یوه شپني مېلمستیا کې اخیستل شوی وو. اړخ ته یې بله ښځه هم لیدل کېده چې لنډه لمن یې اغوستې وه. دوی دواړې ظاهراً له یو او بله پردی ښکارېدې، مګر هغه ما وپېژندله. دا هماغه مېرمن وه چې د همدې ورځې په غرمه مې په زوره موټر ته راوختله او د توپنچې په زور یې د پاکټ له اسنادو څخه عکسونه واخیستل. له هانس څخه مې وپوښتل:

- دغه د کریستین بغل ته ولاړه ښځه څوک ده؟ ځواب یې راکړ:

- له شک پرته د همدې محفل یوه برخه‌واله ده. دا عکس د قاهرې په سمیرامیس هوټل کې د یوې ډېرې څواکمنې کامرې په مرسته له شل متره فاصلې څخه اخیستل شوی دی...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ما د خپلې دادمنتیا لپاره بیا وپوښتل:

- نو دا ښځه له *شاپو خولی* سره نه پېژنې؟

- نه، زموږ د عکس‌اخیستونکي مامور هدف کریستین وه او دا بله ښځه تصادفي پکې راغلې ده. وینې چې له کریستین سره بېخې نژدې ناسته ده.

د هانس خواب وپوهولم چې د جرمنیانو جاسوسي ضد سازمان لا هم دغه ښځه نه پېژني... یانې هغه داګړی په بېغمه زړه په تهران کې په خپل کار اخته ده. زه دې ته حیران وم چې د متفقینو په جاسوسي کړښو کې هغه جرمني نفوذي جاسوس چې وارنر یې رسوا کړ، څنګه تر دې ګړیه دغه ښځه نه ده پېژندلې؟

دا خبر مې له خپل خان سره د یوه امانت په توګه وساته تر څو د خپلې پرېکړې له مخې یې شخصاً له لودویک سره یوځای سابه ورپه مالګه کړم.

هانس دوسیه وتړله او ویې ویل:

- *شاپو خولی* هېڅکله شرابو ته شونډې نه وروړي او یوازې معدني اوبه څښي. سګرېټ هم په داسې یوه لېتر لګوي چې په اصل کې دوه کاره کوي؛ هم توپنچه ده او هم یوه خورا قوي کامره. او هېڅکله دغه لېتر له لاسه نه لیرې کوي. ان په رستوران کې یې هم یا په لاس کې وي یا د مېز پر سر لوبې په کوي.

ترې ومې پوښتل:

- ایا تاسې غواړئ چې زه کریستین لاس‌ترلې دروسپارم؟

هانس بېله خندې راغبرګه کړه:

- همدومره کافي ده چې انډیوالي ورسره واچوې او خان د یوه عادي کس په توګه پر تبر کړې. نورې لارښوونې به بیا وروسته درته وکړو. بل دې دا هم ستا په یاد وي چې موږ نه غواړو هغه ووژنو، څکه که داسې کوم پلان مو لرلای، بیا مو ډېر وختې پښې پر سر وراړولې. د بېلګې په توګه په هماغه شپني محفل کې چې هغه عکسونه مو څنې واخیستل. خو موږ ته د دې ژوندي نیول تر هر څه مهم دي.

هانس ادامه ورکړه:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- اوس به دې یو څه تفصیلي سر درخلاص کړم؛ دوې میاشتې مخکې د یوې بم‌غورځوونکې الوتکې نقشه چې پټ کار پر روان وو، د انګلستان هوایي ځواکونو نه په لاس ورغله. په برلین کې زموږ څېړنو وښوده چې دغه نقشه یوه انجنیر کریستین نه ورکړې وه، مګر دغه انجنیر موږ تر اوسه نه پېژنو او د غلاوو لړۍ یې لا همداسې روانه ده. اوس غواړو *شاپور خولی* ونیسو او په یو نه یو ډول دغه مالومات ځنې راوباسو.

کله چې د *شاپور خولی* اړوند د هانس خبرې دې ځای ته ورسېدې، ما وویل:

- یوه ډېره مهمه موضوع درڅخه هېره شوه!

هانس سملاسي او په توندۍ وپوښتل:

- کومه موضوع، ستا که د کریستین په اړه؟ ځواب مې ورکړ:

- زموږ دواړو په اړه؛ هغه دا چې په کومه وسیله باید ورسره وپېژنم او له کومه ځایه یې راپیل کړم؟

هانس وخندل او ویې ویل:

- دا پوښتنه به دې هله پرځای وای چې زه هم ستا سره یوځای له دې ځلوردېوالۍ څخه وتلای او په دې ماموریت کې مې عملي لار درښودلای.

- خو ما داسې فکر کاوه چې نور خبرې خلاصې دي او باید ماموریت راپیل کړم.

- نه، داسې نه ده... سر له همدې ګړیه ته یو هندی مسلمان یې. د دغې پېژندنې اسناد دې هم تیار دي او اوس به یې دروسپارم.

بیا یې د مېز جعبه راکش کړه، یو پاسپورټ یې ترې راوایست، رایې کړ او ویې ویل:

- د دې ماموریت تر پایه پورې دې د دغه پاسپورټ له مخې نوم صدرالدین دی. ملیت دې ځکه بدل شوی چې ته په انګلیسي او اردو روانې خبرې کولای او خورا اسانه د کریستین باور خان ته ورماتولای شې.

پاسپورټ مې پرانیست. د لویدیځې اروپا او منځنۍ ختیځ د څو هېوادونو د ویزو په لیدلو خندا واخیستم. هانس هم وخندل او ویې ویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- دا وېزې اړينې وې او په تېره په راتلونکو احتمالي پېښو کې په درد خوړل کېږي. ځکه زه داده يم چې بيک او نور سامانونه به دې حتماً تلاشي کېږي، نو بايد يوه ذره شک هم درباندې پيدا نشي. اوس دې د خپل خان په باب ځينو لارښوونو ته پام راواړاوه؛ دا ماموريت له يوې مېلمستيا څخه پيلېږي.

په خبرو کې ور ولوېدم او ورته ومې ويل:

- دا لومړی قدم يې لږ سخت ښکاري، ځکه کوربه به هم خامخا نابلده وي.

اوريځې يې پورته کش کړې او ويې ويل:

- دغه ټکي ته حساب شوی او د اندېښنې وړ نه دی... همدا له کريستين سره د تار ځغلولو تر ټولو ښه موقع ده او که مو له لاسه ووتله بل داسې له شکونو خلاص فرصت بيخي کم پيدا کېږي او يا ممکن هېڅکله پيدا نشي. له نوموړې سره بايد په يوه ارام چاپېريال کې شناخت جوړ کړل شي هغه هم په داسې ډول چې سل سلنه تصادف ښکاري.

تر يوه لنډکي ځنډ وروسته يې ادامه ورکړه:

- کوربه او مېرمن يې زموږ له ملګرو څخه دي. ايا اوس هم اندېښمن يې؟

خواب مې ورکړ:

- نه، بالکل نه همدا مې يوازنۍ اندېښنه وه چې هواره شوه.

- ښاغلی او اغلې سالاران د نن شپې مېلمستيا د يوه هندي شرکت د مدير په وياړ جوړه کړې ده چې تازه-تازه له بمبي څخه تهران ته راغلی دی. هلته ستا له ورنګ سره سم به ياده جوړه مخې ته درته راشي، د خندا په حال کې به ستا دواړو اړخونو ته ودرېږي او په اردو به درته ووايي: *(ستا په سلامتۍ جام تشولو ته په تمه يو!)* هغوی به په دې شفر تا ته خان درمعرفي کړي او ستا و کريستين شناخت به هم مېرمن سالاران جوړ کړي. د نوموړې مېړه تا ډېر ښه پېژني.

هانس زياته کړه:

- دواړو ته اړینې لارښوونې شوې دي او د اندېښنې هېڅ خبره نشته او په بېغمه زړه خپل کار ته ادامه ورکړه. داده بېم چې کریستېن به تر اندیوالی وروسته هېڅکله له لاسه ورنه کړي.

ترې ومې پوښتل:

- ایا د هغې د پوښتنو ځوابونه مو سنجولي دي؟

- نه، یوازې مو ستا دنده سنجولې ده، نور دې کار خپل دی. ته په کلکته کې د چایو د یوه صادراتي شرکت څښتن یې او که کریستېن د خپلې شبکې په مرسته په دې اړه څېړنه هم وکړي، نو شی به په لاس ورنشي، ځکه وخته مو یې چاره کړې ده. هغه داسې چې په همدې نامه او شغل بو کس همدا اوس-اوس د سویس په یوه روغتون کې بستر دی او ستا د ماموریت تر پایه به له یاد هېواده د وتلو اجازه ورنه کړل شي.

زیاته یې کړه:

- په فردوسي هوټل کې مو یوه کوټه درته نیولې ده او چې هر وخت دې زړه وو. ورشه! ترې ومې پوښتل:

- ایا د دې ماموریت په اوږدو کې زه و ته سره لیدلای شو؟

- یوازې هله سره لیدلای شو چې ما ته اړینه ښکاره شي. هغه هم صرف و صرف د نویو لارښوونو لپاره. له دې پرته نشو سره لیدلای. داسې وانګېره لکه زه چې په تهران کې بېخي یم نه او دا ماموریت مې له انقرې څخه د تلګراف له لارې درسپارلی دی. په هر صورت، هر څه باید په یوازې ځان مخته بوزې او د وېرې و دار کوم دلیل هم نشته. زموږ یوازنی هدف د کریستېن یا *شاپو خولی* په نامه مېرمنې راایسارول دي، بل هېڅ شی نه درڅخه غواړو.

ساعت ته مې وکتل او ومې ویل:

- د تګ وخت نژدې دی، بله خبره خو به نه لرې؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هانس لکه یو شی چې ورياد شوی وي، په توندی یې وویل:

- هو ربښتیا، زما و ستا د اړیکو نیولو وسیله. لکه مخکې چې مې درنه وویل صرف د سختې اړتیا پر وخت سره وینو. خو اړیکې بیا هم باید سره ولرو او دا کار به د یوه خیرن سوالگر په وسیله تر سره کیږي. هغه هره ورځ د سهار له اوو څخه تر نهو پورې د برلین کوڅې په خوله کې لوېديځ دېوال ته د برېښنايي څراغ تر پايې لاندې کښېني. ظاهراً سوالگر دی. مگر په حقیقت کې ستا په تمه دی تر څو زما لپاره یو لیک یا خبر وروسپاري او یا هم سرچپه. له هغه سره د راکړې-ورکړې ډول او څرنگوالی په تا اړه لري.

هانس پاڅېد، د دروازې خوا ته روان شو، خلاصه یې کړه او یوه کس ته یې د رانوتلو اشاره وکړه... شېبه وروسته د سوالگری په جامو کې یو کس رانبکاره شو. زه ولاړ شوم او وراندې ورغلم... هانس راته مخ کړ او ویې ویل:

- زما و ستا رابط دغه کس دی. څېره یې ښه په یاد کړه، ځکه د ده مخ ته ستا درېدنه ډېره لنډه او فقط د یوې سکې ورکولو په اندازه ده.

د سړي څېرې ته چې میده-میده ږیره یې لرله، خیر شوم. غوښتل مې تر شا ولاړ شخصیت یې څه ناڅه وپېژنم، مگر بریالی نشوم. منتظر وم چې هانس ورسره ورغږېږي او زه یې له لهجې د ملیت پته ولگوم. له بده مرغه څه یې سره ونه ویل. هغه خیرن سړی لکه گونگی چې وي پر ځای میخ او چوپ ولاړ وو. هانس هغه رخصت کړ او ما ته یې وویل:

- ډېر-ډېر باید بیدار واوسې، کریستین یوه عادي ښځه نه، بلکې بېحده څیرکه او نکره ده. نومورې ستا سره د مخامخېدو پر وخت تا ته په یوه بله سترگه گوري. که څه هم ستا د شخصیت او هویت ټول اړخونه مو سنجولي او په بیکونو کې دې له دغه پاسپورټ پرته بل هیڅ سند نشته، مگر بیا هم باید گام پر گام احتیاط وکړې.

زموږ مکالمه همدلته ختمه شوه او هانس په داسې حال کې چې د مخه‌ښې نیت یې زما لاس راکښېکښود، وویل:

- د بریا په هیله دې ښاغلی صدرالدین. لاندې ولاړ موټر ستا په خدمت کې دی!

د هانس له دفتره راووتم... د ودانۍ مخې ته یو سړی ورانديې راغی او د یوه ډېر لوکس موټر کیلي یې راکړه. د جرمني له سفارته هم رابهر شوم او دا چې وخت زیات وو، نو سیده فردوسي هوټل یا خپل نوي استوګنځای ته ولاړم.

زما په نوم ثبت خونه کې درې لوی بیکونه پراته ول. پر هر یوه یې کیلي هم خړېده.یو مې یې پرانیست. حیران وم چې هانس په دې دومره کم وخت کې دا دومره سامانونه له کومه کړي ول. دوهم بیک هم له جامو او نورو اړینو وسایلو چې زما غوندې کس اړتیا ورته لرله، ډک وو. پر دې سربېره په یوه فایل کې د ماشین الاتو یو شمېر پاڼې هم پرتې وې. ورته سودا مې شوه، چابک-چابک مې خو پاڼې وکتلې. له یوې سویسی کمپنی څخه د چایو وچولو د ماشینونو رانیولو په اړه مطالب پکې لیکلي ول. بیکونه مې بېرته وتړل او له کوټې څخه راووتم. له هوټل څخه د وتلو پر وخت مې پاسپورټ د هوټل دفتر ته ورکړ.

د سالارانو کور چې مېلمستیا پکې رابلل شوې وه، په تجربش کې له رضایه تمځای سره نژدې پروت وو. زنګ مې ور وکړنګاوه، څو شیبې وروسته یوه ځوان خدمتګار دروازه راته پرانیسته او دننه یې وروبللم. د هغه په لارښوونه په یوه دالېز کې تېر او یوې باغچې یانې د هرکلي ځای ته ولاړم.

پر لومړۍ زینه له قدم ایښودلو سره سم یوه نسبتاً ځوانه جوړې د مېلمنو له ټولې ډلې ورته راښکاره شوه. هغوی اغلي او اغلی سالاران ول چې *(ستا په سلامتی جام تشولو نه په تمه یو!)* په شفر ویلو یې خان راوپېژاند. زما ښکار کریستېن یا *شاپو خولی* لا نه وه راغلی. ښاغلي سالاران په یوه ګوټ کې ولاړ بار ته بوتلم، یو ګیلاس جوس یې راکړ او ویې ویل:

- هغه لا نه ده راغلې، خو څو دقیقې وروسته به راپیدا شي. ډېر احتیاط کوه. سره له دې چې ټول مېلمانه شناخته دي، خو پر ډېریو یې باور نشي کېدای. هم په دغو شته او هم په نورو راتلونکو کسانو کې شکمن کسان پیدا کېدلای شي. لکه څنګه چې لارښوونه درته شوې ده زه او زما مېرمن صرف تا او کریستېن سره شناخته کوو نور کار نه درلرو...

په اردو سره رغېدو. شېبه وروسته ښاغلي سالاران تر شونډو لاندې ورو وویل:

- هغه ده *شاپو خولی* راورسېده!

زینو ته مې وکتل، درې تنه نر و ښځې ورو-ورو راکښته کېدل. سالاران راځغه ښځې او د هغوی خوا ته ورغی. په ګیلاس کې نیم پاتې جوس مې پر مېز کېښود او یو څو ګامه مخکې ورغلم تر څو دغه بلاګی تر اشنا کېدو مخکې لږ تر نظر تېر کړم. مېرمن سالاران تر ټولو مخکې ور ورسېده او هرکلی یې ورته ووایه. وروسته یې کریستېن تر لاسه ونیوله او دواړې اوږه پر اوږه زما پر لور رارواني شوې.

مېرمن سالاران *شاپو خولی* سیده راوستله او ما ته یې مخامخ ودروله. وروسته یې په انګلیسي مخاطب کړم او راته کړل یې:

- ښاغلي صدرالدین یوازې یاست؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ما وخندل او ورته ومې ویل:

- په ملګرې پسې ګرځم!

هغې سملاسي له کریستین سره معرفي کړم. *شاپور خولی* لاس راوغځاوه او په داسې حال کې چې سترګو ته مې ځیر وه، ویې ویل:

- په پېژندلو مو خوشحاله یم. هندیان په تېره مسلمانان یې په زړه پورې او پر ملګرتیا ولاړ خلک دي.

د دغو کلیمو د ادا کولو پر وخت ارامه او دادمنه ښکارېده او که یې له اصلیته نه وای خبر، حتماً په غولېدم. زما څخه یې سترګې واړولې، مېرمن سالاران ته یې وکتل او ویې ویل:

- زه به له ښاغلي صدرالدین سره مجلس وکړم! بیا یې راڅخه وپوښتل:

- په تهران کې دې څومره وخت کېږي؟

ځواب مې ورکړ:

- دومره وخت نه کېږي. دوې اونی شاوخوا د یوه وطندار کره وم او نن مې په فردوسي هوټل کې واړول.

- زما تقریباً یوه میاشت کېږي او غواړم ډېر ژر د دریو میاشتو لپاره بیروت ته ولاړه شم.

- د تفریح لپاره؟

- نه، زه د ارایشي سامانونو د یوې فابریکې استازې یم. دلته په تهران کې مې د خپلو محصولاتو لپاره بازار ونه موند، اوس مجبوره یم په نورو ځایونو کې خپلو هڅو ته دوام ورکړم.

څو شیبې سره چوپ شوو. زه د یوې مناسبې پوښتنې په لټه وم، څو هغې وار لومړی کړ او ویې ویل:

- د بیا لیدو په هیله!

غوښتل یې د لنډ وخت لپاره راڅخه بېله شي، څو همدغه شېبه د نڅا موسیقي چالانه شوه او زه یې له لوی جنجاله خلاص کړم. چابک مې د نڅا بلنه ورکړه...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

شاپور خولی موسکی شوه او بلنه یې ومنله. دواړه د سټیج خوا ته روان شوو. زما ټول تلاښ دا وو چې په همدې مېلمستیا کې کیسه فیصله او دا پته ولګوم چې ایا له هغې سره ملګرتیا شوني ده که نه؟ د نڅا په بهیر کې یې راځخه وپوښتل:

- له خپل کاره راضي یې؟

په خواب کې مې ورته وویل:

- نه، زه هم لکه ته له خپل کاره چنداني راضي نه یم.

کریستین بله پوښتنه ونه کړه. ما له دې چوپتیا څخه په ګټهاخیستنه د هغې د ښکلا صفتونه شروع کړل. نوموړې په موسکو شونډو منته راځخه وکړه. د نڅا له ختمېدو سره سم همالته پر سټیج راځخه بېله او د مېرمن سالاران خوا ته ولاړه. یو څه یې ورته وویل او وروسته دواړې د ودانۍ خوا ته رواني شوې.

پلټونکی حس مې راویښ شو. شېږ واړه حواس مې په دغه خطرناکه ښځه کې ول چې نوم یې د جرمني جاسوسي ضد سازمان په تور لیست کې لیکلی وو. څو شېبې وروسته مېرمن سالاران راستنه شوه او د سترګو په اشاره یې د بار خوا ته وروبللم. زما له ور رسېدو سره سم یې سګرېټ راځخه وغوښت. ما د سګرېټو کوټۍ ورته ونیوله، هغې په همدې حال کې راته وویل:

- کریستین له یو ځای سره پر ټلیفون رغېږي. ته کولای شې په زېرخانه کې پر بوه بله غوږۍ د هغې خبرو ته غوږ ونیسې. راځه چې هلته دې بوزم!

هغه مخکې زه ورپسې شوم. ودانۍ ته ننوتو. مېرمن سالاران په زینو کې کښته شوه او د زېرخانې مخې ته یوه شېبه ودرېده. بېرته په تلوار او چټکو ګامونو پر تللې لار راستنه شوه. زه چابک زېرخانې ته ننوتم او د پروت ټلیفون غوږۍ مې پورته کړه. کریستین له یوه نارینه سره په انګلیسي رغېده. خبرې یې تقریباً پای ته نژدې شوې وې، د فردوسي هوټل نوم مې تر غوږ شو. لکه د ټلیفون پر کرښه چې شکمنه شوې وي، یودم یې موضوع بدله کړه. څو لنډې جملې یې سره تبادله او نور یې مخهښه سره وکړه. څو غوږۍ یې په لاس کې نیولې وه؛ غوښتل یې ځان ډاډه کړي چې کرښه ربښتیا هم یو بل چا اورېده که نه.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ما هم غوړی نه ایښوده. بالاخره هغه مجبوره شوه او غوړی یې کېښښوده. ما هم سملاسي همداسي وکړل او د زهرخانې له کړکۍ څخه يوه تنګه دالېز ته ورواوښتم. له هغه ځایه مې ورو-ورو او په پسټو ګامونو ځان بار ته ورساوه او معدني اوبه مې راوغوښتې. بارچلوونکی لګیا وو اوبه یې راته تیارولې، ما څوکی وځرخوله او مېلمنو ته خبر شوم. کریستین مې لټوله. زینو ته نژدې يې له يوه سړي سره باندار کاوه. همدا چې له هغه رابیله او مخ د بار پر خوا رارونه شوه، ما سمدستي په يوه بل ټکي کې سترګې وګنډلې. بیا مې هم د کریستین سایه لیدله چې بار ته رانژدې کېده. قصداً مې يو څو کسانو ته چې د حوض پر غاړه په مجلس سره اخته ول، کتل. داسې مې ښودله چې له هغوی پرته مې بل هيڅ شي ته پام نه دی. بارچلوونکي ږغ راباندې وکړ او ويې ویل:

- ښاغلې ستاسې معدني اوبه اماده دي!

مخ مې ور واړاوه او لا مې غاړه نه وه تازه کړې چې کریستین مې اړخ ته ودرېده.

- معدني اوبه دې خوښېږي؟

- اوه، نه یې. چېرې وې؟

- تښناب ته تللې وم.

- نڅا ته دې زړه کېږي؟

- بده نه ده!

دواړه د نڅا ځای ته ولاړو. څو شیبې وروسته یودم څراغونه ګل شول. ما چې همداسي يوه موقع مې له خدایه غوښته او همدا مې د پلان يوه برخه هم وه، سملاسي لاس په کار شوم او کریستین مې پر شونډو ښکل کړه. هغې نه يوازې مقاومت ونه کړ، بلکې ځان یې راپورې جوخت کړ. ما و هغې دواړو هڅه کوله چې ظاهراً ځان پر يو او بل ګرم او لېوال وښیو. کېسه تر تصور پورته تېزه مخته تللې وه، لیکن په عین حال کې دواړه پوهېدو چې لا د پټې سر دی او پټی وړاندې سورور دی.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ځراغونه شاوخوا یوه دقیقه بند ول او له بیا لګېدو سره سم یې تول پر ځپلو ځپلو ځایونو ودرېدل. کریستین سترګې پر سترګو رابرابرې کړې او ویې ویل:

- ډېر تلواري یې!

نځا ته مې ادامه ورکړه او ورغبرګه مې کړه:

- دا ته وې چې...

په خبرو کې راولوېده او ویې ویل:

- چې ځان مې غبرګې ته درواچاوه... خو دواړه باید دا ومنو چې توله ملامتې د ځراغونو د بندېدو وه!

د پورتنی جملې تر ختمولو وروسته یې وخندل. د خندا انداز یې ظاهراً پاروونکی، مګر په باطن کې مرموز او خطرناک وو. د نځا د موسیقی تر پای نه رسېدو وړاندې کریستین راځخه وغوښتل چې د حوض پر غاړه پر پرتو څوکیو کښېنو. څوګامه چې ولاړو یودم هماغه سړی په مخ کې راته شین شو چې مخکې مې له زینو سره نژدې له دې سره لیدلی وو. له کریستین ځخه یې د نځا هیله وکړه. هغې د نه خواب ورکړ، خو هغه کلک ورته شله شو. اخیر نوموړې په مانه خوا ورسره روانه شوه.

د هغه شلګې او د کریستین بېزارې ما ته سل سلنه یوه پلان شوې او ساختګې صحنه ښکارېده. پولیسې حس مې راته ویل چې دغه سړی اصلاً غواړې د نځا په حال کې کریستین نه ځینې پټ او مهم مالومات ورکړي.

زه هم بغل ته شوم او د دې لپاره چې هغوی تر نظر لاندې وساتلای شم، له بار سره نژدې پر یوه څوکی کښېناستم. یو څه ځنباک مې راوغوښت او سترګې مې په هغوی کې وګنډلې. د سړي شونډې ژر-ژر ښورېدې. پوهېدم چې لګیا دی کریستین ته یوه مهمه موضوع بیانوي.

- بوازې ولاړ یې؟

د سترګو له ګوټونو مې وکتل ښاغلی سالاران وو. مخ مې ورتاو کړ او ورته مې ویل:

- څو دقیقې مخکې له شاپو خولی سره وم.

سالاران د څښاک سپارښتنه وکړه، اوږه پر اوږه راسره ودرېد او وېې ویل:

- له هغې سره نښدونکی سړی پېژنې؟ ځواب مې ورکړ:

- نه، همدلته مې ولید!

- زما دا دوهم ځل دی چې وینم یې. اول وار مې د مصر سفارت په یوه مېلمستیا کې ولید او نه پوهېږم دلته چا رابللی دی، ځکه شناخت مو تر دې بریده نه دی رسېدلی چې مېلمستیا ته یې راوبولم. مخکې چې مې له هغو دوو نورو جوړیو سره دلته د راتلو پر وخت ولید، حیران شوم.

سګرېټ مې ولګاوه او ومې ویل:

- په دې حساب نو باید هغه ته د یوه شناخته په سترګه وګورم!

سالاران وویل:

- ښخې څرګنده ده چې هغه یو عادي سړی نه دی او له کریستین سره اړیکې لرل یې یو خانګری هدف لري. زما په اند د هغې یو ګړی مخکنی تلیفوني خبرې هم د همدغه هدف یوه برخه ده.

په پزه کې مې وخندل او ومې ویل:

- هغوی سل سلنه زما په اړه سره رغېږي. له دې اړخه ښخې ډاډه اوسه!

هغه په تلوار وپوښتل:

- ایا نه یې پېژندلی یې؟

- نه، داسې کوم اسناد په لاس نه دي ورغلي چې دومره ژر مې وپېژندلای شي.

- نو ولې وایې چې هغوی ستا په اړه سره رغېږي؟

- ایا مېرمنې دې نه دي درته ویلي چې ما د کریستین تلیفون ته پټ غوږ نیولی وو؟

- نه ولا تر اوسه یې په دې اړه څه نه دي راته ویلي، ځکه دومره وخت مو نه دی سره پیدا کړی.

کیسه مې ورته وکړه. په دې وخت کې مو مخ ته یو خدمتګار تېرېده، یودم یې پښه وښویېده او له ګیلاسونو ډک پتنوس پر ځمکه ځنې ولوېد. دغې صحنې زما او

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سالاران پام له نورو شیانو راواړاوه او کله چې مې بېرته نخاخای ته وکتل کریستین او هغه سړی نه ول. چابک-چابک مې په سترګو د نورو مېلمنو په منځ کې ولټول، مګر داسې ورک شوي ول لکه په ځمکه چې ننوتلي وي. سالاران راڅخه وپوښتل:

- ایا تا ونه لیدل؟

- نه، مګر فکر نه کوې چې د خدمتګار غوڅاربدل او ګیلاسونو لوبدل بوه ساختګي کیسه وه؟

هغه خدمتګار ته چې د ماتو شویو ټوټو په راټولولو اخته وو، کتل او ویې ویل:

- یانې ستا په اند دغه هلک په پوست پاک نه دی؟

- زه خو همداسې فکر کوم.

- دا مې له یوه هوټل څخه راوستلی او ارمنی دی.

هلته زما ولاړه بې ګټې وه. له بناغلي سالاران څخه رابېل او د اغلي سالاران په لټه شوم. د مېلمنو په منځ کې مې ونه موندله. له ناچاریه ودانی ته ننوتم چې د ټلیفون کولو په پلمه هلته یو ګړی ودرېږم او څار وکړم. غوږی مې لا پوره نه وه راپورته کړې چې د دالېز په منځ کې مې د یوه نارینه سیوری تر سترګو شو. ډېر په احتیاط او پسټو ګامونو له پورتني پوړ څخه په زینو کې لاندې راروان وو. زما لاس پر ټلیفون پروت وو او تر سترګو لاندې مې هغه سیوری څاره. همدغه شېبه د یوې نژدې کوټې دروازه خلاصه شوه او کریستین او مېرمن سالاران ترې راووتلې. د *شاپو خولی* چې پر ما سترګې ولګېدې ویې ویل:

- ته به هم خامخا حیران یې چې ما نو په دې کوټه کې څه کول؟

غوږی مې بېرته کښېښوده او ورته ومې ویل:

- نه، داسې کومه پوښتنه خو ما ته نه ده راپیدا شوې!

مېرمن سالاران وویل:

- کریستین غوښتل خپل مېکپ لږ تازه کړي او زما څخه یې هیله وکړه چې بدرګه یې کړم.

په خبرو د بوختېدو له امله مې زينې له سترګو پټې شوې، څکه مېرمن سالاران او کريستين مې په داسې ډول مخ ته ولاړې وې چې شا ته يې يو څوک بېخاره پټ تېرېدلای شوای. د دوی له تلو سره سم مې زينو ته ورمنډه کړه. څوک مې ونه ليد. د هغه راکوزېدونکي سړي څېره شناخته راته وايسېده. دا هماغه کس وو چې ګړی مخکې له کريستين سره نخېدی او وروسته يودم دواړه غيب شول.

پلټونکي وهڅولم چې بايد لاندني پوړ ته د دغه کس د راکښته کېدو په لامل خان خبر کړم. په زينو کې پورته وختلم. د دالېز څراغونه مړه ول، خو د باغچې ګروپانو يوه کمزوره رڼا پکې خپره کړې وه.

سمدستې مې لاسي څراغ له جېبه راوايست. د دالېز پر څمکه مې کوم خاص شی ونه ليد. د يوې کوټې دروازه مې پورې وهله، بنده وه. بله کوټه مې وکتله، ور يې د يوې ګوتې په اندازه پرانيستی وو. توپنچه مې راوايستله او د هغې په ميل مې دروازه ټېله کړه او تر درشل مې پښه ور واړوله... ګروپ مې ونه لګاوه. غوبنتل مې تولې ګوښې يې وپلټم. په کوټه کې د لاسي څراغ رڼا تاو راتاو کړه، نابېره مې د دوو کوچونو تر منځ دوې پښې وليدې. وړاندې ورغلم يو د شا پر تخته پروت مړی وو. سر ته يې ودرېدم. نه څېله پر جسد او نه يې هم شاوخوا وينه ليدل کېده. دا ګړی مې له خان سره داسې وسايل نه لرل چې د مړينې علت يې په مالوم کړای شم. وژل شوی کس تقريباً څلوېښت کلن بهرنی سړی وو. جېبونه مې يې ولټول، يوه کوچنی ټوټه کاغذ مې لا هم پکې ونه‌موند. هر څه قاتل له خان سره وړې ول.

دغه کس مې ساعت مخکې له بار سره نژدې ليدلی وو. وژونکی يې هم د کريستين له ملګري پرته بل څوک نشوای کېدلای. هغه دا کار په هېښوونکې چټکتيا سره کړی وو. دا چې ولې يې دغه سړی دلته د سالاران کره وژلی وو د دې سوال څوابول نورو څېړنو ته اړتيا لرله.

د مړي په ليدو مې ايله د کريستين د مخکنيو تليفوني خبرو په اصل هدف سد ورسېد. چابک مې له جېبه کېمرې والا قلم راوايست او له جسد څخه مې څو عکسونه واخيستل او له کوټې څخه راووتم. په دالېز کې مې د يو چا د پښو بنکالو

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

واورېده. زما خوا ته په رانژدې کېدو وو. په خطرناک حالت کې وم. بېله خنده بېرته کوټې ته ننوتم، دروازې ته مې د مخکې په شان کوچنۍ چوله ورکړه او خپله دېوال ته تخته ودرېدم. زه داسې ولاړ وم چې کوټې ته راننوتونکي کس نه لیدلم او یوازې هله یې لیدلای شوای چې بېرته د وتلو په نیامت د دروازې خوا ته راګرځېدلی وای...

څو شېبې وروسته ور کرار ټېله شو او د لاسي څراغ رڼا دننه راولوېده... هغه سړی مې لیدی چې په پستو ګامونو وړاندې راروان وو. پوهېدم چې څوک به وي. کله چې د کوټې منځ ته ورسېد د ښځ له خوا مې وپېژاند؛ قاتل وو. نه پوهېدم څه وکړم؛ ایا ور په هوا شم او کار یې ورخلاص کړم، که همداسې پټ له کوټې څخه ووزم؟!

په هر صورت، دلته زما ماموریت له کریستین او ملګرو څخه یې خپل هویت پټ ساتل ول. په دې حساب نو د دغه سړي وژنه مې په خیر نه وه، ځکه دستي کریستین پوهېده چې قاتل له ما پرته بل څوک نه دی او له دې سره تولې کیسې مرداربدې. البته له کوټې څخه بېخي پټه وتنه هم ناشونې وه، ځکه هغه مې خامخا بنکالو اورېده او تعقیبولم یې. په دې خطرناکه او نازکه شېبه کې مې یودم د خلاصون یو نسبتاً بهتر پلان ذهن ته راغی.

د ګوتو پر سرونو او ډېر کرار راووتم او دروازه مې راپسې رابنده کړه. سړي چې درب واورېد په یوه منډه یې ځان د دروازې شا ته راورساوه. له بده مرغه د دروازې کیلي راسره نه وه چې کولپ یې کړم، نو له مجبوریته مې ټینګه ونیوله. هغه له هغې خوا اړم وو دروازه یې ځان ته کښوله ما له دې خوا خپل لورې ته راکښوله. دا اړودوړ څو شېبې دوام وکړ. کله چې داده شوم چې هغه د دروازې په لاستي پورې لګه منګوړ کلک نښتی دی، نو یودم مې ورخوشې کړه او په یوه ځغاسته مې ځان زینو ته ورساوه.

په دې سره د هغه توازن خراب او د کوټې په منځ کې غوځار شو. درب مې ٩ زینو کې واورېد. په هر ګام مې دوې زینې طی کولې. خو په عین حال کې مې دا کوښښ هم کاوه چې څوک مې ونه ویني. له نېکه مرغه چا ونه لیدم او په عادي ډول باغچې ته د ورخلاصېدونکې دروازې خوا ته روان شوم. له دروازې سره نژدې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بو نفر په تلوار دالبز ته راننووت او نیغ زما خوا ته راغی. ما غوښتل اړخ ته یې تېر شم، خو هغه مخامخ خان راسره وجنګاوه او د سترګو په رپ کې یې د کورتی جېب ته یو شی راخوشې کړ. باغچې ته تر ورونلو وړاندې مې باید حتماً دغه شی کتلای. بېرته راتاو شوم. بوه تشناب ته ننوتم، دروازه مې وتړله او کاغذ مې راوایست. پر لیکلي ول:

*(د پورتنی پوړ په یوه کوټه کې وژل شوی کس اډولف نومېږي او زموږ تاسې مامور دی... قاتل همامغه د کریستین ملګری دی. بیداره اوسه. په فردوسي هوټل کې ستا کوټه د متقفینو جاسوسانو پلټلې ده او خوشبختانه ستا د اصلي هویت په باب یې کوم سند نه دی موندلی. کریستین خو دقیقې مخکې له دې خایه ولاړه. د نوموړې د استوګنځای ټلیفون شمېره به ستا هغه سوالګر درکړي.)*

پانه مې په کموډ کې واچوله او اوبه مې پسې خوشې کړې چې اته ټه یې ورکه شي. وروسته باغچې ته ولاړم. ویل مې قاتل به په دغو خو دقیقو کې بېرته راګښته شوی وي، مګر زما د وړاندوینې خلاف مې هغه په میلمنو کې ونه لید. په دې حساب نو هغه تر راګښته کېدو سملاسې وروسته نه کوره وتلی وو چې کریستین ته خان ور ورسوي.

نور مې هلته پاتېدنه بې‌کټې وه... د مېرمن او ښاغلي سالاران په لټه شوم چې خدای پاماني ورسره وکړم. د حوض خوا ته ور روان شوم چې د میلمنو په منځ کې پسې وګورم. یودم یوه شناخته اواز رابیدار کړم.

- مستر صدرالدین صاحب!

ورتاو شوم... ښاغلی سالاران وو، ډېر نارام او اندېښمن ښکارېد. د لامل پوښتنه مې ځنې وکړه، ویې ویل:

- لس دقیقې کېږي مېرمن مې نه ده په سترګه شوې، نه پوهېږم چېرې ده!

تړې ومې پوښتل:

- وروستی وار دې له چا سره ولیده؟

- له یو خو ملګرو او کریستین سره!

- مگر کریستین خو اوس نشته!

- هو، ګړی مخکې یې مخه‌بنه وکړه او ولاړه!

په دوارو مو د باغچې او ودانۍ ټول ګوټونه او ګوښې وکتلې. خو مېرمن سالاران مو ونه موندله. دا چې دغه نابېره بده پېښه زما د رسمي ماموریت برخه نه وه، نو مجبوراً مې په بېخوندۍ سره خدای پاماني ترې واخیسته او خپې راروان شوم.

له دروازې څخه د وتلو پر وخت مې لاسي ساعت ته وکتل، د شپې یوه بجه وه. موټر مې همالته نژدې ولاړ وو. په احتیاط او بیدارو حواسو مې خان ور ورساوه او دروازه مې یې پرانیسته. ناڅاپه د مېرمن سالاران له بې‌ساه لاښ سره چې پر شاتنۍ څوکۍ پروت وو، مخ شوم.

چابک مې د شا دروازه خلاصه کړه او جسد مې وکوت. وینه نه وه ترې بهېدلې. د مخ بڼه یې سپینه اوښتې، کمیس یې له څیګره تر نس پورې شلېدلی او وېښتان یې بېر ولاړ ول. له دې څرګندېدله چې نوموړې له قاتل سره مضبوطې دغرې وهلې وې. د لاسونو نوکونه یې په وینو ول. د دې مانا دا وه چې په ناخبرۍ کې برید پر شوی او دې د خپل خان خلاصولو لپاره هڅې کړې دي.

اوس مې د مېرمن سالاران د مغلوبېدو مهمه او پېچلې مسله مخې ته پرته وه. ځکه هغه یوه عادي ښځه نه وه او داسې اسانه د خپل کور مخې ته یوه پردي کس نابېره برید نشوای پر کولای. له شک پرته قاتل یو معمولي او باوري کس وو. په هر صورت، د اډولف او دغې مېرمنې د وژلو ډول یوشان وو. په دې توپیر چې د لومړي قاتل رامالوم وو، خو د دغه وروستي قتل په اړه پر دوو کسانو شکمن وم.

که زما پرځای بل څوک وای، بنایي بېرته کور ته نتوتلی او سالاران یې خبر کړی وای، مگر ما دا کار ونه کړ، ځکه پر دغسې قتلونو باید تر وسه‌وسه پرده واچول شي او تر هر څه مهم د قاتل پېژندل و نیول دي.

د مېرمن سالاران په وژنه کې له دوو شکمنو کسانو څخه یو یې لا هم په مبلمتیا کې وو. د تازه جوړ کړي پلان د عملي کولو په تکل کې شوم. چابک مې موټر چالانه کړ، له کوڅې څخه مې وایست، دباندې مې د سړک پر غاړه ودراوه، ترې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

راکښته شوم، دېوال ته جوخت ودرېدم او د سالاران کور مې تر څار لاندې ونيو...
په خطرناک حالت کې وم؛ له يوې خوا د پوليسو له شپنيو ګښتونو ترهېدم چې که
پر ما يا مې موټر شکمنبدای، نو خدای خبر د مړي په ليدو به يې څه تکه راباندې
راغورځوله. له بل طرفه مې د خپل ښکار د نيولو کلک نيت کړی وو.

د مېلمستيا څو مېلمانه مې مخې ته په خپلو موټرونو کې تېر شول. خو هغه لا هم
په کور کې دننه وو.

نژدې پر دوې بجې مې د سالاران د کور د دروازې اواز څووم وار واورېد. دا ځل
يو کس يوازې راووت. ليدی مې چې شاوخوا يې په خير-خير وکتل او وروسته کرار-
کرار د کوڅې په منځ کې روان شو. د کوڅې خولې ته چې راورسېد، د سړک غاړې
څراغونو په رڼا کې مې يې څېره وليده، مطلوب کس وو. توپنچه مې راوايسته. سره
له دې چې په تياره کې ولاړ وم، خو که يې لږ په خير راته کتلي وای، ليدلم يې. د
کوڅې په خوله کې يې دواړو خواوو ته څار وکړ، له ډاډمنېدو سره سم وخوځېد
چې تر سړک واوړي. په دې وخت کې يې زما پر موټر سترګې ولګېدې، ويې پېژاند.
ودرېد او د خپل نوي وضعيت په اړه په فکر کې شو. بېله ځنډه مې د شا له خوا ږغ
پر وکړ او په اخطاريه اندازه مې ورته وويل چې که دې ښور وخوړ، ولم دې. تقريباً
څلور پنځه متره سره ليرې وو. سړی لکه محاصره شوی چې وي، مجسمه غوندې
پر ځای مېخ ودرېد. خو زما له ورنژدې کېدو سره جوخت يودم پر ګونډو شو.
غوښتل يې تېز سره وڅرخي، په همدې حالت کې توپنچه راوباسي او تک راباندې
وکړي. ما يې دغه حرکت ته مخکې له مخکې لا حساب کړی وو، ځکه نو د ده له
پر ګونډو کېدو سره سم د سترګو په رپ کې د يوه پړانګ غوندې پر وغورځېدم او
يوه ډېره څواکمنه تېله مې ورکړه. د سړي ښې خطا شوې او پړمخې پر ډامبر سړک
ولګېد. معطل نشوم او د لغتو باران مې پر جوړ کړ.

چې ښه له پښو ولوېد بيا مې تر دواړو لاسونو ونيو، موټر ته مې کش کړ او په
ډيکۍ/ډاله کې مې واچاوه. توپنچه مې له جيبه ځنې راوايستله، ډيکۍ مې ښې
وتړله او مخ پر ښار روان شوم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دا سړی هماغه ارمنیايي خادم وو چې زما او ښاغلي سالاران مخې ته یې پښه ښوییدلې او ډک پتنوس ګیلاسونه یې مات کړي ول. هماغه وخت لا پر شکمن شوم او د مېرمن سالاران د جسد په لیدو مې سملاسي په ذهن کې راوګرځېد چې همدغه سړي وژلې ده.

پر لارې مې فکر شو چې سړک تش دی او باید له دې موقع څخه په ګټه اخیستنه د مېرمن د سالاران جسد بو ځای له موټره کوز او خان ځني بېغمه کړم. خو له بل پلوه بیا د هغې د وژلو ډول پېژندل هم ډېر مهم وو. په دې حساب نو باید هانس یا نورو کسانو معاینه کړی وای تر څو د قتل وسیله څرګنده شي.

حیران وم چې اوس نو په دې نیمه شپه چېرې ولاړ شم؟! بو مړی پر شاتني څوکۍ راته پروت وو او بل نیمژاله سړی به ډیکۍ کې. بوازنی مناسب او خوندي ځای د انجیلا کور راته ښکاره شو. سره له دې چې له نوموړې سره لیدنه د ماموریت برخه نه وه، مګر د مېرمن سالاران قتل هم بوه نابېره او غیرمنتظره پېښه وه چې دغې سرغړونې ته یې مجبورولم. څه پاندې دوې نیمې بجې مې د هغې له کورسره موټر ودراوه او وداني ته ورننوتم. په زینو کې لوړ وختلم. د انجیلا د کور څراغ روښان وو. زنګ مې په شفرې انداز وکړنګاوه. څو شېبې وروسته یې پر ښېښه سیوری ولوېد. زما په لیدو یې تکان وخوړ او ویې پوښتل:

- ښاغلی صدرالدینه دلته څه کوې؟

ما اورده ساه واخیسته او ومې ویل:

- نه سهې وایې. دا وخت باید زه په فردوسي هوټل کې په خپله کوټه کې وای. مګر...

خبرې یې راغوڅې کړې او ویې ویل:

- مګر څنګه؟

کور نه ورننوتم. دروازه مې بنده کړه او ومې ویل:

- زما سره مرسته وکړه!

- ایا هغوی درپسې دي؟

- نه، د مېرمن سالاران جسد مې په موټر کې پروت دی. اوس دا راته ووایه چې څه په وکړم؟

انجیلا د هغې پر وژل کېدو ډېره حیراني ونه ښوده او ویې پوښتل:

- هغه یې ووژله؟

- هو، د قاتل نیمزاله جسد مې هم راسره راوړی دی.

- څه وایې، قاتل دې څنګه وپېژاند؟

- سل سلنه ډاډه نه یم، مګر شکمن ښکاري او فکر کوم همده وژلې ده.

انجیلا وویل:

- هېڅ مې سر نه خلاصېږي، حتماً عجایبې و غرایبې پېښې شوي دي.

ورته کړل مې:

- همداسې ده، که وایې چې د مېرمن سالاران مړي ته اړتیا نشته، نو د هوا تر رڼا کېدو مخکې یې باید له ښاره دباندې یو ځای وغورځوم.

هغې وخندل او ویې ویل:

- د هغې مړی څه کوو؟

- ویل مې ښایي تاسې د جسد عدلي طبي معاینه وکړئ تر څو د وژلو ډول یې مالوم شي!

- اوه صدرالدین خانه دا څه وایې؟ زه یا هانس یې په یو ځل لیدلو د هر څه پته لګولای شو. عدلي طب ته له سره اړتیا نشته.

وروسته کوټې ته ولاړه، د سګرېټو کوټی یې راوړه او یو دانه سګرېټ یې ولګاوه... ما سملاسې سګرېټ له شونډو ځني راوایست او ورته ومې ویل:

- دا د سګرېټ څکولو وخت نه دی، ژر یوه پرېکړه وکړه!

هغه موسکۍ شوه او ویې ویل:

- خو ته ښه پوهېږې چې زه ستا سره یوځای باید ونه لیدل شم. یوه کوچنوټې تېروتنه د صدرالدین خوله له خاورو ورډکولای او ټول پلانونه یې په اوبو لاهو کولای شي... ته صبر زه لږ فکر وکړم. دا له هره اړخه یوه ناڅاپي او ناسنجول شوې پېښه ده. اوس

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

باید تا له دې خطرناک حالت څخه په یو نه یو ډول راوباسم. نه همدلته اوسه زه به جامې واغوندم.

دقیقه دوې وروسته په داسې حال کې چې د کمیس تنی یې نړلې له کوټې څخه راووته او راته ویې ویل:

- همدا ستا تر راتګ شیبه مخکې کور ته را رسېدلې وم او غوښتل مې ویده شم چې تا زنګ وواهه... د زنګ شفري کړنګا وپوهولم چې یو شناخته کس دی، خو دې ته حیرانه شوم چې د شپې دا وخت څه بلا راڅخه غواړي؟

ما تر تخرګ لاس ورلاندې کړ او ومې ویل:

- درځه چې ځو، ناوخته کېږي!

له کوره راووتو. زما موټر ته له ور رسېدو سره سم انجیلا له شاتنی هنداري څخه د مېړمن سالاران جسد ته وکتل او ویې ویل:

- له دې کیسې څخه ستا د خلاصون یوازنی لار دا ده چې مقتوله او قاتل دواړه زما موټر ته ولېږدوو.

ما سملاسې خپل موټر چالان او د انجیلا موټر ته چې څو متره پورته ولاړ وو، نژدې ودراوه. په دواړو مو د مېړمن سالاران لاش د انجیلا ګاډي ته ورانتقال کړ او وروسته مې ډیکی(ډاله) خلاصه کړه. قاتل یو څه راپرهوښ شوی وو او وروسرورو زګېروی یې کاوه. له ډیکی چې مو راوایست په زحمت یې په فارسي راڅخه وپوښتل:

- زما سره ولې داسې چلند کوئ؟

ما پورې واهه او ورته ومې ویل:

- ځکه چې له یوه قاتل سره همداسې چلند په‌کار دی!

هغه وویل:

- تاسې تېروتلي یاست، ما هېڅوک نه دی وژلی!

انجیلا وویل:

- له ده سره بحث کول ګټه نه لري. ژر کوه وخت تېرېږي!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ما د شا له خوا د هغه تر تخرګونو لاسونه ورلاندې کړل او روان مې کړ. د انجيلا د موټر ډيکۍ ته د ورننه‌ايستلو پر وخت يې زورونه وهل شروع کړل. په وچ زور مې ډيکۍ ته ورپورې واهه او همدا چې د بدن لوړه برخه يې ورننوته، نور مې رحم له زړه وايست، دواړې پښې مې پسې ورپورته کړې او د يوه پسه غوندې مې پکې تخته کړ او دروازه مې پسې ورو‌تړله. انجيلا وويل:

- اوس کولای شې په بيغمه زړه خپل نور کارونه مخته بوزې!

- ته به دې دوو امانتونو څه کوې؟

- ما و کار سره پربړده!

وروسته يې لاس راوغځاوه او ويې ويل:

- شپه په خير ښاغلی صدرالدينه!

په دې ډول له هغه خطرناک حالته راووتم او د فردوسي هوټل خوا ته روان شوم. سره له دې چې زښت ستړی او بېخوبه وم، خو د هانس لپاره راپورليکنه اړينه وه. کوټې ته له ننوتلو سره جوخت سيده بيکونو ته ورغلم. لکه څنګه چې مخکې له مخکې خبر شوی وم، بيکونه مې توول په خير سره تلاښي شوي ول، مګر ظاهراً داسې ايسېدل لکه هيڅ لاس چې نه وي وروړل شوی. له نېکه مرغه دلته زما پراته توول اسناد د صدرالدين په نامه ول او هيڅ داسې څه نه ول چې زما اصلي هويت ترې ښکاره شي.

د کوټې ګروپ مې ګل کړ او د لاسي څراغ رڼا ته مې راپورليکنه پيل کړه. د برلين کوڅې په خوله کې ناست سوالګر ته د دغه ليک ورسولو پر تګلار مې فکر وکړ. اخير مې يې چل ذهن ته راغی. له يوه سګرېټ څخه مې تنباکو توی کړل او پر ځای مې راپور ورننه‌ايست. له ورايه يو عادي سګرېټ ښکارېده، مګر اصلاً بل شی وو. دغه ساختګي سګرېټ مې بېرته په کوټی کې کېښېښود، پر کټ وغځېدم او ويده شوم.

سهار پر شپږ بجې مې د برلين کوڅې خولې ته ځان ورساوه. سوالګر د ګروپ تر خادې(پايې) لاندې ناست وو. خيرن-پيرن مغ يې وو، خيرې-خيرې کالي يې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

اغوستې ول. ورنژدې شوم .هغه سګرېټ او خو سيکې مې په لاس کې ورکښېښودې.
ده هم په پوره بيدارى او چالاکى يوه کوچنوټې پېچلې پاڼه په لاس کې راکښېښوده...

راکړه ورکړه په خورا اسانۍ او ارامۍ تر سره شوه. له هغه ځايه سيده بېرته فردوسي هوټل ته راغلم. د خونې دروازه مې وتړله او د سوالګر له خوا راکړل شوې ليک مې له جيبه راوکيښ. پکې ليکلي ول:

*ته بايد د سالاران د کور دوهم پوړ ته نه واى ختلى. دا يوه لويه بې احتياطي وه. ادولف او د هغه د قاتل ځارنه ستا په ماموريت پورې هيڅ اړه نه درلوده. د مېرمن سالاران قاتل همداغه په ډيکۍ کې بندي کس دى. د شاپو خولۍ د کور تليفون شمېره... ده. تماس ورسره ونيسه او د ملاقات وخت ځنې واخله. ستا سره د اړيکو نيولو لپاره مو يو بل کس هم ټاکلى دى او دا کار مو د احتياط او چټکو پېښېدونکو پېښو د وړاندوينې پر اساس کړى دى. دغه کس يوه زړه ښځه ده، وچ ډنګر مخ لري او چپه سترګه يې مصنوعي ده. د پېژندلو بله نښه يې پر تندي يو تپ دى. دغه مېرمن پر نادري واټ د ماشومانو د جامو يو پلورنځى لري. له دغې ښځې سره د پېژندلو شفر (زما زوى مړ شوى دى، ايا جامې يې رانيسې؟) دى. که دې د برلين کوڅې سوالګر پر ټاکلي وخت ونه ليد، چابک له دغې مېرمنې سره په اړيکه کې شه. ستا راتلونکې راپور ته په تمه يم. هانس*

ليک مې له منځه يووړ او بيله ځنډه مې د کريستين تليفون ته زنګ وواهه. پر ږغ مې وپېژندله، ځپله دا وه:

- هلو کريستين، سهار په خير!

- تاسې څوک ياست؟

- زه صدرالدين يم، ستا ملګرى!

- اوه، ښاغلى صدرالدينه سهار په خير! هيڅ مې دا فکر نه کاوه چې ته به يې. زما شمېره دې له کومه کړه؟ ما خو نه ده درکړې.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- بالکل، تا نه ده راکړې، ستا له ملګرې مېرمن سالاران څخه مې واخیسته. له هغې څخه باید مننه وکړې. غوږ ونیسه کریستین، نن غرمنی یوځای سره خورو!
- نه، بخښنه غواړم. له یو بل چا سره مې ژمنه کړې ده. بیا به یوه بله ورځ سره ګورو.
- دا خو امکان نه لري. یا نن غرمنی یا هم ماښامنی نور ستا خوښه ده. په دغو دوو کې یوه بلنه باید حتماً ومنې. ولې تا نه ویل چې د هند له مسلمانانو سره مې لګېږي؟
- همداسې ده، مګر...
- مګر څه؟ ځواب راکړه!
- ښاغلی صدرالدینه ښځې شله سړی یې. لکه چې ستا بلنه ردول ناشونې ده. سهې ده. ماښامنی چېرې خورو؟
- مننه. دربند هوټل یا بل هر ځای چې ستا خوښه وي. پر څو بجې راتلای شې؟
- نه تکلیف مه کوه. دربند هوټل مناسب او یخ ځای دی. پر اته نیمې بجې فردوسي هوټل ته درځم. همالته اوسه. خدای پامان!
- خدای پامان!

ټلیفوني خبرې-اترې مو همدلته ختمې شوې. له کریستین سره د ملاقات ټاکلو په بریا له ډېرې خوشحالی په جامو کې نه ځایېدم. پروګرام مې مالوم وو او له هوټل څخه د وتلو اړتیا مې نه لیده. تر اته نیمو بجو پورې مې همالته د پاتېدو پرېکړه وکړه. کولای مې شوای هانس ته زنګ ووهم او له دې لاسته‌راوړنې یې خبر کړم، مګر اجازه نه وه. د اړیکو یوازنی وسیله مو هغه سوالګر وو.

د غرمنی خوړلو لپاره د هوټل ډوډۍ‌خوړلو سالون ته ورکښته شوم. مېز ته ناست او په خوراک اخته وم چې پر اوږه مې لاس راکښېښودل شو. مخ مې ورواړاوه د نوکندي د لاروهونکو مشر شانیها ولاړ وو. تکان مې وخوړ، مګر هغه مې په ځان پوه نه کړ. پاڅېدم، د همېشني عادت له‌مخې مو په غېږ کې سره ونیول او پر مخونو مو سره ښکل کړل.
- شانیها ته او دا ځای؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

نوموړي خپل ځانګړی سیګار ولګاوه او ویې ویل:
- دوې ورځې مخکې تهران ته راغلی یم او یوازنی شی چې هیله مې نه لرله همغه دلته ستا لیدنه وه. ښکه ویل مې ته به د فارس خلیج په ساحلونو کې په خپل کار اخته یې. ورته ومې ویل:
- تقریباً دوې اونۍ کېږي چې له جنوبي ساحلونو څخه تهران ته راغلی یم او غواړم د سامانونو تر خرڅلاو سمدستي وروسته بېرته خپلې دندې ته وګرځم. نن سبا د قاچاقبرانو بازار خورا ګرم دی، مګر ودې نه ویل چې ته د څه لپاره تهران ته راغلی یې؟
شانیها له سیګاره بو تېنګ دود کش کړ او ویې ویل:
- دمشق ته روان یم. سبا یا هم ډېر تر ډېره راتلونکې هفته له تهرانه وزم. که په دې سفر کې راسره ملګری شې، نو سخت ډېر به خوشحاله شم. یوازې یم. شین دیغت دی.
په خندا مې ورته وویل:
- د بېرته راګرځېدو پر وخت به دلته یا هم بنایي په نوکنډي کلاکې سره ووینو.
وروسته مې ترې وپوښتل:
- ډوډی دې خوړلې ده؟ خواب یې راکړ:
- هو، ګړی مخکې مې وخوړله، دلته به قهوه پسې راغلم.
زه بېرته په خوراک اخته شوم، مګر ټول چورت و فکر مې پر دغه لاروهونکې راچورلېد. له نوموړي سره مې خپله وروستی لیدنه چې لودویک او ایرما هم راسره ول، په ذهن کې راوګرځوله. د ایرما وژنه او له لودویک سره یې پټه ملګرتیا رابادہ شوه. له ځانه مې وپوښتل چې دا بلاګی نو تهران ته په څشي پسې راغلی دی؟ په دې کې مې شک نه لید چې دلته هم له لودویک سره په تماس کې دی، لیکن دې ته حیران وم چې لودویک غوندې شیطان نو په دې ډېرزړي او ظالم لاروهونکې کې داسې څه لیدلي دي چې ان دلته تهران ته یې راغوښتی دی؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

که څه هم په فردوسي هوټل کې د شانیها استوګنې او بیا زما سره یې لیدنې لږ و ډېر تهران ته د نوموړي د راتګ په موخه پوهولی وم. مګر بیا مې هم زړه غوښت چې له جزیاتو یې خبر شم... دا ارمان مې هم ډېر زر او هله پوره شو چې شانیها په وچه شلګی او تینګار خپلې کونې ته چې زما هغې ته مخامخ وه، بوتلم... مخامخ سره کښیناستو. دوهم سیګار ته یې خاشه ووهله او بیله کومې سریزې سیده خپل مطلب ته ولاړ او ویې ویل:

- اوس چې مو تصادفاً بیا سره ولیدل، نو غواړم یو ډېر ګټور وړاندیز درته وکړم!

ما په پوره ارامۍ او سړه سینه ورته وویل:

- ښګه وړاندیز، هسې نه په نوکندي کلا کې مې انډیوالی ته وربولې؟

ویې خندل او ویې ویل:

- نه، په هغه لار کې خو څه نا څه اوس هم سره ملګري یو. مګر زما اوسنی وړاندیز له متفقینو سره د همکارۍ اړوند دی.

په هېښتیا مې ترې وپوښتل:

- له متفقینو سره همکاري؟ په دې اړه نو زما څه له وسه پوره دي؟

شانیها په خپل ځای کې لږ سره وښوربېد راوښوربېد ورروسته یې وویل:

- یو عالم کارونه دې له وسه پوره دي چې د پیسو په بدل کې یې متفقینو ته وکړې او زه داډه یم چې تر قاچاقبرۍ به دې دلته لاسته‌راوړنه څو برابره زیاته وي.

ما سره له دې چې د وړاندیز په بېخ یې پوهېدلی وم. بیا مې هم ځان ناګاره اچولی وو او داسې مې ښودله لکه لا زیاتو مالوماتو ته چې اړتیا لرم. شانیها راڅخه وپوښتل:

- اوس به مې په مطلب وپوهېدلې کنه؟

- نه ولا، یو څه سپین ورغبږه!

- دا به یوه ډېره پټه او خفیه همکاري وي. بس ته صرف هوکړه وکړه، نورې ټولې کیسې هغوی درته جوړوي.

زه یې په خبرو کې ورولوېدم او ترې ومې پوښتل:

- یانې ته هم له هغوی سره همدغه ډول همکاري لرې؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- ډېر وخت کېږي. اوس ستا خواب څه دی ایا منې به چې که له دې ستر فرصته مخ اړوې؟

یو څه فکر مې وکړ او بیا مې ورته وویل:

- باید یو سوچ پر وکړم. دومره هم عادي وړاندیز نه دی چې څای پر څای یې ومنم یا رد کړم.

- په هر صورت. زما هیله خو دا ده چې دلته زما د استوګنې په موده کې خپل نظر راته ووایې. د بېلګې په توګه نن شپه یا سبا.

- کوښښ کوم سبا دې خواب درکړم.

له دې سره پاڅېدم او مخه‌ښه مې ورسره وکړه. د همدې وړاندیز په باره کې د چورتونو په بدرګه مې د خپلې کوټې کولپ خلاص کړ او همدا چې ننوتم پر یوه ښخه مې سترګې ولګېدې چې د کوټې په پای کې پر کوچ یې یوه پښه پر بله اړولې وه او سګرېټ یې څکاوه. تکان مې وخوړ. څو ګامه چې ور وړاندې شوم ومې پېژندله. هماغه ښځه وه چې له خپل یوه ملګري سره په زور موټر ته راختلې وه او د پاکټ له اسنادو څخه یې عکسونه اخیستي ول. د دې مخ مې د *شاپور خولی* د دوسیې په یوه عکس کې هم لیدلی وو. اوس مې دوهمه پلا مخامخ ورسره لیدل...

اول ملاقات مو ناخاپي وو او زه یې دومره سوختي(پارولی) کړی وم چې غوښتل مې په هره بیه غچ ترې واخلم. خو داګړی که څه هم تیاره په لاس راغلې وه، یا مې هم څه نشوای په کولای، څکه روان ماموریت مې ډېر حساس او خطرناک وو.

- سلام ښاغلی صدرالدینه... حتماً به دلته زما په لیدو او ستا د نوي نوم په بادولو حیران شوی یې... که دې یاد وي په هماغه لومړی ملاقات کې مې د مخه‌ښې بر مهال درته ویلي ول چې بیا به سره وینو. دا دی له خپلې ژمنې سره سم راغلې یم او غواړم لږ باندار درسره وکړم.

زه لږ نژدې ورغلم او په ډېره ارامۍ او طبیعي انداز مې ورته وویل:

- زما خیاله کوټه دې غلطه کړې ده!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مېرمنې وخندل او ویې ویل:

- کوره لا په هر صورت، مګر د ښاغلي صدرالدین په باره کې مې هېڅ غلطي نه ده کړې!

هماغسې په سره سینه مې ورغبرګه کړه:

- بالکل، زه صدرالدین یم، مګر ښایي په همدې نامه یو بل کس هم دلته په دې هوټل کې اوسي. بل دا چې ما ته نه مخکې لیدلې یې او نه دې پېژنم. زما کوټې ته ستا داسې بې‌خبرتیا راتګ هېڅ ښه کار نه دی، نو لطفاً بېرته چابک ووزه!

ښځه پاځېده. اول یې بد-بد راته وکتل وروسته یې یو ډول غوسه‌لړلې موسکا وکړه او ویې ویل:

- خورا تېز روان یې ښاغلی صدرالدینه. هماغه ورځ مې هم درته وویل چې وارنر هم همداسې وو، خو اخیر یې غاړه کښېښوده.

ما په داسې حال کې چې لاس مې دروازې ته نیغ نیولی وو، ورته ومې ویل:

- ستا په خبرو مې هېڅ سد نه رسېږي. هیله کوم زما له کوټې څخه ووزه!

هغې ورو سر وخوځاوه او ویې ویل:

- تا ته واقعاً ځان ډېر هوښیار او خوندي ښکاري؟ تېروتنه کوې. هماغه ورځ دې باید زه پېژندلې وای، مګر خیر اوس هم اوبه تر ورخ نه دي اوښتي، ډېر ژر به دې په داد ورسېږم.

وروستۍ جمله یې د دروازې په خوله کې وویله. وروسته یې ور پرانیست او ووته. ما کرار له ځان سره وخندل. خندا مې له هغې څخه د غچ‌اخیستنې پر سوچ وکړه. غوښتل مې له دغې شیطانې جاسوسې څخه شخصاً خپله انتقام واخلم او ورته وښیم چې زه وارنر نه یم.

اوس مې دوو غبرګو سترنزو ګرېوان ته لاس رااچولی وو، یو د شانیها یودم راپیدا کېدنه او بل دغه مېرمن چې پر خپل نیت او پلان خورا کلکه ولاړه ښکارېده. تر هر څه مې بیا دې ته زیاته اندېښنه وه چې هسې نه کرېستېن ته مې اصلي هویت رسوا

او ټولې نقشې مې په اوبو راالاهو کړې. باده موضوع دومره هم ساده نه وه او هغوی باید د یوه دقیق سنجول شوي پلان له مخې زما یانې صدرالدين بيږه راغرقولای.

څه کم اته نیمې بجې مې د کوټې زنګ وکرنګېد. د دروازې له خلاصېدو سره سم مې د کریستین پر ښکلو او موسکیو شونډو سترګې ولګېدې. لاسې ساعت ته يې اشاره وکړه او ويې ويل:

- ټیک پر ټاکلي وخت راغلم بیا ونه وایې...

تر لاس مې ونیوله، کوټې ته مې کش کړه او ومې ويل:

- ټول غربیان همداسې د وخت پابند دي او د دوی دغه عادت زموږ شرقيانو لپاره لوی پیغور دی!

وروسته مې په غاړه کې لاس ورواچاوه، ځان ته مې راکلکه کړه او یوه نرمه مچه مې ترې واخیسته. هغې په موسکا راته وویل:

- ډېر نه يې ګرم؟

له دې سره جوخت دې هم ښکل کړم. دواړه په خندا شوو. ما زیاته کړه:

- مینه درسره لرم ګرانې کریستین!

هغه یو ګام شا ته شوه، یو بل ځای يې سترګې وګنډلې او ويې ويل:

- زه هم مینه درسره لرم، مګر ایا ستا په خیال زما و ستا مینه به یوه پایله ولري؟

- ولې به يې نه لري!

دواړه پوهېدو چې درواغ سره وایو. زه په هغې د یوه خاص هدف له مخې پسې وم او دا چې هغې کومه موخه درلوده، لا ترې خبر نه وم. بیا يې ساعت ته وکتل او ويې ويل:

- د تګ وخت دی!

تر بغل مې لاس ورلاندې کړ او په ګډه له کوټې څخه راووتو. له هوټل څخه د وتلو پر وخت مې شاوخوا په شانیها پسې سترګې وغړولې. ومې نه لید. ښایي له بوې ګوښې يې پټ راته کتل. پر لارې په داسې حال کې چې کریستین مې په موټر کې اړخ ته ناسته وم، د ویاړ احساس مې کاوه، ځکه د جرمني جاسوسي‌ضد شبکه به

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغې پسې څارو وه او غوښتل يې زما په وسيله يې ونيسي. په دې نو بيا زه هم نه وم خبر چې په دغه پلان کې به څومره بريالى کېږم...

په دربند هوټل کې پر خپل مخکې له مخکې نيول شوي مېز کښېناستو. لږ وروسته يوه ښځه او يو سړى زموږ مېز ته رانژدې شول. د ښځې په ليدو مې ټکان وخوړ. ځکه هماغه يوه وه چې ماښښين مې په خپله کوټه کې ليدلې وه. خو سړى مې پخوا نه وو ليدلى.

کريستين يې په ليدلو خوشحاله شوه او يو و بل ته يې سره معرفي کړو. هغه ښځه مارګريتا نومېدله. دواړه کښېناستل. مارګريتا له کښېناستو سره سم کرار پښه له پښې سره راوجنګوله او په دې سره يې ګواکې وپوهولم چې هر څاى لکه سيورى راپسې ده.

له دغې مېرمنې سره داسې ناڅاپي او د تصور خلاف مخامخېدنې لږ-لږ په دې اند کړم چې ښايي همدا نن شپه د روان ماموريت لورى-لودن څرګند شي. دا چې هغې د کريستين په شتون کې زما سره څه کول غوښتل، داسې يوه پوښتنه وه چې اوس مې يې خواب نه درلود.

که څه هم دا ګړى د مارګريتا او هغه بل سړي موجوديت د صدرالدين په رول کې زما تمثيل له کوم ګواښ سره نه وو مخامخ کړى، مګر بيا مې هم زړه په هوا وو. د اندېښنې لامل مې مارګريتا نه، بلکې *شاپور خولى* وه؛ وارېدم چې هسې نه د ماموريت تر بريالي کېدو مخکې يودم تري‌تم شي. تر دې وړاندې د جرمني په جاسوسي‌ضد سازمان خو واره همدا پسات شوى وو او نوموړې مخامخ ترې ورکه شوې وه.

لمر غوندې راته روښانه وه چې مارګريتا هڅه کوي له کريستين سره په خپل شناخت مې وګواښي. دلته د نوموړې دغه تهديد او هلته له شانيها سره ناڅاپي مخامخېدنې پر دې دلالت کاوه چې د متقفينو څارګره دستګاه زما د ورجلبولو په تلاښ کې ده او غواړي د وارنر پر پلونو مې روان کړي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

طبعاً مې مسوولیت دا ایجابوله چې باید هانس له روانو پېښو خبر کړم او مشوره ترې وغواړم، مګر ما پرېکړه کړې وه چې د مارګریتا او لودویک کار به په یوازې سر ورکوم. دا چې چیرې، کله او څنګه، تر دې دمه نه پوهېدم. پر دې داډه وم چې د جرمني جاسوسي‌ضد سازمان تر اوسه مارګریتا نه پېژندله او له اصلیته یې ناخبره وو.

تر هر څه بیا دې نه حیران وم چې د متفقینو په جاسوسي دستګاه کې د جرمني نفوذي خارګر څنګه تر دې دمه د دغې مېرمنې چې اصلي نوم یې بل شی وو، په شتون نه وو خبر شوی؟!

څو دقیقې وروسته له مارګریتا سره ملګرې کس چې الفرډ نومېد، له کریستین سره د نڅا ځای ته ولاړ او زه و مارګریتا سره یوازې شوو. دا د نوموړې لپاره د خپلې غوښتنې تکرارولو ډېر ښه فرصت وو. ما د دې لپاره چې تر منځ مو دا خوروونکې چوپتیا ماته شوې وي، څه ویلو ته خوله جوړوله چې هغې وخندل او ویې ویل:

- ښاغلی صدرالدینه ستا به هم یوه ذره زړه نه لوېده چې دلته به سره ووینو!

ورنه ومې ویل:

- دلته نه، خو په کوټه کې دې په لیدو رښتیا هم حیران شوم.

هغې زما د سګرېټو له کوټي سره چې پر مېز پرته وه، لوبې پیل کړې او ویې ویل:

- ښه، ایا بیا هم غواړې هماغه بې‌سر و بې‌پښو خوابونه راکړې؟ ښه فکر وکړه او خپل وضعیت وسنجوه، کریستین تا د صدرالدین په نامه او د چایو وچولو یوه هندې شرکت د مالک په توګه پېژني، مګر ما نه دې بیا اصلیت رامالوم دی او د تکرارولو اړتیا یې هم فکر کوم نشته...

په سړه سینه مې ورته وویل:

- ستا دا پوچ تلاښ چې غواړې په ما دا ومنې چې زه صدرالدین نه یم، هسې هوایي ډزې دي. څکه چې په ښه و بد پوهېدلی یم همدا مې نوم دی او دا چې اوس نه د چا په باره کې راته لګیا یې ږغېږې، زما خو هېڅ سر نه په خلاصېږي. فکر کوم ستا مطلوب شخص په څېره او کړو‌وړو کې زما سره ډېر ورته والی لري.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مارګریتا مې سترګو ته نېغ راوکتل او ویې ویل:

- ستا دغه قصدي و شعوري تغافل به خورا دروند درته پرېوزي. زه ستا څخه یو ځل بیا زموږ سره د وارنر په شان د همکارۍ کولو غوښتنه کوم...

خبرې مې ورغوځې کړې او ورته ومې ویل:

- اغلې مارګریتا ته پر خپل دریغ کلکه ولاړه یې او دا نه منې چې زه دې په یو بل چا غلط کړی یم. خیر، اوس دا راته ووایه چې زه څه خدمت کولای شم؟ درته غوږ یم!

هغې د سګرېټو کوتی پر مېز کېښود. له جامه یې یو غړپ وکړ او ویې ویل:

- شاید ستا داسې ګومان وي چې زه غواړم د چایو د سوداګرۍ په باب درسره وږغېږم! ومې خندل او ومې ویل:

- نه یا داسې فکر کوې چې که د پولادو په باره کې راسره وږغېږې هم به زه خواب درکړای شم. ستا تېروتنه په همدې ځای کې ده.

مارګریتا چې ولیدل له دې لارې څه په لاس نه ورځي، نو ویې ویل:

- خیر دا دې وي. ایا یو څه نخا ته دې زړه کېږي؟

زه سملاسي پاځېدم او ومې ویل:

- ښځې!

همدا چې نخاځای ته روانېدو، یو خدمتګار مېز ته رانژدې شو او ما ته یې وویل:

- ښاغلی صدرالدین، له فردوسي هوټل څخه یو چا ټلیفون درته راکړی دی، زما سره راځئ!

له مارګریتا څخه مې بخښنه وغوښته. هغه بېرته پر خپل ځای کښېناسته او زه په خدمتګار پسې روان شوم. تقریباً ډاډه وم چې ټلیفون‌کوونکی له هانس پرته بل څوک نه دی او دا چې څه ویل غواړي، هېڅ نه پوهېدم. له بل پلوه نوموړی په خپل کار کې تکړه وو او هېڅکله یې تر اوبو مخکې ګاولې (څپلې) نه کښلې. ویل مې خامخا یوه ځانګړې او مهمه پېښه شوې ده چې په داسې حساس وخت کې مې ورغواړي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په همدې سوچونو کې وم چې یو چا په نامه راږغ کړل:

- ښاغلی صدرالدینه!

ودرېدم او مخ مې ور تاو کړ تر څو دا ناپېژاند شناخته ووینم. که مې کتل یو سړی په هندې جامو کې ولاړ دی او د لاس په اشاره مې خپل مېز ته ورغواړي.

بله چاره نه وه او سره له دې چې هغه مې نه پېژاند، بیا مې هم پر خبره د هېښتیا نښې رابښکاره نه کړې. څکه مارګریتا په څو قدمی کې په څلورو سترګو راپسې څارو وه. ورغلم او لکه د کلونو-کلونو شناخته ټینګه غېږ مې ورکړه. د کېښناستو بلنه یې راکړه. ورسره سم یې اړخ ته ناسته ښځه چې هندی جامې(ساړي) یې اغوستې وه، د خپلې مېرمنې په توګه راوپېژندله. ما یې په ډېر ادب بلنې ته د نه خواب ورکړ. د دغه دوستانه او خوراګرم چلند په ترڅ کې هغه هندي سړي ورو راته وویل:

- مارګریتا مو پېژندلې ده، بیداره اوسه. ټیلیفون هم دومره مهم نه دی، یو ملګری دی.

ما یې په خیر-خیر سترګو ته وکتل. ومې پېژاند؛ هانس وو؛ خبره او جامې یې اړولي وې. زړه مې پر پښتی شو او هماغسې په خندا مې ورته وویل:

- ما پخوا لا پېژندلې وه، وروسته به دې سر درخلاص کړم. اوس باید د ټیلیفون خواب ورکړم!

هانس په داسې حال کې چې کېڼ لاس یې پر اوږه راایښی او په ښی لاس کې یې زما لاس نیولی وو، وویل:

- بیا هم پر څان پام کوه او بیداره اوسه. اردو یې داسې روانه زده ده لکه مورنی ژبه. خدای پاماني مې څنې واخیسته او یو څو ګامه ها پلو ولاړ خدمتګار نه ورغلم. دواړه د هوټل دفتر ته ننوتو. غوږۍ د مدیر پر مېز پرته وه. ټیلیفونکوونکی مې نه پېژاند. عادي او دوستانه سره ورغږېدو. راته ویې ویل چې د پنځه سوه ته چابو لپاره یې یو خریدار پیدا کړی او غواړي د رسمي کارونو د خلاصولو لپاره راسره ووینې. منته مې څنې وکړه او ملاقات مې سبا ته وځنډاوه.

په دې ډول ګواکې هغه مکالمه پای ته ورسېده چې زه یې اندېښمن کړی وم. بېرته مارګریتا ته ورغلم. هغې، کریستین او الفرډ تازه په دوډۍ خوړلو پیل کړی وو. کریستین راڅخه وپوښتل:

- چېرې وې؟

په داسې حال کې چې له ډېرې خوښۍ مې لاسونه سره مروړل، خواب مې ورکړ:

- نن شپه زما لپاره یوه نېکمرغه شپه ده!

الفرډ په خبرو کې راولوېد او ویې پوښتل:

- څه خبره ده؟ هسې نه نوې مینه دې پیدا کړې وي.

په داسې حال کې چې سترګې مې په خوړو کې وې، ومې ویل:

- نه، د پنځه سوه تنه چایو د پلورنې خبر مې ترلاسه کړ!

کریستین وویل:

- نو شتمن شوی یې؟

ورته ومې کتل او ومې ویل:

- همداسې یې وبوله. په دې سودا کې مې دا څو ورځې چورت بند وو.

وروسته مې مارګریتا ته وکتل. په مانادار انداز راته ځیر او زما دې ساختګي رول ته له ډېرې غوسه د چاودنې پر برید ولاړه وه...

تر ډوډۍ وروسته یو ځل له کریستین او یو وار له مارګریتا سره رقص ته ولاړ شوم. مارګریتا د څووم ځل لپاره خپله غوښتنه تکرار کړه او چې نهیلې شوه، نو ویې ګواښلم او راته ویې ویل چې تر دې وروسته یې په یوه بله لار درسره مالوموم. ګواښ یې دومره جدي وو چې ویل مې له هوټل څخه تر وتلو وروسته به سملاسې د یوه ناشناس له خوا ډزې راباندې وشي.

د شپې پر دوولس نیمې بجې له هوټله راووتو. پر پُل واوښتو. الفرډ راته مخ کړ او ویې ویل:

- تاسې له دې ځایه ښار ته یوازې ځئ!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مارګریتا پر خبرو راغله او په مانادار انداز یې راته وویل:

- کریستین زموږ سره ځي!

ما کریستین یا شاپو خولۍ ته وکتل تر څو ووینم چې څه خواب ورکوي. هغې ما ته مخ کړ، ویې خندل او ویې ویل:

- بخښنه غواړم ملګرې، زه له خپلو زړو ملګرو سره بوخاې ښار ته ځم. سبا پر نهه بجې دې ټیلیفون ته سترګې پر لار یم... ښه شپه!

پورتنې خبرې یې په داسې حال کې وکړې چې خپل ځانګړی اورلګیت یې په لاس کې نیولی وو. ورته ومې ویل:

- بوخاې راغلې یو، بوخاې به بېرته ځو!

کریستین چې په دې وخت کې زما څخه لږ لیرې ولاړه وه، رانژدې شوه او ورو یې راته وویل:

- زما ملګرتیا همداسې ده. ډېر په دې کیسو پسې سر مه ګرځوه!

الفرډ راته وویل:

- ملګرې سبا پر نهه بجې به دې کریستین ټیلیفون ته خواب ووایي!

د ده د خبرو تر ختمېدو وروسته کریستین په خندا راته وویل:

- همداسې ده. سبا سهار نهه بجې!

ټینګار فایده نه کوله. د کریستین د چلند دغه بدلون د دې ښکارندویي کوله چې مارګریتا حال ورنه ویلی او زما له رازونو یې پرده ورته پورته کړې ده.

درې واړه د ښه شپه په ویلو سره موټر ته وختل. الفرډ شتمرنګ ته کېښناست. د روانېدو پر وخت یې د لاس په ښورولو یو ځل بیا مخه‌ښه راسره وکړه... دغه مخه‌ښه په یو ډول زما د ماموریت د ختمېدو مانا لرله چې همدلته د دربند هوټل مخې ته یې کیسه خلاصه شوه. په دې حساب مې نو نور باید له خپل ښکار څخه لاس مینځلی وای. د کریستین د بیالیدو هیله خورا کمزورې راته ښکارېده له ځان سره مې وویل چې ولاړه والوته او بیا به یې هېڅکله سیوری هم ونه وینم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د هغوی تر تګ څو دقیقې وروسته ما هم راهئ کړل. سړک تش وو. له خلاصه لاسه مې موټر پر څغلاوه. ټول فکر و ذکر مې په کریستین کې بند وو. دا د ۱۹۴۱م کال د اګسټ میاشتې ۲۲مه او جمعه وه. تهران په خپله همېشنی چوپتیا کې ډوب وو. په دې خاموشۍ کې د پټو روانو معاملو له رازه ډېر لږ خلک خبر ول چې یو له هغو څخه زه هم وم. د خپل ماموریت احتمالي ماتې سخت خوروولم. څه کم یوه بجه د فردوسي هوټل مخې ته له موټره پلی شوم او سیده خپلې کوټې ته ولاړم. د شانیها د کوټې له دروازې سره لږ پښه‌نیولی شوم. ګروپ یې روښان وو. د شپې دا وخت یې څه کول؟ هغه شېبه مې دا پوښتنه نشوای خوابولای، خو کله چې مې د خپلې کوټې ګروپ ولګاوه، نو خواب مې ترلاسه کړ؛ شانیها د کوټې په منځ کې ولاړ وو. څنې ومې پوښتل:

- هلکه دلته زما په کوټه کې څه کوې؟

له څه ویلو پرته ورو وړاندې راغی او همدا چې څو قدمی ته مې راورسېد یودم یې راوڅغاستل، په خپلو پلنو لاسونو یې تر مرۍ ونیولم او په ګواښونکې لهجه یې راته وویل:

- راتلو ته دې منتظر وم چې خپل حساب درسره خلاص کړم!

ما تر دوارو مړوندونو ونیو، غوښتل مې د جودو په یوه حرکت یې چې په سایګون کې مې زده کړی وو، راوپرځوم. خو د ده جودو زده وه، په یوه ساده حرکت یې د شا پر تخته پر ځمکه وغورځولم، پر سینه راکښېناست، پر ستوني یې چاکو راکښېښود او ویې ویل:

- په نوکندي کې دې د هغې جاسوسې ایرما مرګ په یاد دی؟

ما په داسې حال کې چې سترګې مې په سترګو کې ورګنډلې وې، ومې ویل:

- مطلب دې څه دی؟ زه و ته خو اندیوالان یو!

شانیها چې د یوه بې رحمه قاتل څېره یې خپله کړې وه، ځواب راکړ:

- خو زه تا خپل ملګری نه بولم...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ما بیا ترې وپوښتل:

- سهي ده، فرض يې کړه چې ملګري نه يو. مګر بيا هم دا راته ووايه چې ولې دومره راته غوسه يې؟ ويې ويل:

- ايرما په مرمې مړه شوه، ته بايد د دغه تېره چاکو د خندې خوراک شې!

خپل دواړه ځنګنونه يې زما پر غبرګو لاسونو را ايښي ول او هر څو شيبې وروسته به يې ټينګ‌ټينګ زور پر کاوه. لاسونه مې بې‌حسه غوندې ول. پر ځيګر راناست وو، په ډېره سختۍ مې ساه اخيستله. تر ټولو بده لا دا چې پر مرۍ مې چاکو پروت وو...

شانيها راته مالوم وو، د انسان وژنه داسې ورته ښکارېده لکه د يو مچ وژل. که مې يوه وړه ډغره هم ورسره وهلای، په پوره بې‌رحمۍ او بېخارۍ يې حلالولم. پرله پسې يې د ايرما قتل راياداوه. حيران وم څه ورته ووايم، څکه هر وار چې به مې د دغو ګواښونو وجه ترې پوښتله، ځواب يې نه راکاوه. هېڅ خبرې اغېز نه پر درلود. ويل مې ښايي د يو بل چا راتګ ته منتظر وي. په دې حساب نو بايد د خپلو سوالونو ځوابونه له هغه څخه وغواړم. ياني د دغه لاروهونکي دنده صرف دومره ده چې د هغه تر راتلو پورې ما تر ګواښ لاندې وساتي. نو هغه سړی څوک کېدای شوای؟ په اغلب ګومان بايد کشيش لودويک وای. په هر صورت، دا د ده لپاره زما څخه د غچ اخيستنې تر ټولو ښه فرصت وو... ښکه چې خورا ښه تاکتيک يې کارولی وو. شانيها خپلې ځناورې تورې سترګې راپکې ګنډلي وې او په دې لټه وو چې د خپلې برلاسی اغېزې پکې ووينې. د څووم خل لپاره مې ترې وپوښتل:

- نه اوس دا راته ووايه چې ولې دې په لوی لاس زموږ په دومره ښه ملګرتيا کې لغتې ووهلې؟

شانيها مې پر لاسونو را زور کړل او ويې ويل:

- غلی شه! يو پلا مې درته وويل چې موږ ملګري نه يو. څو دقيقې وروسته به دې ټول حسابونه درخلاص کړم.

- ښه نو ته يو جاسوس يې!

په کیڼ لاس یې تر ویښتانو ونیولم، سر یې لږ راپورته کړ، بیرته یې ټینګ له ځمکې سره ووهه او ویې ویل:

- ټیک هماغسې لکه ته چې جاسوس یې!

په دې شیبه کې مې د کوټې د دروازې د خلاصېدو غږ واورېد... شانیها تازه راننوتې کس ته وکتل او یوه بریښنه مسکا یې پر شونډو راڅرګنده شوه. د بوټونو له ټکهارۍ یې وپوهېدم چې ښځه ده او ویل مې باید مارګریتا وي. ګومان مې بېخي پرځای وو. څو شیبې وروسته هماغه د دربند هوټل په جامو کې مې سر ته ودرېده. په کرکجن انداز یې راته وکتل. وروسته یې شانیها ته وویل:

- ابله یې کړه!

لاروهونکی مې له سینې څخه پاڅېد. زه هم له ځمکې راولاړ شوم او مارګریتا ته مې وویل:

- زړه ته مې نه لوېده چې یوازې به یې. ملګري دې چېرې دي؟

هغې په یوه له ملنډو ډک انداز وخندل او ویې ویل:

- د اوس لپاره صرف دوه کسان درپسې راغلي یو. له ملګرو سره ملاقات به بیا بل وخت ګورو!

ما شانیها ته چې دېوال ته ولاړ وو، وکتل او ومې ویل:

- ښه، نو تا له دغه سړي سره د لیدلو وعده کړې وه. هغه هم زما په کوټه کې؟ په رښتیا چې یوه ځیرکه او کارنده ښځه یې!

هغې په هماغه انداز ځواب راکړ:

- او تا به هم د دې ملاقات پیشبیني حتما کړې وه!

- هو، همداسې ده. خو فکر مې کاوه چې زما ځوابونو به قانع کړې یې او لاس به راڅخه واخلې. اوس باید مجبوراً یو ځل بیا درڅرګنده کړم چې ستا وړاندېزونو ته زما ځواب هماغه دی چې وړاندې مې درکړی دی. تر دې ځایه د راتګ زحمت ته نو څه اړتیا وه؟ مارګریتا وویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- د دې ليدنې هدف بل شی دی. دا وار ستا زوړ يار شانيها هم په مذاکراتو کې ګډون کوي، خو په دې توپير چې هغه به د خپل يار خوا نه نيسي. که دې بيا هم زما له وړاندېزونو سر وغړاوه، نو نومونړی به دې په ډېره لېوالتيا له دنيا څخه رخصت کړي.

ترې ومې پوښتل:

- يانې هغه به مې ستا په اشاره ووژني؟

شانيها سره وخوځېد، څو ګامه وړاندې راغی، چاکو يې سترګو ته راته ونيو او ويې ويل:

- هماغسې د ايرما غوندې به دې د سترګو په رپ کې کار دروکړم. په دې توپير چې ستا وژنه به دومره په خاموشۍ تر سره شي چې ان ګاونډی به دې لا بړغ وانه وري.

ما سره له دې چې هغوی دواړه مې پر خپلو خبرو کلک ولاړ ليدل، بيا مې هم ځواب ورکړ:

- نو ولې ګورئ، ونيسئ مهرباني وکړئ!

مارګريتا وويل:

- په ولاړې به ستړی شې، کښېنه چې لږ په ارامۍ سره وږغېږو!

زه کښېناستم. هغې يوه څوکۍ راکش کړه او مخامخ راته کښېناسته. شانيها مې شا ته ودرېد او راباندې پېره شو. مارګريتا سګرېټ ولګاوه او ويې ويل:

- ستا څخه هيله کوو چې همکاري راسره وکړې!

- څنګه همکاري؟ مخکې مې هم دا پوښتنه درڅخه وکړه!

هغې له سګرېټه لوخړه پورته کړه او ويې ويل:

- زه خينې لاربنوونې درته کوم، بايد عملي يې کړې!

ما په پز/پوزه کې وخندل او ومې ويل:

- ستا لاربنوونې د څښي اړوند دي؟ زه صرف د چاپو د صادراتو په اړه مالومات درکولای شم، له دې پرته بل په هېڅ شي نه پوهېږم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغې هڅه کوله خپله غوسه پټه کړي او تر وسه-وسه په نرمۍ راسره وږغېږي. ویې ویل:

-ولې خان ته داسې بلا اخیستې یې؟ ښاغلی صدرالدین خانه ډېر ښه دې سر خلاص دی چې له دې خایه ژوندی نشې وتلای، نو د خان پټولو او خبرې اړولو دا احمقانه هڅې څه مانا؟ زه دې په ټوله تاریخچه خبره یم. که مې درته بیان کړه، نو داسې به وانګېرې لکه ګام پر ګام چې درسره ملګرې وم. له نوکندي کلا څخه راواخله بیا له لودویک سره تر ملګرتیا او د وژل شوي ایرما د ساعت تر راتښتولو پورې. بیا له وارنر سره ملاقات چې وروسته زموږ ملګری شو او له تهران څخه دباندې د هغې ښځې تر وژنې پورې او بالاخره د کرمان ماموریت، د کورت وژل کېدل او اوس هم د صدرالدین په توګه راڅرګندېدل چې د هندوستان د چایو د یوه صادراتي شرکت مشر دی او غواړي کریستین په لومه کې بنده کړي.

تر یوې لنډې دمې وروسته یې زیاته کړه:

- خو د دا وروستي ماموریت په باب باید درته ووایم چې خپل شکست باید ومنې، څکه مارغه له قفسه الوتی او د جرمنیانو له منګولو وتلی دی. او که دې زما وړاندیزونه ومنل، نو تا به هم وبایلي. اوس ستا لپاره خیر په دې کې دی چې د هانس د بریالیتوب پرخای د خپل سر غم وخورې. نه خپله هانس او نه هم نور کسان ستا د وژلو یوه ذره پروا لري. ته به هم د کورت په شان ډېر ژر هېر کړل شې. زه یو ځل بیا درته وایم چې له انکاره لاس واخله او زما وړاندیزونه ومنه. زموږ سره ستا همکاري دا ده چې د جرمني جاسوسانو د ټولو ماموریتونو په هکله مالومات راکړې او له پټو اسنادو څخه عکسونه واخلې...

د نومورې په خبرو کې داسې خاص نوي څه نه ول او له سره تر پایه د زړو کیسو تکرار وو. پاته کریستین شوه، هغه خو مې همالته د دربند هوټل مخې ته لا زړه ته تېره شوې وه چې ولاړه او بیا به یې هېڅکله ونه وینم. مارګریټا چې زما چوپتیا ولیده، ویې پوښتل:

-ځواب دې څه دی؟

- ته څه فکر کوې؟

- زه ډاډه یم چې خواب به دې مثبت وي!

- خو دا باید څرګنده شي چې د څښې اړوند... لکه څنګه چې مې درته وویل زه ستا په خبرو بېخي پوهېږم نه او که غواړې چې شانیها راباندې شاهد کړې، نو باید ووایم چې دا رښتیا دي چې هغه مې په نوکندي کلاکې ولید. هغه ورځ کوښتې نه روان وم او پر لارې غلو وشکولم او ګړی وروسته هماغو غلو شانیها ته وروستلم. نوره کیسه به خپله ده درته کړې وي. هغه نورې خبرې دې اصلاً په ما پورې اړه نه لري او لکه څنګه چې مې مخکې هم خو واره درته وېلي دي تا زه په یو بل زما په همشکله غلط کړی یم. اوس دې دواړې ښځې په یوه موزه کې اچولي دي او راته ټکګه(شله) یې چې نه هماغه کس نه یې!

مارګریتا پاځېده او ویې وېل:

- اوس د شانیها وار دی چې تاریخچه دې درپه یاد کړي!

د هغې خبرې لا پای ته نه وې رسېدلي چې شانیها د شا له خوا په خپلو څواکمنو او پلنو پنجو تر مرۍ ونیولم. له څوکۍ یې ولاړ کړم. د خونې منځ ته یې بوتلم او په اردو یې راته وویل:

- یېقله اوس دې کیسه دې ځای ته ورسوله چې ان زما له اندېوالی هم منکر شوې. اوس به رښتیا درڅخه راوباسم!

دېوال ته یې ورنږدې کړم او څلور ښځه واره یې سر له دېوال سره راوجنګاوه. داسې مې احساسوله لکه ټوله کوټه چې څرخې او که مارګریتا نه وای منع کړی نو مرګه یې نه خوشې کولم. سره له دې چې سر مې لېونی درد کاوه. بیا مې هم اقرار ونه کړ. مارګریتا بیا راوړاندې شوه او ویې وېل:

- دا خو هېڅ شی هم نه وه. تر دې بدترې شکنجې مو درته سنجولي دي. خو زه نه غواړم چې خبره هغه ځای ته ورسېږي. څکه موږ نه ستا روغتیا په خبر ده.

ما په داسې حال کې چې لاس مې پر تندي نیولی وو. وویل:

- ستا دا پوښتنه مې مخکې درخواب کړې ده او د دغه لاروهونکې په لاس له وژل کېدلو هېڅ وېره نه لرم. د شکنجو په کیسه کې مو هم نه یم.

په غوسه يې راته وويل:

- ښه، نو ستا همداسې خوښه ده؟

د هغې دغه پوښتنه په اصل کې شانيها ته د دوهم پړاو شکنجو پيلولو اشاره وه. هغه لکه د اوداسه لوټه ټينګ مې کونې ته ولاړ وو، سملاسې يې کورتۍ راځخه وايستله او وروسته يې د چاکو په نوک يخنکاک راځيرې کړ. ورسره جوخت مې پر مټ يو تېز سوزش احساس کړ. لنډه شېبه وروسته مې پر ګوتو وينې راوبهېدې او پر ځمکه وڅڅېدې. سر مې خلاص وو چې يو عالم دردونه مې په خوا دي، ځکه دا لا د پټې سر وو. له بلې خوا له دې عذابه د خلاصون يوه کوچنوټې هيله هم په نظر نه راتله.

شانيها زما له بازو ځخه په روانو وينو خپل چاکو سور کړ، سترګو ته يې نېغ راته ونيو او ويې ويل:

- له دې ساختګې صدرالدين سره بايد همداسې چلند وشي. ګوره ښه راته غوږ شه، کلونه-کلونه کېږي چې سره پېژنو او سره له دې چې وژل دې د مچ شړلو هومره زور نه راته غواړي، خو بيا هم غواړم ژوندی پاته شې او د مارګريتا د لارښوونو مطابق کار وکړې... له دې ځايه د وتلو سوچ دې له سره وباسه. په همدې کوټه کې دې سر درقلموم.

تا ته ښه درمالوم يم چې يو پلا درد راشي بيا نه شي په سترګو وينم او نه د چا پروا لرم. هدف ته د رسېدلو لپاره هر ځه تر پښو لاندې کوم. نو مخکې له دې چې د مرۍ په وينو دې زما لاسونه ولړل شوي، ووايه له دوی سره همکارې منې که نه؟ اخير د ځښې لپاره ژوند په خطر کې اچوې؟ ايا له پيسو ګټلو پرته کومه بله موخه هم لرې؟ تر دې بله موقع چيرې وه چې له دواړو غاړو ځخه پيسې ووهې. سر به دې هم سلامت وي... ته ستا تر تصور لوړ په خپل کار کې تکړه او استاد يې. د دغه

چاکو په وینو سرې خنډې ته وګوره، د سترګو په رپ کې دې بنارګ درپړې کولای شي!

د هغه تر خوله راوتونکو تورو د يوه کلک او نهماتېدونکي هوډ ښکارندويي کوله. بېخي ښه راته مالوم وو. هم مې د قاچاقبری په شپو کې ليدلی وو او هم د لاروهنې پر مهال او اوس مې ايله سر خلاص شوی وو چې خنګه يې داسې په بېغمه زړه خلک شکول. دا يې دوهم کسب وو.

مارګريتا د کوټې په يوه کونج يوې راځوړندې تابلو ته کتل او داسې يې ښودله لکه زموږ خبرې چې بېخي اوري نه. فقط زما هوکړې ته منتظره وه. يو خدای خبر وو چې اخير به څه راپېښ شي... وارنر مې سترګو ته ودرېد چې پر دې خطرناکه لار تللی وو او اوس يې زه هم مجبورولم چې پر ولاړ شم. دومره په فکرونو کې غرق تللی وم چې د بازو د زخم درد لا راځخه هېر وو او ايله هله مې ورته فکر شو چې پر ځمکه څڅېدلي وينې مې وليدې.

شانيها لا هم مخامخ راته ولاړ وو او چاکو يې په لاسونو کې خوځاوه راخوځاوه. وينې يې پر خنډه وچې شوي وې او زه له مرګ څخه يوازې يو قدم ليرې او د قبر پر غاړه ولاړ وم. خو لا مې هم زړه نه منله چې دغه بې رحمه لاروهونکی به مې ووژني. اخير زه هم يو وخت قاچاقبر وم او د هماغه دوران ياغي و باغي روح مې ژوندی وو.

مارګريتا مې خوا ته راغله او له شانيها يې وپوښتل:

- ولې ورته ګورې؟ وخت کم دی او د بېځايه باندار ضرورت نشته. که يې نه منې، کار يې ورخلاص کړه!

هغه لاروهونکي خپلې سرې اوښتې سترګې راپکې وګنډلې او راته ويې ويل:

- وادې ورېدل! تر لسو پورې حساب کوم که دې ونه منله په خدای قسم چې سر درڅخه غوڅوم او دلته پر مېز يې ږدم. له دې هم زړه بېغمه کړه چې زما غونډې قاتل به ونيول شي. يو ساعت وروسته به له تهران څخه کېلومترونه-کېلومترونه ليرې ګرځم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مارګریتا له لسو څخه تر یو پورې سرچپه حساب شروع کړ... لس... نهه... اته... اووه... شپږ... پنځه... څلور...

زړه مې تر عادي حالت په کراتو-مراتو تېز غورځېد. د مرګ سیوری مې د سر له پاسه لیدی او پر تندي مې یخه خوله احساسوله. دا په حقیقت کې د مرګ خوله وه. زاری او ننواتو هېڅ ځای نه نیو او زما مخې ته یوازې دوه انتخابه پراته ول: له دوی سره همکاري یا مرګ... درې... دوه... یو...

زه لا هماغسې چوپ وم. د دې چوپتیا او نه تسلیمی لامل دا وو چې غوښتل مې په یوه فرصت کې پر مخامخ راته ولاړ لاروهونکي برید وکړم. که څه هم د هغه د چاکو او مارګریتا د توپنچې په وړاندې دا خیال یوه احمقانه پرېکړه وه، مګر شاید له مرګه یې خلاص کړی وای. همدا د هیلې یوازنی څرک وو.

د یو شمېرې تر ویل کېدو وروسته شانیها په خوځېدو شو تر څو کار مې راخلاص کړي. مارګریتا یې مخنیوی وکړ او ویې ویل:

- ودرېږه، لس ثانیې نور وخت هم ورکوم!

شانیها لکه یو قصاب چې د پسه حلالولو ته چمتو وي، خپل چاکو په هوا کې تېر راتېر کړ. له ځان سره مې ویل بنایي اول برید یې زما پر ځېته یا هم سینه وي تر څو په همدې لومړي ګوزار کې مې له پښو وغورځوي او وروسته مې په نورو ځایونو کې په وهلو سره کار پسې راخلاص کړي...

وروستۍ لس ثانیې هم تېرې شوې. وړاندوینه مې پرځای وه؛ شانیها راپه هوا شو چې په نس کې مې ووهي، خو ما په پوره چټکۍ ځان چپې خوا ته کش کړ. د هغه چاکو همداسې په هوا کې ننوت او خپله دی یو څه د مخ طرف ته کوږ شو. ځنډ مې ونه کړ او چابک مې په دواړو لاسونو یو ټینګ ګوزار پر دا ملا ورواهه. شانیها چې له اوله یې لا توازن خراب شوی وو، دغې ضربې پرمخې پر ځمکه وغورځاوه... وروسته مې مارګریتا ته وکتل. هغه لګیا وه په تروش مخ او غوسه یې د توپنچې ماشه وهله، خو لکه چې مرمۍ یې بنده شوې وه او ټک یې نه کاوه. له

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دې سره مې د هیلې هغه کوچنۍ جوله په بوه لوبه درېځه بدله شوه او د هغې د
توپنچې له خوا مې زړه ببغمه شو.

د شانیها تر بېرته راپورته کېدو بورې مې پر مارګریتا وروغځاستل او پر وسله وال
لاس مې بوه نېنګه لغته ووهله. توپنچه څنې ولوېده. دسنې مې ورحمله کړل. د شا
له خوا مې تر مرۍ ونیوله او خان ته مې سپر کړه. شانیها چې ولېدل نور یې مسبال له
هودې وتلی دی، نو پر هغه محکمې اور یې اوبه نوی شوې او له غور و پشه یې
لاس واخیست. پر پښو له درېدو سره سم یې مارګریتا ولیده چې ما نېنګه تر غاړه
نیولې ده. پر هماغه خای مېخ ودرېد او په بوه له کېنې و نفرت ډکه لهجه یې وویل:

- زه به ستا سره جوړ شم!

ما په امرانه انداز ورته وویل:

- هله چابک دې مخ پرته که او له کوټې څخه ووزه!

هغه یو څو ګامه ولاړ، بېرته ودرېد لکه یو څه چې راته ویل غواړي. خو پښېمانه
او مخ پر دروازه روان شو... په همدې شېبه کې دروازه له دباندې څخه وټکېده.
شانیها بیا ودرېد. سترګې یې په ما کې وګنډلې. د دروازې پرانیستو اشاره مې ورته
وکړه. له دې سره سم مې مارګریتا دروازې ته ورنژدې کړه تر څو د دروازې له
خلاصېدو سره ونه لیدل شو.

شانیها تر جامو لاندې چاکو خلاص کړ. وروسته کرار-کرار شا ته راغی. دروازه
ورو وټېل شوه. څو شېبې وروسته مې الفرډ ولید چې توپنچه په لاس رابښکاره شو.
بې اختیاره مې مارګریتا خوشې کړه او شا ته شوم. له دې سره مې ګواکې تولې هڅې
اوبو وړې او بېرته هماغه اول حالت ته ورستون شوی وم....

مارګریتا چې خان ازاد ولید، په بوه حمله یې خپله توپنچه راپورته کړه تر څو
پکې بنده مرمۍ ترې راوباسي... مګر په توپنچې له لاس وهلو سره سم یې پر څېره
د هېښتیا نښې رابښکاره شوې. الفرډ چې ما ته مخامخ ولاړ وو، ورته وکتل او ترې
وېې پوښتل:

- مارګریتا څه خبره ده؟

هغې خپله توپنچه وروښوده او ورته ویې ویل:
- دا وګوره، مرمۍ پکې نشته. هیڅ امکان نه لري، څکه ان یوه شیبه مې هم له خانه نه ده لیرې کړې.

دې پېښې یوازې دوی، نه بلکې زه هم هېښ کړم. له ځانه مې وپوښتل: *(ایا خپله یې مرمۍ وراچول هېر شوي دي او که داکار د دوی شبکې ته یوه بل پټ ورننوتلي کس کړی دی؟)*

الفرډ خپله توپنچه مارګریتا ته ورکړه، د دې تشه هغه یې واخیسته، په څېر ـ څېر یې وکتله او وروسته یې وویل:
- واقعاً حیرانوونکې ده! باید په دې اړه خفیه څېړنې وکړو، مګر زما په اند ستا به خپله هېر شوي وي چې ډکه یې کړې.

مارګریتا په ډاډمنه لهجه وویل:
- نه، ناشونې ده. زه هېڅکله تشه توپنچه نه راسره ګرځوم.

الفرډ وویل:
- نو ګواکې د همدغې تشې توپنچې وجه وه چې دغه چالبازه سړی پر تاسې دواړو برلاسی شو!

شانیها چې تر دې شیبې چوپ وو، وویل:
- نور یې څه له وسه نه ول، صرف دومره یې کولای شول چې موږ له خونې وباسې او دغه کیسه د لنډ وخت لپاره وځنډوي.

مارګریتا یې په خبرو کې ورولوېده او ویې ویل:
- بالکل، څه وخت وروسته مو په هره بیه خپل پلان عملي کاوه، خو اوس یې ستا په راتلو سره همدا نن کار ورخلاصوو.

الفرډ سترګې راپکې وګنډلې، وړاندې راغی، یودم یې یوه ټینګه چپلاخه پر مخ ووهلم او ویې ویل:
- وادې وربدل؟ باید له دوو لارو څخه یوه انتخاب کړې؛ بېله شرطه تسلیمي او یا په بې‌ډغه توپنچه مرګ!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د چپلاخې پر ځای مې لاس تېر کړ او ومې ویل:

- دریمه لار هم شته!

دریو واړو د دې خبرې په اورېدو غوږونه څک کړ... الفرډ راڅخه وپوښتل:

- دریمه لار؟

- پر دې لار ستاسې باور لومړی شرط دی.

مارګریتا وویل:

- غولوې مو!

شانیها وویل:

- ویه ګورو چې څه وایې!

په داسې حال کې چې سترګې مې په الفرډ کې وې، ومې ویل:

- دریمه لار دا ده چې له ایران څخه ولاړ شم، په یوه نامالوم ځای کې خپل کاروبار ته ادامه ورکړم او که...

الفرډ خبرې خلاصولو ته پرې‌نه‌ښودم، پر ځیګر یې په سوک ووهلم او ویې ویل:

- مارګریتا رښتیا ویل؛ ته یو ډېر ځیرک او چلبازه انسان یې!

ورته ومې ویل:

- تاسې خو ما تر داده پرېږدئ! قول درکوم چې له خپلې ژمنې نه اوړم. بل دا چې تاسې د خپلو امکاناتو په وسیله ډېر اسانه دا مالومولای شئ چې ایا رښتیا هم زه یوازې د خپل شرکت په کارونو بوخت یم که نه؟

مارګریتا د وروستیو کلیمو په اورېدلو خندا واخیسته او ویې ویل:

- دی اوس هم نه غواړي خپل اصلیت راوښیي. د چایو صادراتي شرکت د ده پر اصلي فعالیت د پردې اچولو یوه وسیله ده.

الفرډ راته وویل:

- یانې ستا په نظر موږ ټول بیعقلان او له هر څه ناخبره یو؟

وروسته یې خپله توپنچه مارګریتا ته ورکړه او راحمله یې کړل. غوسه یې نر اندازې وتلې وه. لکه یوه وږې پړانګ ته چې ښکار په لاس ورشي؛ راباندې راپه

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هوا شو، تر مرۍ بې ونیولم، شا ته یې وخغلولم او ټینګ یې له دېوال سره وجنګولم. په یوه لاس یې تر ستوني نیولی وم او په دا بل یې څپېړې راته بندي کړي وې. دومره یې ووهلم چې اخیر مې تر پزې/پوزې وینې را ایله شوې... له هغه سره ډغرې وهل غټه بېعقلي وه، څکه ملګري یې وسله په لاس تیارسئ ولاړ ول. بله چاره نه وه باید روانه دردوونکې کیسه مې بېله څه ویلو او کولو زغملای.

الفرډ لاس اخیستونکی نه وو. چوغ یې کړم او پر ملا یې دومره ټینګ ووهلم چې پوړمخې پر ځمکه ولوېدم. شانیها یې مرستې ته راودانګل، ورسره راپورته یې کړم او پر یوه څوکۍ یې کېنېنولم. الفرډ چې له غوسې څخه د یوه ځناور غوندې غورېدی، د ښوونځیو د وختونو شکنجې ته ملا وتړله؛ له کورتۍ څخه یې دوه دانې قلمان راوکښل، د لاس په ګوتو کې یې راکړل او په پوره بېرحمۍ یې ګوتې راکښېکښلې... له ډېره درده لکه مار سره وپېچل شوم. په یوه لاس مې بې اختیاره مړوند ته ورحمله کړل چې خان ترې خلاص کړم. هغه شانیها ته اشاره وکړه. لاروهونکي سملاسي په یوه لاس تر لاس ونیولم او دا بل یې تر زنه رالاندې او سر یې شا ته راټېله کړ. په دې ډول نو ما د الفرډ هېڅ مخنیوی نشوای کولای. د ګوتو درد مې ماغزه راوشړپول. تندی مې خولې‌خولې شو. بیا مې هم خوله خلاصه نه کړه. لا مې هم امید درلود چې اخیر به له دې عذابه خلاص شم.

مارګریتا چې د روانې صحنې ننداره یې کوله، وویل:

- دا بلاوهلی لکه سپی دومره سخت‌مرګه دی. په یوه مرمۍ یې کار ورتمام کړه!

الفرډ په داسې حال کې چې غاښونه یې چیچل، وویل:

- نه، اوس لا وختي دی. باید وپوهېږي چې له څنګه سیال سره لاس و ګرېوان دی!

اخیر مې درد له زغمه ووت، چوپتیا مې ماته کړه او ومې ویل:

- ودرېږئ!

هغه سمدستي قلمان له ګوتو راڅخه وایستل او ویې ویل:

- ایا بېله شرطه تسلیمي منې؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د خبرو کولو توان مې نه درلود، بیا مې هم توله انرژي راجمع کړه او ورته ومې ویل:

- ما ته ستاسې د وړاندیز په باره کې د فکر کولو وخت راکړئ، خو باور وکړئ چې زما اصلي کار بهرنیو هیوادونو ته د چایو صادرول دي. کوم کس چې تاسې یې لټوئ هغه زه نه یم.

الفرډ خپل ښی لاس پر مخ راکښېښود، سر یې د څوکۍ پر شا راتکیه کړ او راته ویې ویل:

- موږ ته ستا کار و کسب نه، بلکې خپل وړاندیز منل مهم دي. تر لسو بجو پورې د فکر کولو وخت درکوو، مګر یاد ولره چې ځواب دې باید حتماً مثبت وي، کنه نو له ژونده لاس ومینځه!

پاڅېد او مارګریتا ته یې وویل:

- تر لسو بجو پورې ازاد دی. په ارامۍ او بېغمۍ دې فکر وکړي!

شانیها وویل:

- او همدارنګه تر هغه وخته د تېښتې موقع هم لري!

الفرډ په پزه کې وخندل او ویې ویل:

- نه، امکان نه لري، ځکه سر یې خلاص دی چې هر ځای پټ شي، پیدا کولای یې شو. په هغه صورت کې نو بیا د ده شتون و نه‌شتون زموږ لپاره یوشان دی او هماغه ثانیه یې د ژوند کتاب ورتړو.

له کوټې څخه د وتلو پر وخت مارګریتا راته مخ کړ او ویې ویل:

- رښتیا، پر نهه بجې کریستېین ته زنګ وهل دې له یاده ونه‌وزي!

پر دې خبره هغې او الفرډ په ډکه خوله وخندل. د هغوی خندا پر یوه وخت هم مانادارە وه او هم یې د تمسخر بوی تلی....

کله چې د دریو واړو مخونه پرته شول، له څوکۍ څخه پاڅېدم. ګوتې مې بد رقم خوږېدې. له پزې مې وینه روانه وه او پر بازو مې د شانیها په چاکو زخمي شوې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ځای تینګ سوخت کاوه. بد راګیر وم، خو زما ټول عمر په قاچاقبرۍ کې تېر شوی وو او دغو دردونو و تېونو له پښو نشوای غورځولای.

ځان مې سره سم کړ او تر سهارنۍ خوړلو وروسته مې راپور لیکلو ته ګونډه کت کړه. د تېرو څلورویشتو ساعتونو راپور مې ټکي په ټکي په ډېر زحمت ولیکه. په پای کې مې دا هم ولیکل چې خپل اوسني خطرناک وضعیت ته په کتلو باید خپل ځای بدل کړم او نوی موقعیت به وروسته وروښیم.

راپور مې په اورلګیت کې کښېښود او له کوټې څخه راووتم. ستړیا، بېخوبي او د الفرډ شکنجو سخت له کاره غورځولی وم او په هیڅ وجه مې د برلین کوڅې سوالګر ته د ورتګ شېمه نه درلوده، مګر چار نه وه او باید خپله دنده مې په خپله تر سره کولای. زړه مې غوښتل له دې ټولو کړاوونو او نارامیو لیرې په یوه بنده کوټه کې ټوله ورځ پرېوزم او هېڅوک غرض راونه ولري. مګر له بده مرغه دا فرصت مې نه درلود. که څه هم پوهېدم چې کریستین به بیا هېڅکله ونه وینم، خو بیا مې هم باید پر نهه بجې زنګ وروهلای. له یوې خوا مې د خپل روان ماموریت سر و بېخ سم نشوای سنجولای. له بلې خوا مارګریتا او ملګري یې راپسې ول او د خلاصون یوازنۍ لار د استوګنځي بدلول ول.

له دې جنجالي او پېتو لوبو څخه تېښته اسانه وه او کولای مې شول په هماغه سهار ځان ورک کړم، مګر خپلې ماجراخوښنه اروا ارام ته نه پرېښودلم. له بل پلوه مې له مارګریتا او شانیها څخه غچ هم نه وو اخیستی. نفس مې نه دا نه منله چې همداسې یې پرېږدم. له فردوسي هوټل څخه راووتم، شاوخوا ته له کتلو پرته مې موټر چالان کړ او برلین کوڅې ته ولاړم.

تقریباً ډاډه وم چې یا خپله الفرډ او یا یې هم کوم ملګری راپسې څارو دی، نو باید تر پخوا مې په زیات احتیاط له سوالګر سره تبادله کولای. له موټره کښته شوم، په حیرانتیا مې ولیدل چې هغه سوالګر پر خپل همېشني ځای نشته.

پلی د برلین کوڅې تر پایه ولاړم او بېرته راغلم، خو هغه مې په سترګه نشو. نور ځنډ او فکر کولو ته اړتیا نه وه، باید ژر تر ژره مې له دوهم رابط سره اړیکه نیولای.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لکه څنګه چې مې محکمې ولیکل، دوهم رابط پر نادرې واټ د کوچنیانو د جامو خرڅولو دوکان درلود. هغه یوه زړه او ډنګره ښځه وه. دوکان نه زما د ورتلو پر وخت د ځبل میز شا ته د بوې ولاړې الماری په سمولو اخته وه. زما د پښو ښکالو یې پام را واړاوه. شا ته یې وکتل او ویې ویل:

- یو شی مو په‌کار وو؟

په خواب کې مې ورته وویل:

- زما زوی مړ شو. ایا کالي یې رانیسې؟

هغې سملاسي له ځبل ځیګر څخه د سګرېټو یو پاکټ راوایست او ما ته یې راکړ. ما هم اورلګیت په لاس کې ورکښېنود او چابک یې بېرته له دوکانه راووتم. په موټر کې یو ګړی کښېناستم. تصمیم مې ونیو چې د لاله زار واټ د فنادي کافي ته ولاړ شم.

موټر مې د یادې کافي مخې ته ودراوه او ورننوتم. وروستی له دېوال سره نښتی میز مې ونیو او د قهوې راوړلو سپارښت مې ورکړ. وروسته تشناب ته ولاړم چې د هانس له نویو لارښوونو خان خبر کړم. د سګرېټو له کوټي څخه مې لیک راوایست. پکې لیکلي ول:

*(ستا او کریستین وروستی لیدنه به نن شپه تر سره شي. نوموړې آمستارا رقاصخانې ته بوزه. هر وخت چې خدمتګار ستا له سپارښت پرته پر میز بوتل درته کښېښود، سملاسي بخښنه وغواړه، هغه بوتل درسره واخله او راووزه. د خدمتګار د دې کار مانا دا ده چې احتیاط وکړه. ستا ماموریت هغه وخت پای ته رسېږي چې ته شتونګ ته کښېنې او کریستین دې ارخ ته کښېني.)*

هانس لیک مې ټوټې ټوټې کړ، په دستشویه کې مې واچوه او اوبه مې پسې ابله کړې. په داسې حال کې چې په زړه کې مې د هانس پر تازه لارښوونو خندل، بېرته ځبل میز ته راستون شوم. نن شپه له کریستین سره ملاقات... څه یو شیرین خوب...

پوهېدم چې هانس به زما د راپور تر لوستلو وروسته پېریان ونیسي. سخت به نهیلی شي او د خووم خل لپاره به خان د کریستین په وړاندې مات شوی احساس

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کړي. ښېله شکه به په دې تړاو د ملامتی ګوته ما ته ونیسي. مګر دا ګړی ما ته یوازنی مهم شی تر لسو بجو مخکې د استوګنځي بدلول ول. پوهېدم چې د الفرډ تر ځار لاندې یم او د خپلې پټېدنې نقشه مې همدې تکي ته په پام سره جوړه کړې وه. بله چاره مې لرله هم نه. هر څنګه چې کېدای باید د هغوی له خونړیو منګولو مې ځان ایستلای.

پلان مې دا وو چې تر نهو بجو همالته په کافه کې پاته شم او بیا له هماغه ځایه د کریستین کور ته ټیلیفون وکړم. همدا مې د روان ناکام ماموریت د ادامې وروستی کمزوره هیله وه... نهه بجې له مېزه پاڅېدم او ټیلیفون ته ورغلم. د کریستین شمېره مې ووهله. څو زنګونه تېر شول اخیر یو چا غوږی پورته کړه. یوې ښځې په پارسي راځخه وپوښتل:

- هلو... څوک یاست؟

- غواړم له مېرمن کریستین سره وږغېږم!

- ستاسې نوم؟

- زه صدرالدین نومېږم!

- له بده مرغه ښاغلې، مېرمن کریستین کور نشته!

- څه وخت راځي؟

- نه پوهېږم ښاغلې. تېره شپه چې وتلې ده بیا نه ده راغلې.

- مننه، خدای پامان!

غوږی مې کېښېښوده او له ځان سره مې وویل:

- د امید دا نیمژاله شمعه هم مړه شوه. کریستین چې تېره شپه کور ته نه ده ستنه شوې، نو حتماً یې یو بل ځای اړولې دي او غالباً نن د ورځې په اوږدو کې یا هم د شپې له تهرانه وزي.

د ټیلیفون دغې مکالمې چې زما د ماموریت د پای مانا یې لرله، راته وښودله چې باید ژر تر ژره خپل وضعیت روښانه کړم. بېرته خپل مېز ته ستون شوم. سګرېټ مې ولګاوه او یو ځل بیا مې خپله جوړه کړې نقشه په ذهن کې تېره کړه.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

اول مې خیال وو چې فردوسي هوټل ته ولاړ شم، له هغو بیکونو څخه یو راواخلم، د هوټل حساب خلاص کړم او وروسته ټاکلي ځای ته ولاړ شم... مګر اوس مې پلان بدل شوی وو او هوټل ته تګ مې ښه نه ګاڼه. غوښتل مې له همدې کافي څخه وتښتم.

حساب مې خلاص کړ او راووتم. د سړک پر بله غاړه ولاړ موټر ته ورغلم. ټول پام مې هغه سیوري ته وو چې هر ځای راپسې وو، لیکن لیدل کېدی نه. د موټر له چالانولو سره سم مې پر اوږه لاس راکېښودل شو. مخ مې ور واړاوه، الفرډ مې ولید چې یوه مانداره موسکا یې پر شونډو ناسته وه او راته کتل یې.

- چیرې له خیره ښاغلی صدرالدینه؟

- نه یې؟ پوهېدم چې تعقیبوې مې!

- او اوس دا دی باوري شوې. نو د موټر کیلي دې ما ته راکړه او فکر دې وي چې توپنچه مې په لاس کې ده!

لاس یې راپورته کړ او د لوله شوي ورځپاڼې په منځ کې پرته توپنچه یې راوښوده او ویې ویل:

- بې‌ږغه ده او له ځېل هدف باني ستا څخه یوازې شل سانتي فاصله لري او سره له دې چې په دغسې ګنه ګونه کې وژنه قاتل ته سرخوږی پېښولای شي، مګر په ما به خوږ پوه هم نشي!

کیلي مې ورکړه. هغه له موټره کښته شو، د اړخ دروازه یې خلاصه کړه، بغل ته مې کښېناست، کیلي یې بېرته راکړه او ویې ویل:

- اوس کولای شې موټر چالانه کړې. البته لار زه درښیم!

موټر مې روان کړ او ومې ویل:

- زما و ستا ملاقات خو پر لس بجې په فردوسي هوټل کې وو او اوس...

الفرډ مې خبرې راپرې کړې او ویې ویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- فردوسي هوټل خوندي ځای نه دی. غواړم یو بل ځای دې بوزم. هلته ستا د هرکلي وسایل ګڼ او رنګارنګ دي. زموږ د وړاندیز خواب به هم هورې راکړې. اوس ننګار نه دریاندې کوم. چې منزل ته ورسېدو له خیره هلته به پر ارامه راته ووایې.

ومې ویل:

- کوم وړاندیز؟ ستاسې هڅې بېځایه دي. ناحقه مې مزاحمت کوئ او خپل شخصي کار ته مې نه پرېږدئ. څه بلاوې یاست؟

هغه وخندل او ویې ویل:

- ډېر زړور سړی یې ولا. ان د توپنچې تر نښان لاندې لا له سرټمبګۍ لاس نه اخلې او د خپلې بېځایه بیعقلی لمن نه پرېږدې، مګر ستا دا شجاعت به یو څو دقیقې وروسته په کمزوری بدل شي او وبه ګورې چې په څومره بد حالت کې به تسلیم شې! رښتیا هېر مې ول، ایا کریسټین نه دې زنګ وواهه؟

- هو، خو له بده مرغه کور نه وه!

- باید مخکې له مخکې دې سر خلاص وای چې هغه به بیا هېڅکله ونه وینې. ستا د خبرتیا لپاره باید درته ووایم چې نوموړې نن سهار په شنه خړه له تهرانه ووتله او په دې سره یې د جرمني جاسوسي‌ضد سازمان ته څووم ځل ماته ورکړه.

- د جرمني جاسوسي‌ضد سازمان؟! زه نه پوهېږم چې دغه نوم زما او کریسټین له دوستانه اړیکو سره څه اړه لري؟

- برعکس، ښخې یې اړه ورسره لرله او ته بنه پوهېږې چې څه مې درته وویل.

لاله زار څلورلارې ته له رسېدو سره یې په لاس اشاره راته وکړه چې مخبرالدوله څلورلارې ته ورکاږ شم. له هغه ځایه شمالي سعدي واټ ته ورتاو شوم او بیا مې د شاهرضا واټ لوېدیځ لوری ونیو. د څلیرویشت اسفند میدان سره نږدې د اوسنی امنیه قومندانی شا ته پروت واټ ته ورننوتم او د دغه واټ په منځ کې یوه بل سړک ته ورتاو شوم. هلته د یوه کور مخې ته چې د دروازې او کړکیو رنګ یې شین وو، ودرېدم. الفرډ بیله خنده پلی شو او ما ته یې وویل:

- راکښته شه!

سره له دې چې د ژوند لمر مې غروب ته نژدې شوی وو، بیا مې هم کوښښ کاوه چې د الفرډ او په کور کې دننه شته کسانو په وړاندې پر خپلو اعصابو کابو وساتم او له زغمه کار واخلم. اول زه ننوتم وروسته الفرډ راپسې راغی او دروازه یې وتړله. له دې سره سم مې پر سترګو د مرګ سیوری راخپور شو او خپل بې‌ساه جسد مې په خپلو سترګو ولید چې نیمه شپه مهال الفرډ او ملګرو یې له دې کوره دباندې لېرداوه تر څو له تهرانه بهر یې یو لیرې ځای وغورځوي...

پر تندي مې یخه خوله راماته شوه. پر ودانۍ یوه وېروونکې چوپتیا حاکمه وه. تر دې ګړیه مې لا بل څوک نه وو په سترګه شوی. الفرډ چې تر شا راپسې وو، پر ملا لاس راکښېښود او په غوسه یې یوې کوټې ته ور ننه‌ایستم... څو شېبې وروسته د مېز پر سر پروت ټلیفون وکړنګېد. هغه غوږی پورته کړه او *(درته منتظر یم!)* په ویلو سره یې بېرته کښېښوده.

د کوټې دېوالونو او چت ته چې به مې کتل ما چې ویل خوري مې. تر زندان هم بد راباندې لګېدل. چوپه چوپتیا وه. ان الفرډ هم خاموش وو. اخیر ما خوله بېرته کړه او ومې ویل:

- زما سره مو څه کار دی؟

هغه سګرېټ ولګاوه او ویې ویل:

- دا پوښتنه تر ما ته ښه ځوابولای شې!

ښخې یې سهي ویل. د دې سوال ځواب زما سره وو. هغوی مې په اصلیت پوه شوي ول او اوس یې غوښتل په جرمنی جاسوسي شبکه کې د دوی غوړونه او سترګې شم او په منځني ختیځ کې د یاد سازمان ټول رازونه ورکړم. خو ما دواړې پښې په یوه موزه کې اچولي وې او له خپل ژوند سره مې لوبې کولې. له دې مرګوني حالت څخه د راوتلو لپاره مې ټولې هڅې بېځایه او احمقانه وې. یوازنۍ هیله مې دا وه چې ګوندې هانس مې د راپور تر لوستلو وروسته یوه مرسته وکړي. له همدې امله مې د هغوی امر ته غاړه نه ایښوده...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د الفرډ دې لنډ خواب ناخوابه کړم او بېرته خاموشي خپره شوه. ګړی وروسته هغه پر خبرو راغی او ویې ویل:

- نه خپله ډېر ښه پوهېږې چې موږ خښي درڅخه غواړو او دا ګړی د مرګ و ژوند تر منځ لاس و پښې وهې. زموږ وړاندیز ته غاړه اېښودل دې له حتمي مرګه ژغوري. کنه په همدې کور کې به دې کیسه ختمه شي. د وژلو ډول دې هم مخکې له مخکې ټاکل شوی دی او داسې به دې ووژنو چې یو څاڅکی وینه به درڅخه ونه بهېږي.

ما چې په خواب ورکولو خوله پورې کوله چې د کور د دروازې ږغ پورته شو. الفرډ پاڅېد او د کوټې دروازه یې پرانیسته. دباندې د دوو کسانو د پښو کړپې اورېدل کېده... لنډه شېبه وروسته مارګریتا او شانیها په وره کې رابښکاره شول. الفرډ مارګریتا ته مخ کړ او ویې ویل:

- زموږ تاسې ګومان سهي وو. له کافي څخه د راوتلو پر وخت مې سر په خلاص شو چې څان غیبوي.

مارګریتا وپوښتل:

- زموږ وړاندیز یې ومانه؟ ده ځواب ورکړ:

- له بده مرغه نه او نور باید دغه بېخونده کیسه ژر تر ژره ختمه کړو!

وروسته یې وخندل او ویې ویل:

- او دا بیعقل په دې سوچ کې دی چې غاړه غړول او ځان ناګاره اچول به یې پر مخ د تېښتې یوه لار پرانیزي!

شانیها راته وکتل او ویې ویل:

- زه یې خورا ښه پېژنم. پر هېڅ خبره یې باید یوه ذره باور هم ونشي. ان که وړاندیز مو هم درسره ومني، بیا هم باور نشته پر. ډېر مکار انسان دی!

زه هماغسې چوپ وم او سره له دې چې مرګ مې په خپلو سترګو لید، بیا مې هم د تسلیمی اراده نه درلوده. پوهېدم چې د قانع کولو لپاره مې له هر ډول ګوابنه کار اخلي. الفرډ وویل:

- باید د وژلو وسیله یې په ووینو!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د هغه تر دغې خبرې وروسته شانیها رانژدې شو، له څوکۍ یې ولاړ کړم او تر لاس نیولی یې له کوټې څخه وایستلم. هغه نور دوه تر شا راپسې شول. یوې زېرخانې ته ورکښته شوو. هلته په چت کې یوه سپینه رسۍ راځوړنده او لاندې یوه څوکۍ ورته پرته وه. له ځان سره مې وویل:

- ښه، په داروې مې!

الفرډ رسۍ په لاس کې ونیوله او راته کړل یې:

- همدا به دې د ژوند کتاب دروتړي!

وروسته یې خپل لاسي ساعت ته وکتل او زیاته یې کړه:

- لسو بجو ته یو پاو پاته دی، له ژوند او مرګ څخه یو انتخاب کړه!

شانیها چې زما په وړاندې لېونی دوښمنی او کینې یې حیران کړی وم، وویل:

- رسۍ یې پر غاړه ټینګه وربېچم چې ښه په زحمت یې ساه وخېژي!

مارګریتا وویل:

- صرف یوه دقیقه به لکه له اوبو راایستلی ماهی، وټپېږي او نور به یې کار خلاص شي! په دې حساب نو یو پاو وروسته یې غرغره کولم. د ژوند اخیر ته مې پنځلس دقیقې پاته وې. لا مې هم پوره هیله نه وه ختلې او د نجات امید مې درلود. لیکن یوازې و یوازې یوې معجزې خلاصولای شوای. پنځه کم لس بجې الفرډ امر وکړ چې لاس و پښې مې راوتړي. شانیها یې د امر پرځای کولو لپاره پر خپلو پښو د دار څوکۍ ته وخېژولم. هلته یې پښې راوتړلې او د دار کړۍ یې غاړې ته راواچوله.

د الفرډ تر اشارې او ټاکلي وخت تر ختمېدو مخکې نابېره څوکۍ راڅخه کش کړل شوه او د مرګ غېږې ته ورولوېدم. په یوه شېبه کې مې پر سترګو تیاره راخپره شوه او مرګ مې په وجود رانووت. ساه مې په سینه کې غوټه او د تنفس لار مې بنده شوه. ما چې ویل اوس به مې سینه درز وچاودي. په دې مرګوني حالت کې مې د ځانژغورلو بې‌مانا تلابښ کاوه او لکه له اوبو راایستلی کب لاس و پښې مې ټپول. په دې وخت کې مې د الفرډ چیغه واورېده:

- اې احمقه تا ته چا وویل چې څوکۍ کش کړه؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

او له دې سره سم یو سیوری رانژدې شو... همدا چې څوکی مې تر پښو لاندې حس کړه، د رسی بې‌رحمانه فشار مې له مرۍ څخه ایسته شو. نور په ځان پوه نشوم...

یو وخت راپر هوښ شوم. په یوه بله کوټه کې پر یوه اوږده څوکی پروت وم. لاس و پښې مې خلاص ول. شانیها مخامخ پر څوکی راته ناست وو او زما د سترګو له پرانیستلو سره سم له خونې څخه ووت. لنډه شېبه وروسته الفرډ او مارګریتا راغلل. الفرډ نژدې راته ودرېد او ویې ویل:

- صرف یو څو شېبې راځوړند وې او له شک پرته به دې خپل مرګ په سترګو لیدلی وي او په دې به دې سر خلاص شوی وي چې ستا له منځه‌وړنه زموږ لپاره څومره اسانه کار دی.

زه پر څوکی کښېناستم او ومې پوښتل:

- ښاغلې اوس هم په دې هیله یې چې زه به مو وړاندیز ومنم؟!

مارګریتا وویل:

- ستا پرېکړه څه ده؟ خواب مې ورکړ:

- پرېکړه مې دا ده چې وړاندیز مو ومنم!

الفرډ په پزه کې وخندل او ویې ویل:

- له بده مرغه چې نور ستا توافق او شتون ته اړتیا نه لرو.

د دې خبرې په اورېدو ساه راپکې وچلېده او ومې ویل:

- نو خوشې کوئ مې؟

هغه په داسې حال کې چې پر شونډو یې یوه مانداره موسکا ناسته وه، ویې ویل:

- نه ملګرې، له بده مرغه دا کار هم نشو کولای!

ما په نیمه غوسه انداز ورته وویل:

- نو څه راکوئ؟

- ښه شو چې ودې پوښتل. یو ساعت مخکښې حالت دې په یاد دی چې له مرګ سره دې دغرې وهلې؟ په خبرو کې وررولوېدم او په درد مې ورته وویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- اوس هم غواړئ ومې وژنئ، ناحقه خبره یوې او بلې خوا ته مه کږوئ!

هغه سګرېټ ولګاوه او ویې ویل:

- په جرمنۍ جاسوسي شبکه کې یو څه وخت تېرولو به په دې پوهولی یې چې څارګري دنیا یوه عجیبه او خطرناکه دنیا ده... لکه څنګه چې وارنر او نور ورته خلک د سترګو په رپ کې د نیستۍ په غېږ ورغلل ته هم نشې ترې خلاصېدلای. ستا د بېهوښۍ پر مهال نوې لارښوونې راته راورسېدې. د دغسې لارښوونو وړاندوینه مې له ځان سره کړې وه، کنه په هېڅ وجه مې له مرګه نه ژغورلې.

تر یوې لنډې دمې وروسته یې زیاته کړه:

- هغوی زما وړاندیز راسره ومانه. د دې مانا دا ده چې اوس دې د شپې په تیاره کې له ښاره دباندې یو ځای په مرمیو وژنو. لومړی ټک به هم زه درباندې کوم او زما نښه هېڅکله نه خطا کېږي. همدا لومړی مرمی به دې پر زړه لګېږي تر څو ژر تر ژره دې کار خلاص شي. که بیا هم بچ شوې، نو پاته مرمی به شانیها درپکې تشې کړي. اوس تقریباً ماپښین دی او د شپې تر لسو بجو به ته همدلته په دغه کوټه کې یې. د ژغورنې له پلوه دې پر زړه لویه تېره کښېږده. هېڅ امکان نه لرې!

الفرډ تر دې خبرو وروسته مارګریټا ته ورغی، تر تخرګ یې لاس ورلاندې کړ او له خونې څخه ووت. شانیها تر شا ورپسې شو. د دروازې په کولپ کې مې د کیلي د تاوېدو اواز واورېد. کرار ولاړ شوم او د کوټې په منځ کې ودرېدم. پر سترګو مې توري پردې راتلې. ستونی مې وچ وو او له سره تر نوکه د مرګ یخه خوله راباندې راماته وه. اعصابو مې هېڅ کار نه کاوه او د فکر واګې مې له لاسه ښویېدلې وې. بېرته پر څوکۍ کښېناستم.

د الفرډ خبرو مې په غوږونو کې ازانګې کولې: *(نن شپه پر لس بجې دې له ښاره دباندې وژنو... د څارګرۍ دنیا یوه عجیبه او خطرناکه دنیا ده... ته باید پوه شوی یې...)* دا کلیمې مې بې اختیاره تر شونډو لاندې تکرار کړې. په دې شېبه کې مې د هانس هوډمنه څېره سترګه ته ودرېده چې ویل یې: *(زه هر ځای درپسې څارو یم!)* خندا واخیستم. داسې خندا چې سرچینه یې غوسه او کرکه وه. څه مې له وسه

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وه؟ يوازې لس ساعته ژوند مې پاته وو... د تېښتې لار هم نه وه. ځناور قطاع الطريق شانيها د دروازې شا ته پېره وو. الفرډ او مارگريتا هم په هغه بله کوټه کې د شپې لسو بجو ته شپې شمېرلې. يوازنی سړی چې زه يې له دې حتمي مرگه ژغورلی شوای، شانيها وو، مگر هغه زموږ پر ځو کلنه انډيوالی توره کرښه راکش کړې وه او هېڅ يې دا نه ويل چې يو وخت سره همکاران وو. په همدې سوچونو کې وم چې دروازه خلاصه شوه او شانيها له دوو ساندويچونو سره رانووت... ساندويچونه يې پر ځوکۍ راته کېښودل او همدا چې غوښتل يې ووزي، ور ږغ مې کړل:

-گوره شانيها تا ته وايم... يوازې ته کولای شې چې له مرگه مې وژغورې. زما و ستا د انډيوالی روی ته وگوره!

هغه په غوسه او کرکه سر تر پايه راته وکتل او ويې ويل:

-زما دنده په تا کې وروستی مرمی تشول دي. که مې اجازه درلودای همدا اوس مې ستا بې روحه جسد دلته پر دغه ځمکه غورځاوه... خير، ځپل دا ارمان به نن شپه پر لس بجې پوره کړم! وروغورځېدم چې راچپه يې کړم... هغه چابک توپنچه راباندې ونيوله او ويې ويل:

-که دې يو گام راواخيست ولم دې!

-هئ خنځير غله!

هغه وخندل او له کوټې ځخه ووت. زه بېرته پر ځپل ځای کېښناستم. خوړو ته مې هوا نه کېده، پرله پسې مې سگرېټ ځکول او د ځپل ناکامه پلان په باره کې مې فکر کاوه... د همدې پلان له امله مې د هغوی وړاندېز ته غاړه ايښې وه. غوښتل مې په دې ډول له شانيها، مارگريتا او لودويک ځخه ځپل غچ واخلم، مگر بخت مې کار ونه کړ.

ځپل تېر ژوند مې راياد کړ... ټولې پېښې او کيسې مې يوه په بلې پسې د سترگو مخې ته تېرې کړې... د دغه خيالي فلم وروستی صحنه زما د مرگ منظر وو. نن شپه پر لس بجې له ښاره دباندې يو ځای وژل کېدم...

* * *

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بالاخره د مرګ ساعت راورسېدو. کله چې د ساعت ستنه پر لسو بجو درېده د خوني دروازه بېرته شوه... الفرډ او مارګریتا چې لس ساعته یې له لیدلو بې‌برخې وم، راښکاره شول. دننه نه راغلل، بلکې یوازې وینه‌څښونکی جلا شانیها راننوت او په تونده لهجه یې راته وویل:

- درځه...

د دروازې خوا ته روان شوم... په دالېز کې الفرډ وویل:

- یو جاسوس باید ډېر زړور او غیرتمن وي!

الفرډ او مارګریتا لومړی ووتل. الفرډ شترنګ ته کښېناست، مارګریتا له دروازې سره ودرېده. زه د چا اشارې ته له کتلو پرته د موټر شاتني سیټ ته ورپورته شوم. شانیها زما او مارګریتا د الفرډ بغل ته کښېناسته. موټر چالانه او له ښاره دباندې خوا ته په منډه روانه شو. شانیها د توپنچې خوله نېغه راته نیولې وه. په لمروهلې څېره کې یې زما د وژلو لېوالتیا غورې وهلې. ټول چوپ و غرپ وو. هغوی خپلې ټولې خبرې مخکې له مخکې راته کړې وې او نور یې د ویلو لپاره شی نه درلود، ما که بیا هر څه ویلای کومه ګټه یې نه کوله او لس ساعته مخکې مې د مرګ پر فیصله مهر وهل شوی وو.

موټر پر شاهرضا واټ مخ پر ختیځ یو څه ولاړ او ورروسته مازندران واټ ته ورننوتو شو. شا ته مو ښار او مخ ته مو یوه توره دښته وه. هو، د مرګ په شان تکه توره او وېروونکې دښته!

نژدې پنځلس کېلومتره له ښاره لیرې شوو. ان تر هغو دښتو هم ورتېر شوو چې نن سبا یې تهران پارس بولي او داسې یوه ځای ته ورسېدو چې د سړک کیڼ طرف ته ډېرې په ځانګړي رنګ په نښنه شوي وې. الفرډ دلته موټر یو څو شېبې ودراوه، د سړک شاوخوا یې سترګې وغړولې، وروسته یې چېچې خوا ته کاټ کړ او د واټ شمال ته پرته دښته یې په خوله ورکړه. تر څو کېلومتره مزل وروسته یې بیا موټر ودراوه. زه خپله راکښته شوم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د بنار ګروپان نه لیدل کېدل او چې سترګو دید کاوه تپه تیاره وه. الفرډ د موټر بتی مړې کړې او خپل جېبي څراغ يې ولګاوه. مارګریتا یې اړخ ته ولاړه وه. شانیها زما شا ته وو. له مارګریتا او الفرډ څخه تقریباً دوه قدمه رالیرې وو. شانیها د خپلو بادارانو امر ته کتل تر څو ماشه کړي.

الفرډ توپنچه راوایستله، ویې ازمایله او وروسته یې راته وویل:

- دا هغه ځای دی چیرې چې ستا ژوند او هر څه به پکې ختم شي. زه پوره-پوره کوښښ کوم چې په همدې اول تک دې زړه در سوری او له دې دنیا رخصت کړم، مګر شانیها به بیا هم وروستی ډزې دریاندې وکړي. خو زما اوس هم په دې ولاکه سر خلاصیږي چې ستا دا زوړ یار ولې دومره ستا مرګ ته خوشحاله دی!

ما چوپتیا ماته کړه او ومې ویل:

- زه بیا تر ده لا د ده وینو ته تږی یم، مګر افسوس...

شانیها پر تشي په سوک ووهلم او ویې ویل:

- دا هیله به دې څو شېبې وروسته ګور ته درسره یوسي!

مارګریتا وویل:

- څشي ته ګورئ؟

الفرډ خپلې توپنچې ته وکتل او وروسته یې شانیها ته وویل:

- زما توپنچه لږ ضعیفه ده، ته دا ستا هغې راکړه چې اول تک پر وکړم!

شانیها خپله توپنچه هغه ته ورکړه او الفرډ خپله کوچنۍ هغه شانیها ته. وروسته یې پر یو ځای د خپل جېبي څراغ رڼا ولګوه او شانیها ته یې وویل:

- ورشه له دې ځایه شل ګامه لیرې یوه نقطه نښاني کړه!

شانیها په غټو ګامونو روان شو. د څراغ رڼا یې له قدمونو سره سمه مخکې روانه وه. په شل قدمۍ کې یې ډبرې کښېښودې. دا هماغه ځای وو چې زه باید پر ویشتل شوی وای. شانیها چې بېرته زموږ خوا ته راروان شو، الفرډ یې پر څېګر څراغ ورواچاوه او ورته ویې ویل:

- همالته ودرېږه!

لاروهونکی هم ځای پر ځای ودرېد. الفرډ زیاته کړه:

- همدا ځای ستا د وژلو لپاره خورا مناسب دی او اوس د دې وخت دی چې صدرالدین ستا په خپله توپنچه پښې پر سر درواړوي!

الفرډ توپنچه ما ته راکړه او وېې ویل:

- واخله ملګرې وله یې!

زه یومخ ګنګس وم او داسې فکر مې کاوه لکه خوب چې وینم. په رډو سترګو مې شانیها ته کتل چې لکه ترهېدلې هوسۍ پر خپل ځای مېخ ولاړ وو. الفرډ دا وار په توندۍ راته وویل:

- ډېر یې مه ځنډوه... درته منتظر دی... ولې تا نه ویل چې وینو ته یې تږی یې؟

زه لا هماغسې حیران-دریان او وازه خوله ولاړ وم چې یودم مارګریتا را الا[1] کړل، د شا له خوا یې پر تشې توپنچه راونیوله او ویې ویل:

- توپنچه وغورځوه!

شانیها چې تر دې ګړیه یې خپلې توپنچې ته بېخي پام نه وو، وسله وال لاس را اوچت کړ او ورو-ورو زما خوا ته راروان شو... الفرډ مانداره خندا وکړه او مارګریتا ته یې وویل:

- تا خپله توپنچه کتلې ده؟ هسې نه بیا تشه وي!

وروسته یې شانیها ته وکتل او ورته ویې ویل:

- ستا په لاس کې توپنچه تشه ده. تاسې بیعقلانو فکر کاوه چې له یوه باوري مامورسره همکاري کوئ او...

د الفرډ د خبرو خلاصېدو ته منتظر نشوم او همدا چې شانیها زما خوا ته خپله تشه توپنچه راوغورځوله، ما چابک ځان بغل ته کړ او ورسره جوخت مې دوه ټکه ورحواله کړل. شانیها سره وځرخېد او پرمخې پر ځمکه ولوېد.

1 الا - خفاستل، منډه وهل.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

له ډېرې خوښی په جامو کې نه ځایېدم. وروسته ځغاستل. هماغه لاروهونکی چې څو دقیقې مخکې یې زما وژلو ته په خوند-خوند شېبې شمارلې، دا ګړی په خاورو او وینو کې لېټکې[1] وهلې... الفرډ یې پر نیمژاله جسد ځراغ اچولی وو.
- یو بل ټک هم پر وکړه چې کار یې خلاص شي!
د الفرډ له دې امر سره سم مې درېیم ډز پر دا سر وویشت. له دې سره د شانیها دوسیه د تل لپاره وتړل شوه. اوس مارګریتا پاتې وه... مخ مې را واړاوه تر څو ووینم چې الفرډ څه ورسره کوي. د هغې څېره سپېره اوښتې وه او له ډېرې غوسې، کینې او حیرانی یې په بدن لړزه ګډه وه. الفرډ لاس راکړ او ویې ویل:
- ملګرې ستا به هم په ټولو رګونو کې یوه رګ لا دا نه ویل چې په وروستی شېبه کې به کیسه دومره بدله شي او زه به ستا ملګری او همکار راووزم!
مارګریتا په لړزانده او ترهېدلي لهجه وویل:
- الفرډه ته خاین وې؟
- هو، ما ستاسې سره خیانت او خپل سازمان ته خدمت کاوه. خو ډاډه اوسه چې ستاسې له دستګاه سره مې همدا وروستی خیانت وو.
مارګریتا په غوسه او کرکه وویل:
- اوس مې سر خلاص شو چې زما له توپنچې څخه چا مرمۍ ایستلې وې!
الفرډ په سړه سینه ورغبرګه کړه:
- ډېر نور شیان هم شته چې باید سر دې په خلاص شي. مثلاً له مرګ څخه زما د دغه ملګري خلاصون چې ستا او شانیها ورته تلوار وو، خو زما پر وخت وړاندیز نجات ورکړ او دا دی تاسې دوه یې په دې بلا اخته کړئ!
ته پوهېږې چې همالته په هغه کور کې هم ستا و شانیها وژنه اسانه وه، مګر زما له جوړ کړي پلان سره یې سر نه خوړ. ستا توپنچه مې هسې هم دوهم ځل تشه کړې وه او کولای مې شول په یوه ټک د شانیها کار ور وکړم، مګر له کور څخه د هغه د مړي را ایستل او بیا په دغسې یو ځای کې یې غورځول لږ سخت کار وو، نو

[1] لېټکې وهل - لاس و پښې غورځول.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

تري تېر شوم. خو اوس ټولې کیسې زما له خوښي او پلان سره سمې مخته تللي دي او اندېښنې ته اړتیا نشته...

الفرډ تر یوه لنډکي ځنډ وروسته ما ته وویل:

- دا د موټر د شا په سیټ کې درسره کېښنوه!

ما په غوسه مارګریتا تر مټ ونیوله، د موټر دروازه مې پرانیسته او ورته ومې ویل:

- وخېژه. اوس نو زما وار دی چې ستا د مخکني چلند بالمثل ځواب درکړم.

الفرډ وویل:

- دا یې شروع ده، تلوار مه کوه!

مارګریتا له څه ویلو پرته موټر ته وختله. زه یې اړخ ته کېښناستم. الفرډ د شانیها جسد ته ورغی. ځېله تشه توپنچه یې له ځمکې راپورته کړه او مرمۍ یې ورواچولې. وروسته یې د مړي په جېبونو لټولو شروع وکړه. یوه کوچنۍ پاڼه یې پکې پیدا کړه. هغه یې ورسره راواخیسته او د موټر خوا ته راروان شو. بیا ودرېد، د لاسي څراغ په رڼا کې یې ورسره پاڼه وکتله، وروسته یې وپېچله او جېب ته یې واچوله. موټر نه راوخوت، شټرنګ ته کېښناست او پر راغلې لار یې مخ پر ښار ور هڅې کړل.

ما زندران واټ زموږ د موټر په بټیو کې په منډه تېرېدی او شا ته په تیاره کې ورکېدی. یوه درنه او ترهوونکې چوپتیا د شپې له تیارې سره یوځای شوې وه او هر څه یې په ځپله غېږه کې اخیستي ول. ان د شپنیو مرغانو غمجنو نغمو هم د دغې چوپتیا پر ساړه دېوال کربنه نشوای جوړولای. یوازې د موټر د ماشین ږغ اورېدل کېدی. مارګریتا اخیر له خاموشۍ راووته او الفرډ ته یې وویل:

- ستا په خیال په دې کار دې خورا لویه بریا په برخه شوې ده؟ کاشکې دې اول بو څه فکر کړی وای او بیا دې ګام اخیستی وای.

الفرډ ورته وویل:

- د ټولو شیانو په باره کې مې فکر کړی دی. زه داسې څوک نه یم چې تر اوبو مخکې ګاولې (څپلۍ) وکاږم. یو خاص ماموریت مې درلود چې نن شپه پای نه ورسېد او نور باید له دې ځایه ښې سپکې کړم.

خو بیا هم که بېرته وغواړم چې ستاسې سازمان ته ورستون شم، بېخاره کولای شم، ځکه په هویت مې لا هم څوک خبر نه دي. یوازې تا ته درمالوم یم، مگر ته به مې هېڅکله رسوا نه کړای شې، ځکه د جگړې تر پایه به زموږ مېلمنه یې...

تر وروستي خبرې وروسته یې په لوړ اواز وخندل او پسې زیاته یې کړه:

- مارگریتا جانې تا په ثبوت ورسوله چې لا هم خامه یې. هغه د تشې توپنچې موضوع ته دې باید په دومره عادي سترگه نه وای کتلي!

مارگریتا د الفرډ په خندا غوسه شوه او په درد یې وویل:

- ما پر تا ډېر باور درلود او هېڅ مې زړه ته نه لوېده چې خیانت به راسره وکړې.

الفرډ چې لا یې خندا نه وه درېدلې، وویل:

- د خاین و خیانت کلیمه زما سره نه ښایي. پاته دې نه وي چې ته ربښتیا وایې. ته خپل همدې تر حد زیات باور په لومه کې واچولې.

مارگریتا له ډېرې غوسې چیغه کړه:

- بس کړه الفرډه... ته فکر کوې چې د شانیها په وژلو او زما په نیولو کیسه ختمه شوه. داسې نه ده، که اسمان ته وخېژې تر پښو به دې راکش کړي او که په ځمکه ننوزې تر سر به دې ونیسي. هېڅ ځای نشي پټېدلای!

د الفرډ لغازونو او نېښنداره خبرو هغه لکه غومبسه داسې قهرولې وه. وروسته یې په ارامۍ ورته وویل:

- زما برخلیک به سبا فیصله شي؛ داسې چې ستاسې دستگاه ته به مې د وژل کېدو خبر ورسېږي او له دې سره سم به مې نوم د جگړې د ورکو شویو کسانو په لړلیک کې ولیکل شي.

مارگریتا چوپ وه. موټر په چټکۍ سره روان وو. د ښار د گروپانو له راښکاره کېدو سره جوخت الفرډ راځخه وپوښتل:

- موږ چې له ښار څخه ستا د وژلو په نیت راووتو، ایا بیا دې هم ژوند ته هیله درلوده؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ورته ومې ويل:

- نه، بالکل نه. تا ته خو مې بيا بښخې اميد نه وو، ځکه له سره تر پايه دومره توند او بې رحمه راته ږغېدلې چې له هېڅ اړخه مې د دوستۍ تمه نه درته درلوده.

هغه وخندل او ويې ويل:

- ستا د ځورولو او شکنجه کولو له امله بخښنه غواړم. بله هېڅ چاره نه وه. د بريالي کېدو يوازنۍ لار همدا خشن او بې رحمه چلند وو. ما ته تر هر څه ستا مقاومت زيات ارزښت درلود او ډېر زبردست وجنگېدې.

- خو په پای کې بالاخره تسليم شوم!

- هو، دا وړاندوينه مې له ځان سره کړې وه او پوهېدم چې غاړې ته د دار د رسۍ له لوېدو سره به دې مقاومت هم مات شي. پلان داسې وو چې نه به مارګرېتا او نه شانيها زما له اشارې پرته په ځوکۍ غرض لري. شانيها دا کار يوازې و يوازې ستا څخه د بې‌کچې کرکې پر اساس وکړ.

ساه يې واخيسته او زياته يې کړه:

- فيصله مو داسې وه چې که پر لس بجې هم ته له خپل تصميمه تېر نشې، نو شانيها به زما په اشاره ځوکۍ له پښو درڅخه باسي، مګر ما هانس ته ويلي ول چې پر دوې کم لس بجې هماغه کور ته زنګ راووهي او ستا اړوند نوی امر وکړي.

مارګرېتا چې تر دې دمه چوپه ناسته وه، په خپل ځای کې سره وښورېده او ويې ويل:

- ياني هغه تليفون ساختګي وو؟ الفرډ وويل:

- مالومداره، تا فکر کاوه چې ستاسې دستګاه زنګ راوهلی دی؟ دا هر څه د دې لپاره ول چې زه تا او شانيها له ښاره دباندې ووژنم او خپل پلان بريا ته ورسوم...

مارګرېتا وويل:

- سره له دې چې سپی ناڅواني دې راسره وکړه او اوس مې لوی دښمن يې، بيا دې هم تمثيل ستايم او افرين درباندې وايم. الفرډ وويل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- د افرین ویلو وخت لا نه دی رارسېدلی. یو څه صبر وکړه وبه وینې چې ما په تاسې نور څه-څه پساتونه کړي دي.

دغه مهال د شاهرضا واټ په سر کې وو. الفرډ ته منزل مالوم وو. په شمیران واټ کې ښی خوا ته کاټ شو او زه پوه شوم چې هغه له وارنر او فاروق سره د ملاقات ځای ته ځي.

موټر ډېر ګړندی روان وو. تر یو څه لار وهلو وروسته له قلهکه تېر او جرمني سفارت ته ورسېدو. د سفارت دروازه تړلې وه. الفرډ ځلور ځله اوږده او لنډ هارنونه ووهل، کړپ ور پرانیستل شو. مارګریتا مې له موټره راکښته کړه. نور د توپنچې کارولو ته اړتیا نه وه. تر مټ مې ونیوله او په الفرډ پسې تر شا په زینو کې وختلم. په دالېز کې یې یوې کوټې ته ګوته ونیوله او راته ویې ویل:

- مارګریتا دلته ننباسه او ما ته منتظر شه!

مارګریتا تر ما مخکې شوه او د کوټې دروازه یې خپله پرانیستله. په کوټه کې یو غټ دفتري مېز، یو څو چرمې سوفې او یو کوچنی مېز پروت وو. هغه پر یوه سوفه کښېناسته، پر مېز له پرتې کوټی څخه یې سګرېټ راوایست، ویې لګاوه، یو ژور کش یې ترې واخیست او په مخامخ دېوال کې یې سترګې وګنډلې.

د سګرېټ ژر-ژر څکولو یې د دننني نارامتیا ځرګندونه کوله. خپل هغه پېچلي او ناځرګند حالت ته چورت وړې وه چې نابېره د الفرډ له لاسه ورسره مخامخ شوې وه. هغه پوهېدله چې د دوښمن په منګولو کې د یو چا د برخلیك لوبدل څه مانا لري، څکه نو داسې اندېښمنه ښکارېده. په نارامۍ یې پای ته رسېدلی سګرېټ سګرېټدانۍ ته واچاوه او سملاسې یې بل دانه ته خاشه ووهله. ډېره واضحه وه چې ورخ اوبو ترې وړی او پر ځان د واك واګې یې له ګوتو ښویېدلي دي. د هغې پر دې حال لیدلو د خوښۍ احساس راکاوه او دا هغه لاسته‌راوړنه وه چې ما یې ارمان درلود. هغه وخت مې سترګو ته ودرېد چې په خاصه خوښي یې ګوابنلم و خورولم او پر دې حالت یې سخت خوند هم اخیست.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په کوټه کې خپرې چوپتیا خلق‌تنګه کړم او ومې ویل:

- زما خیاله ډېره په عذاب یې مارګریتا!

هغې له مخامخ دېواله سترګې راواړولې، ما ته یې وکتل او ویې ویل:

- په دې مې چورت خراب دی چې ته ولې ژوندی یې!

ومې خندل او ومې ویل:

- باید همداسې شوي وای او ما ته بیا ستا دغه نارامې زښته مزه راکوي!

له ډېرې غوسې او کرکې یې غاښونه وچیچل او ویې ویل:

- ډېر ژر، همدا سبا یا بل سبا به هر څه پر بل مخ واوړي. ټولې لارې به وتړل شي او بیا به نو ته او ستا ټول ملګري لکه موږکان په تلکو کې بند پاته شئ!

په سړه سینه ورته موسکی شوم او ومې ویل:

- په هر صورت، ته لکه الفرډ چې وویل، د جګړې تر پایه زموږ مېلمنه یې... بوه زړه‌ماتې او خواشینې مېلمنه!

هغې چې خبرو ته خوله جوړوله د کوټې دروازه خلاصه شوه او هانس او الفرډ رانوتل. هانس مې په لیدلو موسکی شو، لاس یې راکړ او ویې ویل:

- ستړی مه شې ښاغلی صدرالدینه!

الفرډ وویل:

- زموږ د شکنجو په وړاندې د ده مقاومت واقعاً د ستایلو وو!

هانس مې لاس راخوشې کړ او په داسې حال کې چې سترګې یې په مارګریتا کې وې، ویې ویل:

- پر دې شي باوري وم. اوس باید د مارګریتا حال واخلم، ځکه د کریستین په تښتولو کې یې ډېرې لېونۍ هڅې کړي وې.

مارګریتا په توندۍ وویل:

- زه ستاسې په خدمت کې یم، مګر دا راته ووایاست چې څشي راڅخه غواړئ؟

هانس ورغبرګه کړه:

- که شلګې او سرټمبګې پرېږدې، نو ډېرې پوښتنې شته چې باید ځواب یې کړې!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مارگریتا په محکمه او پرېکنده لهجه وویل:
- زما څخه تحقیق کول د وخت ضیاع ده. هیڅ پوښتنې ته دې ځواب نه درکوم.
هانس وویل:
- نو راځه چې ستاسې د یوه داسې همکار دیدار دریاندې وکړم چې له څلیرویشتو ساعتونو راهیسې درته سترگې پر لار دی.
له دې سره جوخت الفرډ له کوټې څخه ووت او دقیقه دوې وروسته له یوې ښځې سره بېرته راستون شو. د هغې په لیدو مې تکان وخوړ. مارگریتا هم یودم له کوچ څخه راوغورځېده او په حیرانۍ یې وویل:
- کریستین دا ته یې؟
الفرډ چې کریستین یې تر مټ نیولې وه، لږ یې مخې ته راپورې وهله او ویې ویل:
- هو، خپله دا ده؛ مېرمن کریستین مشهوره په *شاپو خولۍ*! مارگریتا جانې اوس نو د دې وخت دی چې هم افرین راباندې ووایې او هم مبارکي راکړې!
مارگریتا وویل:
- که د هانس پرځای زه وای د وړتیا او غوره چوپړ مډال مې درکاوه، ځکه واقعاً دې وښودله چې یو تکړه او ځیرک مامور یې!
وروسته یې کریستین ته مخ کړ او زیاته یې کړه:
- په سلو رگونو کې مې یوه هم نه ویل چې ته به نیول شوې یې. ما فکر کاوه چې زما تر هغې خبرتیا وروسته به وخته له تهران څخه وتلې یې!
الفرډ یې خبرې ورپرې کړې او ویې ویل:
- اوس ته او دا دواړې زموږ په لاس کې یاست. کله چې ما خپله اصلي څېره درته رسوا کړه، نو ته باید پوهېدلې وای چې کریستین په لومه کښېوتلې ده. ما اول ستاسې د شبکې باور ترلاسه کړ بیا مې د پردې تر شا خپله اصلي راسپارل شوې دنده چې د کریستین تښتونه وه، تر سره کړه. صدرالدین چیرې په یوازې ځان د هغې په شان

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خطرناکه ښخه تښتولای شوه؟ موږ هم په دې پوهېدو له همدې امله اصلي ماموریت ما ته راکړل شوی وو.

کریستین خپله چوپتیا ماته کړه او مارګریتا ته یې وویل:

- ټوله کیسه پر الفرډ باور خرابه کړه، کنه صدرالدین غوندې خلکو کله په یوه یا دوو ورځو انډیوالي غولولای شوم. همده په دربند هوټل کې د صدرالدین په رښتیني هویت خبره کړم او سپارښتنه یې راته وکړه چې همالته ځنې بېله شم.

الفرډ وخندل او ویې ویل:

- کریستین جانې په ماضي کې ډېر چورت مه وهه. وینې چې موږ هم د مېرمن سالاران او اډولف مرګونه هېر کړل.

مارګریتا چې سترګې یې په یوه ناځرګند ټکي کې ګنډلي وې، تر پخوا یې لا وضعیت خراب و تراب ښکارېد. له وارخطا څېرې یې ځرګندېده چې پر خپلو فکرونو یې کابو بایللی او روانو کیسو ګنګس کړې ده. کریستین بیا سرچپه، ارامه ایسېده. پر مخ یې د اضطرات او اندېښنو نښې نه مالومېدې. هیله‌منه ښکارېده او دې شي ته حیران وم. کله چې یې هانس له کوټې څخه د ایستلو امر وکړ، هغې خو شیبې ما ته په خیر-خیر وکتل او وروسته له الفرډ سره ووتله.

هانس بېله خنډه مارګریتا ته مخامخ کښېناست او تحقیقات یې ځنې شروع کړل. اوله پوښتنه یې دا وه چې د متفقینو څواکونه کله ایران ته رانوزي. نومورې ځواب ورکړ:

- ښاغلې هانسه تاسې خو په ایران او د منځنې ختیځ په نورو هیوادونو کې ډېر پراخ تشکیلات لرئ، زه او کریستین مو څومره په اسانۍ ونیولو. نو طبعاً باید په دې راز هم خبر یاست. زه له هېڅ نه یم خبره، ناحقه خپل وخت مه ضایع کوه.

هانس وویل:

- خو ستا انکار هېڅ ګټه نه لري، ځکه کریستین تر اوسه پورې بېله شکنجې ستاسې د سازمان له ګڼو رازونو پرده پورته کړې ده. ما صرف د هغې د ځینو مالوماتو د پخلي لپاره ستا څخه د یو لړ پوښتنو کولو اړتیا ولیدله.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مارگریتا چې اوس یو څه پر خپلو اعصابو واکمنه شوې وه، وویل:
- دا په تا اړه لري، زه د ویلو لپاره څه نه لرم.
هانس وویل:
- کریستین راته وویل چې د اگست پر ۲۵مه د ایران په پولو کې یو څه پېښېږي. ته په خبره یې؟ هغې خواب ورکړ:
- زه د راتلونکو پېښو په اړه یوه ذره مالومات نه لرم.
دغه شیبه الفرډ یوه کوچنی ټایپوونکې اله په لاس خونې ته رانووت. هانس ورته وویل:
- ستا دا زړه ملگرې او همکاره مارگریتا جانه خو له (نه پوهېږم) پرته بل شی بېخې پېژني نه! الفرډ مارگریتا ته وکتل او بیا یې وویل:
- د دې لپاره چې نوموړې (نه پوهېږم) عبارت له خولې وغورځوي او خبرې شروع کړې، ډېرې لارې شته. مگر تر هغه وړاندې باید د کریستین له خوا رسوا شویو رازونو ته لږ غوږ ونیسي او په دې پوه شي چې موږ هسې خوشې وخت نه دی تېر کړی.
له دې سره سم یې هغه اله چالانه کړه. د هانس اواز واورېدل شو چې په انگلیسي یې له کریستین څخه وپوښتل: *(د ایران په پولو کې د متنفینو د خواکونو او پوځي چمتووالي په اړه څه مالومات لرې؟)* تر یوې لنډې چوپتیا وروسته کریستین وویل: *(ډېر ژر به د دغې سیمې ظاهري ارامي پرله‌وهل شي، ځکه د جرمنیانو فعالیتونه د زغملو نه دي.)*
مارگریتا د دغو خبرو تر اورېدو وروسته په غوسه تر شونډو لاندې وویل:
- کریستین خیانت کړی دی...
الفرډ ثبتوونکې دستگاه بنده کړه او مارگریتا ته یې وویل:
- وادې ورېدل؟ له گڼو نورو رازونو یې هم پرده پورته کړې ده. ټول دلته ثبت دي. دا مو صرف ستا د غوږولو لپاره یوه وړه بېلگه دریاندې واورېدله... اوس ووایه چې د کریستین د دغو خبرو اړوند ستا مالومات څه دي؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مارګریتا تر تصور لوړه شلګي کوله. سره له دې چې ځان یې د مرګ پر پوله ولاړ لیده او د بېرته ګرځېدو هېڅ چانس یې هم نه درلود، بیا یې هم ځان ناخبره ښود.

الفرډ زما ځخه وپوښتل:

- صدرالدینه ته ووایه ځنګه کولای شو دغه ښځه پر خبرو راولو؟

ما له خدایه همداسې یوه موقع غوښته تر څو د تېرو کیسو غچ ترې واخلم. الفرډ ته له خواب ورکولو پرته پاځېدم او مارګریتا ته نژدې ورغلم. هغې په ځلورو سترګو راته کتل او حیرانه وه چې څه به ورسره وکړم... په غوسه مې راپاځوله، راکش مې کړه او ورته ومې ویل:

- تا زما په ژرنده اوبه نه دي کړي!

په زورزیاتي مې لاس پورې کړ؛ ګرېوان ته مې ورحمله کړل او په یوه تېز حرکت مې کمیس تر نس پورې ور دوه چراخه کړ. هغه د یوې زخمي زمرۍ په شان راباندې راوغورځېده او پر مخ یې منګوچي[1] راولګولې. زه چې د انتقام په اور کې سوځېدم، کټ مټ لکه له یوه نارینه سره چې مې جنګ وي، پر دواړو لاسونو مې ټینګه ووهله او همدا چې لاسونه یې زما له مخه خطا شول، یوه کلکه څپېړه مې پر دا مخ ورحواله کړه. هغه راستې خوا ته کږه شوه. ځېرې شوی کمیس یې چې په ټېلو و تمبو کې له اوږې رانښویېدلی وو، په پښه کې بند شو او پر ځمکه ولوېده.

پر مخ مې د هغې د منګوچو ځایونو سوخت کاوه. غوسه او کرکه مې د لېونتوب تر بریده رسېدلي وه که الفرډ مداخله نه وای کړې، بې مرګه مې نه پرېښوده او په خفه مې وژله. الفرډ چابک ور وړاندې شو او هغه یې له ځمکې راولاړه کړه.

مارګریتا په لړزاندو پښو ودرېده، په خپل ځیري-ځیري کمیس یې ځان پټ کړ. د مخ رنګ یې الوتی وو او ساه یې تنګه-تنګه کېده. هانس راته وویل:

- هغه یوه ښځه ده، ستا زور نه لري!

---

1 نوکارې، شوکارې.

ورته ومې ویل:

- دا زما پر هغې پوړ وو. زړه مې ورته ډک وو او که الفرډ مداخله نه وای کړې، وژله مې.

مارګریتا چیغه کړه:

- تاسې ګرده د انسانانو په جامو کې ځناور یاست... دا وحشت دی!

الفرډ ورته وویل:

- دا ستا خپل انتخاب وو. بل دا چې دغه وحشت هر ځای شته، خو په یوه بله بڼه. یو په پوره بې‌رحمۍ انسان وژني او بل یې شکنجه کوي. دلته زه د صدرالدین پر خوا یم او پر حق یې ګڼم، ځکه نوموړي غوښتل د مخکنۍ بدچلندۍ غچ درځخه واخلي. ټیک هماغسې لکه له شانیها چې یې واخیست.

هانس په جدیت مارګریتا ته وویل:

- کښېنه! هیله ده زما پوښتنې راځواب کړې. ستا د خولې خلاصولو لپاره یو عالم وسایل لرو. که هغه لار عملي کړو کار مو لا اسانېږي. په یوه دانه زهري ګولۍ یا هم یوه مرمۍ دې د ژوند دېوه د سترګو په رپ کې در وژلای شو.

مارګریتا په داسې انداز چې د دې د زړورتوب ځرګندونه یې کوله، وویل:

- دواړو ته ښه‌راغلی وایم، ځښي ته ګورئ؟ ونیسئ ومې وژنئ! هېڅ ډول شکنجه مې خوله نشي راخلاصولای، حتا که مې مرګ ته هم شریکه کړئ. ښه به دا وي چې له دې کاره لاس پر سر شئ، ځکه د وخت له ضایع کولو پرته بله هېڅ ګټه نه لرې او د وروستي ځل لپاره درته وایم چې له مرګه یوه ذره وېره نه لرم.

هانس یو ګړی په فکر کې ولاړ، وروسته یې الفرډ له کوټې ځخه وایست. د هغوی تر وتلو وروسته مارګریتا ما ته وویل:

- پر غچ‌اخیستنه به دې ښه خوند اخیستی وي!

نور مې د کرکې او غوسې لمبې کښېناستلې وې، په ځواب کې مې ورته وویل:

- که ځه هم ما غوښتل ودې وژنم، خو همدا هم کفایت کوي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

نور یې څه ونه ویل او چوپ سره کښېناستو. څو دقیقې وروسته هانس او الفرډ بېرته راغلل او د وروستي ځل لپاره یې د مارګریتا د رامولو هڅه وکړه، مګر هغه لا هم پر خپل خره سپره وه او هېڅ ډول ګواښ ته یې غاړه نه ایښوده. د مرګ پروا یې هم نه لرله. ان په خبره یا اواز کې یې هم کوم ډار نه محسوسېدی.

اخیر هانس نابېره وویل:

- نور کار خلاص دی او د پلان وروستی پړاو باید عملي کړو!

زه نه پوهېدم چې له دې څخه یې مطلب څه دی. یو ناځرګند غوندې وضعیت وو. الفرډ مارګریتا له کوچ څخه راولاړه کړه. هغې په کیڼ لاس خپل څېرې شوی کمیس پر ځیګر ونیو او له الفرډ سره له خونې ووتله. هانس او زه هم ورپسې شوو. تر زینو لاندې یو تور موټر ولاړ وو. په وروستی زینه کې مې ولیدل چې د موټر په شاتني سیټ کې یو ځوان ناست دی. مخکې مې نه وو لیدلی. د هغه شتون د مارګریتا برخلیک ځرګند کړ او پوه شوم چې څه تکه پر راغورځوي، مګر د وژلو ډول یې لا نه وو راته مالوم.

الفرډ مارګریتا ته موټر ته د ختلو اشاره وکړه... مګر هغې ښور ونه خوړ او همداسې وچه ولاړه وه. هانس تر تخرګ لاس ورلاندې کړ او په زوره یې موټر ته پورته کړه. زه هم ورسره کښېناستم. هانس او الفرډ یو څو شېبې دباندې سره وږغېدل. وروسته الفرډ شتړنګ ته کښېناست او موټر روان شو. خروجي دروازې ته چې ورسېدو، الفرډ بریک وواهه او ویې ویل:

- ډاکټره بسم الله کړه!

د ډاکټر کلیمې له اورېدلو سره مې د مارګریتا د وژلو په طریقه سر خلاص شو. ډاکټر یانې هماغه ځوان له امر سره سم یو کوچنی ځانګړی ډاکټري دسکول چې په پښو کې یې ایښی وو، راپورته او خلاص کړ. یو څه پنبه او یوه له ژړو موادو ډکه پیچکاری یې ترې راوایستله.

سره له دې چې مارګریتا ته فول غوسه وم او سخته کرکه مې ترې کېده، بیا مې هم د هغې پیچکاری په لیدلو بدن ولړزېد او په توندی مې وپوښتل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- الفرډه دا څه کوې؟

هغه چې مخ يې زموږ خوا ته را اړولی وو، په موسکا وويل:

- د دغې ژړې مادې تر پيچکاري کولو وروسته مارګريتا جانه صرف درې دقيقه وخت لري. وروسته به بيله کوم درد او تکليفه کراره په ابدي خوب ويده شي!

مارګريتا چې لږ وارخطا شوې وه، په لړزانده ژبه وويل:

- دا جنايت دی، وحشت دی!

الفرډ ورغبرګه کړه:

- ارامه شه مارګريتا جانې... ډاکټر صاحب څشې نه ګورې؟

سره له دې چې همدا ګړی وړاندې مې غوښتل مارګريتا ووژنم، مګر اوس مې بودم زړه سوی راپارېدلی وو او په خان کې مې دا توان نه ليد چې د هغې د وژلو صحنه ووينم، نو لږ ورمخته شوم او الفرډ ته مې وويل:

- تا خو له دې سره ژمنه وکړه چې د جګړې تر پايه به ستاسې ميلمنه وي، نو اوس يې بيا ولې وژنې؟

الفرډ بدبد راته وکتل او په امرانه انداز يې راته وويل:

- له ډاکټر سره مرسته وکړه، وخت مه ضايع کوه!

ما له ډېرې غوسې چيغه کړه:

- نه، دا بايد د جګړې تر پايه د بوې اسيرې په توګه ژوندۍ وساتي. دا جنايت دی. په کوم جرم يې وژنې؟... تا په خپله د ژوندي پاتېدو هيله ورکړه!

الفرډ توپنچه راوايسته او په داسې حال کې چې سترګې يې په ما کې وې له موټره کښته شو. زما د خوا دروازه يې پرانيسته او راته ويې ويل:

- ولې تا په خپله همدا ساعت مخکې نه وژله؟

په توندۍ مې ورته وويل:

- هغه مې صرف يوه خبره وکړه... زه سره له دې چې قاچاقبر يم، مګر هېڅکله مې يو څوک دغسې په ناخوانۍ نه دی وژلی...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

الفرډ چې ورو-ورو يې د زغم کاسه ډکېدله، په غوسه راته وويل:

- دې ته وايي ډرې! څو دقيقې مخکې دې څېله د يوه جنايتکار قاتل غوندې غورې وهلې او غوښتل دې ويې وژنې. څنګه دې داسې ژر کرکه په زړه‌سوي بدله شوه؟ زما خو هېڅ سر نه خلاصېږي!

ورته ومې ويل:

- خوشحاله يم چې هغه وخت دې زما مخه ونيوله او له وينو تويولو دې راوګرځولم. نه هم دا کار مه کوه. هغې هېڅ داسې ګناه نه ده کړې چې مرګ يې درته روا شي. د ايسارت قول دې ورسره کړی وو!

الفرډ تر لاس ونيولم او له موټره يې راکښته کړم. زړه مې غوښتل چې هماغه شېبه توپنچه راوباسم او له هغه ډاکټر سره دواړه وولم، مګر په سفارت کې دننه دا کار ډېر خطرناک وو. د الفرډ هم لکه سر چې راخلاص شوی وي، توپنچه يې راځخه واخيسته او په هماغه امرانه لهجه يې راته وويل:

- ورشه شترنګ ته کښېنه! بېخوبي دې ماغزه درخراب کړي دي. که دې استراحت کړی وای، د مارګريتا داسې حماقت دې هېڅکله نه کاوه.

په درنو ګامونو او مړ-مړ ولاړم شترنګ ته کښېناستم. اخير څنګه چوپ پاته شوی وای؟ هغه او ډاکټر غوښتل مارګريتا ته د زهرو پيچکاری ورولګوي. دا جنايت د زغملو نه وو. يو ځل مې فکر وکړ چې هانس ته ورشم او مرسته ترې وغواړم، مګر بيا مې پام شو چې الفرډ د هغه له امر پرته دومره لوی کار کله کولای شي.

مارګريتا چوپه-غړپه وه، ځکه پوهېدله چې هېڅ ډول تلاښ و مقاومت يې له دې برخليکه نشي خلاصولای. زما د څېرې رنګ تښتېدلی وو او د ډېرې اغېزمنتيا له لاسه مې ان شا ته هم نشوای کتلای.

- ډاکټره ځشي ته ګوري؟

دا د الفرډ بږغ وو چې د مارګريتا د وژلو امر يې ورکاوه. وروسته يې زه مخاطب کړم او ويې ويل:

- صدرالدينه دلته وګوره!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ځواب مې ورکړ:

- نه غواړم ستا د انسان وژنې ننداره وکړم!

نه پوهیږم ولې یې ټینګار کاوه چې زه باید حتماً د مارګریتا د وژلو صحنه ووینم.

د توپنچې خوله یې پر خټ راکښېښوده او په ګواښونکې لهجه یې راته وویل:

- امر دی، مه مې مجبوره چې ودې وژنم!

چابک مې سر ور تاو کړ، په درد مې ورته وکتل او ومې ویل:

- ګواښې مې؟

الفرډ توپنچه ایسته کړه او ویې ویل:

- بیعقل کېږه مه، زه هغه کس یم چې ته مې له مرګه وساتلې. بس زړه مې غواړي چې د مارګریتا په بدن د ستنې ننوتلو صحنه ته هم ووینې او خوند پر واخلې.

مارګریتا ته مې وکتل او ومې ویل:

- نه، زه له داسې جنایتونو څخه خوند نه اخلم. دا وچ لېونتوب دی!

غوښتل مې چې بېرته مخ ترې راواړوم، مګر الفرډ بیا وګواښلم. اخیر مې مجبوراً مخ ورتاو کړ. الفرډ په یوه لاس د مارګریتا ښی لاس او په بل د هغې غاړه ونیوله. هغې خوارکې بېهوده لاس و پښې تپولې. ډاکټر پیچکاري ورپورته کړه. مارګریتا په یو تېز حرکت د الفرډ له لاسه خپل لاس وکیښ. الفرډ چابک له څوکۍ لاندې راوغورځوله، پر مرۍ یې پښه ورکښېښوده. یو لاس یې اوچت ورونیو او ډاکټر ته یې وویل:

- هله ژر کوه!

ډاکټر بیا پیچکاري ورپورته کړه او همدا چې په پوست یې ستنه ورننه ایسته، ما سترګې پټې کړې. د مارګریتا خپ ږغ مې واورېد چې ویې ویل:

- انسان وژونکو!

ډاکټر ډېر ژر کار خلاص کړ. وروسته الفرډ مارګریتا بېرته پر څوکۍ کښېنوله او یوه له لېونتوب او ځناورتوب ډکه خندا یې وکړه. د مارګریتا څېره سپینه اوښتې وه. سترګې یې لکه د یوه مړي یخې او بې‌روحه ښکارېدې...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

الفرډ بېرته خپل ځای ته راستون شو او ما ته یې وویل:

- سره له دې چې هېڅ شی دې په وسه نه دي پوره، بیا هم غواړم راسره ولاړ شې او د دې ماموریت یا ستا په وینا جنایت اخیري برخه ووینې... اوس ورشه پر خپل ځای کښېنه!

د مارګریتا څنګ ته کښېناستم. وروستی سلګی یې وهلې. سترګې یې پټې وې او سینه یې کرار-کرار پورته و کښته کېده. ډاکټر پیچکاری په پښه کې ووهله او په دسکول کې یې کښېښوده. بیا یې سګرېټ ولګاوه، شا ته یې تکیه ووهله او په ښغمه زړه یې لوخړو پر کولو ته پښه بنده کړه. لکه ښځې چې هېڅ پېښه نه وي شوې...

الفرډ موټر ډېر ګړندی خغلاوه. ښار ته روان وو او نه پوهېدم چې نوموړې د مارګریتا نیمژاله جسد چیرې غورځاوه. څه کم پنځلس دقیقو کې ښار ته ورسېدو. لمر لا څرګند نه وو وهلی چې شاه درېلاري ته نژدې د نادري واټ په یوه کوڅه کې د یو کور مخې ته موټر بریک وواهه. الفرډ ما او ډاکټر ته وویل:

- مارګریتا چابک کښته کړئ!

مارګریتا د موټر د دریدو له امله سترګې پرانیستلې. ښی او کیڼې خوا ته یې وکتل. ترې ومې پوښتل:

- پر خپلو پښو تللای شې؟

پر شونډو یې له کرکې او نفرته ډکه کمزوره موسکا راښکاره شوه او ویې ویل:

- کښته کېږو؟

تر لاس مې ونیوله او ورته ومې ویل:

- که خپله نشې کولای، پر ما تکیه وکړه!

د ډاکټر په مرسته مې له موټره کښته کړه. الفرډ لا هم شترنګ ته ناست وو، رانه کړل یې:

- د هغه کور دروازې ته یې ودروه هله ژر کوه... صدرالدینه ته د دروازې زنګ بر پلا اوږد او بیا لنډ ووهه او بېرته چابک موټر ته راوځېږه...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مارګریتا مې د هغه کور ور ته تکیه کړه. هغې دواړه لاسونه پر دروازه کېښېښودل او سر یې خم کړ. ما زنګ دوه ځله وواهه او بېرته سملاسي په ډاکټر پسې تر شا موټر ته وختلم.

الفرډ بېله ځنډه موټر ته پونده ورکړه او تېز یې روان کړ. ما له شاتنۍ ښیښې څخه د هغه کور دروازې ته کتل. غوښتل مې ووینم چې څه پېښېږي... خو موټر له کوڅې څخه ووت او بریالی نشوم. په دغو دوو احتمالونو کې یو پېښېدونکی وو: یا مارګریتا همالته د دروازې مخې ته دباندې او یا هم د دروازې له خلاصېدو سره سم په کور کې دننه پر ځمکه لوېدله.

له الفرډ څخه مې وپوښتل:

- دا د چار کور وو؟

هغه ځواب راکړ:

- دا راز دې زما سره وي. ته یې څه کوې؟ دې پېچکارۍ هم ته ښغمه کړې او هم د هغې ماموریت ختم شو.

ورته ومې ویل:

- تا او ډاکټر ته د یو انسان وژل خورا اسانه دي!

هغه وخندل او ویې ویل:

- که دې رښتیا هم پر مارګریتا زړه سوځېدلی وي، نو بیا دې پر شالید چندان باور نشي کېدای. مطلب مې دا دی چې په دې صورت کې نو بیا ته یو قاچاقبر نه، بلکې یو عادي سړی یې... یو قاچاقبر باید فول بې رحمه وي او انسانوژنه یې بانه لا ور ونه رېږوي... خو تا وښودله چې یو ډارن او کمزوره انسان یې. زما توصیه درته دا ده چې سر له همدا نن له دې دندې سره مخه‌ښه وکړه، ځکه په دې نازکو احساساتو هېڅ ځای ته نشې رسېدلای.

ډاکټر چې لږ خبرې یې کولې، دلته زما پر ځای الفرډ ته ځواب ورکړ او ورته ویې ویل:

- ډېر پېښې شوي دي چې د يوه مسلکي قاتل انساندوستانه احساسات د وژنې پر وخت او يا هم وروسته راويښ شوي او هغه يې له لوی اروايي کشمکش سره لاس و ګرېوان کړی دی. زه فکر نه کوم چې صدرالدين به هر وخت دغسې وي. نوموړی يو قاچاقبر دی او طبعاً بايد له دغسې صحنو سره بلد او په وړاندې يې خواکمن وي...

د ډاکټر تر بيان وروسته مې ووېل:

- که له يوه خطرناک حالت څخه د ځان ايستلو او د تېښتې لار خلاصولو مسله وي، بيا د يوه يا څو کسانو وژل فرق نه راباندې لري، ځکه د سر سلامتي تر هر څه لومړيتوب لري. مګر مارګريتا د وژلو لايقه نه وه، بلکې بايد د جګړې تر پايه مو په محبس کې ساتلې وای. تا همداسې قول هم ورسره کړی وو...

الفرډ مې په خوله کې راولوېد او ويې ويل:

- صدرالدينه بس يې کړه. مارګريتا پر خپله مخه ولاړه او داستان يې تمام شو. لا مهمې پېښې مو په مخ کې دي چې بايد فکر پکې وکړې...

ترې ومې پوښتل:

- ايا کريستين چې د مارګريتا غوندې او يا د تر هغې هم بدتره ده، ژوندی پاتېږي؟

هغه تر لږ خند وروسته ځواب راکړ:

- د هغې په اړه پوښتنې مه کوه او تر دې وروسته د مارګريتا اړوند يو حرف هم نشم اورېدلای!

چوپ شوم، ځکه په دې باب د هغه مجلس زړه نه غوښت. چې رښتيا شي نور نو زما لپاره هم ښه دا وه چې مارګريتا هېره کړم...

د لمر وړانګې پر چنارونو رادبره شوي وې چې موږ سفارت ته ننوتو. سيده د هانس دفتر ته ورغلو. هغه يوازې وو. الفرډ د ماموريت راپور ورکړ. هانس ډاکټر رخصت کړ او وروسته يې ما ته ووېل:

- تا ته مې يو نوی ماموريت په پام کې نيولی دی او نوې همکاره دې کريستين نومېږي!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د کریستین د نوم په اورېدو مې تکان وخوړ او ومې پوښتل:

-څه دې وویل؟ *شاپو خولی* ښځې؟!

هغه مانداره خندا وکړه او ویې ویل:

-هو، ستا لکه چې زړه ته نه لوېږي؟ مګر حقیقت دا دی چې هغه سر له اوسه زموږ په ګټه د متفقینو په کرښو کې فعالیت کوي.

ځواب مې ورکړ:

-ولا رښتیا مې هم زړه ته نه لوېږي. څنګه دا باور پر کوې چې تر خوشې کېدو وروسته به ستاسې لپاره صادقانه خدمت کوي؟ هغه یوه چالبازه او په تښتېدو کې ماهره ښځه ده. خامخا به خیانت درسره وکړي.

هانس وویل:

-د کریستین پر ضد داسې اسناد راسره دي چې په هېڅ وجه به خیانت ته زړه ښه نه کړي. همدې اسنادو همکارۍ کولو ته مجبوره کړه، ځکه یې نو باید پر قول باور وشي. هغه ډېره ښه پوهېږي چې د سترګو په رپ کې یې د له منځه وړلو وسایل برابرولای شم. صرف دومره په‌کار دي چې د دغو اسنادو یوه کاپي متفقینو ته وروسپارم بس خلاص.

هانس ته مې وویل:

-یو څه سپین ورږغېږه!

هغه وویل:

-کیسه داسې وه چې پر پولنډ د برید پر مهال کریستین په وارسا کې د متفقینو د جاسوسي ضد سازمان یو افسر ووژله او د شپې پټه له ياد هیواده ووتله. د دغه افسر د وژنې دوسیه تر ننه ناحله پاته ده او متفقین یې په قاتل پسې ګرځي. زموږ سره داسې اسناد شته چې له مخې یې د کریستین جرم ثابتېږي. په دې ډول نو زه داډمن یم چې نوموړې به زموږ هر امر مني او د خیانت سوچ به لا هم ذهن ته نه ورپرېږدي...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هانس تر بوې لنډې دمې وروسته ژباته کړه:

- همدااوس د هغې پر خوشې کېدو يو ساعت تېرېږي او دا چې امرانو ته خپله خلبروبشت ساعته نرۍ تم کېدنه ځنګه توجيه کوي، هغه پوهېږي او کار يې. پانه ستا ماموريت شو، نه...

الفرډ په خندا وويل:

- زه صدرالدين ته ډېر هيله‌من نه يم!

هانس د هغه خبرو ته له پاملرنې پرته وويل:

- ستا ماموريت په قرنفل کافه کې دی. هلته به له کرېستين سره ووينې او مالومات به ځنې واخلې. هغه نن شپه پر لس بجې يادې کافې ته راځي او خپله اړيکې درسره نيسي. اوس تر هر څه زيات ارام ته ضرورت لرې، نو سيده د انجيلا کره ولاړ شه. بيکونه دې هم هورې وړل شوي دي...

هانس د انجيلا د کور کيلي راکړه... له ودانۍ چې راووتم ډاکټر مې وليد. سملاسې زما خوا ته راروان شو. له څه ويلو پرته يې يوه کټ-کټ پانه راکړه او ودانۍ ته ننووت. څو دقيقې وروسته زه په هماغه موټر کې چې مارګريتا مو ښار ته پکې بيولې وه، له سفارته راووتم...

د اپارتمان ښې او د کوټو تودې و نفس‌تنګوونکې هوا ځرګندوله چې له ډېر وخت راهيسې يې کړکۍ نه دي خلاصې شوې او انجيلا کور ته نه ده راغلې. د سالون په منځ کې پر ولاړ مېز دوړې پرتې وې. د نورو شيانو هم همدا حال وو. بوې-بوې کوټې ته مې سر ورايسته کړ. د تشناب په هنداره کې مې پر خپل ځان سترګې ونښتې؛ څېره مې يومخ بدله شوې وه. ډنګر مخ، لوېدلو او ستړو سترګو مې ښودله چې نهايت ستړی او بېخوبه يم.

لاسي ساعت ته مې وکتل. څه کم اته بجې وې او د شپې تر لسو بجو مې يو عالم وخت درلود. د خوبخونې خوا ته روان شوم، خو بودم د ډاکټر پاڼه راياد شوه. چابک کوټې ته ورغلم. يادابنت مې ترې راوايست او په تلوار مې پرانيست. لېکنه دوې کرښې او بې‌لاسليکه وه. ليکلي ول:

*(کوښښ کوم چې د شپې پر اته بجې د انجیلا په کور کې درسره ووینم. که نه درغلم، په قرنفل کافه کې راته منتظر شه. پوهېږم چې ما ته د مارګریتا د قاتل په سترګه ګورې، مګر غواړم له یوې خورا مهمې موضوع یوازې تا خبر کړم.)*

له ځانه مې وپوښتل: د مارګریتا قاتل زما سره کومه مهمه موضوع شریکول غواړي؟! ویل مې هسې نه تر شا یې کوم چل پټ وي، ځکه دوه‌مخي انسانان معمولاً د دوستۍ او ملګرتیا په جامو کې راڅرګندېږي. اصولاً ما او ډاکټر نه اوس یو و بل سم سره پېژندل او نه مو تر منځ پخوا داسې ملګرتیا تېره شوه وې چې دی دې زما سره لیدل وغواړي. سره له دې چې هغه څه ناڅه شناخته وو، بیا مې هم باید په ډېر احتیاط چلند ورسره کولای.

بل د سوچ وړ سوال دا وو چې هغه څنګه په قرنفل کافه کې زما او کریستین له ملاقاته خبر شوی وو؟

قضیه چې مې په ذهن کې ښه وشاربله، دې پایلې ته ورسېدم چې د ډاکټر ملاقات د کریستین او زموږ په دستګاه کې د نوموړې له نوي رول سره تړلی دی.

په هر صورت، ویل مې هغه ساعت هغه مصلحت. وګورم چې ډاکټر صاحب څه راته ویل غواړي.

* * *

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د هغه وخت قرنفل کافه اوس په یوه سرپوښلي ځای بدله شوې ده او لالهزار بازار بې بولي. کافې ته چې ورننوتم، فضا یې د سګرېټو د لوګیو ګاټه (غلیظو) اوریځو پر سر اخیستې وه. د شرابو توند بوی د انساني بدن له خولو سره یوځای شوی وو او د سړي سږمې یې تخنولې. بار ته ورغلم او د ښنباک سپارښت مې ورکړ.

د جام تر تیارېدو پورې مې پلټونکې سترګې د کافې په مشتریانو کې وګنډلې. دوه تنه مې هدف ول؛ یوه کریستین او بل ډاکټر چې د انجیلا کور ته نه وو راغلی. که څه هم بچې تر لسو اوښتې وې، خو لا هم د دوی څرک نه وو راښکاره شوی.

دویم تش جام مې پر مېز کښېښود او د دریم سپارښت مې ورکړ. دغه شېبه بار ته مخامخ ولاړ وم. دواړه لاسونه مې د بار پر مېز ایښي ول او سترګې مې د شرابو په الماری کې ګنډلي وې. بارچلاند دریم ګیلاس راته کښېښود. ما چې راپورته کاوه همدغه وخت یو چا په ډکه ووهلم.

- اوه وبخښئ ښاغلې!

ښځینه اواز وو چې په خارجي لهجه لړلې فارسي یې خبرې کولې. سر مې ورتاو کړ، د سترګو تر ګوټونو مې ورروکتل او ومې ویل:

- پروا نه لري!

هغې وخندل او ویې ویل:

- نو د یو جام ښنباک بلنه درکولای شم؟

سګرېټ مې ولګاوه او ومې ویل:

- مننه، ته څنګه؟

بیا یې وخندل او په داسې حال کې چې سګرېټ یې په سګرېټدانۍ کې مړ کاوه، ویې ویل:

- د ښنباک له ښنبلو پرته دې مننه وکړه!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ورته کړل مې:

- ستا په شان یوې ښکلې مېرمنې ښخه باید دوه ځله مننه وشي؛ هم تر ښخښاک مخکې او هم وروسته!

په ډکه خوله یې وخندل او ویې ویل:

- منتې ته اړتیا نشته!

بارچلاند دوه ګیلاسه ویسکي راته کېښېښودل. هغې خپل جام پورته کړ او په داسې حال کې چې زما په سترګو کې یې سترګې ګنډلې وې، ویې ویل:

- مهرباني وکړه او...

دلته د یوې مناسبې کلیمې په لټه شوه چې خپله پاته جمله په بشپړه کړي، چې ویې نه موندله، نو ویې پوښتل:

- فرانسوي دې زده ده؟

ځواب مې ورکړ:

- نه، یوازې مې انګلیسي زده ده!

هغې په خوښۍ وویل:

- وینې چې فارسي مې سمه نه ده. د انګلیسي له برکته به لږ سم سره وږغېږو!

ما جام پورته کړ او ومې ویل:

- ستا په سلامتۍ!

تر مړوند یې ونیولم او ویې ویل:

- نه، داسې ووایه: زموږ د ملګرتیا د دوام په هیله... سهي ده؟

ځواب مې ورکړ:

- بالکل!

تش جام مې له همېښني خوی سره سم پر مېز سره وغرخاوه او بېرته مې په لاس کې ونیو. ښځې را حمله کړل، ګیلاس یې له لاسه راخخه وایست، پر مېز یې کېښېښود او ویې ویل:

- زموږ په سیمه کې د مېز پر سر د تش ګېلاس تاوول بدشګوني ده او دا مانا لري چې د سړي له خپل شریک یا شریکې څخه زړه موړ شوی او غواړي خوشې یې کړي.

زه یې په خبرو کې ورولوېدم او ومې ویل:

- خو زما دا مقصد نه وو!

- پوهېږم ملګرې... او یوه هیله درڅخه کوم هغه دا چې که په راتلونکي کې هر وخت راڅخه موړ شوې، نو په خوله مه راته وایه، بلکې صرف دغه چم وکړه. زه سملاسي درڅخه بېلېږم.

- اندېښنه مه کوه، تر څو ستا سره یم بیا به تش ګېلاس پر مېز ونه څرخوم.

وروسته مې څنې وپوښتل:

- ربښتیا، نوم دې څه دی؟

- نوم مې ادیټ دی او د بلجیم یم.

- زه هم صدرالدین نومېږم او د همدې خاورې یم.

اوس اجازه راکړه چې دغه ادیټ نامې بهرنی ښځه لږ درووپېژنم:

شاوخوا پنځه‌ویشت کلنه وه. دنګه ونه، اوږده وېښتان او شنې سترګې یې لرلې. کاته یې زړه راکښونکي ول. انسان یې په یوه دید ځان ته ورکشاوه. هغې د انډیوالۍ تار راسره واچاوه او داسې یې وښوده چې ګواکې زه یې خوښ شوی یم، مګر زه هم دننه بیداره وم او له هر څومره زیات زړه‌راښکون او ښکلا سره-سره مې خطرناکه وبلله او سره له دې چې د دې په خوښه او طبیعت ورسره تلم، بیا مې هم ټینګ احتیاط کاوه.

زموږ دوو د روان مجلس په بهیر کې مې غلچک-غلچک په سالون کې هم سترګې غړولې تر څو خپل مطلوب دوه تنه پیدا کړم. ادیټ پر یوه مېز د کښېناستلو وړاندیز وکړ. ما ورته وویل چې غواړم همدلته له بار سره ودرېږم. اخیر په یوه پلمه راڅخه بېله شوه. همدغه لحظه زما کیڼ لاس ته ولاړ کس د بار مېز ته رانژدې شو او ورو یې راته وویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- ښاغلي صدرالدینه ورځ په خیر... خورا ورسره ګرم شوی وي!

نر ښځو لاندې مې وروکتل، د مارګریتا وژونکی ډاکټر وو. له سر اوچتولو پرته مې

ترې وپوښتل:

- ډېر وخت کیږي چې دلته یې؟

لږ نور هم رانژدې شو او ویې ویل:

- هو، تقریباً پنځلس دقیقې کیږي. رښتیا دا ښځه څوک وه؟

- ولې ته یې نه پېژنې؟

- که مې پېژندلای بیا مې پوښتنه نه درځخه کوله.

- ښایي له لیرې یې وپېژنې.

- نه ښاغلي صدرالدین!

- ستا په اند څنګه ښځه ده؟

- په دې کار مې چنداني سر نه خلاصیږم. ته تر ما تکړه یې.

- کریستین دې ونه لیده؟

- ولې هغه هم دلته راغې؟

خواب یې شکمن کړم. سر مې راپورته کړ او په توندۍ مې ورته وویل:

- نو بیا ته څنګه خبر شوې چې زه نن شپې دلته راځم؟

ډاکټر په وارخطایي وویل:

- ما صرف د دې ځای نوم د دروازې تر شا واورېد. له نورو کیسو نه یم خبر.

پر پښه مې زور وروکړ او ومې ویل:

- دروغ مه وایه قاتل ډاکټره! رښتیا راته ووایه، دلته د څښې لپاره راغلی یې؟

ډاکټر خپله پښه شا ته کش کړه او ویې ویل:

- هیله کوم، کرار-کرار رغېږه. کیسه داسې نه ده لکه ته چې فکر کوې... زه دلته د

دې لپاره راغلی یم چې یو راز درته ووایم. زغم ولره، مګر ما ته دا ځای د دې خبرو

لپاره مناسب نه ښکاري. دباندې پر سړک یا هم بل هر ځای چې ستا خوښ وي،

هلته به یې درته ووایم. موضوع د مارګریتا په اړه ده.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د بوټ په نوک مې د ښځې پر بېجلکه وواهه او ورته ومې ویل:

- نه غواړم د هغې په اړه وړغېږم، هغه مړه شوه!

ډاکټر تر لاس ونیولم او په خلق‌تنګی یې وویل:

- ښاغلی صدرالدینه غوږ ونیسه، زه قاتل نه یم. د هغې د وژلو امر هانس او الفرډ وکړ او اوس باید...

د اډیټ په راتلو ډاکټر خبرې پر نیمایي پرېښودې او راځخه لیرې شو. اېډیټ ورو راځخه وپوښتل:

- دا سړی څوک دی؟ لکه چې ورسره ږغېدلې. ما خو به مزاحمت نه وي کړی؟

تر مټ مې ونیوله او ورته ومې ویل:

- نه، مشکل نشته. هغه مې یو شناخته دی. تېره اونۍ مو همدلته سره وپېژندل.

اډیټ له خپل مټ څخه زما لاس ایسته کړ او ویې ویل:

- درځه پر یوه مېز کښېنو!

که څه هم زړه مې نه غوښت، خو له ډاکټر څخه د خلاصون په خاطر ورپسې شوم. خو متره ها خوا ته مې پر کریستېن سترګې ولګېدې چې له دوو بهرنیانو سره ناسته وه او څښاک یې کاوه. زما په لیدلو یې سر کښته کړ او ویې پوهولم چې ورته منتظر شم.

زه او اډیټ یوه مېز ته کښېناستو. ږغېدم له دې سره، خو حواس مې په کریستېن کې ول. ټاکلې وه چې هغه به ما ته راځي او یو لړ مهم مالومات به راسپاري، خو اډیټ مزاحمه وه، نو خدای خبر چې کریستېن به خپل ورسپارل شوی ماموریت تر سره کړی وای که نه. له بل پلوه له اډیټ څخه بېلېدل هم عاقلانه کار نه وو. لکه ژوره[1] کلکه راپورې نښتې وه او که په یوه بهانه څنې جلا شوی هم وای، له شک پرته یې له لیرې څخه تر څار لاندې نیولم. د شناخت مو یوازې یو ساعت کېده او په دومره کم وخت د یو چا سمه پېژندنه ناشونې ده. خو زما حالت داسې وو چې د

*1 یو ډول کوچنی خزنده ده چې اکثره په لښتیو کې پیدا کېږي. چې یو ځل په پوست پورې ونښلي بیا په یوه اسانه نه څنې جلا کېږي. ژباړن*

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغې په شان ښځو ته مې په عادي سترګه نشوای کتلای. اډیټ لکه راپوهېدلې چې وي، ویې پوښتل:

- ولې داسې نارامه یې؟

ورته ومې ویل:

- سرچپه، فول مې طبیعت برابر دی!

اډیټ چې څه ویلو ته خوله جوړوله، بودم مو له مېز سره د هوټل یو کاریګر راشین شو او هغې ته یې یو ویزیټ کارټ ورکړ. اډیټ لومړی کارټ ته وکتل ورروسته یې په بار کې سترګې وګندلې. بار ته په ولاړو څو کسانو کې یې خپل مطلوب سړی وموند، پاڅېده او ویې ویل:

- ډېر وخت کېږي هغه مې نه دی لیدلی، بېرته دستې راځم!

کارټ یې په بې‌پروایي پر مېز وغورځاوه او د بار خوا ته ورغله. په سترګو مې وځارله. شناخته یې یو ځوان وو چې سپین پتلون او یخنکاک یې اغوستی وو. اډیټ یې پر اوږه لاس ورکښېښود او څنګ ته یې ودرېده. د هغه د نوم مالومولو لپاره د کارټ راپورته کولو ته لا اړتیا نه وه. له ورایه په عربي او انګلیسي پر لیکلي ول:

*(یوسف ابراهیم)*.

اډیټ او یوسف ابراهیم ما ته خاص ارزښت نه درلود، ټول فکر و ذکر مې په کریستین کې وو چې تر اوسه لا له هغو دوو کسانو سره په ټېناک بوخته وه او په قهقه یې خندل. څو واره مې هڅه وکړه چې په یو ډول یې ځان ته متوجې کړم، ونشوه. اخیر ورپاڅېدم، مخې ته یې تېر او تشناب ته ولاړم... په دې ډول مې ورته وښوده چې تشناب د اړیکې نیولو لپاره وړ ځای دی.

دوې درې دقیقې د دستشویي مخې ته ودرېدم، خو د هغې درک ونه لګېد. له ناچاریه بېرته راووتم. دا وار بار ته ورغلم او ټېناک مې راوغوښت. پر بوه وخت مې هم باید اډیټ ځارلای هم کریستین. د بار مخې ته په درېدو مې کریستین شا ته ناسته وه او اډیټ مې ښی اړخ ته څو نفره تر منځ له یوسف ابراهیم سره ولاړه وه. کله-کله مې د کریستین خندا اورېده. یو وخت یې د خندا ږغ هم ورک شو. چې

مخ مې وروااړاوه دا او دوه مجلسیان یې درې واړه نه ول. ټول سالون مې تر سترګو وکېښ، د کریستین ځرک مې ونه موند... له ځان سره مې وویل: ته دې هانس بیعقل ته ګوره چې پر دغه ښځه یې باور کړی دی!
په همدې سوچونو کې وم چې یو پوخ‌عمره سړی مې خنګ ته ودرېد او ورو یې وویل:
- هغه دباندې درته منتظره ده!
هغه ته مې، چې شیناوې وېښتان یې لرل، له سره تر پښو وکتل، وروسته مې ترې وپوښتل:
- څوک ښېې؟ زما خیاله خطاوتلی یې!
هغه سګرېټ ولګاوه. یوه شېبه راته خیر وو. وروسته له څه ویلو پرته راځخه روان شو. په تلوار مې خپل حساب خلاص کړ او دباندې ووتلم. له دروازې سره مې کریستین ولیده چې په یوه موټر کې شترنګ ته ناسته وه... چابک ورغلم او بغل ته یې کښېناستم. حرکت یې وکړ. ور څخه ومې پوښتل:
- هغه څوک وو؟
- څوک؟ هغه سپین ږیری؟
- هو، ما ونه پېژاند!
- ضرور نه ده چې هر لنډ پیغام‌وړونکی دې وپېژنې...
- ته یې پېژنې؟
- تقریباً. او که مو همکاری دوام پیدا کړ، نو خپل هغه پیغامونه چې ډېر مهم او محرم نه وي، په همدې ډول در رسوم. البته دا په داسې وختونو کې چې حالات ترینګلي وي او ته باید صرف غوږ ونیسې، عمل پر وکړې او هېڅ پوښتنه و تحقیق ونه کړې. ځکه پیغام‌وړونکی له هماغه پیغام پرته بل په هېڅ شي نه دی خبر.
- اوس چیرې روان یو؟
- لږ حوصله وکړه ښاغلی ساختګي صدرالدینه!
- نو ته مې هم په همدې نامه پېژنې؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- ولې باید په یو بل نامه مې پېژندلای؟! ته ما ته همېشه صدرالدین یې؛ د چاپو د یوه صادروونکي شرکت څښتن.
په دې پسې یې په لوړ اواز وخندل. ما هم د خپلې خندا مخه ونشوه نیولای.
کریستین په خندا-خندا کې وویل:
- هسې خپلو کې یو، خپل رول دې خورا ښه تمثیلاوه او که الفرډ نه وای راته رسوا کړی له خپلې ټولې بیداری سره-سره مې دومره ژر نشوای پېژندلای.
تر یوه لنډ خنډ وروسته یې راځخه وپوښتل:
- رښتیا مارګریتا څه شوه؟ زندان یې درمالوم دی؟
ځواب مې ورکړ:
- ولې نه، د هغې کار خلاص شو. ویې وژله!
کریستین د دې خبر په اورېدو سترګې ته سوک ورکړ او ویې ویل:
- نه، ناشوني ده. هانس زما سره ژمنه کړې وه چې هغه به ژوندی ساتي. همدا له نوموړي سره زما د همکارۍ یو شرط وو.
په خبرو کې ورولوېدم او ورته ومې ویل:
- ما خپل وس ولګاوه، مګر ګټه یې ونه کړه. الفرډ د یوه ډاکټر په مرسته د زهرو پیچکاری ورولګوله.
هغې په ټیټ اواز او له غوسې و کرکې څخه په ډک انداز وویل:
- ښه نو مارګریتا یې ووژله!
خو هغه پته مې ورونه ښوده چې د مارګریتا نیمژاله جسد مو وروړی وو. دې هم پوښتنه ونه کړه... تر څو شیبې چوپتیا وروسته مې ځنې وپوښتل:
- د هانس مالومات چېرې دي؟
کریستین په نارامۍ وویل:
- دا مالومات چې ما په ډېر تکلیف پیدا کړل یو ریل دی چې زموږ د سازمان له اسنادو څخه اخیستل شوي عکسونه پکې خوندي دي. خو اوس راسره نشته، کنه همدلته مې درکاوه او له موټره مې کښته کولې.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- نو دا ریل یو بل ځای دی؟
- نه، په همدې موټر کې دی.
- نو ولې یې نه راکوې؟

کریستین راوکتل، وروسته بېرته مخامخ هنداري ته متوجې شوه او ویې ویل:

- لږ صبر وکړه. د موټر په ډیکی (ډاله) کې پروت دی. په فردوسي میدان کې ته ور کښته شه او ډیکی پرانیزه. ریل په یوه سور اوسپنیزه بکس کې پروت دی. وابې خله او نور دې په مخه ښه.

ورته ومې ویل:

- مګر زما موټر د قرنفل کافې مخې ته ولاړ دی، تر هغه ځایه خو ډېره لار ده!

کریستین راته وویل:

- له بده مرغه صدرالدینه تر دې زیات ملګرتیا نشم درسره کولای.

فردوسي میدان ته ورسېدو. د ریتس هوټل مخې ته یې بریک وواهه او ویې ویل:

- ژر کښته شه. ډیکی خلاصه ده!

زه چابک ورکښته شوم. ډیکی مې پرانیسته، له هغه بکس څخه مې ریل راوایست او روان شوم. یو څه چې ولاړم، د موټر د روانېدو ږغ مې واورېد... د اس بګی تر راتګ پورې مې نژدې لس دقیقې انتظار وکړ. قرنفل کافې ته له رسېدو سره سم مې لومړی خیال شو چې له همدې ځایه هانس ته ټلیفون وکړم، مګر وېرېدم چې هسې نه اډیټ غمازي وکړي. نو مجبوراً استارا کافې ته پلی ولاړم او له هغه ځایه مې زنګ ور وواهه. ورته ومې ویل:

- ډاکټر صاحب زما زوی سخت ناروغ دی او سمدستې درملنې ته اړتیا لري. مرسته راسره وکړئ!

هانس ځواب راکړ:

- زه څو دقیقې وروسته کور ته درځم. تر هغه وخته دې د زوی خیال وساته!

په دې ډول مې وپوهاوه چې له کریستین څخه ترلاسه کړي مالومات زما سره دي او چیرې یې ورسپارم. هغه د انجیلا کور انتخاب کړ.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په منډه موټر ته ولاړم او د خپل استوګنځي یانې انجیلا د اپارتمان خوا ته روان شوم... د انجیلا درک لا هم نه وو. کوټې هماغسې وې لکه زما د وتلو پر مهال. له ځان سره مې پرېکړه وکړه چې له هانس څخه به یې پوښتنه کوم. ګړی وروسته د دروازې زنګ په شفري بڼه وکړنګېد.

هانس په تلوار راننووت او ویې ویل:

- ریل ما ته راکړه. باید ډېر مهم شیان وي.

ریل مې ورکړ او ترې ومې پوښتل:

- هغې ته په دې اړه خبر کړی وې؟

هغه په داسې حال کې چې سترګې یې په ریل کې ګنډلې وې، ځواب راکړ:

- هو، تر تا مخکې هغې ټلیفون راوکړ. مکس فن اوپنهایم همدغه شیبه په انقره کې دغو مالوماتو ته سترګې پر لار دی.

هانس ریل جېب ته واچاوه او روان شو چې ولاړ شي. ځنې ومې پوښتل:

- انجیلا چیرې ده؟

هغه موسکی شو او ویې ویل:

- سخته دې یادېږي، مګر باید درته ووایم چې هغه په اروپا کې ده او له بده مرغه بېرته نه راستنېږي. دغه کور د اوس لپاره ستا استوګنځی دی. سبا سهار سره وینو.

- چیرې؟ ته خبر راکوې؟

- بالکل... پر لس بجې راته منتظر اوسه. یا هم ښایي په یوه بله وسیله درسره په اړیکه کې شم... په هر صورت، زما له ویلو پرته له دې ځایه مه وزه.

هغه په هماغه تلوار چې راغلی وو بېرته ولاړ. دروازه مې وتړله او جامې مې وایستې. غوښتل مې ویده شم. همدغه شیبه د دروازې زنګ بیا وکړنګېد، مګر دا وار یې کړنګا شفري نه وه. سړیه دا څوک دی چې د شپې پر یوه بجه یې په کار یم؟ توپنچه مې راواخیسته او د وره شا ته ودرېدم... چې ځنګه مې (څوک یې؟) پوښتنې ته خوله جوړوله یودم مې ډاکټر ذهن ته راغی... ویل مې حتماً هماغه دی.

- څوک یې؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- زه یم ښاغلی صدرالدین. هیله کوم دروازه خلاص کړئ!

د ډاکټر اواز مې وپېژانده، مګر دې ته حیران وم چې دا بلاګې ته خو ما په څرګنده ویلي ول چې مخ پرته کړي. نو اوس دلته څه کوي؟

- خیریت دی؟

- غواړم په یوه ډېره مهمه موضوع دې خبر کړم!

- ته یو قاتل یې، که کومه خبره لرې همالته یې وکړه... دروازه نه درخلاصوم!

- هیله کوم، د دروازې شا ته نه کېږي... دا موضوع زما او مارګریتا اړوند ده!

- مارګریتا ما ته نوره هېڅ مهمه نه ده، تر دې زیات مزاحمت مه کوه... وادې ورېدل؟

- ګوره ښاغلی صدرالدینه زه ډاډه یم چې له دغې موضوع سره پوره-پوره لېوالتیا لرې!

وچ شله وو چې دروازه راته خلاصه کړه. زه حیران وم چې له دې سرټېه سره اوس څه وکړم، ځکه په دغسې حالاتو کې باید ډېر احتیاط وشي. له بلې خوا مې بیا پلټونکی حس پارېدلی وو او په دغه موضوع خبرېدلو ته مې تلوسه وه.

له ناچاریه مې زړه نا زړه ور پرانیست... ډاکټر چې تر دې دمه یې نوم راته مالوم نه وو، په داسې حال کې راننووت چې پر څېره یې د ناارامۍ نښې له ورایه ښکارېدې. رنګ یې الوتی وو لکه یو شي چې ترهولی وي... دې وضعیت یې هېښ کړم.

د دروازې له تړلو سره جوخت مې ورته وویل:

- یو مسلکي انسانوژونکی باید له هېڅ شي ونه وېرېږي!

ډاکټر وویل:

- هیله کوم ما ته په انسانوژونکي مه وایاست. که قتل شوی وي، نو اصلي قاتلان هانس او الفرډ دي نه زه.

خبرې مې ورغوځې کړې او ورته کړل مې:

- ته هم عجیبه خندوونکې خبرې کوې، زما مخې ته دې مارګریتا ته د زهرو پیچکاري ورولګوله او اوس دعوه کوې چې قتل نه دی شوی؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ډاکټر په لړزانده ږغ وویل:

- هو، ډاډه اوسئ هغه مې ونه وژله... ستاسې مرستې ته اړتیا لرم!

چیغه مې کړه:

- زما ښځه ښځې غواړې؟ وینې مې چې زه ویدېږم... خبره دې وکړه او نور له کوره ووزه!

نارامي یې نوره هم زیاته شوه. ویې ویل:

- تاسې باید زما سره مرسته وکړئ. زه... زه...

خبره یې پر نیمایي پرېښوده او چوپ شو... لکه د یوې مهمې موضوع له ویلو چې ډارېږي. یو څه نرم شوم او ومې ویل:

- ووایه، وېرېږه مه دلته څوک نشته. زما له خوا هم بېغمه اوسه!

هغه شاوخوا وکتل، وروسته یې کرار وویل:

- زه... زه... یهود یم!

- یهود؟

- هو، تر ننه مې خپل مذهب له هغو ښځه پټ ساتلی وو، مګر د مارګریتا شتون به مې خامخا رسوا کړي.

- مارګریتا... پوه نشوم. لکه چې لېونی شوی یې. مارګریتا خو تا په خپله ووژله. هغه نور نشته. ناکې دې لا ولې پرې پکې اچولی دی او یادوې یې؟

ډاکټر پر خپل مخ لاس راتېر کړ، د تندي او سنت خولې یې وچې کړې او ویې ویل:

- ته پوهېږې چې جرمنیان د یهودانو وینو ته تږي دي او که خبر شول چې...

د زنګ اواز یې خبرې ورپرې کړې. ما ډاکټر ته وکتل. هغه خپلې ترهېدلې سترګې راپکې ګنډلې وې. زنګ په شفري انداز وهل شوی وو. له ځانه مې وپوښتل:

- دا بیا څوک دی... هانس، الفرډ او که انجیلا؟

دروازې ته ور روان شوم. ډاکټر راوخغاستل او په داسې حال کې چې له ډېره ډاره یې پښې کېپدلې، ویې ویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- ما پټ کړئ!

- ولې؟ ستا د پېښدو اړتیا نشته... هسې هم موږ تاسې سره ملګري یو او ته مې لیدو ته راغلی یې. چورت مه خرابوه شی نشته!

زما په تسلي یې زړه ارام نه کاوه. ورخ اویو ترې وړی وو. دی مې پرېښود او ورغلم دروازه مې پرانیسته. الفرډ وو.

- شپه په خیر صدرالدینه، یوازې یې؟

- نه، ډاکټر هم همدلته دی.

- ډاکټر دلته څه کوي؟ زه سرګردانه پسې ګرځم.

- راځه دننه. زما لیدو ته راغلی دی.

الفرډ موسکی شو او وېې ویل:

- شپېړم حس مې راته ویل چې باید ستا سره وي.

دروازه مې وتړله او هغې کوټې ته ورسره ولاړم چې ډاکټر پکې ناست وو.

- سلام ډاکټره. ته دلته یې؟ څو ساعته کېږي درپسې ګرځم... ولې دې داسې طبیعت خراب دی؟

ډاکټر چې پر ځان یې کابو بایللی وو او لاسونه یې سره مروړل، وویل:

- سم نه یم. باید استراحت وکړم.

الفرډ وخندل، ورو یې پر شا وټپاوه او وېې ویل:

- راځه چې ولاړ شو. ته د خپل ځان درملنه نشې کولای!

ډاکټر په ترهېدلي انداز وویل:

- مننه ښاغلی الفرډه. زه د ځان درملنه تر تا ښه کولای شم. یو څلیرویشت ساعته استراحت مې کار راسموي.

الفرډ ته مې وویل:

- که دې خوښه وي ډاکټر به همدلته استراحت وکړي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

الفرډ په پزه کې وخندل او وېې ویل:

- نه، یو بل ځای مې په پام کې ورته نیولی دی. دا ډاکتر هم لکه ته د مارګریتا له وژلو څخه ډېر اغېزمن شوی دی او باید دومره ژر د کار کولو اجازه ورنه کړل شي. نر دغو خبرو وروسته یې ډاکتر تر مټ ونیو او ورسره کش یې کړ. ډاکتر ما ته وکتل. په دې ډول یې ګواکې مرسته راڅخه وغوښته چې له الفرډه یې راوګرځوم... مګر ما نو څه کولای شول... د هغه کیسه خورا پېچلې وه او له یهودیتوب پرته یې بل په هېڅ شي نه وم خبر. دا چې الفرډ چیرې روان کړی وو، په دې هم نه پوهېدم.

الفرډ ډاکټر له کوره وایست، ما ته یې مخ کړ او وېې ویل:

- سهار پر اووه بجې درته منتظر یم!

ترې ومې پوښتل:

- چیرې؟ د سفارت په بڼ کې؟

- هو، کوښښ وکړه چې پر وخت راشې.

هغوی ولاړل. په ډاکتر کې مې چورت بند وو. ویل مې ایا همدا د یهودیتوب راز هغه مهمه موضوع وه چې ده یې راته ویل غوښتل؟ فکر نه کوم، حتماً کومه بله خبره وه چې د ویلو موقع یې ونه موندله. له ځان څخه مې پرله پسې دا پوښتنې کولې چې: الفرډ څه خبر وو چې ډاکتر دلته دی؟ څه کار یې ورسره درلود؟ چیرې یې بوتلی؟

سبا سهار پر اووه بجې د هانس دفتر ته ورغلم. یوازې وو. د الفرډ پوښتنه مې ترې وکړه. په ماته خوا یې ځواب راکړ:

- همدلته دی، اوس راځي!

حیران شوم. سړیه څه کیسه ده چې هانس دومره سوړ ځواب راکوي؟ په همدې فکر کې وم چې الفرډ راننووت.

- ورځ په خیر صدرالدینه. راځه چې ځو!

ورپسې شوم. يوې بلې خونې ته ولاړو. هلته مې يو جسد وليد چې سپين ټوکر پر هوار وو. الفرډ دروازه وتړله، پر جسد ورکوږ شو، ټوکر يې څنې راکش کړ او ما ته يې وويل:

- راشه ويې ګوره پيژنې يې؟

يو ګام ور وړاندې شوم. د ډاکټر د لاښ په ليدلو مې ټکان وخوړ. څېره يې تکه شنه اوښتې وه. پر تندي يې يو تپ ليدل کېدی چې شاوخوا يې وينه کنګل شوې وه. الفرډ ته مې وکتل. هغه بېخاره او عادي ولاړ وو. ترې ومې پوښتل:

- دا دې هم وواژه؟

د سګرېټو کوټې يې راته ونيوله او ويې ويل:

- ارام شه صدرالدينه، نور کار تر کار تېر دی. او بل دا چې ډاکټر يهودی وو. پوهېږې؟ په دې همدا برابې(تېره) شپه خبر شوو، مګر د وژلو لامل يې يهوديتوب نه، بلکې د کورت په وژنه کې لاس‌لرنه وه. ټول پلان د همده له خوا جوړ شوی وو. اوس دې سر خلاص شو؟

ورته ومې ويل:

- هغه کار خو وارنر کړی وو!

الفرډ بېرته پر جسد ټوکر هوار کړ او ويې ويل:

- بالکل سهي وايې. دغه ډاکټر د وارنر يو نژدې ملګری وو.

يو څل بيا مې جسد ته وکتل او وروسته مې الفرډ ته وويل:

- مخکې تر دې چې د يهوديتوب په تور دې وژلی وای، يو څل به دې د ده مسلک ته پاملرنه کولای. دومره بې‌ارزښته هم نه وو.

الفرډ موسکی شو، پر اوږه يې لاس راکښېښود او ويې ويل:

- درځه چې ځو. نن سبا ډېر احساساتي يې...

يو ځای له کوټې څخه راووتو. هغه زياته کړه:

- لکه څنګه چې مې يادونه وکړه، هغه يهود وو او په يوه جعلي تذکره يې د کاتوليک په توګه په موږ کې ځان ځای کړی وو. کله چې يې په رښتيني هويت خبر شوو، نو

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

له وژلو پرته یې بله هېڅ لار نه وه، ځکه ممکن په راتلونکي کې یې بېلاری شوی او زمونږ پر ضد یې فعالیت ته لاس وراچولی وای.

د دغسې بېړنیو او پېچلو مسایلو پر مهال د خپل همېشني پولیسي غبرګون پر بنسټ مې د الفرډ دلایل زړه ته ونه لوېدل، ځکه ښکاره درواغ یې ویل. ډاکټر په حقیقت کې بوازې د یهودیت نه، بلکې هغې مهمې موضوع په تور وژل شوی وو چې ما د یعقلی او له هغه ځخه د کرکې په وجه غوږ ورته ونه‌نیو.

د فرنفل کافي شپې او د انجیلا کور ته بېرته ورګرځو. د ډاکټر نارامه څېره رایادوو چې وچ راپسې شله وو تر څو یوه مهمه موضوع راسره شریکه کړي او کړی شپه یې د سیوري په شان د انجیلا تر کوره پورې وڅارلم. د دې شلګی بوازنی وجه دا وه چې هغه راز چې دی یې له دننه ځخه وینه[1] غوندې خوړ. رانه رسوا کړي، مګر ما غوږ نه ورته نیاوه او داسې مهال یې اورېدلو ته چمتو شوم چې نور اوبه تر ورخ اوښتې وې، څو کړې الفرډ راشین شو او هغه یې د یوه خوني سېلابه په شان له ځان سره یوړ.

ډاکټر رانه ویل چې یهود یم. مګر د ډار او ترهې اصلي لامل مې بل څه دی. هغه شی چې هر څه وو. وو به. مګر یو ټکی واضح دی هغه دا چې هانس او الفرډ په خبر شوي ول. له همدې وجه یې دومره زر له منځه لېرې کړ. سره له دې چې له ډاکټر سره پر شناخت مې خلیروینت ساعته اوښتل او وژلو یې باید نه نارامولای، خو بیا هم خپل پلټونکي حس ارام ته نه پرېښودم. زړه مې غوښتل د کیسې تل ته ځان ورسوم... نو دا کار مې باید د چا په مرسته کولای؟ د هانس که د الفرډ؟

یادو دوو کسانو طبعاً حال نه رانه وایه. نو پوښتنه ترې کړل بېهودګي وه... یا دا فکر ذهن ته راغی چې ښایي د ډاکټر وزنه د کریسټین له هغو مالوماتو سره اړه ولري چې ما ته یې راوسپارل. ممکن ډاکټر له نازي جرمنیانو ځخه د کرکې په وجه د

1. [illegible]

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغوی پر ضد په فعالیت بوخت وو او کریستین له هغه څخه د مارګریتا د غچ‌اخیستنې په پار رسوا کړی وي.
کریستین یوه چالاکه او هوښیاره ښځه وه پوهېدم چې په دې باره کې حال نه راته وایي. په همدې سوچونو کې ورک وم چې الفرډ تر لاس کش کړم او راته ویې ویل:
- چیرې روان یې؟
دواړه یوځای د هانس دفتر ته ور ننوتو. هانس پر ما د سترګو له لګېدو سره جوخت راڅخه وپوښتل:
- ډاکټر دې ولید؟
ومې خندل او ومې ویل:
- هو، له مارګریتا سره یوځای شوی وو... ښه پر وخت ووژل شو، ځکه لکه څنګه چې الفرډ وویل، ممکن زموږ پر ضد یې فعالیت کړی وای.
داګړی مجبور وم د هغوی نظر تایید کړم او د ډاکټر د وژنې اړوند له دعوو-دنګلو ځان وساتم، ځکه دې کار د هغوی سترګې ما ته را اړولې او راباندې شکمنېدل.
هانس بیا وپوښتلم:
- ډاکټر تا ته ونه ویل چې د مارګریتا پر وژنه پښېمانه دی؟
ما ځان کابو کړ او ومې ویل:
- نه، صرف د خپل یهودیتوب یې راته وویل او مرسته یې راڅخه وغوښته.
الفرډ وویل:
- زما لپاره حیرانوونکې دا ده چې ستا استوګنځی یې څنګه پیدا کړی وو؟
له فکر کولو پرته مې ځواب ورکړ:
- زه خپله هم ورته حیران یم. تر دې مخکې قرنفل کافې ته راپسې راغلی وو.
هانس په توندی وویل:
- له متفقینو سره د ډاکټر په ملګرتیا کې نور هیڅ شک نشته!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ورنه ومې ویل:

- د دې شک د لیرې کولو لپاره باید له کریستین څخه مرسته وغواړو. نوموړې ته د ډاکټر د خیانت په اړه د اسنادو پیدا کول د اوبو څښل دي.

هانس د مېز له شا څخه راپاڅېد او ویې ویل:

- ناسې دواړه راځئ. غواړم ریما(زما رښتینی نوم) ته یو څه ژوندي اسناد وروښیم.

درې واړه یوې کوچنۍ خونې ته چې ور یې د هانس دفتر ته ورخلاص وو، ننوتو. دې خونې یوازې همدا یوه دروازه درلوده. پر جنوبي دېوال یې یو لوی سپین مربع شکل لیدل کېده. نور دېوالونه تور ول. په دغه کوچنوټې کوټه کې چې غوره ده تور غار یې ونوموو، صرف د سینما یو ماشین او څلور لرګینې څوکۍ پرتې وې.

زه و هانس چې کښېناستو الفرډ ګروپ ګل او د سینما ماشین یې چالانه کړ... سر مې خلاص وو چې یو فلم راباندې ويني.

څو شېبې وروسته د کریستین هغه فلم پر پرده راښکاره شو چې ما ته یې راکړی وو. په اول تصویر کې له یو څو سندونو څخه عکس اخیستل شوی وو چې پر ایران د متفقینو د برید نېټه(د سپتمبر له لومړۍ څخه تر دریمې) ښکارېده. دوهم تصویر د سرتېرو او زغره‌والو څواکونو د شمېر جدول وو. دریم تصویر د دغه برید قومندانانو ته یو لیکل شوی لیک وو...

نور تصویرونه د ایران رنګارنګ نقشې وې چې د پولو څنګ خایونه په قلم ښکې په نښه شوي ول. له ورایه ښکارېده چې دا د متفقینو د څواکونو د حرکت ځایونه دي. وروستی تصویر یو لیک وو چې په جرمنی ژبه لیکل شوی او د تېرې میاشتې لومړۍ نېټه پر وهل شوې وه... د لیک په حاشیه کې په پنډ خط لیکلي ول: *(دا لیک د ډاکټر ګوان له خوا دی.)*

تر پورتني عبارت لاندې یو درې رقمي عدد او د انګلیسي الفبا دوه توري (جي اې) لیدل کېدل. ګوان د وژل شوي ډاکټر نوم وو چې تر دې ګړیه ما ته مالوم نه وو، څکه پر شناخت مو صرف څلیرویشت ساعته اوښتل او په دې موده کې مو

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

یوازې درې واره لنډ-لنډ سره لیدلي ول. په دومره کم وخت کې بې د نوم پوښتلو اړتیا نه وه پیدا شوې.

الفرډ دستګاه بنده کړه او ګروپ یې ولګاوه. هانس راڅخه وپوښتل:

- ایا اوس هم پر کریستین باور نه لرې؟

ورته ومې کتل او ومې ویل:

- ولې نه، مګر دومره هم نه لکه تاسې چې یې پر لرئ.

الفرډ وویل:

- خیر دا د بدبینی حس به دې هم یو وخت ختم شي.

ومې ویل:

- ښایي، مګر د ډاکټر په باره کې چې هر څه راته ووایې درسره منم یې. څکه د دغه سند تر لیدلو وروسته مې ایله د هغه د وارخطایی او ډار په لامل سر خلاص شو او وپوهېدم چې ولې دومره کلک راته ټکګه[1] وو او مرسته یې راڅخه غوښته. مالومداره په خپل خطرناک وضعیت پوهېدلی وو.

هانس وویل:

- په هر صورت، د ډاکټر ګوان په نامه سړی نور نشته او باید د زرګونو نورو یهودانو په شان هېر کړل شي.

له تیاره غار څخه راووتو. هانس موږ دواړو ته یو-یو سګرېټ راکړ او خپله د خونې په منځ کې پر پراته کوچ کښېناست. خبرې ته مې یې په خیر-خیر وکتل؛ د یوې ژورې نارامۍ نښې پکې لیدل کېدې.

درې واړه چوپ و غرپ وو او ورو-ورو مو له سګرېټ څخه لوخړې پورته کولې. فکر مې کاوه چې هانس به خامخا یو نوی ماموریت راوسپاري، مګر کله چې یې زما او کریستین د بلې لیدنې ځای راوښود، نو پوه شوم چې لا هم باید د یوه رابط رول ولوبوم.

---

1 ښله.

له کریستین سره مې د دوهم ملاقات وخت د شپې یوولس بجې او ځای هماغه فردوسي میدان وو. په دې ډول مې نو ګواکې یو عالم وخت درلود. ظاهراً داسې ښکارېده لکه د جرمنیانو جاسوسي شبکه چې د پخوا په شان فعالیت کوي او هیڅ اندېښنه نه لري، مګر د دغه ظاهري هیله‌بخښونکي او بریالي وضعیت تر شا یوه پراخه نارامي او زړه‌چاودون واکمن وو. دا هغه څه ول چې ما درک کول.

له رومي پُل څخه تېر شوم. تر قلهک لږ وروسته مې پام شو چې یو تور موټر راپسې دی. د تندي په هنداره کې مې تعقیباوه. یوازې چلوونکی پکې ناست وو. یو ځوان وو چې سپینه خولۍ یې پر سر وه. نه پوهېدم چې ولې راپسې وو. پرېکړه مې وکړه چې باید ځان ترې ورک کړم. سملاسي مې پر اکسلېټر پښه ټینګه کړه، هغه هم راپسې راتېز شو. نه یې غوښتل چې ډېر ځنې لیرې شم. ساعت ته مې وکتل، ماپښین وو. سیده فردوسي هوټل ته ولاړم. نیت مې وو چې غرمنی همالته وخورم. د هوټل مخې ته مې موټر ودراوه او تر کښته کېدو مخکې مې هغه تور ګاډی ولید چې شاوخوا پنځوس ګامه تر ما وړاندې ودرېد. دوه‌زړی وم، نه پوهېدم څه وکړم؛ هوټل ته ولاړ شم که بېرته روان شم او واټونه ګز و بر کړم؟

اخیر هوټل ته ننوتم او یوه مېز ته کښېناستم. فکر مې کاوه چې هغه به زما تر ور وتلو هماله دباندې منتظر شي، مګر په پوره هېښتیا مې ولید چې سالون ته راننووت او د یوه مېز شا ته کښېناست. د ده مېز زما د هغه کیڼې خوا ته له دېوال سره نښتی پروت وو... د ځوان توري عینکې پر سترګو وې او ځان یې ښه فېشني جوړ کړی وو.

د ډوډۍ خوړلو په اوږدو کې مې له هغه څخه د ځان ورکولو پر نقشه فکر کاوه. هر څه چې مې سوچ وکړ د تعقیب په موخه یې ونه پوهېدم. خو چې سړي ته مې وکتل، یوه شېبه یې سترګې نه راڅخه اړولې. پرېکړه مې وکړه چې هانس ته ټیلیفون وکړم او مشوره ځنې وغواړم. هانس د کیسې په اورېدلو حیرانتیا وښودله. تر څو شېبې چوپتیا وروسته یې راته وویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- تر غرمنی خوړلو وروسته بیله خنده بېرته خپل استوګنځي ته ستون شه، یوازې هغه چا ته دروازه پرانیزه چې زنګ په شفري بڼه وکړنګوي.

بېرته سالون ته ورغلم. ځوان ارام او بېخاره پر خپل ځای ناست وو او داسې یې ښودله چې ما ته یې بېخي پام نه دی. تر ډوډی خوړلو وروسته مې حساب خلاص کړ، پاڅېدم او له هوټله ووتم. موټر ته چې ورسېدم هغه مې د هوټل له دروازې څخه د راوتلو په حال کې ولید. چابک شتړنګ ته کښېناستم، په تېزی مې مخ راکاږ کړ او د فردوسي واټ شمال خوا ته مې کش ورکړ...

په اسلامبول څلورلاري کې ترافیک د درېدو اشاره راته وکړه، ځوان مې شا ته ودرېد. د انجیلا تر کوره پورې راپسې وو. کور ته ننوتم. پنځلس دقیقې شاوخوا وروسته د دروازې زنګ وکړنګېد. له هغه پرته نو بل څوک کېدای شوای؟ دروازې ته ورغلم او ومې پوښتل:

- څوک یې؟

یو سړي ځواب راکړ:

- پوسته‌رسان یم، د ماریا لپاره مې یو لیک راوړی دی.

- په دې نامه ښځې دلته نه اوسي...

- پر پاکټ لیکلې پته د همدې کور ده... تاسې پاکټ واخلئ شاید لېږونکی یا ترلاسه‌کوونکی وپېژنئ.

- درته ومې ویل چې مېرمن ماریا دلته نه اوسي. څه مزاحمت مه کوه.

پوسته رسان چې هماغه ځوان وو، وخندل او ویې ویل:

- که د دروازې خلاصول درته سخت وي، نو زه به پاکټ تر لاندنی چوله در ننباسم، ته یې وګوره او بېرته یې ما ته راکړه.

له همدې سره یې پاکټ دننه راپورې واهه... خو زه تر ده بیداره وم او دروازې ته د مخامخ درېدو پرځای د دېوال شا ته ودرېدم او لاس مې وروغځاوه. همدا چې پاکټ مې په دوو ګوتو کې تر کونج ونیو او راکش مې کړ، ښاغلي پوسته‌رسان بردم پر دروازه تکان وکړل. مرمی تر دروازه ووتې او په مخامخ خونه کې ولګېدې. پلان

بې بډ نه وو او باید وژل شوی وای. په زینو کې مې بې د پښو ترپا واورېده چې مخ کښته په منډه وو... موسکی شوم، ځکه له حتمي مرګه ژغورل شوی وم... هغه له دقیق او سنجول شوي پلان سره-سره لږ بې‌تجربګي او خامي کړې وه...

چې د ګوابش له ورکېدو ډاډه شوم کرار مې دروازه پرانیسته او پر زینو مې یو نظر واچاوه... پوسته‌رسان یا هماغه ناپېژاند ځوان درې ډزې کړې وې... توپنچه بې بې‌ږغه وه، کنه ګاونډیانو د ډزو په اورېدو حتماً سرخوږی ورته جوړاوه.

پاکټ مې راپورته کړ، زما د کور پته وه، د ماریا نوم پر لیکلی وو. خو دننه تش وو. دروازه مې وتړله او پر دې معما په فکر کې شوم چې دا به نو د چا په امر راغلی وي؟ ایا د دوښمن سازمان غړی وو؟ دا دواړې پوښتنې پېچلې او مبهمې وې. که متفقینو زما د وژلو نیت کړی وو، نو بیا خو هانس او الفرډ باید تر ما مخکې شوي وای... ځکه په دې لګه-درګه (اړودوړ) کې هغوی تر ما وړاندې ول او بنسټیز رول نورو کسانو درلود...

پر اعصابو مې ډېر زور راوست او ټول هغه کسان مې په ذهن کې راوګرځول چې پېژندل مې او لږ و ډېر مشکل مې ورسره درلود. د کویتي قاچاقبر تېمور راياد شو؛ سربېره پر بنایي ده یو چا ته زما د وژلو دنده ورسپارلې وي... مګر وروسته مې وویل چې هغه چیرې او زه چیرې؟! وروسته کریستین ته ورغلم... ځکه د هغې هم کینه راته په زړه کې وه... دریم مشکوک کس کشیش لودویک وو چې زما په وړاندې بې عقده او دوښمني نسبتاً زوروره وه... دی تر مخکنیو دوو کسانو یو څه نژدې راته وبرېښېد... په هر صورت، په دغو دریو مرمیو باید زه وژل شوی وای او مقابل طرف هم همداسې انګېرله او ګومان یې کاوه چې پلان یې سل سلنه پلی شوی دی. پوهېدم چې که یې ژوندی ولیدم، نو تر دې به لا غوره پلان راته جوړ کړي... په دې حساب نو سر له همدې ګړیه د هغوی تر نښان لاندې وم...

* * *

د شپې پر پنځه کم بوولس بجې د فردوسي ميدان شمال لوېديځې خوا ته په موټر کې ناست وم او د کريستين لار مې څارله... ټيک پر بوولس بجې مې شا ته يو موټر ودرېد او د دروازې د خلاصېدو او بندېدو اواز مې يې واورېد. لنډه شېبه وروسته زما د چپه اړخ دروازه خلاصه او کريستين راپورته شوه. ويې ويل:

- درځه!

ما له څه پوښتلو پرته موټر چالانه او په تېزۍ پر شاهرضا واټ لوېديځ لوري ته روان کړ... له فردوسي ميدانه چې يو څه ليرې شوو ترې ومې پوښتل:

- کوم څوک درپسې وو؟

کريستين ځواب راکړ:

- اوس پوښتنې مه راڅخه کوه!

- چيرې ځو؟

- زه هم نه پوهېږم!

- څنګه ده چې هانس ته دې ورولم؟

- نه، لېونی شوی يې؟ زه او هغه بايد سره ونه وينو...

د هغې د همدې ځواب پر مهال مې د تندي هنداري ته وکتل. د يوه موټر د بتيو رڼا مې پام ورواړاوه چې د شا له خوا يو څه نژدې راپسې وو. لومړی مې خيال وکړ چې ښايي همدا يې مسير وي، مګر کله چې په لومړی څلورلاره کې راسته لاس ته وګرځېدم هغه هم راپسې راتاو شو... نور نو په دې کې شک نه وو چې تر څار لاندې يو. دا چې موخه يې زه وم که کريستين، نه وه مالومه.

د تېر ماښين پېښې ته په کتلو سره مې زړه ته نه لوېده چې مخالفين به دومره ژر زما له ژوندي‌پاتېدو خبر شوي وي، نو په دې حساب هدف زه نه، بلکې کريستين راته ښکاره شوه... د کريستين نارامی او غيرنورمال حالت ته په کتلو سره مې حدس وواهه چې ممکن د متفقينو څارګريز سازمان يې په دوه‌اړخيزتوب خبر شوی وي او اوس يې سره لاسونه نيول غواړي. البته د ځان له اړخه هم چنداني ډاډه نه وم... په

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هر صورت، په موږ دوو کې یو یا هم دواړه له جدي ګواښ سره مخ وو. کریستین تر ما زیاته وارخطا وه. د نوموړې له نارامی ښکارېده چې له یوې خوا یې زړه په هوا دی.

د راپسې موټر په اړه مې هغې ته څه ونه ویل. غوښتل مې خپله دا راته ورغبرګی... زما هم زړه په ځای کې نه وو او ځان مې یومخ دېوال ته ولاړ احساساوه.

ترې ومې پوښتل:

- تر څو به سرګردانه پر سړکانو څغلو، خبره وکړه څه کیسه ده؟

هغې سر شا ته تاو کړ، له شاتنی ښیښې یې دباندې وکتل او وروسته یې په داسې حال کې چې له څوکۍ څخه وښویېده، وویل:

- ته اصلاً په دې خبر یې چې یو موټر راپسې دی؟

ځواب مې ورکړ:

- هو، له ډېره وخته مې ورته پام دی!

- نو ولې دې ما ته ونه ویل؟

- هسې، ویل مې ښایي ځان ځنې ورک کړم، مګر اوس وینم چې د تېښتې لار نشته. سړکان ټول تش دي سړی نشي پټېدلای. زه چې موټر تېز کړم، هغوی یې هم راپسې راتېز کړي.

کریستین چې اوس د څوکۍ په پښو کې ناسته وه او مخ یې نه لید، وپوښتل:

- ایا اوس هم راپسې دي؟

ځواب مې ورکړ:

- هو، او ته اوس هم هغوی نه راپېژنې؟ حتماً درمالوم دي.

هغې تر یوې لنډکۍ چوپتیا وروسته وویل:

- همداسې ده. بالاخره هغه ټکه راباندې راولوېده چې زه ترې دارېدلم... ژوند مې په خطر کې دی. هر څنګه چې کېږي باید ومې ژغورې.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ما په بوره صداقت وزغبرگه کړه

- زما خو مېکه هیڅ هم له وسه وي. دا دی ویې مې چې زه هر څو مره نېږدې

هغوی هم همدومره راپسې راچابکېږي.

کرېستین ووېل:

- نو بیا مې بوازې معجزه ژغورلای شي!

ورنه ومې ویل:

- که معجزه ونشوه. نو مجبور یم له وسلې کار واخلم، موټر ورسره بر ابر کوم او

دزې پر کوم.

کرېستین په خبرو کې راولوېده او ویې ویل:

- نه. دا کار ونه کړې... زه تا نه داد درکوم چې هغوی په تا هیڅ غرض نه لري او

بوازې یې په ما پسې بل راخیستی دی... خو که دې دزې پر وکړې. د دواړو خبر

نشته...

موټر مې بد رقم خغلاوه... له یوه سړکه بل ته او له بله بل ته اوښتم. هغه موټر هم

لکه لوگی داسې جنګ راپسې وو. پر وروستي سړک چې یو څه ولاړم شاه‌باغ

راوږسېد. پرېکړه مې وکړه چې په لومړي چوک کې سپه واړې نه تاو شم... همداسې

مې وکړل... په چوک کې د راتاوېدو پر مهال مې سرعت لږ راکم کړ. خو ماهر

حریف مې په چال پوه شوی وو. د چوک پر مخالف مسیر راوګرځېد او خان یې

راته مخامخ کړ. کله چې مې د هغوی د موټر څراغونه په مخکنی هنداره کې ولیدل،

پوه شوم چې غواړي موټر راسره وجنگوي. په تلوار مې شټرنګ کیڼې خوا ته تاو

کړ. غوښتل مې چې په بیداری یې څنګ ته تېر شم... لا مې د موټر مخ نه وو سېده

شوی چې نابېره یو لوی خدل سپی مخې ته راولوېد. کرېستین چې دا گړی پر

څوکی نېغه ناسته وه. راباندې چیغه کړه:

- پام کوه، سپی تر لاندې نه کړې!

د هغې چیغې او د سپي توپونو موټر راڅخه بې‌کابو کړ او د چپه کېدو له وېرې

مې پښه پر بریک ټینګه کړه. کرېستین د مخ خوا ته کږه شوه او سر یې پر هنداره

ولګېد... موټر ودرېد. سپي راغی او په يوه توپ يې د بغل د دروازې پر هنداره
مخکنی پښې کښېښودي...
کريستين اه وکړ او ويې ويل:
. بالاخره بريالي شول... هغه دې راروان دي... خو پام چې وسلې ته لاس ورنه
وړې...
ومې کتل؛ دوه تنه چې تورې جامې يې اغوستې او وسلې ورسره وې. زموږ د موټر
طرف ته راروان ول. يو يې زما خوا ته او بل يې کريستين ته ورغی. زما له دروازې
سره ولاړ سړي پر ټيټ توپنچه راونيوله او ويې ويل:
. لاسونه دې پر سر ونيسه!
هغه بل يوه کريستين په کشولو له موټره کښته کړه او کله چې هغې د خان
خلاصولو هڅه وکړه، سړي يوه ټينګه چپلاخه ووهله او ورته ويې ويل:
- ښه پر وخت په لاس راغلې!
وروسته يې له خان سره د خپل موټر خوا ته کش کړه... کريستين ته مې د سترګو
له ګوټونو کتل... موټر ته يې وروغورځوله. زه دار اخيستی او چوپ و غرپ پر خپل
ځای مبخ ناست وم. ويل مې هسې نه د مارګريتا په بدل کې مې پښې پر سر
راواړوي. د قبر پر غاړه ولاړ وم. مګر څنګه چې يې ملګری او کريستين موټر ته
وختل، ورو يې پر سر په توپنچه وټپولم او ويې ويل:
- چابک حرکت وکړه چې تر شا ونه ګورې!
موټر مې چالان کړ او په يوه منډه له هغه ځايه ليرې شوم. لږ چې ولاړم، ساه مې
ايله شوه او پر سر و مخ مې لاس راتېر کړ. تر سپه ميدان پورې ګنګس وم او نه
پوهېدم کومې خوا او چيرې روان يم. پرله پسې مې له ځانه پوښتل چې ولې يې زه
ونه وژلم؟... دا هم يوه له هغو معماوو څخه وه چې وروسته حل شوه.
هغه شپه د ۱۹۴۱م د اګست ۲۵مه نېټه وه. څه باندې دوولس بجې وې. د فردوسي
ميدان برې خوا ته روان وم... له برلين کوڅې څخه لاله‌زار واټ ته تاو شوم. غوښتل
مې له آستارا رقاصخانې څخه هانس ته زنګ ووهم. راته په تمه وو...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

تر دې ګړیه مې د تازه را پېښې شوي واقعې د څېړلو مجال نه درلود؛ لا ډېر غور او وخت پهکار وو. په آستارا کې ګنهګوڼه نه وه. یو خدمتګار چې هر وخت به مې نازاوه، زما له لیدلو سره سم، راوړاندې شو. ورته ومې ویل:

- ټلیفون مې پهکار دی!

ټلیفون ته یې وروستلم... هانس غوږی پورته کړه او ښکاربده چې له ډېر وخت راهیسې راته منتظر دی...

- هلو، زه یم ډاکټر...

- هو، ومې پېژندلې. ښه زوی دې اوس څنګه دی؟

- له بده مرغه، حالت یې ډېر نازک دی او هغه ستا له خوا رالیکل شوي درمل مې پیدا نه کړل.

- دا څه وایې، ربنتیا؟

- هو، باور وکړه!

- خیر، پروا نه لري. تاسې خپل کور ته ولاړ شئ. زه هم درځم. له نژدې به یې معاینه کړم.

په دې ډول مې هانس وپوهاوه چې ما او کریستین ته یوه بده راپېښه شوې ده او باید سره ووینو. له آستارا څخه راووتم او د موټر خوا ته روان شوم. یودم یو چا تر مټ ونیولم او په انګلیسي یې راته وویل:

- چیرې؟

مخ مې ورواړاوه، اډیټ وه. هماغه ښځه چې تېره شپه مې په قرنفل کافه کې ورسره لیدلې ول. له نومو ړې سره دلته په دغسې انداز مخامخېدنه هېښوونکې وه.

- اوه اډیټ ته یې، دلته څه کوې؟

هغه چې لږ اوتره غوندې ښکاربده، زما لاس په خپل لاس کې ونیو او ویې ویل:

- دا ته چیرې یې؟ تېره شپه بې مخهښې ولاړې، خو نن دې نه پرېږدم...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لاس مې ورکښېکښېنود او ورته ومې ویل:

- نن شپه نه کېږي، ستړی یم. سر مې هم یو څه خوږېږي. سبا که دې خوښه وي سهارنۍ به یوځای سره وخورو...

- نه درواغ وایې. نن شپه راسره تېره کړه...

لاله زار واټ تش وو. پر مخ مې ښکل کړه. په دې سره مې غوښتل هغه له خپل خره راکوزه او سبا ته یې معطله کړم، مګر دا لاس‌اخیستونکې نه وه. زړه مې په هانس کې وو چې زما استوګنځي ته به پر لار وي او دلته دا ښځه راته ټکګه وه.

- خښې ته ګورې... درځه کنه. یو ځای مې بوزه!

همدغه شېبه مې ذهن ته یوه لار راغله، ورته ومې ویل:

- زه دې خپل کور ته نشم راسره بېولای، مګر یو شرط لرم، که یې راسره منې، نو نن شپه درسره تېروم.

هغې سترګې پر سترګو رابرابرې کړې او راځځه ویې پوښتل:

- څنګه شرط؟

ورته ومې ویل:

- فقط نیم ساعت مهلت راکړه چې کور ته ولاړ شم او خبر یې کړم. ژمنه درسره کوم چې بېرته راځم. ته همدلته اوسه!

اډیټ موسکۍ شوه او ویې ویل:

- دلته پر دې تش تور سړک؟... نه، زه هم درسره ځم او په موټر کې درته کښېنم. تر دې نو بل ښه ځای چېرې وو؟ وروسته به بیا زما کره ولاړ شو.

ورته ومې ویل:

- داسې هم کېدای شي چې تا خپل کور ته ورسوم، زه درځځه ولاړ شم او بېرته نیم ساعت وروسته هورې درشم. څه پکې وایې؟

هغې پر بازو سر راکښېښنود او ویې ویل:

- سمې ده... ژر کوه!

زړه مې په ولاړې ولاړ وو... ویل مې هانس به په کور کې زما نشتوالی څنګه ارزولی وي؟ دا شله ښځه هم په هیڅ وجه لاس‌اخیستونکې نه وه. داسې کلکه راپورې نښتې وه لکه د کلونو-کلونو معشوقه چې مې وي... له شره یې د خلاصون یوازنی لار همدا کور ته رسول ول.

د اډیټ استوګنځای یو دوه اطاقه اپارتمان وو چې د لاله‌زار واټ په پای کې یې موقعیت درلود. د کور مخې ته مې کښته کړه او په یوه منډه ترې ولاړم. هانس په ورسره کیلی د کور دروازه پرانیستې وه او راته منتظر وو. زما له لیدلو سره جوخت یې راځخه وپوښتل:

- دا ته چیرې وې ریما؟

یوه له ګېډې جوړه شوې کیسه مې ورته شروع کړه او ومې ویل:

- له یوې کوڅه ډبې ښځې سره پساو شوی وم. په یوه لار یې نه پرېښودم.

په دې باب یې نور تحقیق ونه کړ او ویې پوښتل:

- ښه، اوس دا راته ووایه چې څه پېښ شوي دي؟ کریستین هم د ژمنې خلاف ټلیفون راته ونه کړ.

د پېښې داستان مې ورته تېر کړ او په پای کې مې ورته وویل چې زموږ لپاره نور کریستین نامې نشته او باید هېره یې کړو.

هانس سر خوړند کړ او په فکر کې ډوب شو. نوموړي پر کریستین د کړي حساب پر بنسټ ځان د خپل سیال په وړاندې بریالی لید، مګر اوس یې ټول پلانونه اوبو وړي او یو لوی همکار یې بایللی وو.

ګړی وروسته یې چوپتیا ماته کړه او ویې ویل:

- بالاخره هغوی په کریستین خبر شول. دې ته مو باید حساب کړی وای چې هغه تر ډېره زموږ په ګټه په خپله دستګاه کې فعالیت نشي کولای.

تر یوې لنډې دمې وروسته یې په داسې حال کې چې سترګې یې په څمکه پورې ګنډلې وې، زیاته کړه:

-هغه باید نور هېره کړو... د دغسې یوې پېښې وړاندوینه مې کړې وه، مګر نه دومره ژر چې صرف ۴۸ ساعته وروسته دې هغوی په خبر شي. حتماً یوه فاحشه تېروتنه نړې شوې ده، کنه د کریستین غوندې چالبازه او څیرکه ښځه کله دومره اسانه او ژر پساوېدلای شي؟!

ما نه خپله مازیګرنی پېښه رایاده شوه. دوه‌زړی وم او نه پوهېدم چې هانس په خبر کړم که نه... اخیر مې ورته وویل. هغه سر را اوچت کړ او ویې پوښتل:

-نر اوسه دې ولې نه راته ویل؟

-ویل مې د نن شپې په لیدنه کې به یې درته ووایم.

-د هغه څېره دې په یاد ده؟

-ښخې صفا مې په یاد ده، مګر په هغو دوو کسانو کې نه وو چې کریستین یې ورسره بوتله... یا به ښایي په موټر کې ناست وو.

هانس وویل:

-دا دوې پېښې له یو و بل سره اړه نه لري، ځکه هغه یا هغوی په دې فکر دي چې نه وژل شوی یې. اوس باید دا مالومه شي چې دغه ځوان ته چا ستا د وژلو ماموریت ورسپارلی وو. زما داسې خیال دی چې دغه کیسه ستا له ماضي سره تړاو لري او ریښې یې باید په کویټه کې ولټول شي.

-ستا مطلب د قاچاقبرانو د باند مشر تېمور دی؟

-باید همداسې وي. خیر، دا مهمه نه ده. دا ګړی زما ټول فکر و ذکر په کریستین کې دی.

له دې سره پاڅېد او روان شو. دروازې ته چې ورسېد، مخ یې راواړاوه او ما ته یې وکتل؛ لکه یو څه چې یې په زړه کې ورګرځېدلي وي او غواړي راته ویې وايي، مګر بېرته وګرځېد، ور یې پرانیست او ویې ویل:

-ښه شپه ریما!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه په دې اړه د خپل نظر له ویلو پرته پر خپله مخه ولاړ. مګر ولې بې رانه وویل چې زما پېښنه ورته مهمه نه ده؟ حتا که وژل شوی وای هم بې بانه نه راباندې درنېدی...

د هغه تر وتلو وروسته راياد شول چې له اديټ سره مې ژمنه کړې وه. تر بوازېتوب مې د هغې ملګرتیا غوره ویلله او په یوه منډه له کوره راووتم او د اديټ کره ولاړم...

اديټ له دروازې پرانيستلو سره سم په غېږ کې ونيولم او ويې ويل:

- هيڅ مې زړه نه نه لوېده چې ته به راشې!

- ژمنه مې درسره کړې وه!

- پوهېږم، خو ستا په شان خلکو پر ژمنو باور نه دی پهکار. که څو دقيقې نور ځنډېدلی وای، زه درپسې درتلم.

د هغې وروستۍ جملې تکان راکړ. ترې ومې پوښتل:

- په ما پسې... چيرې؟

ويې خندل او ويې ويل:

- د انجيلا کور ته...

- يانې زه دې تعقيب کړی يم؟

- نه، مګر درخبره وم چې چيرې وې. ان تر تا مخکې هلته استوګنه ښځه مې هم ډېره ښه پېژندله... انجيلا درښيم...

- انجيلا؟! ته هغه له کومه پېژنې؟

اديټ له خنډ پرته راغبرګه کړه:

- له ډېره وخته يې پېژنم. ډېر ښه مې ياد دي، د ۱۹۳۹م په شروع کې مو د ويانا په يوه بار کې سره وليدل... زه او هغه دواړې بارچلوونکې وو او ښه مستې پېسې مو پيدا کولې. جګړه چې ونښته، په يوه کور کې د اوسېدلو پرېکړه مو وکړه. مګر هغه نابېره ورکه شوه. بيا مې ونه ليده... هله هله هله بالاخره مې يوه مياشت مخکې په آستارا کافه کې وليدله چې ستا سره نخېدله... دومره ډېر وخت وروسته بې په ليدلو

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خوشحاله شوم. زړه مې غوښتل چې هماغه شېبه ورمنډه کړم او په غېږ کې یې ونیسم، خو متاسفانه حالاتو اجازه نه راکوله.

ښځې ومې پوښتل:

- وروسته دې بیا ورسره ولیدل؟

ادیټ سر وښوراوه او ویې ویل:

- هو. یوه ورځ سهار مهال مې د نادري واټ په یوه بوټپلورنځي کې ورسره ولیدل... د غرمنۍ بلنه یې راکړه. بیا کور ته ورسره ولاړم... همدغه اپارتمان ته چې اوس ته پکې اوسې.

د انجیلا په اړه د هغې مالومات سربدالوونکي ول... زړه مې راته ویل چې د دغو دوو ښځو ملګرتیا دومره هم ساده نه ده لکه دا چې یې کیسه کوي او له شک پرته ژورې ریښې لري. هغې زما له چوپتیا ګټه پورته کړه او ویې پوښتل:

- ریښتیا انجیلا اوس چیرې ده؟ څه وخت کیږي نه مې ده په سترګه شوې.

ډېر طبیعي او عادي مې ورته وویل:

- ما هم ستا غوندې نه ده لیدلې.

ادیټ په ځانګړې خیرکۍ راڅخه وپوښتل:

- نو د هغې کور بیا تا ته چا درکړی دی؟

په دې پوښتنه یې زه تقریباً دېوال ته ودرولم. ورته ومې ویل:

- د کور کیلي خپله هغې راکړه، خو ورځې یوځای سره اوسېدلو، خو وروسته کټمټ لکه تا چې وویل نابېره ورکه شوه او بیله خبرتیا یې پرېښودم. همداسې ژوند یې لکه چې خوښیږي؛ یو څه وخت له یو چا سره واوسه او وروسته یې یودم پرېږده... مونږ ولې د انجیلا په باره کې ږغیږو؟ زه د یو بل شي لپاره دلته راغلی یم...

ادیټ په غاړه کې لاس راواچاوه او ویې پوښتل:

- ایا د انجیلا په تګ خواشینی یې؟

مخ مې یې په دواړو لاسونو کې ونیو او ورته ومې ویل:

- راځه د خپلو ځانونو په اړه سره وږغیږو او له حاضرې شېبې څخه خوند واخلو...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه کرار یو څه راڅخه لیرې شوه او ویې ویل:

- له بده مرغه ریما جانه، دومره وخت نه لرو...

زه د هغې له خولې د خپل نوم په اورېدو حیران-دریان شوم او ځنې ومې پوښتل:

- زما نوم دې له کومه زده کړی دی؟

هغې یوه مانداره او مرموزه خندا وکړه. خپله پوښتنه مې بیا ورته تکرار کړه... هغه له خواب راکولو پرته ولاړه، پر یوه راډیو پرته د سگرېټو کوټۍ یې وروا خیسته، یو دانه سګرېټ یې ولگاوه او ویې ویل:

- ډېر حیران شوې؟

- نه، مگر غواړم وپوهېږم چې ته ما ځنگه پېژنې... لکه چې انجیلا درته ویلي دي.

- دا پوښتنه ولې راڅخه کوې؟

- ته ولې نه راته وایې؟

هغه سره وځرځېده، پر څوکۍ کښېناسته او سګرېټ دودولو ته اړم شوه... ډېره شکمنه ایسېدله. که څه هم تر دې دمه یوازې د انجیلا او زما سره د ملگرتیا په باره کې رغېدلې وه، خو ما یې په سترگو کې لیدل چې له یو عالم نورو شیانو هم خبره ده.

په لوړ اواز او یو څه په غوسه مې ځنې وپوښتل:

- راته ووایه!

هغې وویل:

- راشه کښېنه. دې ته دې ولې دومره تلوسه ده چې ستا نوم چا راښودلی دی؟ داسې فکر وکړه چې انجیلا راښودلی دی، نو شک پکې وینې؟

- د شک اړتیا نشته.

- نو بیا ولې داسې شله یې؟

- گوره اديټ که دې زه دلته د دې لپاره راغوښتی یم چې د انجیلا په اړه راسره ورغېږې، نو بنه دا ده چې ولاړ شم.

- چې ځنگه دې خوښه وي هغسې وکړه!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بدبد مې ورته وکتل او د دروازې پر خوا روان شوم. همدا چې د دروازې پر لاستي مې لاس کېښښود راږغ یې کړل:

- ریما ویخښه، صدرالدینه راشه کښېنه چې درته ووایم!

بېرته ورغلم. هغه هم راپاڅېده او زما لوري ته راروانه شوه. له رارسېدو سره سم یې په غاړه کې لاس راواچاوه-لکه بېخي چې هېڅ پېښه نه وي شوې-پر مخ یې ښکل کړم، له ځان سره یې بوتلم پر څوکۍ یې کښېنولم، خپله د څوکۍ پر لاستي راته کښېناسته او په داسې حال کې چې د نیکتایي غوټه یې راسوستوله، ویې ویل:

- هسې مې یو څو په عذابولې. هو، نوم دې انجیلا راوښود. اوس دې زړه بېغمه شو؟

ورته ومې ویل:

- ما هم همدا فکر کاوه.

- ښه، اوس راته ووایه چې مینه درسره لرم!

ورته ومې ویل چې مینه ورسره لرم، خو پوهېدم چې وچ درواغ ورته وایم. ادیټ ولاړه شوه او ویې ویل:

- نه ستړی یې او ارام ته ضرورت لرې.

- نه... بېخي هوسا یم... غواړم چې تر سهاره همداسې کښېنم او باندار درسره وکړم... مگر ته...

- اوه، زما په کیسه کې مه کېږه. یو شی به وځښو!

څه وخت وروسته یې یوه نوې موضوع میدان ته راواچوله او ویې ویل:

- ایا غواړې یوه سودا راسره وکړې؟

ما خپل نیم گیلاس پر مېز کښېښود او په حیرانتیا مې ترې وپوښتل:

- څنگه سودا؟! پر ما دې د سوداگر خیال کړی دی که څه بلا!

ویې خندل او ویې ویل:

- نه، خبره یم چې ته سوداگر نه، بلکې یو بل‌کاره یې. هدف مې ستا همدغه کار دی چې لږ وخت کېږي په اخته یې.

- هېڅ مې سر نه خلاصېږي!... کوم کار؟

- اوس يې درته وايم!

هغه يوې بلې کوټې ته ولاړه او له هغې خوا يې يو لوی پاکټ راوړ، پر مېز يې راته وغورځاوه او ويې ويل:

- وګوره د دغو عکسونو خلك پېژني؟!

پاکټ مې راواخيست او يو څو لوی و واړه عکسونه مې څنې راوايستل. د لومړني عکس په ليدو مې بدن ولړزېد؛ زما او هانس وو... نور عکسونه د وارنر، الفرډ، انجيلا او وروستی يې زما او لودويك وو چې په کوېټه کې اخيستل شوی وو.

تاسې په دې اړه بالکل پرځای حدس وهلی دی چې ما به د دغو عکسونو او خپلې دندې اړوند د ژونديو ثبوتونو په ليدلو څه غبرګون ښودلی وي...

عکسونه مې پر مېز کېښېنودل او سګرېټ ته مې تيلی وواهه. تر منځ مو يوه ژوره چوپتيا خپره شوه. اديټ مخامخ راته ناسته وه او د خپلې پوښتنې ځواب يې غوښت...

- د دغو عکسونو خلك دې وپېژندل؟

- هو، ښه سم مې وپېژندل. ته يې هم پېژنې؟

- بالکل، همدومره لکه ته چې يې پېژنې!

- ښه، زه څه کولای شم؟

- ډېر کارونه چې لنډيز يې يوه کليمه ده: همکاري!

- او که له دې همکارۍ غاړه وغړوم؟

- هغه وخت نو بيا زه اړخ ته کېږم او تا يو و بل کس سره پرېږدم. البته هغه يوازې نه، بلکې څو تنه دي او زه يې د ډلې غړې نه يم او که يم هم، څه مې له وسه پوره نه دي. همدغه شېبه هغوی زموږ د روانې ليدنې پايلې ته منتظر دي او غواړي وويني چې ايا ته زموږ سره همکارۍ ته غاړه ږدې که نه. (زموږ) په مطلب خو به دې سر خلاصېږي؟

پوچ شوی سګرېټ مې په سګرېټدانۍ کې واچاوه او ومې ويل:

- ان د دغې همکارۍ په اړه د فکر کولو مهلت هم نه راکوې؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

اډیټ خپل پاته څښناک وڅښه، تش جام يې پر مېز کښېښود او ويې ویل:

- نه، فکر کولو ته اړتیا نشته. دا همکاري سل په سل کې ستا په ګټه ده. ښې غټې پیسې درکوو.

ورته ومې ویل:

- په هر صورت، باید یو څه فکر وکړم... دومره په تلوار چې ته يې غواړې، ځواب نشم درکولای...

اډیټ زما جام راډک کړ او ويې ویل:

- زما مشوره دا ده چې همدااوس ځواب راکړه. البته مثبت ځواب... سپینه به يې درته ووایم زه او ملګري مې د یهودانو د ځارګریز سازمان غړي یو او که...

خبرې مې ورغوڅې کړې او ورته ومې ویل:

- که منفي ځواب درکړم، وژل کېږم، همداسې نه ده؟

- خوښه یم چې مخکې له مخکې مې په موخه پوهېدلی يې... مګر ناحقه ځان مرګ ته مه ورکوه. زه نه غواړم ووژل شې، ځکه راباندې ګران يې. زه... د ډاکټر ګوان ملګرې وم. هغه ستا په اړه ډېرې خبرې راته وکړې. ستا د انساندوستۍ يې زښت زیات صفتونه راته وکړل. همدا وجه وه چې زما ملګرو د همکارۍ لپاره انتخاب کړې. هغوی پوهېږي چې د نازیانو جنایتونو او ځناورتوب ستا کرکه پارولې او غواړي له همدې کرکې څخه دې د انسانیت په ګټه کار واخلي. نو ښه دا ده چې بېله قید و شرطه غاړه کښېږدې.

اډیټ سپینه-مامدینه رغبدله. رسوا شوی وم او که مې انکار کولای، نو نه یوازې دا چې خندوونکې وه، بلکې احمقانه هم وه... هغې د داسې حقیقت په اړه خبرې کولې چې زما لپاره پکې د شک او دوه‌زړۍ هېڅ نه ول. هغه د یوه یهودي جاسوسي سازمان په استازیتوب راته لګیا وه او د همکارۍ غوښتنه يې راڅخه کوله. دا همکاري یانې د جرمنیانو محرم مالومات دوی ته ورسپارل... مګر ولې يې زه ټاکلی وم؟... بل دا چې څنګه مې هماغه شبېه پرېکړه کولای شوه! په دواړو صورتونو کې مې ژوند له ګواښ سره مخ وو...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

اډيټ چې زما چوپتيا وليده، ويې پوښتل:

- ولې چوپ يې؟ ووايه وړانديز مې منې که نه...

سر مې را پورته کړ او ورته ومې ويل:

- څه تضمين راکولای شې؟

- د څشي تضمين؟

- د سر د سلامتی تضمين، څکه په دې صورت کې ستاسې له خوا بېغمه کېږم، مګر له ها بل لوري مې ژوند په خطر کې لوېږي.

هغه موسکی شوه او ويې ويل:

- زما ملګري به هر ځای پيره دربانديي کوي!

زه پاڅېدم او ومې ويل:

- لکه څنګه چې مې درته وويل بايد يو څه فکر وکړم... سبا شپه په قرنفل کافه کې راته منتظره شه...

اډيټ سترګې راپکې وګندلې. لکه د دې خواب تمه چې يې نه لرله... د دروازې خوا ته روان شوم هغه هم راپسې شوه. راغله زما او ور تر منځ ودرېده او ويې ويل:

- ولې يې نه منې؟ اخير ولې؟... هغوی به يوه ذره زړه‌سوی دربانديې ونه کړي. زه پوهېږم چې ته بېګناه يې، مګر چاره نشته. حتا هغوی هم پوهېږي.

ومې ويل:

- له دې هر څه سره-سره اوس څواب نشم درکولای. سبا شپه قرنفل کافې ته راشه، خبرې به سره وکړو.

اډيټ وويل:

- سبا شپه ډېر ناوخته دی. ما غوښتل نوم دې له ليست څخه وباسم، مګر ستا خوښه نه وه... ته اصلاً دا نه منې چې زه مينه درسره لرم...

هغې چې وليدل زه له خپلې خبرې نه اوړم، نور يې څه ونه ويل او د دروازې له مخې ايسته شوه... دروازه مې پرانيسته او راووتم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دا وخت د شپې څه باندې درې بجې وې... توپنچه مې په لاس کې ونيوله او په احتياط-احتياط په زينو کې مخ کښته روان شوم. سترګې مې په مخامخ دروازه کې وې. په هره زينه کې يو ځل دربدلم او شا ته مې کتل. ښي اړخ ته مې دېوال وو. سره له دې چې ګروپ لګېده، بيا مې هم د وېرې احساس کاوه... وېره مې له دې وه چې هسې نه د شا يا مخ له خوا نابېره ډزې رابانديې وشي او پر وخت د ځان دفاع ونه کړای شم.

له وروستي زينې چې کښته شوم او د وداني د دروازې پر خوا مې ګام واخيست، ناڅاپه مې د شا له خوا په سر يوه پنډه ګڅوړه راواغوستل شوه. چې ځان مې ښوراوه بيا دوو نفرو تر تخرګونو نيولی او روان کړی وم. هغوی خبرې نه کولې، صرف د پښو ښکالو مې يې اورېده. له مقاومته مې لاس واخيست، ځکه هېڅ ګټه يې نه کوله... دباندې يې وايستلم او په يوه موټر کې يې واچولم... څو شېبې وروسته موټر حرکت وکړ.

ويل مې خدايه دا مې چېرې وړي؟! سر مې خلاص وو چې دا خلک بايد څوک وي... يو څو شمېرلي دقيقې وروسته موټر بېرته ودرېد. زه يې ترې کښته کړم او يوه کور ته يې دننه کړم. په يوه لنډکي دالېز کې يې تېر کړم او په يو څو زينو کې تر خېژولو وروسته يې د يوې کوټې مخې ته ودرولم... يوه نفر د هغې خونې دروازه وټکوله... لنډه شېبه وروسته دروازه خلاصه شوه او زه يې ورننه ايستم... ګڅوړه يې له سره راخخه ايسته کړه...

سترګې مې لا د ګروپانو له رڼا سره سمې نه وې عادت شوي چې د کوټې له پای څخه د يوه سړي امرانهږغ پورته شو او په عبري ژبه يې يو څه وويل.

لا يې خبرې نه وې خلاصې شوي چې زه يې د يوه مېز مخې ته پر پرته لاستوره څوکۍ کښېنولم. په کوټه کې خپره رڼا د هغه ګروپ وه چې پر ياد مېز ولاړ وو. مخامخ درې کسان راته ناست ول. د منځ کس يې يو پنډخېتي سړی وو چې ناکې-ناکې يې خندل، د ده يوې خوا ته يو ډنګر، وچ‌مخی او پک‌سری سړی ناست وو او پر دا بل اړخ يې يو غنمرنګه ځوان ناست وو چې تر دوی دواړو کشر برېښېد.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

پنډ سړي خپل خوان ملګري ته په غوږ کې بو څه وویل، پاڅېد او د کوټې پای ته ولاړ. تر دې دمه مې لا شاوخوا د کتلو فرصت نه وو موندلی. په ټولو حواسو دغو دریو کسانو ته متوجې وم چې وویېنم څنګه چلند راسره کوي. په دې وخت کې مې یودم د شا له خوا یو اواز تر غوږ شو. مخ مې ورتاو کړ. هغه خوان زما له دوو پیره‌دارانو سره یوځای لګیا وو له دریو خواوو یې درې لوی او جګ څراغونه رانژدې کول.

د دغو ګروپانو په لیدلو مې سر خلاص شو چې غواړي د رڼا شکنجه راکړي. دا ډول څورونه هغه مهال خورا عامه وه. ما چې خبرو ته خوله جوړوله، پنډ سړي چوپتیا ماته کړه او راته ویې ویل:

- اوس به پوهېدلی یې چې څه درکوو، کنه؟

ځواب مې ورکړ:

- هو، پوره‌-پوره. ادیټ هم غوږولی وم، خو په دې نه پوهېږم چې تاسې ولې سر نه خلاصوئ؟

ویې پوښتل:

- په څښې؟

ومې ویل:

- په هماغه ځواب چې ادیټ ته مې ورکړ او تاسې هم په خبر یاست... زه باید ستاسې پر وړاندیز بو څه سوچ وکړم.

هغه مانادار ه خندا وکړه او ویې ویل:

- زما په اند سوچ کولو ته اړتیا ښخې شته نه. کاشکې دې هغې ته همالته مثبت ځواب ورکړی وای. خیر، اوس هم ډېر نه دی ناوخته شوی، کولای شې له دې وروستي فرصته استفاده وکړې. زما مشوره درته دا ده چې زموږ وړاندیز ومنه. همدا دې سل سلنه په ګټه ده.

سره له دې چې هغوی په خپلو خبرو کې پوره-پوره جدي ښکارېدل زه بیا هم له خپل خره نه راکوزېدم. چې ربښتیا شي پر حق وم. هغوی غوښتل د جرمنیانو د

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

جاسوسي شبکې محرم مالومات وروسپارم. دا همکاري یا په بله ژبه دوه اړخیزتوب دومره ساده هم نه وو چې په باب یې همالته پرېکړه وشي. له همدې امله مې پنډ سړي ته وویل:

-لکه څنګه چې مې اډیټ ته وویل، باید ما ته لږ مهلت راکړئ تر څو روغ تصمیم ونیسم. ممکن بیخي له دې لعنتي کاره د تل لپاره لاس پر سر شم.

هغه چې په انګلیسي ږغېدی، راته کړل:

-بنه نو د لاس پر سر کېدو سوچ دې ذهن ته لار کړې ده، مګر زموږ سره ستا د تسلیمېدو یو عالم وسیلې شته.

وروسته یې په عبري ژبه یو څه وویل چې په مانا مې یې ثانیه دوې وروسته سر خلاص شو... دوه ځواکمن او تېز ګروپان مې دوو اړخونو او یو مې شا ته ولګېد. بیا پنډ سړي پر مېز ولاړ ګروپ زما خوا ته راواړاوه او سویچ یې ور وواهه. رڼا یې بدله او بیخي قوي شوه... په څو ثانیو کې له څلورو خواوو تر نوري شکنجې لاندې ونیول شوم. ما چې ویل اور مې واخیست. بدن مې نهایت ګرم شو او داسې مې حسوله لکه سره چاودم چې. مخامخ رڼا یو ډول ډار راواچاوه. مخ ته مې لاسونه ونیول. همدغه شېبه یو چا د څټ له خوا تر وېښتانو ونیولم او شا ته یې کش کړم. وروسته یې د پنډ سړي په امر لاسونه د څوکۍ په لاستو پورې راوتړل. ځراغونه تقریباً پنځوس شپېته سانتي راڅخه لیرې ول. نو زما به څه حال وو؟! له سره تر نوکه خولې-خولې وم. له سترګو مې اوښکې رواني وې او داسې مې انګېرله لکه ړندېږم چې. ټېکونه مې بد رکم خوږېدل او سربدالي و سرڅرخي رالوېدلې وه. یودم مې چیغې کړې:

-بس کړئ، ګروپان بند کړئ!

د پنډ سړي اواز مې واورېد چې ویې ویل:

-دا ټول ستا له خپله لاسه، زموږ یې په څه؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د هغه په امر ځراغونه بند او د چت ګروپ ولګول شو، مګر زما پر سترګو تپه تیاره وه او شی مې نه لیدل. لاسونه چې یې راپرانیستل، غبرګ ورغوي مې پر سترګو کېښېښودل او چیغې مې کړې:

- زه مو ړوند کړم...

یوه یې پر اوږه وټپولم او وېې ویل:

- نه ښاغلی ریما، ډاربږه مه ړوند شوی نه یې. دلته وګوره!

لاسونه مې ورو راوښویول، خو ځیږمې مې سره نښتې وې او نه مې شول کولای چې پرانیستې یې ونیسم. له یوې ترخې تیارې پرته مې بل هېڅ شی نه لیدل. سر مې دومره دروند شوی وو لکه یوه لویه ډبره چې پر پرته وي.

- ښه ښاغلی ریما، اوس خواب راکړه! دا شکنجه یوازې یوه نیمه دقیقه وغځېده او که دې خوښه وي، نو وخت یې ورزیاتولای شو. البته دا وار به دې سترګې په رښتیا ړندې شي.

ما سر په دواړو لاسونو ونیو، مخ ته خم شوم او ومې ویل:

- ولې یې نه راسره منئ چې زه یوه بېواکه مهره یم. او که تاسې غواړئ چې د ډاکټر ګوان د خون غچ راځخه واخلئ، نو باید درته ووایم چې هغه ما نه دی وژلی. حتا د وژلو پر وخت یې حاضر هم نه وم.

پنډ سړي پر اوږه لاس راکېښېښود او وېې ویل:

- موږ غواړو ستا له همدې بېواکۍ ځخه ګټه پورته کړو. د عمل میدان ته له ننوتلو سره سم به وپوهېږې چې ځومره مهم سړی یې... ستا ځخه د کار اخیستلو دنده زموږ پر غاړه ده، نه چورت مه خرابوه... د دومره خطرناکې ماضي ځښتن سړی لکه ته چې یې، بېکاره کېدلای نشي... خواب راکړه...

هماغسې په ځوړند سر مې ورته وویل:

- زه بل هېڅ خواب نه لرم، ما ته د فکر کولو مهلت راکړئ.

- ډېر ښه ښاغلی ریما...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د پورتني عبارت له ختمېدو سره سم دوه نفره تر تخرگونو رالاندې شول، له ځوکۍ څخه يې پاڅولم او د دېوال خوا ته يې روان کړم. د دېوال په يومتری کې يې ودرولم. حالت مې يو څه ښه شوی وو او لږ-لږ شيان مې ليدل. له ځانه مې پرله پسې همدا پوښتنه کوله چې اوس به څه راوکړي؟

امر يې راته وکړ چې پر دېوال ځان واچوم او يوازې د شهادت گوتې تکيه کړم. د بدن ټول زور مې يوازې پر همدغو دوو گوتو وو. دوه تنه مې څنگونو ته ولاړ ول او د نورو گوتو له کارولو يې راگرځولم. وروسته يې يو گروپ تر مخ لاندې راته کېښود او چالانه يې کړ. دا گواکې د لومړنی شکنجې دوهمه برخه وه، خو په يوه بله بڼه...

د گروپ رڼا مې پر سترگو برابره وه... دغو گروپونو مخ ته ښيښه نه درلوده او بېحده خواکمن ول. کېمټ لکه لمر ته چې په خلاصو سترگو گورې... سره له دې چې سترگې مې پټې وې، خو د گروپ د رڼا تودوښې او پر گوتو دروند فشار له ښو وغورځولم او بودم پر گروپ وروړېدم.

بېرته يې راپورته کړم او په هماغه ډول يې ودرولم... دا وار يې دوو خواوو ته نور گروپان هم راته کېښودل. دا کړنه يې څو ځله تکرار کړه تر څو يې بالاخره مثبت ځواب راڅخه واخيست...

له شکنجو څخه تر راوتلو وروسته مې د سترگو څېرمې يومخ سره نښتې وې. تر لومړی شکنجې وروسته مې لږ-لږ خلاصولی شوې، دا وار مې دا کار هم نشو کولای... ان د خبرو کولو توان مې هم نه درلود. دومره پوه شوم چې چابک يې پر يوه ځوکۍ کېښنولم او په درملنه مې اخته شول. په سترگو کې يې داسې عجيبې اوبه راواچولې چې په يوه ثانيه کې بېرته نورمالې شوې. سمدم لکه پر اور چې اوبه واچوې. وروسته يې يو ډول درمل راکړل.

کرار-کرار سم شوم. هماغه درې کسان بيا مخامخ راته ودرېدل. پنډ سړي چې پر دې حال وليدم، موسکی شو او ويې ويل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- ومنه چې تو له ملامتي ستا خپله وه، مګر ستا تر تصور لوړه بدله به یې درکړل شي...
موږ تا ته د دوستۍ لاس درکوو، خو دې ته دې فکر وي چې ستا له خوا یوه وړوکې پښه‌ښویېدنه دا دوستي په دوښمنۍ بدلولای شي او په هغه صورت کې دې نو بیا د سترګو په رپ کې پښې پر سر دراړوو او یوه ذره زړه هم نه درباندې سوځو. ان په بهرنیو هیوادونو کې هم نشې راڅخه خلاصېدلای. دا لا څه چې په خپله جرمني کې دې هم ډېر اسانه وژلای شو...

زه پاڅېدم او ومې ویل:
- په مطلب مو پوه شوم ښاغلې...

یو څه معطل شوم تر څو هغه خپل نوم راوښيي، مګر هغه وویل:
- زما او زما د ملګرو د نومونو مالومولو هڅه مه کوه. همداسې غوره ده. زموږ نومونه نو تا ته څه ګټه رسوي؟

ومې ویل:
- ټینګار نه کوم. صرف غوښتل مې دا ډاډ درکړم چې زما او ستاسې ملګرتیا لنډمهاله ده او په دې موده کې به هېڅکله په دوښمني بدله نشي.

د پنډ سړي پر څېره د هېښتیا نښې راښکاره شوې او راڅخه ویې پوښتل:
- لنډمهاله بیا ولې ده؟!

خواب مې ورکړ:
- څکه د ژوند تر پایه خو ستاسې مزدوري نشم کولای. زما ملګرتیا د جګړې له پای ته رسېدو سره سمه ختمېږي. فکر کوم تر هغه وروسته به نو ستاسې هم نه یم په‌کار.

هغه سر وخوځاوه او ویې ویل:
- نو دعاوې کوه چې جګړه ژر تر ژره ختمه شي.

په دې جمله پسې یې لاس راوغځاوه او زیاته یې کړه:
- بریالی اوسې ښاغلې ریما! نور ازاد یې. زموږ اوامر او لارښوونې د اډیټ پر لاس در رسېږي. هغه دا مهال په خپل کور کې درته په تمه ده!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

 Downloaded From:

هغو دوو نورو کسانو هم په مینه-مینه لاسونه راکړل او تر ما مخکې له کوټې څخه ووتل. له دوو پیره‌دارانو څخه یو رامخکې شو او په سوله‌ییز ډول یې په یوه توره پټه سترګې راوتړلې، توري عینکې یې راپر سترګو کړې، بیا یې تر تخرګونو لاس راالندې کړ او له کوټې څخه یې وایستلم...

https://t.me/AryanPashtoLibrary

* * *

WhatsApp:00971501455350

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د زنګ تر وهلو لنډه شېبه وروسته اډيټ ور راته پرانيست او په غېږ کې يې ونيولم... د هغې ښکلا او د بدن ګرمۍ يوه ذره اغېز نه راباندې کاوه. کرکه مې خپې کېده، مګر هڅه مې کوله داسې ورته وښيم چې زه هم مينه ورسره لرم...

کور ته تر ننوتلو او دروازې بندولو وروسته مې ورته وويل:

- بالاخره خپل هدف ته ورسېدې!

اډيټ په داسې حال کې چې شونډې يې موسکۍ وې ويې ويل:

- ټوله ستا ملامتي وه... سره له دې چې په وارو-وارو مې د خپلې سرتمبګۍ د بدو پايلو خبرداری درکړ، ته بيا هم له خپل خره راکوز نشوې... خير، اوس خوشحاله يم چې سهي او سلامت راستون شوې. باور وکړه تر څو چې يې ستا د مثبت ځواب احوال راکاوه ولاکه هېڅ شي خوند راکاوه. نهايت اندېښمنه وم. ځکه د هغوی له نيته خبره وم او پوهېدم چې تر سختو شکنجو وروسته به دې په ځومره سختۍ او بې‌رحمۍ ووژني. کاشکې دې دلته ما ته مثبت ځواب راکړی وای.

په خبرو کې ورولوېدم او ورته ومې ويل:

- ما ته ويل شوي چې ستا په امر به کار کوم، وايه څه وکړم؟

اډيټ وويل:

- يو څه صبر وکړه...

له خونې څخه ووته او بېرته ژر راغله. يو ګيلاس فرانسوی قهوه يې پر مېز راته کېښوده او ويې ويل:

- يو ښه خبر درته لرم...

- څنګه خبر؟!

- نږدې يو ساعت مخکې حالات يومخ بدل شوي دي، د متفقينو ځواکونه د ابران تر پولو راوښتي او وړاندې روان دي.

- څه؟! نه، دا ناشونې ده. ټاکلې وه چې هغوی...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خبرې مې پر نیمایي پرېښودې. اډیټ راته وویل:

- وایه!

- ناکلې وه چې دا برید د سپټمبر په پیل کې وشي.

له دې سره بې اختیاره په خندا شوم. هغې په حیرانتیا راڅخه وپوښتل:

- ولې خاندې؟

ځواب مې ورکړ:

- د جرمنیانو پر حماقت خاندم!

اډیټ وویل:

- ستا به په حماقت اوس سر خلاص شو. موږ ته له اوله مالوم ول... خو ودې نه ویل چې هغوی څنګه په دې خبر شوي ول چې برید د سپټمبر په پیل کې کېږي؟

ورته ومې کتل او ومې ویل:

- غوره دا ده چې پوښتنه راڅخه ونه کړې. همدومره کافي ده...

د متفقینو د برید خبر زما لپاره هېښوونکی نه وو، څکه وړاندوینه یې شوې وه. خو یوازې یې نېټې ته لږ حیران وم، څکه کریستین په هغه ریل کې چې ما په خپلو سترګو د هانس په دفتر کې د سینما پر پرده ولید د برید نېټه په ښکاره د سپټمبر لومړۍ اونۍ وه... له دې څخه ثابته شوه چې کریستین ته د ځان اړوند هغو اسنادو هېڅ ارزښت نه درلود چې له هانس سره ول او ما هم هانس ته ټیک همدا خبره کړې وه او ورته ویلي مې ول چې دغه ښځه د باور نه ده... خو هغه ونه منله او داډ یې راکړ چې کریستین به یې له اوامرو غاړه ونه غړوي...

په اسنادو کې د لاسوهلو او جعل کولو په دې چل هر څه راته روښانه شول. ان د کریستین نیونه او زما له موټر څخه یې په زوره کشونه هم یوه ډرامه راته وایسېده... دا پلان خپله د همدې په اشاره عملي شوی وو تر څو هم د جرمنیانو پام له ځانه واړوي او هم خپل ځان له یوه بند حالته راوباسي.

ویل مې کاشکې هانس دلته وای چې ورته ویلي مې وای چې څومره لوېې تېروتنې یې کړې دي... اډیټ چې زه په فکرونو کې ډوب ولیدم، ویې پوښتل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- خښي ته چورت وړی یې؟ تا ته باید مالومه وای چې متفقین به بالاخره ایران اشغالوي.
- هو، بالکل راته مالومه وه.
- نو بیا فکر کولو ته اړتیا نشته... له دې سره به په ایران کې د جرمنیانو جاسوسي فعالیتونه هم رنګ واړوي... او له دغو نویو فعالیتونو څخه زموږ خبرول ستا دنده ده. ما ته امر شوی چې اړین وسایل په واک کې درکړم.

خنې ومې پوښتل:
- څنګه وسایل؟

ویې ویل:
- یوه ډېره کوچنۍ کامره او یوه خورا حساسه ټایپوونکې اله چې ظاهراً قلم دی.

پاملرنه چې یاد شیان راته راوړي. ورته ومې ویل:
- هسې نه خلک راباندې شکمن او کار مې راکړوپ کړي!

اوږېږ په داسې حال کې چې هغې بلې کوټې ته روانه وه، ویې ویل:
- نه ګرانه هیڅ خبره نشته!

له هغې خوا یې دوې کوچنۍ کوتۍ راوړې او پر مېز یې کېښېنودې. یوه کوتۍ یې خلاصه کړه، یو فلزي قلم یې څنې راوایست، ما ته یې راکړ او ویې ویل:
- دا په ښکاره یو خودکار قلم دی، مګر په حقیقت کې د عکاسۍ یو ډېره خواکمنه او ظریفه کامره ده.

د یادې کامرې کارولو چل یې راوښود او بیا یې زیاته کړه:
- فکر کوم دا ډول کامرې به دې په خپله شبکه کې هم ډېرې لیدلې وي کنه؟

په سړه سینه مې ځواب ورکړ:
- نه، تر اوسه مې نه لیدلې او نه کارولې ده. نه پوهېږم چې زه په جرمنۍ جاسوسي شبکه دومره نه یم نږدې چې هغوی مې له جزیاتو خبر کړي. په اکثرو ماموریتونو کې مې د یوه رابط یا ساتونکي رول لوبولی دی او دا چې ستاسې تر دې ماموریت وروسته به څنګه شي هیڅ مالومه نه ده...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په دې خواب سره مې غوښتل هغه زما په ناخبرۍ څه ناڅه اګاه کړم، مګر حقیقت دا وو چې له دې ټیکنالوژۍ سره پوره-پوره بلد وم او دغې کامرې ته ورته بېشمېره کامرې مې لیدلي وې، خو په لږ و ډېر بدلون... یوه یې یو خودرنګ قلم وو چې الفرډ همېشه کاروله.

ادیب هغه قلمي کامره کښېښوده او دوهمه کوټی یې چې یوه اوازښتوونکې اله وه، ورواخیسته. د دې دستګاه کارول مې هم زده ول، مګر دا چې ادیب ته مې ځان ناګاره اچولی وو، نو هغې داسې لارښوونې راته کولې لکه زه چې یو ناپوه شاګرد یم. په الف و بې یې راته تشریح کوله... په پای کې یې یو سنجاق ورپورې ونښلاوه او ویې ویل:

- د الې په دننه کې د پراته سیم دواړه سرونه باید له دغه سنجاق سره وتړل شي...

دواړې الې مې ترې واخیستې. اوازښتوونکې اله د کیلیو د پوښ بنه لرله چې ځینې خلک یې په کورونو کې کاروي. فیته یې د عامو اوازښتوونکو الو په شان نه وه، بلکې یو ډېر نازک سیم وو چې پر یوه لوله باندې راپېچل کېدی. د ډاډمنتیا لپاره مې د ادیب په مرسته یو ځل وازمایله. وروسته مې دواړه شیان په خپل ټاکل شوي ځای کې کښېښودل. د کار تر تمامېدو وروسته پاڅېدم او ومې ویل:

- اوس نو باید یو ځل په هانس ځان ووینم... د حالاتو دې ناڅاپي بدلون له شک پرته هلته زما شتون اړین ګرځولی دی.

ادیب تر لاس ونیولم او ویې ویل:

-کښېنه، یو څه لارښوونې لا پاته دي.

ورته ومې ویل:

- ایا د جرمنیانو د محرمو اسنادو پر عکسونو سربېرته نور شیان هم راڅخه غواړئ؟

خواب یې راکړ:

- نه، فقط همدا غواړو... مګر ستا لومړی راپور دا دی چې پر ایران د متفقینو د برید اړوند د جرمنیانو له نویو تشکیلاتو څخه موږ خبر کړې. دا چې په دې ماموریت کې له دغو الو څخه کار اخلې که نه هغه په تا پورې اړه لري. زموږ د اوسنیو مالوماتو پر

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بنسټ د هغوی تشکیلات له شک پرته د ایران سهېل ته انتقالېږي او بل دا چې د فعالیت ډول یې د رییسانو او نورو مهمو کسانو له بدلون سره رنګ اړوي... د دغو محرمو مالوماتو د ترلاسه کولو تګلار او چل باید خپله ته پیدا کړې. البته یاد دې وي چې دغه دوې الې ستا سره په دې کار کې پوره-پوره مرسته کولای شي.

هغې خپله پورتنۍ وینا په یوه مچکه پای ته ورسوله او زیاته یې کړه:

- تر هر څه مهمه دا ده چې د تېرې شپې شکنجې به هېڅکله له یاده نه باسې. زه په هېڅ وجه ستا بایلل نه غواړم، مګر کوم خلک چې ستا د همکارۍ په تمه دي، نهایت بې رحمه او ډېرزړي دي او که دې یوه ذره سرکښي وکړه، ځای پر ځای دې وژني.

ومې خندل او ومې ویل:

- نه بېغمه اوسه ما به هېڅکله ونه بایلې. زما دغه خواب بیا ته مه هېروه!

له کور څخه د راوتلو پر مهال یې راته وویل:

- نن شپه پر یوه نیمه بجه همدلته درته منتظره یم. بریالی اوسې!

ښکل مې کړه او په منډه په زینو کې کښته شوم.

* * *

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

نن په رومي پُل کې د جرمني د سفارت حالت له نورو ورځو سره یوه دنیا توپیر پیدا کړی وو. په بڼ کې یې د پخوا خلاف زیاته ګڼه ګوڼه لیدل کېده. د هر جرمني پر څېره د ژورې نارامی او خواشینی نښې ښکارېدې.

موټر مې یوې ګوښې ته ودراوه او هانس ته ورغلم. نوموړی په خپل دفتر کې بوازې وو او قدم یې واهه. زښت ناکراره برېښېد.

- چیرې یې ریما؟

- دا ګړی ستا په چوپړ کې یم!

هغه مخامخ راته ودرېد، سترګو ته مې ځیر شو او ویې پوښتل:

- برابې شپه چیرې وې؟

ما په ځانګړې جدیت او ټینګار ورته وویل:

- له یوې ښځې سره!

هغه راته شا کړه، د خپل کاري مېز خوا ته روان شو او ویې ویل:

- لېونیه... باید زه دې خبر کړی وای!

په ارامی مې ځواب ورکړ:

- له یوې ښځې سره شپه تېرول زما شخصي ژوند دی!

هانس مېز ته سوک کش کړ او په غوسه یې چیغه کړه:

- دلته شخصي ژوند نه چلېږي. ته زما تر واک لاندې یې او باید هر امر مې پر سر سترګو ومنې. زه څه پوه شم چې تا یو تاواني او احمقانه کار نه دی کړی؟

- له دې اړخه ډاډه اوسه، هېڅ مشکل نشته. صرف یو...

خبرې یې راغوڅې کړې او ویې پوښتل:

- دا ښځه دې مخکې هم لیدلې وه؟

ځواب مې ورکړ:

- هو، په قرنفل کافه کې مې ورسره وپېژندل.

- بهرنی ده!
- ستا په اړه یې پوښتنې درڅخه ونه کړې؟
- نه، یوازنی پوښتنه یې دا وه چې څه وخت بې کور ته ورځم.
چوپ شو. سګرېټ یې ولګاوه، د مېز شا ته پر پرته څوکۍ کښېناست او په لاس یې د کښېناستو اشاره راته وکړه. څو شېبې وروسته پر خبرو راغی او ویې ویل:
- تازه خبرونه دې واورېدل؟
ځواب مې ورکړ:
- هو وامې ورېدل او اوس به دې سر خلاص شوی وي چې کریستین څنګه ښځه ده؟ هغه ورځ مې هم درته وویل چې دا بلاګۍ د باور وړ نه ده او شاید بازي راکړي، خو تا مې پر خبرو غوږ ونه ګراوه او د نوموړې پر ضد په درسره شته ثبوتونو نازېدې. هغې چې دومره اسانه او ژر همکاری ته غاړه کېښښوده لا زه پر شکمن شوم.
هانس په خبرو کې راولوېد او ویې ویل:
- پوهېږم. پرېږده یې نور مه پر ږغېږه...
ومې ویل:
- باید ووایم چې تښتونه یې هم ساختګي وه.
هانس سر را اوچت کړ او ویې ویل:
- لمر غوندې روښانه ده... او د دغې ناخوانی د جبران لپاره د اروپا، افریقا او اسیا ټولو ماموراتو ته امر شوی چې هر ځای کریستین ووینې ځای پر ځای یې پر دا سر سر وولي. تا ته هم همدا امر درکول کېږي، ځکه ته تر هر بل چا زیات د هغې وینو ته تږی یې.
ومې ویل:
- مګر ستا ټول ماموران کریستین نه پېژني.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

زياته مې کړه:

- ايران ته د متفقينو د ځواکونو له رانوتلو سره چې په دوو دريو ورځو کې تهران ته رارسيږي، تاسې له لوی خطر سره مخامخيږئ او له شک پرته دې تکې ته ستا هم پام دی او تلاښ کوې چې ژر تر ژره خپل سازمان له ګواښه وژغورې.

هغه چې له ډېرې نارامی ځمکې ځای نه ورکاوه، د مېز له شا راپاڅېد، زما خوا ته راغی او وېې ويل:

- دا بريد پېشبيني شوی وو، مګر نېټه يې زښته مهمه وه او اوس هر څه روښانه شوي دي. نو د مخکنيو وړاندوينو له مخې مو خپل تشکيلات نوي کړي او داسې جوړ کړي دي تر څو په ايران کې د متفقينو د ځواکونو په شتون کې هم خپل فعاليت ته په يوه بله بڼه ادامه ورکړې.

ترې ومې پوښتل:

- زما په اړه دې څه پرېکړه کړې ده؟

وېې ويل:

- هماغه پرېکړه چې د نورو په اړه مې کړې ده. سبا سهار شپږ بجې بايد له هغوی سره يوځای شې.

ومې پوښتل:

- نه کله حرکت کوې؟

هانس يوه ترخه موسکا وکړه او وېې ويل:

- تر اوسه مې د خان اړوند کومه فيصله نه ده کړې، خو ته په هر حالت کې زموږ کس يې.

دغه شيبه الفرډ کوټې ته رانووت او هانس ته يې يو ليک يې ورکړ. هغه خپل مېز ته ولاړ، ليک يې پر کښېښود. دواړه لاسونه يې پر مېز تکيه او د ليک لوستل يې پيل کړل.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په څو شېبې وروسته یې الفرډ ته مخ کړ او ورته ویې ویل:
- کار خلاص دی. همدااوس له اوسپنيزي تجرى څخه ټول اسناد راوباسه او د ریما په مرسته یې وسوځه.
الفرډ زما په اړه څني وپوښتل. هانس ورته وویل:
- دی به هم ډېر ژر ستاسې سره یوځای شي!
زه او الفرډ له امر سره سم د اسنادو په را ایستلو لګیا شوو. څلور کارټنه شول. ټول مو له ودانۍ څخه وایستل او پانه په پانه مو وسوځل. تر ماپښینه پورې په همدې کار اخته وو.
دا د ۱۹۴۱م د اګسټ ۲۵مه نېټه وه. په لومړي ځل مې په سفارت کې دننه غرمنۍ وخوړله.
پر دوې بجې هانس خپل دفتر ته بوتلم او له نویو تشکیلاتو سره تړلي یو لړ لارښوونې یې راته وکړې. بیا یې بنې ډېرې پیسې راکړې او په داسې حال کې چې په یو عالم خواشینۍ کې ډوب وو، لاس یې راوغځاوه او ویې ویل:
- په دې حساس او نازک وخت کې یوازنۍ حللار همدا ده. موږ له خپل خفیه فعالیت څخه لاس پر سر کېدای نشو او تر وسه-وسه باید له روانو خطرناکو حالاتو څخه استفاده وکړو. ته باید ژر تر ژره د خپل نوي ځای پر خوا وخوځې. وینې چې زیات وخت نه لرو. یو شمېر ماموران تر لمرخاتو مخکې روان شوي دي.
ورته ومې ویل:
- او که پر لارې د متفقینو له ځواکونو سره مخامخ شول؟
هغه موسکی شو او ویې ویل:
- دې تکي ته مې پام دی او پلان مې داسې جوړ کړی دی چې هغوی په بېخاری سره تر خپل منزله ورسېږي. البته ستا اړوند ستونزه نشته، ځکه ته د همدې خاورې یې.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

نر بوې شیبې چوپتیا وروسته یې زیاته کړه:

- نن شپه پر نهه بجې دې تلیفون ته منتظر یم، مګر د حرکت وخت هماغه د سهار شپږ بجې دي.

هانس دا خبرې په داسې حال کې کولې چې زما لاس یې په لاس کې وو. اخیر یې پرېښودم او ویې ویل:

- پر لارې باید ډېر بیداره واوسې. د متفقینو جاسوسان هر ځای او په هره بڼه زموږ مامورانو ته په کمین کې ناست دي... دې یادونې ته له سره اړتیا نشته، له کورت سره هغه ګډه ماموریت خو دې ښه په یاد دی چې په څه چل-ول یې کار درخراب کړ!

ورته ومې ویل:

- خپل کوښښ کوم، مګر ته پوهېږې چې له پېښې تېښته نشته.

هغه وویل:

- سرچپه، انسان کولای شي د احتمالي پېښو مخه ونیسي. زموږ په دې خاورینه نړۍ کې هېڅ شی بې پلانه او تصادفي نه دی. که کوم وخت یوه بده بېرانه راپېښېږي، نو دا زموږ خپله ملامتي ده چې په ریاضي کې کمزوره یو.

دواړو وخندل. وروسته هغه په نیولي او ستړي ږغ زیاته کړه:

- د بیا لیدو په هیله، بریالی اوسې!

له دفتر څخه یې راووتم... په سفارت کې د جرمني بنځو، نرو، وړو او زړو چال چلند پام اړوونکی وو. ټول له یوه مخه وارخطا او اوتر ول. له ودانۍ دباندې مې خپل موټر ونه موند. حیران شوم او له ځان سره مې وویل: *کیلي خو یې زما سره ده، نو دا چا او څنګه بېولی دی؟*

په دې همدې فکر کې وم چې د یوه نارینه اواز مې تر غوږ شو. مخ مې ور تاو کړ، له یوه دنګ او اوږدمخي سړي سره چې غار-غار سترګې او صاف وېښتان یې لرل، مخامخ شوم. سپین لنډو لستوڼو والا یخنکاک او خړ پتلون یې اغوستی وو. په خیر-خیر یې راته وکتل او په موسکا یې وویل:

- اندېښنه مه کوئ، ستاسې موټر دغه دی!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

یوه نژدې ولاړ موټر ته یې ګوته ونیوله او زیاته یې کړه:

- ستاسې د سفر لپاره همدا موټر ځانګړی شوی دی. کیلی یې هم دننه ده. کومه پوښتنه خو به نه لرئ؟

ومې ویل:

- له منني پرته بل څه نه لرم.

هغه پر خپله مخه ولاړ. زه پر موټر راوڅرخېدم. بینز وو. دوې دروازې یې لرلې او کم کارېدلی وو. شترنګ ته کېښناستم او په منډه د سفارت له بڼ څخه راووتم. د مازیګر څه باندې شپږ بجې وې. غوښتل مې ولاړ شم او خپل بیکونه-میکونه وتړم. هر څومره چې ښار ته نژدې کېدم د وګړو پر څېرو د نارامی او ډار نښې زیاتېدې. ښار خپله ښه یومخ بدله کړې وه. پرونی ارامی او سوله‌ییز حالت خپل ځای ناکراری او وارخطایي ته پرې ایښی وو. له هوایي بمباریو څخه ترهې هر ځای خپل سیوری غوړولی وو. دې هر څه دا مانا درلوده چې د ښار ارامي له منځه تللې او خلک د بدو پېښو لار څاري.

د همدې فکرونو په ملتیا کور ته ورسېدم. د دروازې له خلاصېدو سره سم مې له درشل سره پر یوه پراته کوچنې پاکټ سترګې ولګېدې. لیک رااخیستونکې ته له پاملرنې پرته مې پرانیست، د ادیټ له خوا یو دوې کرښې لیک وو چې پکې لیکلي ول: *(د شپې ګرځنديز لګېږي، نو غوره دا ده چې پر اته بجې سره ووینو. زه به خپل اپارتمان کې درته منتظره یم. ادیټ.)*

لیک مې وسوځاوه. همدا مې عادت جوړ شوی وو. تل مې دغه ډول شیان سملاسې له منځه وړل. وروسته د داسې یو چا غوندې چې یوه څورا مهمه هېره شوې موضوع وریاد شي په داسې حال کې چې سترګې مې په یوه ناڅرګند ټکي کې ګنډلې وې، کرار پر څوکۍ کېښناستم.

بې اختیاره مې د کورتۍ بغلي جېب ته لاس ولاړ او د عکاسی هغه وړه کامره مې لمس کړه. راياد شول چې یو بل شی یاني ښتوونکې اله هم راسره دی. دواړه مې

خنګ ته پر ولاړ میز کښېښود ل. له دې سره مې په غوږونو کې د اديب خبرو ازانګه وکړه:

به دغه فلزي خودکار قلم له اسنادو څخه عکسونه واخله... دا بې هم اوازنيونکې اله چې دننه يکې پروت سيم يې له سنجاق سره وصل دی... نور خو دې سر خلاص دی. بايد د جرمنيانو د نويو تشکيلاتو او تياريو په اړه نور وسه-وسه مالومات راغونډ کړې...

بودم پاڅېدم او له خان سره مې وويل: نه، دا کار زما لپاره ناشونی دی... له بلا مې هر څه چې پېښيږي، پېښ دې شي... سبا سهار له دې خايه ځم. هغوی مې بيا نشي پيدا کولای... همدا نن شپه اديب ته ورځم او دا دواړې دستګاوې بېرته ورسپارم.

خو دقيقې مې پر دې فکر وکړ چې له دغې بنځې سره بايد څه وکړم... بالاخره مې د هغې له منګولو څخه د خان خلاصولو بو بلان ذهن ته راغی او پر څه کم اته بجې بې د کور خوا ته ور روان شوم.

سړکان نښ ول او د نېرو شپو په شان خلک ته لېدل کېدل. نولو خپلو کوروونو ته پناه وړې وه. د زنګ نر وهلو لنده شېبه وروسته اديب دروازه پرانېسته او د خپل مېين ديدار نه د بوې مړې مېښې په شان بې خان غبرګې ته راواچاوه. کور ته سره ننوتو. نر پوښتنو ګرويږنو مخکې بې بر څه څساك راوړ. مخامخ رانه کښېناسته او وبې پوښتل:

- څنګه شو کامياب شوې؟

بر غرب مې وکړ. موسکی شوم او ومې ويل:

- خبرونه زيات دي. نوکی ډېر وخت غواړي. ستا مطلوب مالومات نن شپه په لاس راځي.

د اديب پر څېره د هېښې نښې رښکاره شوې او وبې پوښتل:

- نن لاس راغلي بې؟

د هغې د سوال په ځواب کې مې هغه فلزي قلم له جېبه راوايست، په لاس کې مې ورکښېښود او ورته ومې ويل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- دومره هم تش لاس نه یم لکه ته چې فکر کوې. صرف له یو څو تازه رارسېدلیو لیکونو څخه مې په منډه-منډه عکسونه واخیستل.

د دې خبرې په اورېدو یې سترګې وځلېدې، په خوشحالی یې قلم ته ورحمله کړل او ویې ویل:

- ستا پر هوښیارۍ باوري وم. اوس نو ډاډه شوم چې هېڅکله به دې ونه بایلم.

ادیټ تر پورتنی خبرې سملاسي وروسته پاڅېده او یوې کوټې ته ولاړه. له هغې خوا چې راغله یو اورلګیټ یې په لاس کې وو. وپوهېدم چې هغه اصلاً څښي دی.

کښېناسته او ویې ویل:

- دا کامره ظاهراً یو اورلګیټ دی کټمټ لکه هغه فلزي خودکار قلم.

ومې ویل:

- ولې هغه خودکار نه راکوې؟

ویې ویل:

- امر راته شوی چې هغه قلم هغوی ته ورکړم. بل ځل چې مو سره ولیدل بیا همداسې کامره دربدلوم.

وروسته یې د دې نوي کامرې چل راوښود او ویې ویل:

- زموږ د مالوماتو له مخې د حالاتو د بدلېدو له امله جرمنیانو دا ګړی په تهران کې خپل فعالیت په ټپه درولی دی او له شک پرته به ته هم یو بل ځای ته استول کېږې او دا ټیک هماغه څه دي چې موږ یې غواړو.

زه پاڅېدم او د تګ تابیا مې وکړه. ادیټ وپوښتل:

- کله سره وینو؟

ورته ومې ویل:

- سبا مازیګر پر څلور بجې زما په کور کې درته منتظر یم.

بیا یې وپوښتل:

- فکر نه کوې چې هلته مو لیدنه خطرناکه ده؟

اوږې مې وځنډلې او ومې ویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

-نه، داسې ښيو چې زه و ته ملګري يو. مانا دا به يو عاشقانه ملاقات وي.

اديټ وخندل او ويې ويل:

-نو ولې په حقيقت کې هم همداسې نه ده؟

تر لاس مې ونيوله او ورته ومې ويل:

-نه، اصلي کيسه بل رنګ لري!

هغه تر زينو پورې راسره راغله. د (ښه شپه) په ويلو ځنې راببل او په منډه په زينو کې کښته شوم. د موټر تر روانولو وروسته په خندا شوم، ځکه اديټ او د هغې ملګري مې غولولي ول او په دې سره مې خپل ژوند له ګواښ سره مخامخ کړی وو. خو په کيسه کې يې نه وم. څه کم نهه بجې وې. په ډېر تکليف مې يو ټليفون پيدا کړ او هانس ته مې زنګ وواهه. هغه زما د ږغ له اورېدلو سره سم راته وويل:

-چابک دې بيکونه راواخله او دلته راشه!

کور ته ولاړم. بيکونه مې راواخيستل او د جرمني سفارت ته ورغلم. له ورسېدو سره سم يې يوې کوټې ته بوتلم. هلته يو پوخ‌عمره سړی ناست وو. هانس هغه ته وروښودم او ويې ويل:

-ډاکټره دا هماغه کس دی چې يادونه مې يې درته وکړه...

دغې مبهمې او ماناداري معرفي ډېر سخت وډارولم او هغه سهار راياد شو چې ډاکټر ګوان د الفرډ په امر مارګريتا مسمومه کړه. ويل مې لکه چې له اديټ او د يهودانو له جاسوسي سازمان سره زما له پټو اړيکو خبر شوي او اوس غواړي د دغه ډاکټر په وسيله مې يې ږغ او ږوغه له دنيا تېر کړي. تاب مې ونښو او له هانس څخه مې وپوښتل:

-زما او ډاکټر يې سره څه؟ په دې اړه دې ما ته څه نه ول ويلي.

هغه مې په دننني نارامۍ وپوهېد او ورو يې وويل:

-ستا په ګټه کيسه ده، انديښنه مه کوه، هيڅ خبره نشته.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د هانس خواب نه یوازې قانع کوونکی نه وو، بلکې د یادې معرفی په شان مبهم هم وو او زما د نارامی له کمولو سره یې هېڅ مرسته ونه کړه... بیا مې هم صبر وکړ تر څو وګورم چې خبره کوم پلو ځي.

ډاکټر له عمره پوخ او کمزوره شیناوي(سپین او نور) وېښتان یې لرل. وړاندې راغی، د سینې جېب له راسته جیب څخه یې لاس راوابست، تر زنه یې ونیولم او مخ یې چپې او راستې خوا ته تاو راتاو کړ. د مخ هر غړی یې په ځیر-ځیر راوکوت. د دغو معایناتو په اوږدو کې مې زړه په ځای کې نه وو او هېڅ نه پوهېدم چې څنګه غبرګون وښیم. ویل مې که مې وژني، نو مخ مې بیا ولې راګوري؟ پلان یې څه دی چې داسې ګونګ او مرموز اخته دي؟

معاینات چې ختم شول ډاکټر له هانس سره په جرمني ژبه لګیا شو. دا چې زما جرمني نه وه زده، نو ډېر مې طبیعت خته شو او فکر مې وکړ چې حتماً مې هانس ته د وژلو طریقه بیانوي. بله بدبختي دا وه چې د هانس په خبره کې مې هم هېڅ داسې څه نه لوستل چې تري پوهېدلی وای او دا چې څه ناڅه نارام ښکارېد د دې وجه خو د حالاتو ناڅاپي بدلون وو.

تر څو شېبو چوپتیا وروسته هانس ډاکټر ته مخ کړ او په انګلیسي یې ورته وویل:

- که ستاسې اجازه وي موضوع به له ده سره هم شریکه کړو او که یې خوښه شوه، نو په کار به شروع وکړو.

ډاکټر اوږو ته څنډ ورکړ او ویې ویل:

- چې څنګه دې خوښه وي هغسې وکړه، مګر باید ووایم چې دا کار سل سلنه ستا او د ده په ګټه دی.

د هغوی تر منځ دې سوال او ځواب زما نارامي او وېره یو څه راکمه کړه. له هانس څخه مې وپوښتل:

- زما په اړه دې څه پرېکړه کړې ده او ولې دې وختي نه خبرولم؟

ویې خندل او ویې ویل:

- غوږ ونیسه، پرېکړه دا ده چې په جنوب کې تر منزل پورې ستا د سهي سلامت رسولو په پار دې باید په خبره کې یو څه لاس ووهو...

د دې خبرې په اورېدو شا ته شوم او ومې ویل:

- په مطلب دې پوه نشوم... ایا غوږې د پلاستیکي جراحي په وسیله مې خبره او کړه-وړه رابدل کړي؟ نه، نه، زه دې کار ته غاړه نه ږدم. له خپلې اوسنی بڼې بېخې راضي یم. دا پلان مو پر یو بل چا عملي کړئ.

هانس چې راته غوږ-غوږ وو او په څلورو سترګو یې راته کتل، زما د خبرو تر تمامېدو وروسته وویل:

- خان سرنا خلاصه-سرنا خلاصه مه کوه. په دومره لنډه وخت کې پلاستیکي جراحي کله امکان لري؟ ډاکټر غوارې په یوه بله طریقه دې په یو بل چا بدل کړي او وروسته چې هر وخت وغوارې کولای شې په یو څل مینځلو بېرته خپلې اصلي څېرې ته ستون شې. دا یو ډول مېکپ دی. له دې پرته بله چاره هم نشته، ځکه ته یوازې نه یې، بلکې یو لړ ډېر مهم اسناد او ثبوتونه هم درسره دي چې باید له ځان سره یې یوسې. ښه، اوس دې خوښه ده؟

خان مې پر یوه دوه‌لارې ولاړ ولید. تر یو څو سوچ وروسته مې ورسره خوښه کړه. چې رښتیا شي د هغوی دا چل ما ته ګټور وو، ځکه له خپل نوي دوښمن څخه مې ځان پټولای شوای. شک نه وو چې ادیټ او ملګري یې اوس زما په دوکه خبر شوي ول او بیله وژلو یې نه پرېښودلم. ډاکټر راته وویل:

- وخت کم دی، ځان تیار کړئ!

ما سملاسي کورتی وایستله. هانس وویل:

- چې کار خلاص شو، ما خبر کړئ.

د هغه له وتلو سره سم ډاکټر زه یوه مېز ته چې یوه تشه کاسه پر پرته وه، کښېنولم او خپله د برقي منقل خوا ته ولاړ. له هغې خوا یې په یوه لوښي کې ایشېدلې اوبه راوړې، هغې تشې کاسې ته یې ورتوی کړې. وروسته یې راته وویل چې سترګې پټې کړم. یو څو څاڅکي کیمیاوي مواد یې اوبه ته ورواچول. بودم مې مخ سوځت

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وکړ... سره له دې چې کاسه پر عادي مېز پرته وه، بیا یې هم اوبه ایشېدلې. د مغ سوځېدنه مې وار په وار زیاتېدله اخیر ما چې ویل یو څوک مې مغ راپوسنوي ډاکټر وپوښتل:

- مغ دې سوځي که نه؟

په نارامی مې ورته وویل:

- ډېر وخت کېږي. نژدې ده چې له وسه مې ووزي.

هغه په سره سینه راته وویل:

- وېرېږه مه، مشکل نشته. پام چې سترګې خلاصې نه کړې!

مغ مې داسې ګرم شوی وو لکه اور چې یې اخیستی وي... اخیر مې له توانه ووتله، مېز نه مې سوک کش کړ تر څو ډاکټر وپوهوم چې اوبه تر ورخ اوړي. مګر هغه مې هماغسې بیخاره شا ته ولاړ او پر سر یې لاس را ایښی وو. راته ویې ویل:

- لږ زغم لا وکړه، د مغ سوځت دې اوس در اراموم!

له دې سره یې پر مغ یو ډول کریم راوموښل. تر یو بریده یې سوځېدنه کمه کړه. بیخي ډېر وخت یې همداسې د بخار له پاسه مغ رانیولی وو. په زړه کې مې ویل چې د مغ پوست به مې اوس ټوله شوړېدلی وي او که په هنداره کې وګورم، نو له خانه به مې تراه[1] وشي...

یو وخت ډاکټر تر نخرګ لاس را لاندې کړ. له څوکۍ څخه یې ولاړ کړم او د سترګو پرانیستلو یې راته وویل. د خونې ټول شیان زرغونه راته ښکارېدل... ترې ومې پوښتل:

- مغ مې څه رقم شوی دی؟

هغه وخندل او ویې ویل:

- هېڅ، یو څه یې رنګ بدل شوی دی.

بیا یې پر یوه اوږده چرمي څوکۍ څملولم. پر خپل مغ مې د لاس تېرولو زړه نه درلود. یو ډول وارخطایي رالوېدلې وه. زړه مې غوښتل چې هماغه شېبه دباندې

---

1 بد راتلل

ازادي هوا ته ووزم او له دې سوځوونکې تودوښې ځان خلاص کړم. ډاکټر مې سترګې په يوه توره پټۍ راوتړلې او راته اړم شو...
خدای خبر چې څه يې راکول. د کار تر خلاصېدو وروسته چې له څوکۍ څخه راکښته شوم هغه يوه کوچنۍ هنداره راکړه. له ډېرې حيرانۍ مې سترګې رډې-رډې راوختلې... لس کاله زوړ شوی وم. تر سترګو لاندې، له غوږونو سره او د خولې پر شاوخوا مې ګونځې دومره طبيعي ښکارېدې چې ما ته يې هم شک راواچاوه. د سر وېښتان مې شناوي(سپين او تور) شوي ول او کټمټ لکه د تياتر يو ممثل داسې په بله څېره اوښتی وم... مګر دغه مېکپ د سينما او تياتر له هغه سره يوه دنيا توپير درلود.
- څه يې وايې؟
هنداره مې بېرته ډاکټر ته ورکړه او په ځواب کې مې ورته وويل:
- هېڅ، بس دې ته خوشحال يم چې خپل بوډاتوب مې تر وخت مخکې وليد.
ډاکټر يو ښيښه‌يي بوتل چې له يو ډول پوډرو ډک وو، راکړ او ويې ويل:
- منزل ته له رسېدو سره سم دغه پوډر په اوبو کې واچوه او مخ په ومينځه، څېره به دې بېرته په خپله اصلي بڼه شي. دا له ځانه لېرې نه کړې ګوره.
ترې ومې پوښتل:
- ازاد يم او که نور کار هم شته؟
ويې ويل:
- ازاد يې، نور کار نشته. خو ته صبر چې هانس راولم، راته منتظر دی.
وروسته لږ په فکر کې شو او زياته يې کړه:
- مګر نه، ښه ده چې خپله يې ليدو ته ورشې. فکر نه کوم چې په اول نظر به دې وپېژني.
ډاکټر تر دروازې راسره راغی، لاس يې راکړ او راته ويې ويل:
- سفر دې په خير مصنوعي بوډا صاحبه!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دواړه به جدا شوو. هانس له راکټلو سره سم وپېژندم، وړاندې راغی، په خبر

خبر یې راته وکتل او ویې ویل:

- ډېر بدل شوی یې. که ډاکټر په ټیلیفون کې دله سنا د رانګ خبر نه وای راکړی.

خدای خبر چې پېژندلی به مې وای. ډېر ښه. اوس دې نو د چا پلار هم نشي

پېژندلای!

ورته ومې ویل:

- فکر نه کوم چې داسې خوک دې وي چې زما ربښتینې څېره دې هم وپېژني.

هانس پر خوکۍ کېناست او ویې ویل:

- اشتباه کوې. د متفقینو ځینې پټ ماموران دې پېژني. مګر اوس ان که کریستین

هم درسره مخ شي، پېژندلای دې نشي.

وروسته یې ساعت ته وکتل او ویې ویل:

- د شپې یوه بجه ده او نه باید سهار لمرخاته مهال حرکت وکړې...

بیا پاڅېد، څېل مېز ته ورغی، له جعبې څخه یې یو پنډ بند پاکټ راوایست، رابې

کړ او ویې ویل:

- خبرې مې په ښه غوږ واوره او حافظې ته یې وسپاره... دغه پاکټ باید د ولف

ګنګ په نامه یوه کس ته ورکړل شي. نوموړی په فارس خلیج او ځینو نورو سیمو

کې زموږ د شبکې مسوول دی. په ونه دنګ او ښنې سترګې لري. د سر وېښتان یې

کم دي او شا ته یې اړوي. څېره یې رنګ‌الوتې. باړخوګان یې بوک، زنه یې نری او

غاړه یې ډنګره ده.

ومې خندل او ومې ویل:

- دا خو تیار یو کولنګي چرګ دی...

هانس وخندل او ویې ویل:

- ټیک همدا شی دی. مګر چې فکر کوې هغومره نکره، خیرک او چالاک دی...

راشه چې یو عکس یې هم دربنکاره کړم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د مېز له جعبې څخه يې يو عکس راوايست او ما ته يې راکړ. ور څخه ومې پوښتل:

- له دې ښاغلي سره بايد چېرې ووينم؟

هانس يوه پېچلې نقشه پر مېز هواره کړه، له عباس بندر سره پر يوه ښېتې نقطه يې گوته کېښوده او ويې ويل:

- دلته. د دې ځای نوم ابسين دی او د عباس بندر په څلېرويشت کېلومترۍ کې پروت دی.

ما د ولف گنگ عکس پر مېز کېښود او ومې ويل:

- فکر نه کوم چې له ولف گنگ سره د شناخت لپاره دې يوازې د هغه ځانگړنې کافي وي...

هانس پر اوږه وټپولم او ويې ويل:

- خبرې مې لا نه دې خلاصې شوې... يو عالم شيان پاته دي.

وروسته يې يو مربع شکله زرغون اورلگيت راوښود او ويې ويل:

- کله چې له ولف گنگ سره مخامخ شوې، نو په دغه اورلگيت به سگرېټ ولگوې... هغه به ستا د دې حرکت په ليدو سره سملاسي د خپل پتلون له کېڼ جېب څخه کېمې د همدغه اورلگيت جوړه راوباسي او خپل سگرېټ به په ولگوي. البته په يوه توپير. هغه دا چې د ده د اورلگيت رنگ به نارنجي وي.

هانس تر يوې لنډې دمې وروسته زياته کړه:

- وروسته به ستا لوري ته درشي او په فارسي به درڅخه وپوښتي: شپه چېرې تېروې؟ ته به يې په ځواب کې ورته ووايې: زه هم نه پوهېږم... په دې ډول به سره شناخته شئ...

هانس خپل سيگار ته تيلی وواهه او ويې ويل:

- په اصفهان کې يو نفر درته منتظر دی. له رسېدو سره سم به اړيکه ورسره ونيسې... دغه لنډ ماموريت بايد ډېر چټک تر سره شي.

ماموریت دا وو چې په اصفهان کې له یوه سړي سره د هغه په کور کې یو په یو ووینم. هغه په جلفا کې د ارامنه کلیسا شا ته اوسېد او دنده یې شراب جوړول او خرڅول ول. ما ده ته د هانس پاکټ ورکاوه او ده ما ته یو لیک راسپاره. دغه لیک بیا ما په ایسین کې ولف ګنګ ته ور رساوه.

هانس د یاد شراب‌پلورونکي ځانګړنې او د پېژندلو شفر توري په توري راوښود او ما حفظ کړ... د تګ پر وخت یې یو ماشیندار هم راکړ. پر مخونو مو سره ښکل کړل او له دفتره یې راووتم.

څه باندې څلور بجې مهال د سفارت له باغه راووتم. په ښار کې مې د موټر ټانکي ورډکه کړه. لمر لا سترګه نه وه راښکاره کړې. د شخصي موټرونو سېلاب مخ پر اصفهان ورخوشي وو. دا ټول د تهران اوسېدونکي ول چې د متفقینو له برید څخه د ځانژغورلو په نیامت یاد ښار ته روان ول.

ډېر ګړندی روان وم او هڅه مې کوله له نورو موټرونو مخکې شم. څکه باید د شپې پر لس بجې د هغه شراب‌پلورونکي کور ته رسېدلی وای. په عین حال کې خپلې شاوخوا او تېرېدونکو موټرونو ته هم څیر وم. د اديټ او هغې د ملګرو له اړخه مې یو څه زړه په هوا وو[1]. پوهېدم چې سرګردانه به هره ګوښه راپسې لټوي... تر قم چې څو کېلومتره تېر شوم د سړک پر غاړه یوه نفر د درېدو په پار لاس راته اوچت کړ، خو ما سر خلاص نه کړ...

په دودبک کافه کې مې یوه لنډه دمه وکړه او غرمنی مې تر وخت مخکې وخوړله، څکه ګنه‌ګوڼه نه وه او همدا د ځان مړولو یو ښه فرصت راته ښکاره شو. بېرته روان شوم... اصفهان له تهران او نورو سیمو څخه په ورغلیو انسانانو تر سړمو ډک شوی وو. په هېڅ هوټل کې ځای نه وو. زه هم د نورو کسانو په تقلید د شپې تر لسو بجو په خپل موټر کې څزه شوم...

پر نهه بجې مې چابک‌چابک یو څه خواړه تیار او همالته په موټر کې تر مری تېر کړل. څه کم لس بجې د جلفا خوا ته وخوځېدم... د کلیسا مخې ته چې ورسېدم

---

1 *یانې اندېښمن وم.*

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ذهن نه مې بو فکر راغی، موټر مې همالته ودراوه او پلې او تش لاس د شرابپلورونکي کور ته ورغلم. پلان مې دا وو چې د احتیاط له مخې یې له کوره راوباسم او په موټر کې د لیکونو راکړهورکړه ورسره وکړم. یوازې مې توپنچه راسره راخیستله.

د بوې نرۍ کوڅې په منځ کې مې رابنودل شوی کور پیدا کړ. د کور دروازه لنډه او پورتنۍ برخه یې ختېنه وه. خر پر ښکارېد. خنځیر مې یې دوه خله وشرنګاوه... د پېژندلو شفر مو دا وو چې د دروازې له خلاصېدو سره سم زه خپل نیمسوځېدلی سګرېټ د وره پر درشل مړ کړم او ورته ووایم چې زما د ماینې ستا شراب ډېر خوښېږي، مګر دا وار خواږه شراب غواړم... هغه زما د یادو خبرو تر اورېدو وروسته باید خپل ورسره الیکین څراغ اوچت ونیسي، پیلته یې لږ ورکښته کړي او بیا یې ما ته راکړي...

د خنځیر تر شرنګولو وروسته چا ځواب رانه کړ... بیا مې وشرنګاوه... څو شېبې وروسته مې پام شو چې ور خلاص دی... ورو او په ډېر احتیاط مې لږ غوندې ټېله کړ... یوه کمزوره رڼا تر سترګو کېده. نه پوهېدم څه وکړم؛ کور ته ننوزم او که له همدې ځایه بېرته ستون شم؟ پلټونکی حس مې راوپارېد او د شرابپلورونکي برخلیک لږ اندېښمن کړم. له ځانه مې وپوښتل: ایا پر سړي یوه ټکه رالوېدلې ده او که ما ادرس غلط کړی دی؟

پر ذهن مې زور راوست، پته هماغه وه چې هانس راکړې وه. وضعیت اضطراري او ځنډ تاواني وو؛ یا باید کور ته ننوتلای او یا بېرته ګرځېدلای، مګر د شرابپلورونکي په برخلیک له ځان خبرولو پرته ستنېدنه ښه نه وه... پرېکړه مې وکړه او کور ته ننوتم. په دې خوشحاله وم چې پاکټ مې نه وو راسره راخیستی. په یوه نري سوپ (دالان) کې چې دېوالونه یې لوګیو وهلي ول، تېر شوم. د سوپ په پای کې مې پر یوه مېخ راځوړند الیکین څراغ پام ور واړاوه... ښی خوا ته تاو شوم. یوه کوچنۍ غولې ته چې دوې زینې ورکښته شوې وې، راووتم... په مخامخ کوټه کې رڼا وه، مګر هېڅ ږغ نه اورېدل کېدی. په لوړ اواز مې ناره کړه:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

جبري باسـ؟ څوک شته؟

چا خواب رانه کړ. ان د بو بل شي اواز مې هم وانه وريد... راسته لاس مې بر توپنچه پروت وو. په زينو کې ورکښته شوم... په غولي کې بو څو شيبې پښه‌نيولی او بيا مخ پر هغه کوټه ور روان شوم. د هغې دروازه له غولي څخه بو څو زينې پورته وه.

هره خوا تنګوونکې چوپتيا خپره وه. کور د يوې هديرې غوندې خاموش وو. د کوټې په کوچنی کړکی کې مې سترګې وګنډل شوې. له لوګي‌وهلو ښيښو څخه بې بوه نيمزاله ژړه رڼا راوتله. بو ځل بيا مې په خپل ږغ چوپتيا ماته کړه او ومې ويل:
- ايا څوک شته؟

بيا هم هماغې وحشتناکې خاموشی زما اواز تر ستوني تېر کړ. له هر څومره زړورتيا سره-سره مې په زړه کې بو ډول ډار خاله کړې وه. وېرېدم چې هسې نه بو څوک مې ناڅاپه ووليي. که څه هم کولاي مې شول چې پر راغلې لار بېرته له کوره ووزم، مګر پلټونکې حس ارام ته نه پرېښودم. غوښتل مې د شرابپلورونکي له حاله خان خبر کړم. له يوې ډېرې بدې پېښې پرته بل هيڅ شي د هغه مخه نشوه نيولای... په همدې فکرونو کې مې پښه له لومړی زينې سره ولګېده. پر توپنچه مې لاس تېر کړ، خو د راايسـتلو اړتيا مې بې ونه ليده... ورو-ورو او په احتياط په زينو کې پورته شوم. د دروازې دواړې پلې د يوې ګوتې په اندازه خلاصې وې... پاس مې وکتل؛ د دروازې سر بام ته رسېدلی وو...

حيران وم څه وکړم؛ ايا توپنچه په لاس کوټې ته ننوزم که همداسې عادي د بوه ګيراک په شان؟ په دې شېبه کې مې د هر ډول پېښې انتظار درلود. په دې نوې ماموريت کې راته ويل شوي ول چې هيڅ شي او چا ته په عادي سترګه بايد ونه ګورم... له هر څه او هر چا سره بايد په احتياط مخامخ شم. د دروازې د پلو ترمنځ له شته چولې څخه مې کوټې ته وکتل، کوم پوښتنه‌پاروونکی شی مې په سترګه نشو. ويل مې ښايي تشه وي او څوک پکې نه وي، مګر بيا بې هم تلاښې او پلټنه اړينه وه... دا بوازنی هغه ځای وو چې د شرابپلورونکي درک مې پکې لګولای شوای.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د بوټ په نوک مې دروازه ټېله کړه او یودم پر ځمکه له یوه پروت جسد سره مخامخ شوم. لاړې-لاړې سپین و تور پتلون او یخنکاک یې په تن ول. د پروتې دول بې داسې وو لکه مړ چې وي، مګر شاوخوا یې وینه نه لیدل کېده. ویل مې ښایي خفه کړی بې وي.

په کوټه کې یوه زړه رنګ‌بایللې سټرنجي هواره وه او په تاخچه کې یو الیکین څراغ چې هنداره یې دودجنه وه، پروت وو. بیا په دوو زړونو کې وم چې وګرځم او که د سړي د وژل کېدو دول ځان ته مالوم کړم؟ غالب ګومان مې دا وو چې همدا جسد د هماغه شرابپلورونکي دی چې باید ورسره لیدلي مې وای.

د مړي پر سر یو خړ ټوکر هوار وو. کرار کوټې ته ورننوتم. جسد ته له رسېدو سره سم مې له وسله وال جېب څخه لاس راوایست او ټوکر مې ترې لیرې کړ. د هغه د نورو وېښتانو په لیدو مې ټکان وخوړ، ځکه ما ته ویل شوي ول چې د شراپلورونکي وېښتان شناوي(تور و سپین) دي... نو دا څوک کېدای شي؟ تر یو څه فکر کولو وروسته دې پایلې ته ورسېدم چې ښایي دغه نفر د شرابپلورونکي له خوا وژل شوی وي، مګر څنګه؟

د قتل د علت مالومولو په پار مې خپله ښی پښه تر جسد لاندې کړه تر څو د شا پر تخته یې واړوم، خو په همدې شېبه کې مړی یودم راژوندی شو، په یوه ګړندي حرکت یې تر پښه ونیولم او ځان ته یې ورکش کړم. دا حمله دومره ناڅاپي وه چې هېڅ پوه نشوم او چې سر مې خلاصاوه بیا پر ځمکه پروت وم. سړی لکه یوه وږې پړانګ نه چې ښکار په لاس ورشي، په یوه ټوپ راباندې راوغورځېد او لاس یې تر زنه رالاندې کړ. په دې دول یې غوښتل د غاړې او مخ د عضلو د درد په وسیله مې له پښو وغورځوي. توپنچه مې په جېب کې وه، لیکن په هېڅ رقم مې لاس نه ورته جوړېد. مخ او مرۍ مې لېونی درد کاوه، په ډېر تکلیف مې ساه اخیستله.

په خپل کېڼ لاس یې زما ښی لاس پر ځمکه ځملاوه او پر ورغوي یې څنګون راکښېښود. ګواکې یوازې مې چپه لاس خلاص وو چې هغه هم د هېڅ ښې نه وو. سره له دې چې سخت ستړی وم او باید له مقاومته مې لاس اخیستلای، مګر د مرګ

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

او ژوند مسله وه او باید تر وروستی ساه مې دغړې وهلای. پر سترګو مې د هغه دوې ګوتې پرتې وې او مخ مې بې سم نه لید. په همدغه بد حالت کې بې په ماته ګوډه فارسي راته وویل:

- تسلیم شه، کنه په خفه دې وژنم!

د نجات هېڅ لار په نظر نه راتله، هغه په بشپړه توګه راباندې مسلط وو او د مرګ خولې ته بې ورکشولم. یو وخت مې خپلو پښو ته پام شو... راسته پښه مې کارولای شوه. له دې خطرناک حالته د خلاصون یوازنۍ لار دا وه چې هغه ته د دواړو پښو په منځ کې یو ټینګ ګوزار ورکړم... همداسې مې وکړل. خو ګوزار مې ونه کړ، بلکې پښه مې راغونډه او د هغه نس ته مې ټمبه کړه او په ټول خدای راکړي توان مې زور پر وکړ. د هغه له حرکتونو پوه شوم چې چل مې اغېزناک دی. هغه له دې حالته د راوتلو هڅه وکړه، مګر یوازنۍ لار یې دا وه چې راڅخه ولاړ شي. یو وخت مې حس کړه چې هغه سره سوسنټېږي، بېله خنډه مې په خپل چپه لاس د راسته لاس تر مرونډ ونیو او لاندې مې راکش کړ، همدا چې ګوتې یې زما له سترګو رانبوی او مخ ته مې یې وکتل، ومې پېژاند...

هغه یوسف ابراهیم وو، هماغه کس چې یوه شپه یې په قرنفل کافه کې د خدمتګار په لاس ادیب ته خپل کارټ راواستاوه. د سړي په پېژندلو مې په ګرده کیسه سر خلاص شو. پوه شوم چې ادیب او یهودي جاسوسي سازمان مې د وژلو پلان تړلی دی، مګر دې ته حیران وم چې څنګه یې تر دې کور پورې پل راپسې راخیستی دی! دغه راز وروسته راته روښانه شو.

هغه چې تر دې وخته یې سر لوړ نیولی وو، زما د چل له امله د ورپېښ شوي درد په وجه یې راکښته کړ. په دې ډول د یوه بل ګوزار موقع په لاس راغله؛ چپه لاس مې تر غاړه ورتاو کړ او راستې خوا ته مې راکش کړ...

یوسف ابراهیم له دې حالته د راوتلو په نیت خپل څنګون چې زما پر ښی لاس پروت وو، کش کړ او ما په همدې شېبه کې یو درونډ سوک پر دا پزه وواهه... وینې ترې را ایله شوې. اوس نو زما وار وو چې غېج ترې واخلم. په دواړو لاسونو مې تر

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مړي ونيو او پر څمکه مې راوويشت. پر دې مې بسنه ونه کړه، سربېره پر کښېناستم او سر مې بې څو واره له څمکې سره ور وجنګاوه. همدا چې د پتلون جېب ته مې لاس کړ چې توپنچه راوباسم، يو چا د شا له خوا تر مړوند ونيولم او ورسره سم مې بو ښځينه ږغ واورېد چې ويې ويل:

-ښور ونه خورې صدرالدينه، ويخښه ريما!

د توپنچې خوله يې پر سر را اينښې وه. توپنچه يې له لاسه راڅخه وکښله او ويې ويل:

-ولاړ شه... ډېر بيداره يې!

زه داده وم چې په دې مېکپ شوې څېره به مې هېڅکله ونه پېژني. ورو له يوسف ابراهيم څخه راپاڅېدم او د هغې ښځې خوا ته چې له اديټ پرته بل څوک نه وه، ورناو شوم او په کرماني لهجه مې ورته وويل:

- ويخښئ اغلې، فکر کوم تا او دغه ښاغلي چې پر ما يې بريد وکړ زه په يو بل چا غلط کړی يم!

اديټ زما په ليدو ټکان وخوړ، يو څه شا ته ولاړه، خپلې له حيرانی ډکې سترګې يې راپکې وګنډلې او په ټيټ ږغ يې وويل:

-رښتيا مو هم غلط کړی يې!

ورنه ومې ويل:

-ايا ستا دغه ملګری صدرالدين نه پېژني؟

ابراهيم د اديټ په امر تلاښي کړم او چې شی يې ونه موند، په نهيلی يې سر وخوځاوه... اديټ هېڅکله داسې نه وه انګېرلې چې ټول کش و پش او پلانونه به يې داسې په اوبو لاهو کېږي او له يوې ناشنا څېرې سره به مخامخېږي. له ډېرې هېښتيا يې سترګې رډې-رډې راختلې وې. ان ابراهيم يې هم اغېزمن کړ او په انګليسي يې ترې وپوښتل:

-چې دا سړی صدرالدين نه دی، نو څوک دی؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

اډیټ راته وکتل او تر یوې لنډې چوپتیا وروسته یې ځواب ورکړ:
- نه، موږ تېروتلي وو. دا د شرابپلورونکي ګیراک دی.
یوسف وویل:
- مګر پر دغه وخت خو ټاکلې وه چې صدرالدین دلته راشي... دا سړی ما ته شکمن ښکاري، باید تحقیقات ور څخه وکړو. ممکن صدرالدین خطر حس کړی او د ځان پر ځای یې دی دلته رالېږلی وي او خپله دباندې یو ځای څارو وي.
د یوسف ابراهیم خبرو اډیټ ته شک ورواچاوه. هغې سملاسي ما ته مخ کړ او په انګلیسي یې راڅخه وپوښتل:
- ستا نوم څشي دی او دلته د څه لپاره راغلی یې؟
ما داسې مخ ونیو لکه په انګلیسي چې نه پوهېږم او په فارسي مې ورته وویل:
- زه په انګلیسي نه پوهېږم!
یوسف ابراهیم وویل:
- باید ویې ازمایو!
وروسته له اډیټ سره د شرابپلورونکي د جسد په اړه ورغبد او ورته ویې ویل چې په تکاوۍ کې پروت دی. غوښتل یې ویني چې د شرابپلورونکي د وژنې د خبر په اورېدو څه غبرګون ښیم. په دې احمقانه ازموینه یې ځرګنده کړه چې لار و ګودر ځني ورک دي او نه پوهېږي چې څه وکړي. اډیټ ابراهیم ته وویل:
- تکاوۍ ته به یې کښته کړو او د شرابپلورونکي مړی به په وونو!
ابراهیم راوړاندې شو او راته ویې ویل:
- درځه!
ما ترې وپوښتل:
- چیرې مې بیاياست؟
اډیټ راته وویل:
- یو څه صبر وکړه!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ابراهیم له تاخچې څخه څراغ راواخیست او درې واړه له کوټې څخه ووتو...
ابراهیم مخکې، زه په منځ کې او ادیب تر شا راپسې وه. د غولي په ها بل سر کې له
سوپ سره نژدې په زینو کې کښته شوو... زېرخانه پراخه او نمجنه وه. د شرابو تېز
بوی پکې خپور وو. د زېرخانې پای ته یې بوتلم او هلته یې د یوه سړي مړی چې د
شرابو په یوه بېلر کې تر ځیګر پورې ډوب وو، راوښود. زه ونرېدم او یو څو گامه
شا ته ولاړم. ادیب را څخه وپوښتل:
- ته شرابپلورونکی پېژنې؟
- هو، زه یې گیراک یم، څنگه یې نه پېژنم؟
وروسته یې ابراهیم ته اشاره وکړه. نوموړی ورغی له بېلر څخه یې هغه جسد
راوایست، پر ځمکه یې واچاوه او ویې ویل:
- ورشه ویې گوره!
جسد ته مې وکتل. کړو وړو یې له شرابپلورونکي سره سر نه خوړ. یوه شوم چې
هغه نرې تېښېدلی او دوی یو بل څوک وژلی دی. ادیب بیا راته وویل:
- ولې چوپ یې؟
ما په اندېښمنه لهجه ورته وویل:
- ناسې انسان وژونکي یاست، دا شرابپلورونکی نه دی!
هغوی د دې خواب په اورېدو ټکان وخوړ... ابراهیم په انگلیسي ادیب ته وویل:
- نو دا مو یو بېگناه سړی وژلی دی؟
ادیب له ډېرې غوسې ځمکې ته لغته ورکړه او په تندی یې وویل:
- تر ټېخه احمقان یو!
له دې سره سمه د زینو پر خوا روانه شوه او ابراهیم ته یې وویل:
- دا سړی راروان کړه!
دباندې مې څنې وپوښتل:
- نو شرابپلورونکی چېرې دی؟ زه پولیسو ته خبر ورکوم!
ادیب یودم پر ځیگر توپنچه راکښېښوده او ویې ویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- د دې لپاره چې پولیس راخبر نشي، باید تا ووژنم او جسد دې زهرخانې ته وروغورځوم...

ما د زاریو په دود لاسونه لپه کړل او ومې ویل:

- د خدای لپاره ما مه وژنه... بد مې وکړل نه بې خبروم. ما پرېږدئ. وعده کوم چې دا هر څه هېروم او همدا اوس مخ پر کرمان روانېږم!

ادیب سر وښوراوه او ویې ویل:

- ته کرمانی یې؟

یوسف ابراهیم په انګلیسي ورته وویل:

- د دې سړي وژل موږ ته کومه ګټه نه رسوي او زه اوس هم پر شکمن یم. باید تر کرمان پورې یې تعقیب کړو. زړه ته مې نه لوېږي چې ظاهر او باطن به یې یوشان وي.

ادیب لږ په سوچ کې شوه، بیا یې وویل:

- همداسې کوو!

وروسته یې زما څخه وپوښتل:

- ته په څشي کې کرمان ته ځې؟

ځواب مې ورکړ:

- په خپل موټر کې!

دواړو سره وکتل. ابراهیم مخکې کړم او درې سره له کوره راووتلو. ما ادیب ته مخ کړ او ورته ومې ویل:

- زما توپنچه راکړئ او تاسې هم خپلې توپنچې جېبونو ته واچوئ. داده اوسئ تر هره وخته چې غواړئ ستاسې په واک کې یم.

هغې راته وویل:

- ته درځه، اوس لا وختي دی!

د شرابپلورونکي له کور څخه راووتو. پر لارې ادیب راڅخه وپوښتل:

- موټر دې چیرې دی؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ورنه ومې ویل:

- همدلته نژدې له کلیسا سره!

له بوې خوا دې فکر چې شرابپلورونکي به څنګه ځان ترې خلاص کړی او اوس به چیرې پټ وي، بوه شببه ارام ته نه پرېښودم. له بلې خوا لا هم پوره له خطره نه وم راوتلی او دغو دوو غوښتل تر کرمان پورې راسره ولاړ شي. البته دوی باید راباندې شکمن شوي وای. په هر صورت، ما ته اوس په‌کار وه چې د دوی په پلان کې وروخېژم او پر لارې یا هم په اصفهان کې ځان ترې ورک کړم... خو د دې نقشې عملي کول سخت ایسېدل.

هله هله زما موټر ته راورسېدو. اډیټ او یوسف ابراهیم شا ته او زه شټرنګ ته کېښناستم. ښار ته د تلو یې راته وویل. څه باندې لس بجې وې. لارې و کوڅې موټرونو پر سر اخیستې وې. اکثره خلک په خپلو موټرونو کې پراته ول. څهار باغ واټ ته چې ورسېدو، څنې ومې پوښتل:

- چیرې ولاړ شم؟

اډیټ راته وویل:

- همدلته ودرېږه!

وروسته یوسف ابراهیم کښته شو. اډیټ په انګلیسي ورته وویل:

- نه د ډاکټر په موټر کې راپسې شه او هغه ته ووایه چې د سړک په خوله کې راته انتظار شي.

وروسته یې ما ته وویل:

- اوس د یزد خوا ته درځه، خو پام دې وي چې مور په موټر کې درې تنه یو؛ یو ته او دوه نور هم زه او زما توپنچه!

په مطلب یې ورسېدم او په تېزۍ مې د یزد واټ خوا ته حرکت وکړ. د واټ په پیل کې مې د سړک پر غاړه یوه ولاړ موټر چې بتی یې لګېدلې، پام ورواړاوه. اډیټ وویل:

- د دغو موټر څنګ ته ودرېږه!

زما له درېدو سره سم له هغه موټره يو نفر بسته په لاس راکښته شو، زموږ د موټر شاتني سيټ ته راوخوت او له اديب سره په جرمني لګيا شو.

د موټر دننه ګروپ ګل وو او خبره مې بې سمه نه ليدله. مګر دومره وپوهېدم چې جرمني او د اديب د ولې سړی دی.

بېرته مې حرکت مې وکړ. خو ټول فکر و ذکر مې په هغه سړي کې وو. غوښتل مې مخ يې ووينم، څکه اواز يې شناخته وو.

د هوا له روښانېدو سره سم چې لا هم پر لارې وو. بالاخره وتوانېدم چې د تندي په هنداره کې يې مخ ووينم. ومې پېژاند، ډاکټر کومل وو. خو ثانيې مخکې مې يوه رګ هم دا نه ويل چې دغه کس به هماغه کومل وي چې زه او کورټ يې کور ته ورغلو او په ګډه مو د لادزه د تښتولو پلان جوړ کړ... د باور وړ نه وه. مګر حقيقت وو او ډېر شيان راته روښانه شول؛ د کورټ وژنه. د لادزه تښتولو د پلان ناکامي او يو عالم نورې کيسې چې تر دې دمه د ابهام په پردو کې نغښتې وې.

زړه ته مې تېره شوه چې دا بلاوهلی ډاکټر نه بوازې له بهودانو سره، بلکې د متفقينو له جاسوسي سازمان سره هم اړيکې لري او په ايران او منځني ختيځ کې جرمنيانو ته د ټولو ورا‌وښتو زيانونو لامل دی.

اوس مې د تېښتې اراده لا خواکمنه شوه او له خان سره مې وويل چې هر څنګه کېږي بايد خان وباسم. زما د دې نيت وجه له هغوی څخه وېره نه. بلکې په ابسين کې د ولف ګنګ د شتون پېښ ساتل ول. سهار شاوخوا لس بجې يزد ته ننوتو. د يوې مسافرخانې مخې ته مې موټر ودراوه. اديب راڅخه وپوښتل:

- ولې ودرېدې؟

ورته ومې ويل:

- هم موږ او هم موټر ارام ته اړتيا لري. بل دا چې ابا ورې نه ياست؟

ډاکټر کومل موسکی شو او اديب ته يې يو څه وويل. ورروسته دواړه کښته شول. خو زه يې هم له خان سره بوتلم. خو دقيقې وروسته يې زما د خوښې خلاف بېرته روانېدو ته مجبور کړم. له يزد څخه لس کيلومتره نه وو لېرې شوي چې يوه مخامخ

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

راروان موټر د درولو په نیته بتې راته فول و دیم کړې. اړخ ته یې ودرېدم. چلوونکي په نارامی او اندېښمنه لهجه راته وویل:
- بېرته وګرځه، لاره خطرناکه ده!
ادیب ورو پر اوږه وټپولم او ویې ویل:
- دا چټیات وايي، درځه، ټول مسوولیت یې پر موږ!
نیمکښي مې وروکتل او ورته ومې ویل:
- چې خطر پېښ شي بیا نو تاسې څه کولای شئ؟ ناحقه هم خپل او هم زما کار راکړوپوئ. نه، زه نه ځم او له همدې ځایه بېرته یزد ته ګرځم.
هغه ناشنا موټروان زموږ خبرې نه اورېدې. کله چې یې ولیدل زه دوه‌زړی یم، په زوره یې راته وویل:
- ولې ولاړ یې ملګرې، تاو شه!
موټر مې روان کړ. ادیب پر اوږه ټینګ ووهلم او ویې ویل:
- وادې نه ورېدل چې ما څه درته وویل؟ د هغه پر خبرو غوږ مه نیسه، هېڅ شی نشته او که وي هم په موږ څوک غرض نه لري.
د هغې خبرو ته له پاملرنې پرته لږ مخ ته ولاړم. بیا د سړک راستې خوا ته بنه ورنژدې شوم تر څو چپه طرف ته اسانه وګرځېدلای شم، مګر همدا چې شټرنګ مې کینې خوا ته تاو کړ، ادیب توپنچه پر څټ راونیوله او په ګواښونکې لهجه یې راته وویل:
- خر بیعقله زما خبره دې وانه‌ورېده؟ د هغه دا ایله کوه او سیده درځه!
په دې وخت کې زموږ موټر راکاڼ شوی او د سړک پر ها بله غاړه د هغه بل موټر مخ نه درېدلی وو. ادیب نه غوښتل هغه موټروان زموږ له خپلمنځي وضعیته خبر شي. موټر مې ګل کړ او ومې ویل:
- دا یې موټر دا یې تاسې. ما و خپل کار سره پرېږدئ. زه ستاسې غوندې له ژونده موړ نه یم چې حق ناحقه ځان د مرګ په خوله ورکړم.
کومل چې تر دې ګړیه چوپ ناست وو، راته وویل:

- زموږ ته او موټر دواړه پهکار یاست او له امر څخه د سرغړونې په صورت کې دې همدلته ماغزه در پاش-پاش کوو. هله به نو بیا موږ او موټر رښتیا هم سره پاته شو.

ما شټرنګ ته سوک ورکړ او ومې ویل:

- ولې سرټمبګي کوئ او نه منئ چې لار خطرناکه ده... زه چې مړ شم بیا نو تاسې څه کولای شئ، بس دوې به پښې به مو خپلې وي او دوې به نور پور کړئ او په یوه منډه به وتښتئ. کیسه ختمه!

اډیټ غوسه شوه او ویې ویل:

- هماغه امر دی؛ چټي وخت مه تېروه درځه. دا چې د شرابپلورونکي په کور کې مې ونه وژلې د دې مانا نه لري چې ته نو ازاد یې!

زه یې په خبرو کې ورولوېدم او ومې ویل:

- نو تاسې غواړئ ومې وژنئ؟ که مهرباني وکړئ او زما په باره کې مې له خپل نیت څخه خبر کړئ یو څه به ارام شم!

کومل غوښتل یو څه ووایي، خو د هغه ناپېژاند موټروان د پښنو ښکالو چې زموږ د موټر خوا ته راروان وو، چوپ کړ. دوی پر ما باندې شکمن شوي ول او په هېڅ وجه یې خپلې مخې ته نه پرېښودلم. فکر یې کاوه چې حتماً له هغه کس سره اړیکه لرم چې له شرابپلورونکي سره یې ملاقات درلود او غوښتل یې زما له لارې د هغه څرک ومومي. اډیټ چې موټروان ولید، توپنچه یې پټه کړه. هغه راغی زما دروازې ته نښتی ودرېد او راڅخه ویې پوښتل:

- ولې مې خبره نه منې؟

کومل ترې وپوښتل:

- تاسې دا ونه ویل چې پر لارې څه خطر دی؟

موټروان ورته وویل:

- د متفقینو ځواکونه دې خوا ته را روان دي!

اډیټ وویل:

- دا خو خطر نه دی!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

موټروان په پزه کې وخندل او ویې ویل:

-نه سهي وايې، مګر خطر د دوی نه، بلکې د اشرارو له خوا دی!

ما اديب او کومل ته مخ کړ او ورته ومې ويل:

-زه هم له هغوی ډارېږم.

اديب په ټينګار او جديت وويل:

-مګر زه يې په کيسه کې هم نه يم او غواړم سفر ته مو ادامه ورکړم!

ناشنا موټروان اوږو ته خنډ ورکړ او ويې ويل:

-پر ما ويل ول، نور ستاسې خوښه ده!

وروسته يې ما ته مخ کړ او ويې ويل:

-نو زما سره خو د شاتني ټاير په بدلولو کې لږ مرسته وکړه... اوس مې ورته فکر شو چې پنچر دی!

اديب ترې وپوښتل:

-نه يې خپله نشې کولای؟

هغه ځواب ورکړ:

-نه اغلې، زه وسايل نه لرم. که مو اجازه وي ستاسې د موټر له جيک څخه به کار واخلم. صرف يو څو دقيقې وخت اخلي.

د اديب امر ته منتظر نشوم او له موټره کښته شوم. کومل په لوړ اواز راته وويل:

-ژر کوه، وخت تېرېږي. د موټر شا ته ولاړم، ډيکی مې خلاصه کړه او جيک مې هغه موټروان ته ورکړ... هغه د ټاير په بدلولو کې د مرستې هيله راڅخه وکړه. يوځای د هغه د موټر خوا ته سره روان شوو، خو په ډېرې حيرانی مې وليدل چې د موټر شاتني ټايرونه جوړ تيار دي. ترې ومې پوښتل:

-کوم ټاير پنچر دی؟

چلوونکی د موټر د شا راسته ټاير ته ګونډې ووهلې، جيک يې تر لاندې کړ او په داسې حال کې چې هغه يې پورته کاوه، ويې ويل:

-راشه کښېنه او مرسته راسره وکړه چې پنچر ټاير دروښيم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ما يې هم ځنګ ته ګونډې ووهلې. وروسته هغه زما د موټر خوا ته يو نظر وکتل او ويې ويل:

-که مې الېکين ځراغ لرلای، پيلته مې ورکښته کوله او تا ته مې په لاس درکاوه... او تا...

د دې شفر په اورېدو مې تکان وخوړ. د هغه راته پام شو او ويې پوښتل:

- زړه ته دې لوېدل چې د جلفا پرځای به دلته سره ووينو؟

وروسته يې خپل مصنوعي برېتونه ايسته کړل او ويې ويل:

- ښه په خير مې مخ ته وګوره، زه هماغه شرابپلورونکی يم چې په جلفا کې دې بايد ورسره ليدلي وای...

رښتيا يې ويل؛ تولې نښې او کړه‌وړه يې هماغه ول چې هانس راته ويلي ول. له ډېرې خوشحالۍ مې وزرونه وکړل. شرابپلورونکي راته وويل:

- دا دوه نفره درباندې شکمن شوي دي!

- پوهېږم او اوس بايد په يو نه يو چل ځان ځنې خلاص کړم... څو دقيقې وروسته دريم کس هم رارسېږي. رښتيا زه دې ځنګه پيدا کړم؟ له خپله کوره څه وخت راووتې؟ ستا دې کيسو ته به شيطان هم ګوته په غاښ پاته وي!

هغه وويل:

- لنډه به يې درته وکړم: کله چې ستا سره د ژمنې تر ټاکلي وخت مخکې دروازه وټکېده، ويل مې ښايي کوم مشتري وي. ورور مې ورغی، مګر کله چې مې د هغه تر شا وسله وال کسان وليدل، سر مې خلاص شو او بېله ځنډه د بام له لارې وتښتېدم. دباندې په کوڅه کې ستا په انتظار يو ځای پټ شوم... مګر کله چې مې د کوڅې په خوله کې ستا سره يو سيوری وليد، نو په غوږونو کې مې د خطر زنګونه وکړنګېدل او له درنژدې کېدو لاس پر سر شوم. هغه سيوری همدغه مېرمنه وه چې اوس هلته په موټر کې د هغه سړي تر څنګ ناسته ده.

ترې ومې پوښتل:

- وروسته څه وشول؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د کليسا تر دروازې پورې مې تعقيب کړې او وروسته هم لکه سيوری درپسې وم.
تر تا لس دقيقې مخکې له يزد څخه راووتلم او د کيسې پاته برخه خو نو دا دی وينې. زړه ته مې نه لويده چې پلان به مې دومره بريالی شي. له ډاره ان بېرته کور ته هم نه ولاړم چې د خپل ورور له برخليکه خان خبر کړم.
ما سر خوړند ونيو او په ټيټ اواز مې ورته وويل:
- هغه ته د مغفرت دعا وکړه!
سړي چې دا خبره واورېده د جيک ډنډه يې له لاسه خطا او پر ځمکه ولوېده...
پر خيګر يې د صليب نښه رسم کړه. سترګې يې اوښلنې شوې او ويې ويل:
- هغه يې وواژه؟
- هو ملګرې! جسد يې د شرابو يوه بېلر ته وراچولی وو. قاتل هماغه کس دی چې اوس يو ګړی وروسته رارسيږي.
- څېره مې يې ښه په ياد ده!
زما د موټر هارن ووهل شو... شرابپلورونکي وويل:
- ورشه وګوره څه وايي. له هغې خوا د پانو بکس درسره راوړه... سر دې خلاص شو؟
موټر ته ورغلم... اديټ په درد راڅخه وپوښتل:
- ټاير لا نه دی بدل شوی؟
ځواب مې ورکړ:
- دوې درې دقيقې وروسته يې کار خلاصيږي!
وروسته د موټر شا ته ولاړم او هغه پاکټ مې راواخيست چې شرابپلورونکي ته مې بايد ورکړی وای. پاکټ مې په يوه غوړه او خيرنه ساېه کې وپېچه، د پانو په بکس کې مې کښېښود او پانې مې قصداً سره وشرنګولې چې اديټ او کومل يې پږغ واوري. بيا مې بکس شرابپلورونکي ته وروړ. هغه د بکس له اخيستلو سره راته وويل:

- د دې ناپنچر شوي ټایر تر بدلېدو مه ځه، ځکه ممکن هغوی پر ما هم شکمن شي...

چابک-چابک یې کار خلاص کړ او راته ویې ویل:

- زه نټونه ترم ته هغوی ته ورشه. بیا زه در ږغ کوم او راغواړم دې!

د شراب‌پلورونکي له پلان او په موټر د اخته کېدو له هدف ځخه نه وم خبر، مگر زړه مې راته ویل چې اډیټ او کومل ته یوه بده پېښه گوري او که دا پېښه زموږ په گټه تر سره نشوه، نو د دواړو کار کړوپ وبوله.

د خپل موټر اړخ ته چې ورسېدم، سگرېټ مې ولگاوه... اډیټ او کومل په جرمني سره گړېدل. دغه شېبه مې د یزد خوا ته تللي سړک ته پام ورواوښت. زموږ خوا ته یو راروان موټر مې ولید، لویه دوړه په پسې وه. پوه شوم چې دا له یوسف ابراهیم پرته بل ځوک نشي کېدلای... زړه مې په ټوپونو شو، ځکه د هغه په راتلو سره زموږ دوو معامله لږ نوره هم سختېده.

شراب‌پلورونکي ته مې وکتل... د هغه هم موټر ته فکر شوی وو او د سر په خوځولو یې وپوهولم چې لږ صبر وکړم. موټر بالاخره رانژدې شو او راغی زموږ د هغه شا ته یې بریک وواهه. اډیټ او کومل د شا له هنداري ځخه یوسف ابراهیم ته د ورتلو په اشاره لاس وښوراوه... هغه سمدستي پلی او زموږ خوا ته راغی. اډیټ په انگلیسي ترې وپوښتل:

- خیریت وو چې دومره وځنډېدې؟

یوسف ابراهیم ځواب ورکړ:

- هو خیریت دی، موټر یو کوچنی عوارض وکړ، څو دقیقې یې وځنډولم. تاسې ولې دلته ولاړ یاست؟

اډیت ما ته په اشاره وویل:

- له هغه ځخه پوښتنه وکړه... هغه موټروان چې د خپل موټر ټایر بدلوي له کرمان ځخه راروان دی او وایي چې لار خطرناکه ده...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

یوسف ما ته وکتل. ما ورته وویل:

- ستا ملګري بیا هم تینګار کوي چې باید سفر ته ادامه ورکړو!

ابراهیم راته وویل:

- دلته موږ امر کوو او ته یې باید بېله پنج و پړوسه ومنې.

د شراېپلورونکي اواز واورېدل شو چې ویې ویل:

- ملګرې زما کار خلاص شو!

زه په چټکو ګامونو ورغلم... هغه د پانو بکس ته اشاره وکړه او تر شوندو یې لاندې یې راته وویل:

- ستا مطلوب مالومات او یوه دانه توپنچه په بکس کې پرته ده. درسره وایې خله او خه په مخه دې نبه. زه هم له دوی څخه د مننې کولو په پلمه درپسې کېږم او کله چې مې وتوخل ته د موټر د چپې خوا څخه هغه توپنچه په لاس رانبکاره شه، نور بې پر ما!

ما هم جیک او د پانو بکس راواخیست او روان شوم... شیان مې په ډیکی (ډاله) کې کېښېنودل. هلته مې په بیداری بکس پرانیست او په یوه پانه کې پېچلې توپنچه مې راواخیسته... وروسته ناحقه په پانو او جیک اخته شوم تر څو شراېپلورونکی راورسېږي.

هغه په داسې حال کې چې له خپل پتلون او یخنکاک څخه یې دوړې څنډلې زموږ موټر ته رانژدې شو، د یوسف ابراهیم بغل ته ودرېد، په لوړ اواز یې له اډیټ او کومل څخه منه وکړه او ویې ویل:

- لار خطرناکه ده، نو که بېرته یزد ته وګرځئ خانونه به مو له مرګه ساتلي وي!

وروسته چوپ شو. اډیټ پر خبرو راغله. همدغه شېبه شراېپلورونکي وتوخل، ما سملاسې توپنچه له جیبه راوایسته او په منډه مې خان د موټر کینې خوا ته ورساوه. په دې وخت کې شراېپلورونکي خپله توپنچه هغوی ته نېغه نیولې وه. اډیټ او کومل بوخل ما ته وکتل او بېرته یې په شراېپلورونکي کې سترګې وګنډلې... دا کیسه دومره

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ګرندی پېښه شوې وه چې هغوی درې واړه یې پر خپلو-خپلو ځایونو مبخ کړي ول.
ما چابک د موټر دروازه پرانیسته او ادیب ته مې وویل:
- لاسونه پر سر ونیسئ او راکښته شئ!
ادیب په داسې حال کې چې نبغ-نبغ یې راته کتل، وویل:
- نو تا او ده سره پېژندل؟
لاس مې وراوږد کړ، د سپین کمیس تر ګرېوان مې ونیوله، له موټره مې دباندې راکش کړه او ورته ومې ویل:
- ته له ډېرو شیانو ناخبره یې!
شراپلورونکي له یوسف ابراهیم څخه توپنچه واخیسته، په لغته یې له موټره لیرې کړ او امر یې ورته وکړ چې لاسونه پر سر له خپلو ملګرو سره ودرېږي. بیا یې زما څخه وپوښتل:
- له هغو نورو دوو څخه دې وسلې اخیستي دي که نه؟
ورته ومې ویل:
- د دې مېرمنې له خوا بېغمه اوسه، ځکه توپنچه یې په موټر کې ده، خو د ډاکټر جېبونه باید تلاښي شي...
هغه ډاکټر ته وویل:
- توپنچه دې راوغورځوه!
ډاکټر سره وښورېد او ویې ویل:
- زه توپنچه نه لرم... هلته په موټر کې پرته ده...
ما وویل:
- درواغ وایي. چابک یې جېبونه ولټوه. ممکن دوې درې توپنچې ورسره وي!
شراپلورونکی ورته راوړاندې شو. ډاکټر کومل یې ارخ ته کش کړ او د جېبونو په تلاښۍ یې بوخت شو. د یوسف ابراهیم رنګ تک سپین اوښتی وو چې لس ځایه دې په چاکو وهلی وای، یو ځاځکی وینه یې نه کوله. له دې سره یې هم بې داسې احمقانه کار وکړ چې د ژوند په بیه ورته تمام شو. نوموړی د ادیب ارخ ته او

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

له ډاکټر او شرابپلورونکي څخه تقریباً یو ګام لیرې ولاړ وو. ناڅاپه یې شرابپلورونکي ورو غورځید. مګر هغه نه تر رسید.و مخکې زما له توپنچې څخه په وتلې مرمۍ یې ځمکه ولوید... شرابپلورونکي هم یو ځل وار په بیداری خان د کومل شا ته پټ کړ او دوې ډزې بې یې وکړې. په دې سره یې ګواکې د ځل وروړ غږ ځنې راخیست.

د ابراهیم نیت وو چې د کومل په مرسته له شرابپلورونکي څخه توپنچه واخلي. یا هغه د سپر په توګه استعمال او ما تسلیمد.و ته اړ کړې. ظاهراً ښه پلان وو او که بریالی شوی وای ما یا تک هم نشوای کولای... مګر دی له دې ناخبره وو چې زه په نیه ویشتلو کې جوړه نه لرم او ابله بیله یې خان د مرګ خولې ته ورکړ.

شرابپلورونکی چې له حتمي مرګه ژغورل شوی وو. له ډېرې غوسې یې کومل دومره زورروره چپلاخه یې دا مخ ورواهه چې هغه سر وخرخید او پر ځمکه غوځار شو. پسې ورغی او یا یې جیبونه وروللول. بیا کوچنی توپنچه یې د پټلون له جیبه ځنې راوایسته. وروسته یې زما څخه وپوښتل:

-دا بلاګیان اوس څه په کوو؟

اویښ نه مې وکتل. خاموشه ولاړه وه. ومې ویل:

-دوی به یو راغلې لار بیرته ستانه شي له خیره سره!

شرابپلورونکي د یوسف ابراهیم موټر تلاشي کړ او یو بیک او یو مانښدار یې تری راوایستل. وروسته مو اویښ او کومل هغه موټر ته ورپورته کړل. لې پانه وو چې خان وروپیژنم. مګر بیرته پښیمانه شوم. ورته ومې ویل:

-اغلې تا سهي فکر کړی وو. زه د هماغه سړې ملګری یم چې باید له شرابپلورونکي سره یې لیدلي وای. او دغه اندېوال چې باید د نجاب پرېښته یې ونوموم. هماغه شرابپلورونکی دی. د یوسف ابراهیم په لاس وژل شوی کس د ده وروړ دی. خو ودې لیدل چې څومره زر یې بدل واخیستل شو.

اديب خپله څو دقيقه‌يېزه چوپتيا ماته کړه او ويې ويل:

- هر څه مو ښه دقيق سنجولي ول، بس يوازې يو دغه تکي ته مو فکر نه وو... خو داده اوس، چې ډېر ژر به خپله دا تېروتنه جبران کړو.

شرابپلورونکي د خپلي توپنچې څوکه د اديب پر ټټک چې شتړنګ ته ناسته وه، ورکښېښوده او ما ته يې وويل:

- که ستا اجازه وي زه به د دې اغلي ماغزه ور وپاشم!

لاس مې يې راکښته کړ او ورته ومې ويل:

- نه، هغې زه ستا په کور کې وژلی شوای، مګر دا کار يې ونه کړ. دا بيا ښه خبره ده چې دوهم پلان يې ناکام شو. د يو او بل څخه د غچ اخيستلو لپاره ډېر وخت لرو. ولې نه دې واورېدل چې ويې ويل ډېر ژر به خپله دا تېروتنه جبران کړي؟

شرابپلورونکي وخندل او اديب ته يې وويل:

- که مې ملګري اجازه راکړې وای يا مې د هغه بل په شان ستاسې خولې هم له خاورو درډکولې او يا مې په ښنو کې د ايسارت څنځيرونه دراچول. په هغه صورت کې مو نو بيا د خپلي تېروتنې د جبران توان هم له لاسه ورکاوه... اوس څئ کش پر واچوئ... مګر نه، صبر د هغه ملګري جسد هم درسره يوسئ.

کومل په خلق تنګی وويل:

- هيله کوم دا پسات مه راکوئ. تاسې يې له سړکه ليرې يو ځای يوه کډې(کندې) ته ورواچوئ!

ما وويل:

- دا کار تاسې خپله وکړئ، مګر دلته نه، بلکې له دې ځايه ښه ليرې. هله ژر راکښته شه وخت کم دی!

کومل راکښته شو. د يوسف ابراهيم جسد مو موټر ته ورسره پورته کړ. پر مخ يې يو توکر ورواچاوه او ولاړ د اديب اړخ ته کښېناست.

د اديب د غاړې رګونه له ډېرې ناکراری او خواشينی يو بام ولاړ ول. پرله پسې يې شونډې چيچلې. د موټر تر روانولو وړاندې يې راته وويل:

.بیا ورخ به ستا جسد دغسې پوسم او هغه هم ډېر ژر!

په خواب کې مې بې پوازې ورته وخندل. هغې په بیا بوږ حرکت وکړ...

شرابپلورونکي لاس راوغځاوه او ویې ویل:

.سفر په خیر ملګرې!

نرې ومې پوښتل:

.نه په هغوی پسې ځې؟

خواب یې راکړ:

.نه، تر مهریز دوه‌لاري پورې ستا سره یم بیا درڅخه بېلېږم او اصفهان ته ځم. زړه مې غواړي چې په دې سفر کې درسره ملګری شم، مګر نه کېږي، هر یو باید پر جلا جلا لارو ولاړ شو.

سره روان شوو. په مهریز دوه‌لاري کې مو یو او بل ته د مخه‌ښې په دود لاسونه وخوځول او سره جلا شوو. د سړک پر غاړه یو څو دقیقې ودرېدم تر څو خان بنه سم سمبال او وسله وال کړم. پنځو نه پروت دسکول مې چې ادیب او کومل نه وو لیدلی، راپورته کړ او دوې نوښې ماشېندار مې نرې راوایست. سره بسته مې کړ. د ازموینې لپاره مې یو څو ډزې په وکړې او د اوږخ پر څوکې مې راته کېښود. د خاني امنیت لپاره دا کار اړین وو. څکه د لویو لارو وضعیت د پخوا په شان نه وو او له وسلې پرته تګ راتګ له خان سره ظلم وو. بل دا چې زما وضعیت یو څه خاص وو او باید هره شېبه له خانه دفاع ته چمتو وای.

ډېر ګړندی روان وم. د ادیب او کومل له اړخه لږ اندېښمن وم. څکه له شک پرته بدلې اخېستلو ته نړې ول او په هیڅ وجه یې زما له لټولو لاس نه اخیست. د دې امکان زیات وو چې بیرته راپسې راتاو شي. همدارنګه مې له مخامخ لورې څخه هم زړه په هوا وو، څکه هغوی دوه پوازې نه. بلکې د یوه ستر سازمان برخه ول چې په کرمان او د فارس خلیج په ساحلي برخو کې یې فعالیت کاوه. واده وم چې ادیب به خامخا له یزد څخه کرمان ته زما اړوند ټلګراف استوي. په دې سره نو هره شېبه د

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بوږي اسماني نکې رالوېدو امکان وو. هر لوی او واړه مخامخ راروان موټر نه مې د شک په سترګه کتل او په ځانګړي احتياط بې ځنګ نه تېرېدلم.

کرمان ته سهي سلامت ورسېدم، خو په دې ښار کې لا زيات احتياط او بيداری ته اړتيا وه. پر رارسېدو مې نژدې يو ساعت اوښت. د ورځې څه کم لس بجې وې. بودم راياد شول چې عباس بندر ته تر روانېدو وړاندې بايد د مېکپ غم وخورم. داده وم چې د اوېښ له خوا زما د اوسنی بڼې نښې نښانې تلګراف شوي او ماموران د همدغه مېکپ شوي څېرې په لټه دي، نو عاقلانه دا وه چې بېرته خپلې اصلي څېرې ته وګرځم. د دې کار لپاره يو خوندي ځای په‌کار وو. دغسې يو ځای حمام راته ښکارېد، خو بايد ډېر احتياط مې کولای.

په دې ښار کې مې يو ملګری درلود چې تر جګړې وړاندې به مې د خرخلاو لپاره قاچاقي شيان ورکول. نوم يې مهدي وو او په ګنج عليخان سرای کې يې يو کوچنی دوکان درلود. پر شاهپور واټ تر مشتاقيه چوک پورې راغلم بيا مظفري واټ ته تاو شوم. په ګنج علي خان کې مې موټر ودراوه. ماشيندار مې بېرته دسکول ته واچاوه، راکښته شوم او ډيکی ته ورغلم. د پانو په بکس کې پټ کړي اسناد مې راواخيستل او پلی مخ د ګنج علي خان سرای پر خوا روان شوم. د مهدي دوکان ته چې ورننوتم، ويې نه پېژندلم او راڅخه ويې پوښتل:

- څه خدمت کولای شم!

لومړی مې د خپل ځان په اړه پوښتنه ترې وکړه. هغه يو څه فکر وکړ وروسته يې راته وويل:

- ډېر وخت کېږي چې ريما مې نه دی ليدلی!

وروسته مې وخندل او ځان مې وروپېژاند. مهدي په هېښنو سترګو له سره تر پښو راته وکتل او ويې ويل:

- دا دې له ځانه څه بلا جوړه کړې ده او ولې؟

په دې پلمه مې ځان ځنې خلاص کړ چې دا کار تر پوله د خوندي اوښتلو لپاره اړين وو. بيا مې ترې وغوښتل چې دسکول يو سم ځای راوساتي. د کړکی شا ته

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بې بوتلم. د ده په مخ کې مې خپله کورتی په هغه دسکول کې چې ماشيندار هم پکې پروت وو، کښېښوده، خوله مې يې وروتړله او په يوه لرګين صندوق کې مې کښېښود. مهدي د صندوق سر ورکولپ کړ، کيلي يې ما ته راکړه او ويې ويل:

ـ دا واخله چې زړه دې ښه ډېغمه شي!

ورنه ومې ويل:

ـ زما موټر ميدان ته نژدې ولاړ دی، زه دلته پلې راغلم. اوس ځم حمام ته او زما تر بېرته راتلو پورې همدلته راته منتظر اوسه!

له دوکانه يې راووتم او په يوه بګۍ کې رشيد حمام ته چې پر ناصري واټ پروت وو، ولاړم. د حمام د کوڅې په خوله کې له بګۍ څخه کښته شوم او بګۍوان ته د پيسو ورکولو پر مهال مې شاوخوا سترګې وغړولې. يوې بګۍ مې پام ور واړاوه. راغله له کوڅې څخه يو څو ګامه ها پلو ودرېده. خپله دا بګۍ نه، بلکې ترې راکوز شوي دوه تنه پاماړوونکي ول. پوه شوم چې هغوی زما د موټر د پلېټ نمبر او نورو هغو ځانګړنو له مخې پل راپسې را اخيستی دی چې زما د کړو وړو اړوند ورکړل شوي دي. ډېر ارام او خونسرد ښکارېدل. د دوی دنده يوازې دا وه چې ځنې ورک نشم.

له بګۍوان څخه مې پاته پيسې واخيستې، له شمېرلو پرته مې جېب ته واچولې او په ګړنديو ګامونو حمام ته ننوتم. اوس مې په مهدې کې چورت بند شو، سريه هسې نه پر هغه بېچاره يوه تکه راوغورځوي. ډېره مې خوا په بده شوه، مګر هيڅ چاره نه وه بايد خپل پلان مې عملي کولای. له حمامي سره مې لږ اشنايي درلوده، لېکن په دې خبره کې يې نه پېژندلم.

سملاسي مې جامې ونه ايستلې. قصداً مې ځان اخته کړی وو؛ غوښتل مې ووينم چې هغه دوه تنه دلته هم راپسې راځي که نه. خو درک يې ونه لګېد. کالي مې وکښل. د ډاکټر راکړل شوي پوډر مې نمرې ته دننه راسره يوووړل او د مخ مينځلو ته اړم شوم. د مخ پوست مې لږ سوخت وکړ، خو بېرته ژر ښه شو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

له راوتلو سره سم د حمامي سترګې راباندې ولګېدې، وبې خندل، ولاړ شو او په حیرانتیا یې راځخه وپوښتل:

- ته څه وخت راغلې هېڅ مې ونه لیدې؟

ورته ومې ویل:

- سر او مخ مې په دوړو لړلي ول، نو تله مې تېره کړه او ځان مې درباندې ونه لید.

وروسته مې چابک-چابک ځان وچ کړ او له حمامه راووتم. دباندې له دروازې سره نژدې له هغو دوو مامورانو ځخه یو ولاړ وو او سګرېټ یې څکاوه. ما ان سترګې هم ورسره وجنګولې، تر څو ووینم چې پېژني مې که نه، مګر د هغه مطلوب شخص یو بل داسې څوک وو چې هېڅکله به له حمامه نه وای راوتلی. هغه بل ملګری یې د کوڅې په خوله کې ځارو وو. په داسې حال کې چې په زړه کې مې پر دې کمبلډې ډرامه خندل، یوې بګۍ ته ورپورته او د مهدې خوا ته روان شوم.

له خپل موټر سره نژدې له بګۍ ځخه کښته شوم. د موټر بغل ته یو ځوان چې راسته لاس یې د کورتۍ په جېب کې اچولی وو، ولاړ وو. ظاهراً یې داسې ښودله لکه د موټر په کیسه کې چې نه وي، مګر زما سر په خلاص شو چې څوک او چا ته منتظر دی.

مهدي د خپل مېز شا ته ناست وو. لومړنی پوښتنه مې ترې دا وه چې ایا یو چا خو به زما پوښتنه نه وي ځنې کړې؟ هغه په حیرانۍ راته وویل:

- نه، داسې څوک نه دی راغلی چې ستا پوښتنه دې وکړي. اوس دې نیت څه دی؟

ورته ومې ویل:

- ستا مرستې ته ضرورت لرم.

هغه راته کړل:

- زه دې په اختیار کې یم. هر خدمت چې دې وي مازې ږغ کوه. وایه څه کولای شم؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ما سګرېټ ولګاوه او ومې ويل:

- زه عباس بندر ته روان يم، مګر دا ګړی کيسې ډېر خطرناکې دي او ستا له کومک پرته نقشې نه سمېږي.

وروسته مې ورته وويل چې يو شمېر همکاران مې راسره ضد شوي دي او تر حمامه پورې يې تعقيب کړی يم، مګر دا چې څېره مې بدله وه، ويې نه پېژندلم.

مهدي په خبرو کې راولوېد او ويې ويل:

- نو ولې ولاړ يې، ورځه ژر حرکت وکړه!

ورته ومې ويل:

- که يوازې همدا کيسه وای تيار کار وو، مګر بدمرغي دا ده چې موټر مې هم د هغوی تر څار لاندې دی او سره له دې چې په خپله اصلي څېره مې نه پېژني بيا مې هم له موټره لاس نه اخلي. نو که دلته څه راته ونه وايې، پر لارې خو مې بېخي نه پرېږدي.

مهدي وويل:

- فکر نه کوم چې په داسې تلوار دې هر څه سم شي لکه ته چې يې غواړې. ښه به دا وي چې لږ دمه وکړې. وروسته به په ارامی او تسلی يو پلان جوړ کړو.

ورته ومې ويل:

- نه، د ارام کولو وخت نه لرم. هر څومره ژر چې کېږي بايد وخوځم.

هغه وخندل او ويې ويل:

- په هر صورت، ما غرمنی تياره کړې ده. که غواړې چې سهي سلامت له دې ځايه ولاړ شې، نو بايد لږ زغم وکړې تر څو يو سم پلان جوړ او عملي کړای شو.

رښتيا يې ويل او له زغم و صبر پرته واقعاً هم بله لار نه وه. څه باندې دوولس نيمې بجې د غرمې ډوډی ته کښېناستو. زما اشتها سوځېدلې وه، ځکه زړه مې په هوا وو او يوې نامرېي نارامی خورولم. چې رښتيا شي په يوه داسې بند حالت کې لوېدلی وم چې هېڅ نه پوهېدم ځنګه ترې راووزم...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کولای مې شول چې سیده مې خپل موټر ته ورشم او روان یې کړم، مګر زما سره د راتلونکې وېره وه. پوهېدم چې په هېڅ وجه مې نه پرېږدي او ایسین ته تر رسېدو مخکې مې پښې پر سر را اړوي. یوه لار دا وه چې په یوه بله وسیله له کرمان څخه ووزم. په دې صورت کې بې موټره کېدلم. په داسې حال کې چې موټر تر خوږو هم ډېر راته اړین وو.

اخیر مې له مهدي سره په ګډه یو پلان جوړ کړ. نوموړی د دې پلان د پلي کولو لپاره له دوکانه ووت. یو ساعت وروسته راستون شو او له موسکیو شونډو یې پوه شوم چې بریالی شوی دی. لومړنۍ پوښتنه یې دا وه چې څومره پیسې لرم. ورته ومې ویل:

- پرېمانه!

مهدي وویل:

- ته پوهېږې چې نن سبا نقلیه وسایل نایابه او د سرو زرو په بیه دي، خو ما بیا هم یوه په غنمو بار لاری پیدا کړه. مازیګر پنځه بجې حرکت کوي.

څنې ومې پوښتل:

- موټر به مې څنګه شي؟

هغه وخندل او ویې ویل:

- د دې چاره مې هم وکړه. یو موټروان پیدا شو چې د دریو سوو تومنو په بدل کې یې سهي سلامت عباس بندر ته بوزي او هورې یې دروسپاري. که دې خوښه وي، زه به یې دستې راولم.

ورته ومې ویل:

- نو ولې لاګورې، ژر کار خلاصوه!

مهدي بیا ووت او له هغې خوا له یوه دنګ او څهارشانه سړي سره راستون شو چې لمروهلي مخ او ډبلو برېتونو یې د څواکمنتیا شاهدي ورکوله. هغه سړي سلام راواچاوه.

مهدي سره معرفي کړو. ترې ومې پوښتل:

- ایا داده یې چې موټر هر ځای چې زما خوښه وي هلته راوسپارې؟

هغه ستونی وېرساوه، سر یې نیغ ونیو او په دد اواز یې وویل:

- بېغمه اوسه له دې ځایه نیولې بیا تر عباس بندر پورې چې هر ځای ستا خوښه وي هلته به یې سهي سلامت درولم... وایه چیرې یې غواړې؟

زه په فکر کې شوم او ورته ومې ویل:

- په کهکم کې. فکر کوم ته به تر ما ژر ورسېږې.

هغه وویل:

- مالومه نه ده. که کومه پېښه ونشي، شاید ربتیا هم زه مخکې ورسېږم.

ورته ومې ویل:

- خدای دې وکړي هېڅ پېښه ونشي. خو فکر دې وي که دلته یا هم پر لارې هر چا د موټر د مالک پوښتنه درځخه وکړه، نو ورته وبه وایې چې هغه دې رانیولی دی.

موټروان سر وخوځاوه او ویې ویل:

- له دې اړخه بېغمه اوسه!

له دوکانه تر وتلو مخکې مې ورته وویل:

- کهکم ته چې ورسېدې، نو داسې مه ښیه لکه یو چا ته چې منتظر یې. سر دې خلاص شو؟

- هو صاحبه!

وروسته مې نیمې پیسې ورکړې او ورته ومې ویل چې مازیګر پر شپږ بجې دلته راشي او له مهدي څخه د موټر کیلي واخلي. هغه ولاړ. ما ساعت ته وکتل، دوې نیمې بجې وې او د روانېدو تر وخته مې د یوه لنډ ارام وخت درلود. د دوکان پسخانې ته ولاړم او هلته پر یوه لرګین کټ چې غالیچه پر هواره وه، پرېوتم. لنډه شېبه وروسته مې سترګې ورغلې او په یوه ژور خوب ویده شوم. که مهدي نه وای راویښ کړی، ښایي تر ماښامه ویده وای. څه کم پنځه بجې وې. په منډه-منډه

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مې له هغه لرگین صندوق څخه خپل دسکول راوایست او څنځیر مې ورخلاص کړ.
مهدي مې شا ته ولاړ وو. راته ویې ویل:
- داریږه مه هېڅ لاس نه دی ور وړی!
ومې خندل او ومې ویل:
- هسې د خان داده کولو لپاره مې خلاص کړ!
مهدي دوکان کولپ کړ او یوځای سره روان شوو. میدان ته له رسېدو سره سم یې راڅخه وپوښتل:
- ستا موټر چیری دی؟
په سترګو مې وروښود. هغه څوان تر اوسه لا همالته ولاړ وو. دا وار له هغو دوو کسانو څخه چې تر رشید حمام پورې یې څارلی وم، یو تن هم ورسره ولاړ وو. دواړه په مجلس اخته ول. له مهدي څخه مې وپوښتل:
- هغه دوه کسه وینې؟ هغوی مې په هغه مخکنۍ خبره کې لټوي، مګر بیعقلان خبر نه دي چې د دوی مطلوب سړی اصلاً په دې دنیا کې شته نه!
مهدي وویل:
- بیا هم باید ډېر احتیاط وکړې. د همدې لعنتي موټر له لاسه یې پیدا کړې او ممکن بیا دې هم پیدا کړي.
وروسته یې یوه بګۍ ودروله او پکې سپاره شوو. پر لارې مې ورته وویل:
- پلان مو نامې دی او فکر نه کوم تر عباس بندر پورې کومه پېښه وشي. رښتیا ایا پر دغه مټور او برېتور سړي باور لرې؟
هغه اوږدو ته خندا ورکړ او ویې ویل:
- د حرکت تر وخته باور پر لرم، مګر ته خپله پوهېږې چې پیسې په انسان څه-څه کانې کولای شي. مثلاً بنایي همدغه ستا حریفان یې ونیسي او د پیسو په بدل کې یې ستا پر ضد وکاروي. څه مالومه ده؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مهدي تر یوې لنډې چوپتیا وروسته زیاته کړه:

- البته زه دا قضاوت نشم کولای چې ربښتیا به هم وپلورل شي کنه. غالب گومان دا دی چې ممکن وپلورل شي، ځکه د حقیقت ویلو پیسې به مالومداره ستا تر هغو څو څله زیاتې وي.

ورته ومې ویل:

- ما هم دې ټکي ته سوچ کړی وو او ډېر ورته اندېښمن نه یم، ځکه یو بل داسې پلان مې هم جوړ کړی دی چې په عملي کولو سره یې د دغسې خطرونو مخه نیول کیږي.

څه باندې پنځه بجې د یوه گاراج مخې ته کښته شوو. مهدي یوې سرې لاری ته گوته ونیوله او ویې ویل:

- دغه لاری ده!

ورته ومې ویل:

- زه همدلته درېږم ته ورشه حساب ورسره خلاص کړه، زه د دې خلکو په معامله چندان نه پوهېږم.

مهدي لاری ته ورغی او زه د گاراج مخې ته ودرېدم. سگرېټ مې ولگاوه...

همدغه شېبه مې شا ته یو ټیټ اواز پورته شو چې ویې ویل:

- اوري ملگري؟

شا ته مې وکتل، له هغه بگی‌وان سره مخ شوم چې موږ یې هلته رارسولي وو.

ترې ومې پوښتل:

- ما ته وایې؟

هغه پر برېتونو لاس تېر کړ او ویې ویل:

- هو، همدا تا ته چې عباس بندر ته روان یې، وایم!

- بنه، خدمت وایه!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- غوښتل مې دا درنه ووایم چې په دغه لارۍ کې مه ځه. زما ومنه په خپل موټر کې چې د هغو ناپېژاندو کسانو تر څارنې لاندې دی، ولاړ شه. بېغمه اوسه هيڅ ستونزه نه درپېښېږي.

د هغه دې خبرو د هېښتيا په سمندر کې لاهو کړم، ځکه له دغسې يوه کس سره مخامخېدنه زما په روان ماموريت کې نه وه پېښېنې شوې. په سړه سينه مې ترې وپوښتل:

- نه پوهېږم ته څوک يې او په خبرو دې يوه نشوم، مطلب دې څه دی؟

هغه وخندل او ويې ويل:

- ما ټول کار درجوړ کړی دی. بس نه دومره وکړه چې په يوه بهانه تر دې لارۍ تېر شه!

بګی‌وان چې زما شکمن او په عين حال کې له حيرانۍ ډک کانه وليدل، بريتونه او عينکې يې ايسته کړې. نيغ‌نيغ يې رانه وکتل او ويې ويل:

- اوس به مې پېژنې؟ ځکه ستا خوارده او د مېرمنې دې ترخه شراب خوښېږي!

د خپلې خندا مخه مې ونشوه نيولای. لاس مې ورکړ او ورته ومې ويل:

- ته دلته څه کوې؟

بګی‌وان يانې هماغه شرابپلورونکي په نيت وار ووېل:

- خان ارام ونيسه. زه تر عباس بندر پورې ستا د ساتنې دنده لرم... بر مهربز دوه‌لارې تر بيلېدو نيم ساعت وروسته درپسې را روان شوم او دا دی تر دې ځايه پورې ګام پر ګام درسره يم... خپل موټر دې چا نه ورسپارلی دی؟

تر کهکم پورې د تګ پلان مې په لنډو ټکو کې ورته بيان کړ. دغه شيبه مې مهدي وليد چې زموږ خوا ته راروان وو. شرابپلورونکي نه مې چې اوس بېرته بګ‌وان شوی وو، وويل:

- لږ راځه لېرې شه. ملګری مې راروان دی!

هغه په تېزۍ رانه وويل:

- زه درنه منتظر يم. بوازې راشه!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مهدي راورسېد. په خبره کې مې يې ولوستل چې نهيلوونکی خبر لري. له همدې امله وار مې لومړی کړ او ځنې ومې پوښتل:

- لاری کله حرکت کوي؟

هغه اوږې پورته واچولې او ويې ويل:

- لا مالومه نه ده، مگر د چلوونکي له خبرو يې داسې ښکارېده چې ساعت دوه ځنډېږي او اوس ښه دا ده چې بېرته خپل ځای ته ستانه شو، ځکه دلته ستا ولاړه په خير نه ده.

په ږيره کې مې وخندل او ومې ويل:

- بالکل. ته هم دا زړه ته مه اچوه چې لاری به ساعت دوه وروسته حتماً حرکت وکړي. داده يم چې تر سهاره به له دې ځايه ښور لا ونه خوري.

مهدي وويل:

- نو نن شپه همدلته پاتېږې؟

ومې ويل:

- نه، هر ځنگه چې کېږي بايد حرکت وکړم. درځه چې يوه حللار ورته ولټوو.

دواړه هغې بگی ته وختلو. مهدي ته مې وويل:

- تا ته خو زما کار ښه درمالوم دی او پوهېږې چې که پر وخت يې سره ونه رسوم، تولې کيسې کړوپېږي او تاواني کېږم...

داسې مې ورته وښوده چې لا هم په هماغه پخوانی دنده کې لگيا يم او اوس غواړم د فارس خليج په غاړو کې يوه قاچاقي مال ته ژر تر ژره ځان ور ورسوم.

هغه په داسې حال کې چې لاسونه يې يو پر بل سره ايښي ول او د بگی په ځمکه پورې يې سترگې گنډلي وې، ويې ويل:

- ته په خپلو کارونو ښه پوهېږې، مگر زما په اند ستا اوسني حالت ته په کټلو همدا له کرمان څخه د وتلو يوازنی ښه وسيله ده. په هر صورت، زه مرستې ته چمتو يم او که دې پيسې په‌کار وي هم يې درکولای شم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ورو مې پر اوږه وټپاوه او ورته ومې ویل:

- ډېره مننه، خو د خپل موټر له بېولو پرته بله لار نشته!

مهدي راته وکتل او په حیرانتیا یې وپوښتل:

- لېونی یې؟! نه دا کار ونه کړې. خطرناک دی. سپوري غونډې درپسې دي او سره له دې چې ته یې مطلوب کس نه یې، بیا هم درباندې شکمنېږي او تعقیبوي دې. ناحقه ځان د مرګ خولې ته مه ورکوه.

ورته ومې ویل:

- بله چاره نشته. کوښښ کوم چې ځان ځنې ورک کړم او د دې پلان مې هم جوړ کړی دی. بل دا چې په وسله هم سمبال یم.

مهدي په خلق‌تنګی وویل:

- بس ته پوهېږې نو!

په دې وخت کې مشتاقیه چوک ته ورسېدو. ورته ومې ویل چې په خپل دوکان کې راته منتظر شي. هغه ولاړ. شرابپلورونکي بګی د ناصري واټ خوا ته روانه کړه او راته وېې ویل:

- ته هم په خپل حال کې ډېر بیداره او چالاک یې!

ومې خندل او ومې ویل:

- خو نه ستا په اندازه چې شیطان ته دې بازي ورکړې ده. اوس دې ژر خپلې خبرې راته وکړه چې وخت کم دی!

شرابپلورونکي یا بګی‌وان خپلو اسونو ته غمچینه کش کړه او وېې ویل:

- هغه ښځې او سړي (هدف یې اديټ او کومل ول) ډېر ژر کرمان ته ځانونه رارسولي دي او ستا د مخکنۍ خبرې لېونی لټون یې پیل کړی دی.

ځنې ومې پوښتل:

- تا زه ځنګه پیدا کړم؟

هغه وويل:

- اوس د دې سوال و ځواب وخت نه دی، بايد ژر تر ژره ستا د تګ غم وخورم. دې ښار ته ستا د رانوتلو له شېبې څخه بيا تر اوسه پورې د يوه ساتونکي په توګه درپسې يم.

ومې پوښتل:

- څو له دې ځايه زما د ايستلو پلان دې راته ونه وايه، ځکه عباس بندر ته مې زښت زيات تلوار دی او نن شپه بايد په هر قيمت حرکت وکړم.

هغه وويل:

- تا ته د دې پلان ويلو اړتيا نشته، ما ته تر هر څه مهمه دا ده چې هغوی ستا له روانېدلو خبر نشي او پر وخت ورسېږې بس خلاص.

تر يوه لنډکي ځنډ وروسته يې زياته کړه:

- تا د مظفري واټ په خوله کې کښته کوم او څپله بېرته ګرځم. ته به سيده خپل موټر ته ولاړ شې، په ډېر طبيعي انداز او هلته ولاړو ځارونکو کسانو ته له يوې ذرې پاملرنه پرته به وروخېژې او روان به يې کړې. بل دا چې په ما پسې به هم هېڅ سر نه ګرځوې چې څه کوم او يا څه راکېږي!

ورته ومې ويل:

- دې ته دې حساب کړی دی چې که فرضاً له هغو ځارونکو کسانو څخه يو د نوپنچې په زور موټر ته راوخېژي، نو څه به کېږي؟ په دې کار سره زما ټول پلانونه سرچپه فېر کوي او مانا يې دا ده چې ګواکې ستا په مرسته مې په لوی لاس ځان د هغوی په ګير ورکړی دی. مزې به لا هله وي چې وروسته له هغې ښځې او سړي سره پسې مخامخ شم. هغوی مې بې مرګه ولاکه پرېږدي. له سوال و ځواب پرته مې پر دا سر-سر ولي، ځکه دواړه مې په خپله اصلي څېره ښه تر ښه پېژني.

شرابپلورونکي راته وويل:

- بالکل مې حساب ورته کړی دی او په سره کلا قهوه‌خانه کې درته منتظر يم. ماښامنی هورې خورو!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ویې خندل او زیاته یې کړه:

- هلته به ستا د سفر د احتمالي اندېوال یا اندېوالانو هم ښه عالیشان هرکلی وکړم. خو که بوازې وې، بیا به کیسه لږ بدله وي.

خو دقیقې وروسته پر ناکلې ځای بلې او د خپل موټر خوا ته ور روهې شوم... هغه کوچنوټی دسکول مې چې د خان ځوندې راپاندې ګران وو. په لاس کې نیولی وو... یو څه چې ولاړم موټر راښکاره شو. خو شاوخوا یې څوک نه لېدل کېدل. خوشحاله نشوم. البته پوهېدم چې لېرې یو ځای حتماً راته څره دي.

دوهمه کیلي راسره وه او مهدي ته د ورتلو ضرورت نه وو. ځوره مې وګڼله چې هغه همداسې منتظر پرېږدم. سره له دې چې نوموړی باوري سړی وو. مګر بیا هم مجبور وم دغه احتیاطي کار وکړم.

موټر ته له رسېدو سره سم مې دسکول له راسته لاسه چپ نه واړاوه او دروازه مې خلاصه کړه. لا مې دسکول پر خپل ناکلې ځای نه وو ایښی چې شا ته مې یو څوک احساس کړ.

- د دې موټر چلوونکی تاسې یاست؟

ورو مې سر ور ناو کړ او د پورتنۍ پوښتنې څښتن ته مې ووېل:

- بلې. خدمت وایه!

هغه یو ځوان وو او ډېره روانه فارسي یې وېله. مګر څرګنده وه چې پښتون دی. له سره تر پښو یې راته وکتل او ویې ویل:

- مګر محکې خو دا موټر د بل چا وو. متاسفانه نوم مې یې هېر دی!

ډېر ارام او مودبانه مې ورته ووېل:

- نه ګرانه غلط شوی یې او زه دې په بل چا خطا کړی یم!

لږ سره وخوځېد راوخوځېدم. یې لاس یې د پتلون په جېب کې وو. د رواني ډرامې د ختمولو په نیامت مې ځنې وپوښتل:

- له دې پوښتې ګرویږنې څخه دې مطلب څه دی؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه مې پوښتنه بې ځوابه پرېښوده او راځغه وېې پوښتل:
-ناسې اوس چېرې ځئ؟
ځواب مې ورکړ:
-زه نا تر دې بریده نه پېژنم چې دغه بېځایه سوال دې درځواب کړم.
په پزه کې يې وخندل او چې پوه شوم لاس اخيستونکی نه دی. دسکول مې موټر ته وروغورځاوه او شټرنګ ته د کښېناستو په هڅه کې شوم. هغه بودم لاس را اوږد کړ، شټرنګ يې ونيو او وېې ويل:
-نو زه هم درسره ځم. بنه دی سره اشنا به شو او سر به دې خلاص شي چې زما پوښتنې دومره هم بېځایه نه وې...
نيمکښې مې ورو کتل او ورته ومې ويل:
-او که دې دا وړاندېز رد کړم، نو...
په خبرو کې راولوېد او وېې ويل:
-دا کار خو بېخي نه کوئ، ځکه خپل ځان خو درباندې بار نه دی!
وروستۍ خبره يې ټيک هماغه څه ول چې ما يې د اورېدو تمه لرله. ګومان مې بالکل سهي راوخوت؛ هغه غوښتل راسره ملګری شي. ځوان چې زه دوه‌زړی وليدم، له هر څه بې‌پروا يې تومنچه راوايسته، پر ځيګر يې راونيوله او وېې ويل:
-که کومه خبره لرئ وېې کړئ!
تومنچه مې ورپورې وهله او ورته ومې ويل:
-دې بازيچو ته اړتيا نشته!
هغه په توندی ووېل:
-نه تومنچه د لوبو شی بولې؟
زه پر ځوکی کښېناستم. په دې شيبه کې دروازه نيمکښه او هغه خپله پښه لوړه ابښې وه، ورته ومې کتل او ومې ويل:
-ولې ولاړ يې؟ که ځې، نو راوخېژه!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه توپنچه جیب ته واچوله او ویې ویل:

- پوهېدم چې وړاندیز مې نه را ردوې، کله چې سر په خطر کې وي، نو ټولې کیسې خپله سُر نیسي.

هغه کینه شاتني دروازه خلاصه کړه او څو ثانیې وروسته یو بل سړی هم راوخوت. دا دوهم یې راته مخ کړ او ویې ویل:

- موږ دوه تنه یو او منزل مو ستا سره یو دی!

وروسته یې وخندل، راکښته شو، پر موټر راوخرخېد او راغی زما څنګ ته کښېناست. شا ته ناست کس وویل:

- موږ له ډېره وخته ستا لار څارو. البته هدف مې هغه کس دی چې دا موټر یې درکړی دی. چې دا کار دې نه وای کړی، ښه وو. تا ته دا پوښتنه درپیدا نشوه چې هغه ولې خپله نه راځي؟ په هر صورت، تر دې وړاندې چې موږ خپله اصلي څېره درښکاره کړو، د هغه ځای راوښیه!

ما داسې وښوده لکه په مطلب چې یې نه یم پوهېدلی، ترې ومې پوښتل:

- څه دې وویل؟

زما بغل ته ناست کس راته وویل:

- یانې غواړې وښیې چې خورا هوښیار او بیداره یې کنه؟

- نه، دا مطلب مې نه وو!

- نو بیا دې ولې خان ناګاره اچولی دی؟ موږ په هغه کس پسې ګرځو چې نن سهار په دې موټر کې کرمان ته راغی او اوس یې پر ځای ته ناست یې!

شاتني کس وویل:

- دومره ژر مو څکه بې‌پردې او سپینې خبرې درته وکړې چې زموږ په اصلي هدف دې سر خلاص شي. اوس درځه!

ما په دې وخت کې د موټروان په توګه یو چل وکاراوه او ومې ویل:

- اوس مې سر خلاص شو؛ هغه سړي چې تاسې پسې ګرځئ دوه ساعته مخکې کیلي او یو څه پیسې راکړې او راته ویې ویل چې موټر عباس بندر ته بوزم او هلته

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بې وروسپارم. که خبر وای چې کیسه داسې ده، په هېڅ وجه مې خان په خطر کې نه اچاوه.

دې چل مې نبنه وویشتله او هغوی یې پر دې باوري کړل چې سل سلنه بریالي کېږي... خنګ ته ناست کس په ډاډمنه او دوستانه لهجه راته وویل:

- زموږ له خوا بېغمه اوسه، کار نه درلرو. زموږ موخه د موټر اصلي څښتن دی چې ګومان کوي په دې چل و چلبازی به مو وغولوي... د دې خدمت په بدل کې به دوه درې برابره پیسې درکړو...

موټر مې چالانه کړ او هغوی ته مې وویل:

- هغه سړی به په عباس بندر کې دروښیم، مشکل نشته، مګر تاسې به په ما غرض نه لرئ.

د اړخ سړي راته کړل:

- موږ دې ان ساتنه هم کوو، نور څه وایې؟

اوس نو یوازې اډیټ او کومل ته اندېښمن وم چې د شرابپلورونکي په وینا همدلته نژدې شاوخوا راته ګرځېدل. ویل مې که یې شرابپلورونکي پر وخت مخه ونه نیوله او ویې لیدم، نو کار غړکه وبوله. یو ډول ترهه راولوېده. پر شاهپور واټ چې له تهران واټ سره موازي پروت دی، د تېرېدو پر مهال مې یودم د راډیویې څپو ګړهاری تر غوږ شو. د تندي په هنداره کې مې شا ته ناست کس ولید چې په یوه کوچنۍ دستګاه پورې نښتی دی او هڅه کوې له یو ځای سره اړیکه ټینګه کړي...

- بي.وي ۹۵۰، ږغ مې اورئ؟... زه وحشي پیشو یم؟

یاد مخابراتي شفر یې دوه درې واره په انګلیسي تکرار کړ. څو شېبې وروسته مې له دستګاه څخه د اډیټ اواز واورېد چې ځواب یې ورکړ:

- وحشي پیشو اواز دې اورم، بي.وي ۹۵۰!

- غوږ ونیسه زموږ موقعیت د عباس بندر پر لوري شاهپور واټ دی...

- وامې ورېدل، زه مو تعقیبوم... سرعت څو دی؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

زما اړخ ته ناست کس کېلومتر ته وکتل او ویې ویل:

- اویا!

- پي.وي ۹۵۰... زموږ سرعت ۷۰ دی!

- موږ درپسې یو. په اړیکه کې اوسئ!

دلته راډیویي اړیکه پرې شوه. ما داسې وښوده لکه په انګلیسي چې ښځې پوهېږم نه. په زړه کې مې وویل:

- جالبه ډرامه خو روانه ده... د خپلو ټولو امکاناتو په مټ راپسې ګرځي، مګر زما اوسنۍ څېره نه، بلکې هغه څېره لټوي چې په رشید حمام کې د تل لپاره ورکه شوه.

په دې شېبه کې د تندي په هنداره کې یو تور موټر ولید چې د شا له خوا راپسې وو. مخابره چالانه شوه...

- وحشي پیشو... موږ شا ته درپسې یو پي.وي ۹۵۰...

- پي.وي ۹۵۰ ستاسې موټر وینم. کوښښ وکړئ چې راڅخه لیرې نشئ. وحشي پیشو...

یوې عجیبې نارامۍ پسې اخیستی وم؛ له یوې خوا مې هڅه کوله چې دغه دوه تنه راپوه نشي او صرف د یوه بېګانه په سترګه راته وګوري. له بلې خوا له اډیټ او کومل څخه ډارېدم، ځکه له شک پرته یې د سترګو په رپ کې وژلم. په دغو له خواشینیو ډکو شېبو کې مې شراښپلورونکی په ذهن کې راوګرځېد. ویل مې خامخا به اوس د اډیټ دوی موټر تعقیبوي، مګر چې هر څه مې پسې وکتل په سترګه مې نشو... د اډیټ دوی موټر لکه سیوری داسې جوخت راپسې وو.

باغین دوه لارې ته ورسېدو... د تهران واټ په خوله کې یوه لاری چې ظاهراً تشه ایسېدله، ولاړه وه. پوه شوم چې دغه لاری دلته د یوه خاص مقصد لپاره ولاړه ده او حتماً د شراښپلورونکي د پلان برخه ده. ګومان مې پرځای وو، ځکه په دوه‌لارې کې زموږ تر تېرېدو سملاسې وروسته یې حرکت وکړ، مګر پر مخالف لوري او پوره‌پوره ښکاره وه چې هدف یې څه دی...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هوا تقریباً تیاره شوې وه، بیا هم شیان لیدل کېدل. لنډه شېبه وروسته یودم دباندې د دوو خوځنده او درنو شیانو د ټکر اواز واورېدل شو. هماغه څه پېښ شول چې ما بې نمه لرله... یو ځل بیا مې باید خپل رول لوبولی وای؛ سملاسي مې ځان وارخطا ونیو او اړخ ته ناست ځوان ته مې وویل:

.وادي ورېدل؟ ډېر خطرناک ټکر وشو. ورکاټ به شو...

خبرې مې لا نه وې خلاصې شوي چې له مخابرې څخه د اديټ اواز واورېدل شو:

.وحشي پیشو... ږغ مې اورې؟ پي.وي ۹۵۰...

.پي.وي ۹۵۰ څه پېښه وشوه؟ وحشي پیشو...

.وحشي پیشو... زموږ موټر له یوې لارۍ سره وجنګېد... نور نشو کولای تاسې تعقیب کړو... اندېښنه مه کوئ...

.مرستې ته اړتیا لرئ؟

.نه، تاسې بیدار اوسئ... تېز ولاړ شئ. امر هماغه دی له لیدلو سره سم یې ووژنئ! له هغې خوا اړیکه پرې شوه...

(وحشي پیشو) ځو واره د (پي.وي ۹۵۰) ږغونه وکړل، مګر ځواب نه راغی... اديټ په سختۍ او زګېروي ږغېدله او ښکارېده چې ټپګه ټپي شوې ده. له ډېرې خوښۍ په جامو کې نه ځایېدم، زړه مې غوښتل همدا اوس په هوا شم، شرابپلورونکی په غېږ کې ونیسم او پر مخ یې ټینګ ټینګ مچې کړم... د هغه پلان دومره بریالی وو چې نه یوازې یې د اديټ دوی موټر له کاره وغورځاوه، بلکې پکې ناست ټول سپاره یې له شکه خلاص روغتون ته واستول.

(وحشي پیشوګانې) چې یوه مې بغل ته او بله شا ته ناسته وه، نهایت نارامه او خلق تنګې ښکارېدې. تر خپل منځ په انګلیسي سره ږغېدل. ویل یې چې حریف ډېر بد ګوزار پر کړی دی.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

یو څه سره وړغېدل، وروسته یې زما څخه وغوښتل چې نور هم ګړندی شم. ما هم ښه پسې ټینګه کړه او پر کچه و کنډوکپر سړک مې کېلومتر اتیا او نوي ته ورساوه...

اوس هوا یومخ تیاره شوې وه. ان د موټرانو بتۍ هم نه وې. چې سترګو دید کاوه نکه توره دربه وه. موږ درې سره په چوپتیا کې ډوب وو. هغوی خپل او ما خپل پلانونه شارېل. هغوی د هغه کس د وژلو په سوچ کې ول چې ما باید ورښودلای او هېڅ شتون یې نه درلود. زه بیا د دوی د له منځه وړلو او ځان خلاصولو په فکر کې وم. ما باید دا کار د شراب‌پلورونکي له مدد پرته کولای، ځکه ممکن هغه د دغه دوهم پلان پر عملي کولو نه وای توانېدلی.

د اډیټ او کومل له اړخه بېغمه شوم. یوازنۍ اندېښنه مې دغه دوه تنه ول چې د (وحشي پیشو) په نوم مې پېژندل. دې ته مې چورت خراب وو چې ښايي شراب‌پلورونکی پر وخت زموږ ټاکلي ځای ته راونه رسېږي. د اډیټ دوی د موټر نابېره جنګېدنې د دغو دوو غوړونه ورځک کړي ول او په دې یې پوهولي ول چې باید پر حالاتو ډېر باور ونه کړي. د هغوی د ناستې او کتلو په انداز کې د دغې ناباورۍ نښې له ورایه ښکارېدې. روحیات یې مړاوي ښکارېدل. اړخ ته ناست ځوان توپنچه په لاس کې نیولې وه او یو نابلده ماډل ماشیندار پر ځنګنونو ورته پروت وو. زما ماشیندار تر پښو لاندې په پراته دسکول کې راته پروت وو، خو له بده مرغه کارول یې ناشوني ول.

د شپې پر نهه بجې د متفقینو له یوه پوځي کاروان سره چې له مخامخ لوري راروان وو، مخ شوو. تقریباً لس دقیقې یې وځنډولو. له دې ځایه تر خوځېدو وروسته زما اړخ ته ناست کس په انګلیسي خپل ملګري ته وویل:

- مطلوب کس زه وژنم او کله چې مې دا کار وکړ، نو ته هم باید سملاسي لاس په کار شې.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه نرۍ وپوښتل:
- څه وکړم؟ ایا کوم نوی ماموریت راته لرې؟
ملګرې بې ورته کړل:
- هو، دغه د خدای ناخبره موټروان چې د خپل سر د سلامتی لپاره یې زموږ لاربنوونه پر غاړه اخیستې ده، باید ژوندی پاته نشي!
- یانې باید ویې وژنم؟
- هو، دی یوازنی کس دی چې موږ پېژني او له کیسې خبر دی او ممکن د بندر پولیسو یا هم د مقتول ملګرو ته زموږ نښې نښانې ووایي.
- ښه فکر دی. زما یې چم زده دی؛ له ښار څخه دوه درې کیلومتر دباندې یې په دا ځنې کې یوه مرمی ولم.
دواړو وخندل. اړخ ته ناست ځوان راڅخه وپوښتل:
- په دې سرعت به ستا به خیال څه وخت عباس بندر ته ورسیږو؟
ورته ومې کتل او ومې ویل:
- غالباً سبا غرمه مهال.
هغه بیا راڅخه وپوښتل:
- د دې موټر خاوند کله او چیرې درته په تمه دی؟
ورته ومې ویل:
- هغه هره شپه د اتو او نهو بجو تر منځ د سمندر پر غاړه یو ځای زما انتظار کوي.
دواړو وخندل او یوه یې وویل:
- نو چې غرمه ورسیږو تر شپې پورې زیات وخت لرو.
ما په ډاډمنه لهجه ورته وویل:
- په هر صورت، زه یې درښیم... تاسې بېغمه اوسئ.
په همدې شیبه کې مې د شا له خوا د یوه لیرې راروان موټر بتیو ته پام شو... دوو (وحشي پیشوګانو) تر خپل منځ یو څه سره وویل، وروسته یې ما ته کړل:
- همدلته ودریږه...

ما سمدلاسه د سړک پر غاړه موټر ودراوه. دواړه چابک کښته شول او زه یې هم ورسره کښته کړم. بو بې له سړکه کښته او پر لمکه پلن شو. زما بغل ته ولاړ کس په گوابسونکې لهجه راته وویل:

- هغه دي خوا ته راروان موټر شکمن غونډې ښکاري او ممکن بو چل-ول یې په نیت کې وي. که تا له دې موقع څخه د گټې اخیستنې بوه ذره هم وکړه، له دواړو خواوو به دې په مرمیو سوري سوري کړو.

د هغه د لا ډاډ خپلولو په پار مې ورته وویل:

- زه ستاسو دریم ملگری یم او که کوم خطر مې حس کړ، مرسته لا هم درسره کوم!

دغو خبرو هغه اغېزمن کړ او په نرمي یې راته وویل:

- ښه راته غوږ شه، کله چې موټر دلته راورسېږي، نو په غالب گومان د اکثرو موټروانانو په شان د مرستې لپاره درېږي او پوښتنه کوي چې د شپې دا مهال ولې د سړک پر غاړه ولاړ یې. د هغه د دې پوښتنې په ځواب کې به ورته وواېې چې ستونزه نشته... سر دي خلاص شو؟

- هو، بالکل... پر ما باور ولرئ!

- ډېر ښه، اوس ورشه د موټر بانټ پورته کړه او داسې وښیه چې بو شی سموې.

امر مې بې پرځای کړ. زه د موټر په وابرونو اخته وم چې هغه رامخته شو، بوه کوچنۍ توپنچه یې راکړه او ویې ویل:

- دا د احتیاط او دفاع لپاره درسره واخله!

هغه موټر راغی اړخ ته مو ودرېد. بو کوچنی بارووړونکی موټر وو. موټروان یې راکښته شو او زما خوا ته راغی. هماغه شرابېلوروونکی وو. څنگ ته مې ودرېد او ویې پوښتل:

- خیریت دی؟

سترگه مې ورته ووهله او ورته ومې ویل:

- هو، خیریت دی، اوس یې کار خلاصیږي!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه وویل:

-وسایل خو به دې نه وي په کار؟

ځواب مې ورکړ:

-نه، منه، اړتیا یې نشته!

هغه نور څه ونه ویل، خپل موټر ته وخوت او حرکت یې وکړ... توپنچه مې په جېب کې وه، مګر زه پوه وم چې هغوی دومره هم احمقان نه دي چې ډکه توپنچه به راکوي. سل سلنه تشه وه او که مې لږه بیعقلي کړې وای، کار یې راکړوپاوه.

بانټ مې راکښته کړ او توپنچه مې بېرته ورکړه. هغه بل ملګری یې هم له کمین څخه راووت او راغی... تر روانېدو وروسته مې وویل:

-ومو لیدل؟ هغه یو عادي موټروان وو!

شا ته ناست کس وویل:

-بیا هم احتیاط اړین وو...

دا لاز متر په متر رامالومه وه او پوهېدم چې سره کلا رانژدې ده. له ژمنې سره سم شرابپلورونکی همالته راته منتظر وو. څکه نو تر مخکې لږ رابیداره او زړور شوی وم.

څه باندې لس بجې سرې کلا ته ورسېدو. د سړک د غاړې له قهوه‌خانې پرته نور نول ځایونه په تیاره کې ورک ول. د قهوه‌خانې مخې ته د شرابپلورونکي پر موټر سربېره دوه نور ډک باروړونکي موټران هم ولاړ ول. زه له هغو موټرانو څخه د یوه شا ته ودرېدم. راسره څوانانو وپوښتل:

-ولې ودرېدې؟

ومې ویل:

-دا ځای خورا خوندور خواړه لري، که مو خوښه وي مابنامنۍ به همدلته وخورو. زه ډېر بد وږی یم.

هغوی په انګلیسي یو څه سره وږغېدل او بیا کښته شول. یو یې روان شو او دا بل ودرېد. زه هم ورکښته شوم. قهوه‌خانې ته ورننوتو. هغه نور موټروانان په ډوډۍ اخته

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ول. شرابپلورونکی یوازې پر یوه تخت ناست وو او مستې و دودی یې خوړله. پر ما د سترګو له لګېدو سره جوخت یې راته وویل:

- ژر راورسېدې...

- دومره مشکل نه وو، ماشین یو څه ګرم شوی وو.

موږ درې واړه پر یوه تخت کېنناستو. همسفرو مې د هګیو فرمایش ورکړ... څو دقیقې وروسته مې یې یوه نه وویل:

- زه ورځم او له موټر څخه یو بوتل شراب را اخلم.

زما اړخ ته ناست څوان پاڅېد او راته ویې ویل:

- درځه چې ولاړ شو...

هغوی لا هم باور نه راباندې درلود او زړونه یې له شکونو ډک ول. زه او هغه له قهوه‌خانې ووتو. په دروازه کې راخوړند څراغ مې راسره راواخیست. هغه راڅخه وپوښتل:

- څراغ څه کوې؟

ورته ومې ویل:

- بوتل په ډیکی (ډاله) کې پروت دی، رڼا ته اړتیا شته!

د هغه احمقانه سوال ته باید همداسې احمقانه ځواب ورکړل شوی وای. د بیعقل ان دې ته فکر هم نشو چې د اورلګیت یا د موټر له شاتنیو بتیو هم کار اخیستلای شم. د موټر ډیکی مې پرانیسته. بوتل-موتل نه وو، دا صرف د خپل پټ پلان د عملي کولو یوه پلمه وه. خوشبختانه د هغه لاسونه له وسلې تش ول. په ډیکی کې پراته شیان مې لږ سره واړول راواړول. په عین حال کې مې هغه هم تر سترګو لاندې څاره. اړخ ته مې نېغ ولاړ وو... چې ویې لیدل بوتل نشته، شکمن شو او ویې پوښتل:

- دلته خو زه کوم بوتل نه وینم!

زه د څو شېبو لپاره په چورت کې شوم، بیا مې سر را اوچت کړ او ورته ومې ویل:

- اوه، اوس رایاد شول، هغه مې په کرمان کې یو چا ته ورکړ!

هغه په مانادار انداز راته وکتل او همدا چې لاس یې د پتلون جیب ته روان کړ، نور مې خندل ونه کړ څراغ مې پورته او پر دا مخ مې ورته کش کړ... د څراغ ګرمه اوسپنه یې پر مخ ونښته او تر خوله یې یو خپ بړغ راووت. لاسونه یې مخ ته لپه کړل... څراغ مې وغورځاوه او ځوان مې پر دا نس یو ټینګ سر وواهه... هغه پر شاـشا ولاړ او پر ځمکه ولوېد... موقع مې ورنه کړه پر ور وغورځېدم او تر مرۍ مې ونیو. هغه د مخ له سوځېدو سره‌ـسره لېونۍ دغرې وهلې. اخیر یې پر دا پزه یو ټینګ سوک ووهلم. د پزې له شدید درده مې لاسونه سوست شول او هغه له دې موقع څخه په استفاده د ده پر مرۍ زما پروت لاس تر مړوند ونیو او تاو یې کړ. خواکمن وو او چې ما ځان مقاومت ته جوړاوه، ده بیا پر ځمکه راویشتلی وم. اوس نو د ده وار وو... خو زه په یوه ټوپ واوښتم او پر پښو دینګ ودرېدم او بیا مې په سر وواهه. بل ګوزار مې پر نس وروکړ، مګر هغه ځان ټینګ کړ او پښې یې خطا نشوې. تر ملا مې لاسونه ورتاو کړل او د موټر شاتني پایدان ته مې تکیه کړ او تښې نه مې سوکان ورته بند کړل. همدغه شېبه مې نابېره پر سترګو د لاسي څراغ رڼا برابره شوه.

- ښور ونه خورې کنه ولم دې!

دا یې د ملګرې بړغ وو چې زموږ ناوخته کېدو شکمن کړی او دباندې راوتلو ته مجبور کړی وو... ما حواس ونه بایلل، د هغه نیمه بېهوښه ملګری مې خپل مخ ته ودراوه او ورته ومې ویل:

- ونیسه ومې وله!

هغه په ګوابنونکې لهجه راته وویل:

- بیعقلي مه کوه، هغه خوشي کړه!

ملګري یې په ستمي او نیولي بړغ وویل:

- نابېره یې راحمله کړل... کنه...

وروسته یې په ټول قوت د مخ خوا ته زوورونه کړل. راباندې درونډ شو. له بلې خوا یې بیا د ملګري د لاسي څراغ رڼا پر سترګو رابرابره شوه او دې شي لا پسې له کاره وایستم... هغه لږ خم شو، بېرته ناڅاپه پر پښو ودرېد او پر مخ یې په سر ووهلم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د خو شپېو لپاره مې پر سترګو توره شپه شوه، مګر بیا مې هم د هغه تر مینه راتاو لاسونه سوست نشول. هغه چې ولیدل زه لاس‌اخیستونکی نه یم، زما د لاسونو په منځ کې سره وخرځېد، راسره سینه په سینه شو، دواړه لاسونه یې تر زنه رالاندې کړل او دومره ټینګه یې ټېله کړم چې په دوې ثانیې کې مې لاسونه سوست شول. هغه مې خوشې کړ، پر ځیګر مې یو ټینګ سوک وواهه او پر ور وغورځېدم... خو دغه شېبه مې تیندک وخوړ او د هغه د راچپه کولو پرځای خپله پر ځمکه غوځار شوم. هغه ته خدای ورکړه او د سترګو په رپ کې پر ځیګر راکېنناست.

تر مری یې کلک ونیولم. ما لاسونه پورته کړل تر څو له دواړو خواوو یې تر غاړه ونیسم، خو هغه سر هسک ونیو. له ناچاریه مې لاسونه بېرته راکښته کړل او مې تر مړوندونو مې ونیو. په ټول توان مې زور کړل چې خپله مری یې له منګولو راوباسم، مګر ونشوه. وروـورو بې‌سېکه کېدم، کار تر کار تېر وو او د مرګ خولې ته تړل شوی وم...

یوازنی هیله مې شرابپلورونکی وو چې داګرې په نهیلی بدله شوې وه، څکه هېڅ درک یې نه وو. ویل مې شاید هغه تر ما مخکې له پښو لوېدلی او هلته ژړې تلې یو ځای پروت وي...

له ځانه مې هم تمه ختلې وه، ځکه هسې بېځایه او له کومې مثبتې پایلې پرته لګیا وم دغرې مې وهلې. د بدن غړي مې وار په وار بې‌سېکه کېدل او دې شي بده وېره راچولې وه. یو غم نه وو؛ که پر دغه یوه برلاسی شوی وای، هغه بل توپنچه او لاسي ځراغ په لاس ځوان به مې څه په کولای؟

د وروستی هڅې په توګه مې هماغه چل کارولو ته نیت شو چې د شرابپلورونکي په کور کې مې یوسف ابراهیم په راپرځولی وو؛ په یو عالم زحمت مې راسته پښه د هغه تر نس لاندې راتوله کړه او د پښو په منځ کې مې پر دا نازک ځای وواهه، لیکن لکه یو مړی چې ووهې، هېڅ اغېز یې پر ونه کړ. له دې سره مې نو نور له هر څه هیله وختله.

زه په همدې مرګوني لګه‌درګه کې تېېدم چې یودم د لاسي څراغ رڼا د یو څو شېبو لپاره زموږ څخه لیرې شوه او چې بېرته راوګرځېده، نو ډېره رانژدې شوې وه. فکر مې وکړ چې د هغه بل ملګري بې حوصله ختمه شوې او غواړي نور دې کشمکش ته د پای ټکی کښېږدي. سترګې مې د هغه څوان د قوي منګولو له لاسه نژدې وې له کولکونو راووزي. یو وخت مې د سر له پاسه د یو کس سیوری ولید، ورسره سم د هغه سیوري پښه پورته شوه او راغله زما پر څیګر ناست کس یې په دا نښې کې وواهه. هغه پر ما راونړېد. ما چابک له ځانه وغورځاوه. لږ چې ساه راپکې وچلېده، پر ورټوپ مې کړل او پر مخ مې په سوک وواهه. هغه ولغړېد... پسې ورغلم چې اول یې یو بل سوک ووهم او بیا یې تر غاړه ونیسم، همدغه شېبه یو چا د شا له خوا تر مړوند ونیولم، یو نارینه اواز مې واورېد:

- همدومره بس ده. وژنه یې مه!

دا د شرابپلورونکي ږغ وو. راپورته یې کړم او زیاته یې کړه:

- وخت کم دی...

زه چې تر لګی سترې شوی وم، په لاس مې د تندي خولې پاکې کړې او ومې ویل:

- چیرې ورک وې؟ لږ پاته وو چې خوله مې له خاورو راډکه کړي!

- همدلته نژدې، خو وزګار نه وم، هلته وګوره!

یو څو ګامه ها پلو یې څراغ واچاوه. هغه دوهم څوان بېهوښه پروت وو. دا بل چې خپل ملګری ولید، پاڅېد او ویې ویل:

- ودې واژه؟

شرابپلورونکي یې پر نس توپنچه وروښوله او ورته ویې ویل:

- نه، تر اوسه لا ژوندی دی. یو ګړی استراحت کوي... که غواړې ورشه ویې ګوره!

هغه د خپل ملګري پر جسد ورچوغ شو او پر زړه یې غوږ ورکښېښود. همدغه وخت شرابپلورونکي لاسي څراغ ما ته راکړ، یو کوچنی شی یې راوایست او هغه یې پر دا سر په وواهه... هغه له دې ګوزار سره پر خپل ملګري ورولوېد.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- څه دې په وکړل؟
- هېڅ، خپل ملګري ته مې ورواستاوه. مشکل نشته، ساعت دوه وروسته بېرته پر هوټل راځي... اوس راځه چې دواړه موټر ته پورته کړو.
په ګډه مو هغه دوې بېهوښه وحشي پېشوګانې د شرابپلورونکي موټر ته وخېژولې. وروسته مو يې جېبونه ورتلاښي کړل. يو څه پيسې او دوې توپنچې مو پکې وموندلې. ما ورېل:
- د دوی دنده صرف دا وه چې هغه سړی ووژني چې په دې دنيا کې بېخي شته نه... په دې منځ کې زه هم په خطر کې ورسره لوېدلی وم، ځکه پر لارې يې زما د وژلو پلان جوړ کړ او له دې پرته يې هم ژوندی نه پرېښودم، په دې چې هغه سړي خو شتون نه درلود چې دوی ته مې ورښودلی وای. دې کار اتومات راباندې شکمنول او پښې يې پر سر را اړولې.
شرابپلورونکی د موټر له يوه کونجه رسی راوايسته او ويې ويل:
- ژر کوه چې لاسونه او پښې يې وروتړو، ځکه هسې نه پر نيمه لار راکښېني او کار راخراب کړي.
لاسونه و پښې مو وروتړل او د موټر له باډی څخه راکښته شوو... دواړه زما موټر ته ورغلو... د يوه ځوان ماشيندار پر څوکۍ پروت وو. هغه مې شرابپلورونکي ته ورکړ. هغه ورته وکتل او ويې ويل:
- دا مې تر اوسه نه وو ليدلی. ډېر ښه شی ښکاري!
بيا يې زياته کړه:
- اوس نو کولای شې چې په بېغمه زړه خپل ماموريت مخته بوزې. تر دې وروسته ستا له سيوري پرته بل هېڅوک نشته چې درپسې شي.
ترې ومې پوښتل:
- رښتيا په هغه موټر کې څو تنه ول؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه فکر وکړ او ویې ویل:

- درې تنه. یوه ښځه او دوه نارینه... موټر هماغه نفر چلاوه چې د سالاران دوی کره یې زموږ یو مامور وواژه...

ومې پوښتل:

- ښه، ته هم د هغې شپې له کیسې هم خبر یې؟

هغه وخندل او ویې ویل:

- وخت تېرېږي ژر حرکت وکړه. بریالی اوسې. رښتیا استاد دې چیرې پټ کړي دي؟

تر پښو لاندې پروت دسکول مې ورونښود او ومې ویل:

- دلته... بل ځای مې یې د پټولو وخت او موقع نه درلوده...

هغه په خلق‌تنګۍ سر وښوراوه او ویې ویل:

- ستا غټه غلطي همدا ده. دا دې نه ویل چې که یې یو وار ولید او څنګیر یې ورخلاص کړ، نو څه به دروکړي؟ چابک یې یو بل سم ځای پټ کړه. هېڅکله بیا داسې بې‌احتیاطي ونه کړې...

بېرته راکښته شوم او استاد مې په ډیکۍ (ډاله) کې د پانو په بکس کې کېښېښودل. د روانېدو پر وخت شرابپلورونکي راته وویل:

- رښتیا اوس راياد شول؛ له ولف ګنګ سره په خلیج قهوه‌خانه کې ووینه...

موټر مې روان کړ. ماشیندار بغل ته پر څوکۍ راته پروت وو... نور له هېڅ شي نه ډارېدم او ډېر ګړندی تلم چې تر غرمې مخکې منزل ته ورسېږم...

* * *

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هانس په یوه ټلګراف کې ولف ګنګ ته لارښوونه کړې وه چې د اګسټ له ۲۶مې نېټې څخه هره ورځ د مازیګر له شپږو څخه تر اوو بجو پورې په خلیج قهوه‌خانه کې ما ته انتظار وکړي. همدارنګه الفرډ ته چې تر ما مخکې له تهرانه راوتلی وو، هم ویل شوي ول چې له ولف سره په دې اړه وږغیږي.

ایسین ته ماپښین مهال ورسېدم. د ۱۹۴۱م د اګسټ ۲۸مه نېټه وه. هوا سخته توده او نفس‌تنګوونکې وه. سره له دې چې ایسین د ګلو غره په لمن کې پروت او ډېر شین او ښېرازه ځای دی بیا هم له خلکو تش او په چوپتیا کې غرق وو. له سره تر نوکه پورې خوله-خوله وم. کثمټ داسې وم لکه په یوه بند حمام کې چې بې اچولی وم... مخ مې تر لمر لاندې د زیات مزل له امله لکه پخه غوښه داسې شوی وو، توښونه ترې ولاړېدل. موټر مې د خرما تر ونو لاندې ودراوه، ترې راکښته شوم او سګرېټ مې ولګاوه. د یوه داسې ځای په لټه وم چې تر شپږو بجو ارام پکې وکړم. بودم یو پخوانی یار یا همکار رایاد شو. کلونه-کلونه مو ګډ کار سره کړی وو. همدلته ایسین کې مېشت وو. د کور ادرس مې یې په یاد وو، خو ډاډه نه وم چې لا به هم همالته اوسي که نه، ځکه هغه ګښته سړی وو او پر یوه ځای یې ډېر تاب نشوای کولای.

دا یار مې کومله نومېد، منځنۍ ونه یې درلوده او مټور سړی وو. د مخ پوست یې توروشمه او سترګې یې زورې وې چې د ده د هوښیارۍ او ځیرکۍ استازیتوب یې کاوه. کور یې د خرماوو د باغونو په منځ کې پروت وو. ور روان شوم چې هم یې ووینم او هم ورکره دېره شم. د کور ښه یې هماغسې د پخوا په شان وه. د دروازې د ځنځیر تر ګړبولو دقیقه دوې وروسته یوه شاوخوا پنځلس کلنه نجلۍ چې اوږد خړ کمیس یې اغوستی او لوڅې پښې وه، راڅرګنده شوه، په سیمه‌ییزه لهجه یې راڅخه وپوښتل:

- څوک مو په‌کار دی؟

د دې په لهجه مې ورته وويل:

- ورشه کومله ته ووايه چې ريما دې غواړي!

لومړی يې داسې وښوده لکه يو څه چې ويل غواړي، بېرته چوپ شوه. دروازه يې وتړله او کور ته ننوتله. لنډه شيبه وروسته بېرته راغله او ويې ويل:

- راځئ دننه!

موټر مې څو متره وړاندې ولاړ وو، ورغلم، دروازې مې يې امتحان کړې چې ډاډه شوم بېرته راغلم او په نجلۍ پسې تر شا کور ته ننوتم... يو عالم تېر هېر يادونه مې په ذهن کې راتازه شول. په دې کور کې مې له کومله سره کونه(ګنې) ورځې او شپې تېرې کړې وې. يو څو ګامه چې ولاړم، کومله له يوې کوټې څخه راووت او د زينو په سر کې ودرېد. اوږد سپين کميس يې اغوستی وو. په زينو کې چې ورپورته شوم تېنګ يې په غېږ کې ونيولم، پر اوږه يې سر راکښېښود او ورو-ورو يې پر ملا ونيولم... يو و بل مو پر مخونو ښکل کړل او خونې ته سره ننوتو. د کړکۍ مخې ته لانده ازغي پراته ول او له همدې امله د کوټې دننه هوا ډېره ملايمه او تازه‌کوونکې وه. سم يې رابيداره کړم. کومله خپلې زوړې سترګې راپکې وګندلې او ويې ويل:

- ريما جانه دا څومره ځوان شوی يې!

ومې خندل او ومې ويل:

- برعکس، ډېر بدل شوی يم. نه وينې چې د سترګو شاوخوا مې څومره ګونځې شوې ده؟ دا ټول د ستړيا او ډېر کار له لاسه!

هغه سر وښوراوه او ويې ويل:

- ښه خير، ځنګه دې خوا ته راغلې؟

ورته ومې ويل:

- يوه بېړني کار راپه مخه کړی يم او فکر کوم يو څو ساعته به همدلته ستا سره يم...

هغه سګرېټ ته خاشه ووهله او ويې ويل:

- که زما مرستې ته اړتيا لرې، نو ژر راته ووايه چې سفر مې وځندوم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

تړې ومې پوښتل:

- چيرې ځې؟

له سګرېټه لوخړه يې پورته کړه او بيا يې وويل:

- تاکلې ده نن شپه له څو نورو کسانو سره سمندر ته ولاړ شم او راتلونکې هفته هم هورې يم.

ومې ويل:

- نه، ستا شتون ته اړتيا نشته. بس يوه ځواني وکړه او اجازه راکړه چې ستا په نشتوالي کې د يو څه وخت لپاره په دې کور کې واوسم.

هغه بېله خندله خپلو مزدورانو ته ور ناره کړه. يوه هغه نجلۍ چې مخکې يې دروازه راته خلاصه کړې وه او بل يو له عمره پوخ سړی کوټې ته رانووت. کومله زه د خپل ورور په توګه ورورپېژندلم او ورته ويې ويل چې دا کور زما دی او هر وخت چې مې زړه غوارې ورته راتلای شم. د هغوی تر وتلو وروسته مې له کومله وپوښتل:

- له دغو دوو پرته نور مزدوران هم لرې؟

هغه وويل:

- نه، زه لا مجرد يم او د پخوا په شان يوازې اوسم.

کومله راپوهېدلی وو چې ستړی يم، يوازې يې پرېښودم. بېخوبۍ او ستړيا مې اعصاب سخت را اغېزمن کړي ول، بېخې مې پر ځان کابو نه درلوده. هماغه د کوټې په منځ کې وغځېدم. د کومله کور ته د راتلو له امله مې چورت يو څه خراب وو، ځکه يو جاسوس په هېڅ وجه دومره ازادي نه لري چې هر ځای ولاړ شي. خو هانس ما ته دا اختيار راکړی وو چې له خپلې خوښې سره سم ګام واخلم. د جرمنۍ جاسوسي شبکې يوه لويه نيمګړتيا دا وه چې مامورانو يې له ورته شويو لارښوونو او امرونو څخه د اوښتلو حق نه درلود. دغه وچ قوانين يې تل پېښو ته د زولنو په شان ورلوېدل او د پرمختګ مخه يې نيوله. که چيرې يوه مامور ته د خپل فکر کارولو اجازه وای، نو مخې ته پراته خنډونه يې تر ډېره اسانه ليرې کولای شول، خو له بده مرغه لاسونه يې تر شا تړلي ول.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په همدې سوچونو کې وم چې کومله خونې ته راننوت. چې زه بې ولیدم پروت یم، بېرته چابک ووت. ورو-ورو مې سترګې درنې شوې او په زور خوب ویده شوم چې راویښ شوم د مازیګر شپږ نیمې بجې وې. ډېر تلواري نه وم. څکه ولف ګنګ تر ۸ بجو راته منتظر وو. کومله له کوټې دباندې پر څوکۍ ناست وو. ما زر-زر ځان سره برابر او تګ ته چمتو کړ. هغه راځغله وپوښتل:

- چېرې ځې؟

- یو ساعت وروسته بېرته راځم...

- نو باید همداوس باید خدای پاماني سره وکړو، څکه چې ته راځې زه به وخته لا تللی یم...

له هغه سره تر مخه‌ښې وروسته بې له کوره راووتم او په موټر کې خلیج قهوه‌خانې ته ولاړم... پر لارې مې هغه مربع ډوله اورلګیت چې شین رنګ یې درلود او له ولف ګنګ سره د پېژندنې شفر وو، د پتلون له جیبه راوایست، له نظره مې تېر کړ او بېرته مې جېب ته واچاوه. همدارنګه مې د نومورې اړوند نور حفظ کړي مهم جزیات د ذهن پر پرده تېر کړل.

قهوه خانې ته نژدې مې موټر ودراوه او په شمېرلو ګامونو ور روان شوم. په قهوه‌خانه کې ګڼه‌ګوڼه وه. یو څو موټروانان دباندې پر تختونو ناست ول. زه پر یوه لرګینه څوکۍ کښېناستم او د چایو سپارښت مې ورکړ. شاګرد په چایو راوړلو پسې ولاړ او ما د مشتریانو څار شروع کړ. زما مطلوب سړی د یو څو نفرو تر څنګ پر یوه پراته تخت ناست وو او ورو-ورو یې سګرېټ څکاوه... دنګه ونه، شنې سترګې، بوک-بوک باړخوګان او نرۍ زنه یې ټیک د هماغه کس یانې ولف ګنګ مشخصات ول چې دا ګړی لکه یو زوړ کولنګي چرګ په چورتونو کې ورک وو.

نر چایو څښلو وروسته له خپله ځایه راولاړ شوم او هغه ته مخامخ کښېناستم... اوس د دې وخت رارسېدلی وو چې ځان په وپېژنم. یو سګرېټ او هغه ځانګړی اورلګیت مې راوایستل. اورلګیت مې داسې ونیو چې هغه یې رنګ او نورې ځانګړنې اسانه ولیدلای شي. خو د هغه راته فکر نشو. ځای مې بدل کړ. دا وار یې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ولیدم، خبره یې وغوړېده او سملاسي یې د پتلون له کيڼ جېب څخه یو نارنجي رنګه اورلګیت راوایست. د سګرېټ لګولو پر وخت یې زما په شان، تر بڼو لاندې ما ته کتل. وروسته پاڅېد، نژدې راغی او په فارسي یې راڅخه وپوښتل:

- شپه چېرې تېروې؟

په خواب کې مې ورته وویل:

- زه هم نه پوهېږم!

په دې ډول نو ګواکې یو و بل ته سره معرفي شوو. پاڅېدم او هغه ته له څه ویلو پرته د خپل موټر خوا ته روان شوم. شترنګ ته د کېناستلو تر شیبې مې شا ته ونه کتل. ولف ګنګ تر هغو هماڅه ولاړ وو تر څو زه موټر ته ختلم. وروسته راروان شو... موټر ته له رارسېدو سره سم یې نیمکښ غوندې شا ته وکتل او وروسته راپورته شو. د دروازې له ټرل کېدو سره جوخت مې د شفو واټ پر خوا حرکت وکړ...

- زه پرون هم درته منتظر وم... ایا پر لارې له کومې ستونزې سره مخامخ شوې؟

- هو، ګنګ صاحب. ستونزه په اصفهان کې پیل او سره کلا کې ختمه شوه... او که د یوه ملګري مرسته نه وای، نو باید دوې ورځې مخکې لا وژل شوی وای. خکه هغوی په هېڅ وجه لاس اخیستونکي نه ول...

- نو بیا خو زه ستا په شمول له ډېرو پېښو ناخبره یم.

په مطلب یې وپوهېدم او ورته ومې ویل:

- د هغوی له منګولو څخه د خان ابستلو په بار مجبور شوم چې بېرته خپلې اصلي خبرې ته واوړم، خو پر دې سربېره هم په لومه کې ولوېدم او هماغه ملګرې چې ستاسې لپاره یې یوه ننبه رالسره ده، په سره کلا کې وژغورلم.

ولف ګنګ بله پوښتنه ونه کړه او ویې ویل:

- ستا راپور بسنه کوي... اوس بېرته در وګرځه چې زما کره ولاړ شو!

موټر مې راکاږ کړ او پر راغلې لار بېرته ستانه شوو. کور یې د ابېین په ختیځ کې وو. د کور مخې ته له موټره کښته شو او راته ویې ویل:

- دننه درته منتظر یم!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

او بیله ځنډه کور ته ننووت. ما چابک په تولبکس کې پټ کړې اسناد او د ماشیندار دسکول راواخیستل او کور ته پسې ورننوتم... کور وړوکی وو او د برنډې مخې ته یو څو د خرما ونې ولاړې وې. ولف گنگ په برنډه کې ولاړ وو. یوې کوچنۍ خونې ته چې یوازې یوه کړکۍ یې درلوده، سره ننوتو. ویې ویل:

- پاکټونه راکړه چې ویې گورم...

هغه دواړه لعنتي پاکټونه مې ورکړل چې څو څله یې ژوند راگواښلی وو... گنگ پاکټونه لاندې باندې وکتل او ویې ویل:

- دا ځای ډېر خوندي نه دی، ورشه د کوټې دباندې ودرېږه او پر دې خوا پام کوه!

امر مې بې ومانه او له کوټې څخه راووتم. هوا تقریباً تیاره شوې وه. پر یوه لرگینه څوکۍ کښېناستم. ماشیندار مې پر ځنگونو راته کښېښود او د گنگ راوتلو ته منتظر شوم... په دې وخت کې یودم د کور دروازه خلاصه شوه. د برنډې د گروپ په رڼا کې مې یو نفر ولید چې یو شی یې په لاس کې او د برنډې خوا ته را روان وو... هغه یو ځایي اوسېدونکی او د ولف گنگ مزدور وو. زما په لیدلو یې ټکان وخوړ. غوښتل یې پوښتنه راڅخه وکړي، خو د گنگ راوتلو چوپ کړ او پر خپله مخه ولاړ. گنگ مې ماشیندار ته وکتل او ویې ویل:

- ته خو ولا ښه پوره سمبال یې. راشه چې یو څه سره وږغېږو.

په زینو کې کښته شوو او په غولي کې د خرما تر یوې ونې لاندې ودرېدو. هغه دا ځای د احتیاط لهمخې انتخاب کړ، ځکه شاوخوا یې پرانیستې وه. وروسته یې سگرېټ ته تیلی وواهه او ویې ویل:

- که نن لا ځنډېدلی وای، نو اړ وم خپله دا ماموریت ته اوږه ورکړم. په هر صورت اوس چې ته راغلی یې، نو تا ته یې درسپارم. نن شپه پر دوې بجې یوه کوچنۍ بېړۍ د کنک په نامه یوې سیمې ساحل ته چې د لنگه بندر په لس کېلومترۍ کې پرته ده، رارسېږي. دغه بېړۍ دوې سپرلۍ لري؛ یو یې نر او بله یې ښځه ده. دوی همالته تا ته په تمه دي. البته شخصاً تا ته نه، بلکې زما یوه استازي ته.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

تر یوې لنډکۍ دمې وروسته یې زیاته کړه:

- ته باید ساحل ته د یادې بېړۍ تر رارسېدو وړاندې ټاکلي ځای ته ځان ورسوې. هغوی به له رارسېدو سره سم د ساحل په پنځه سوه متری کې د څراغ په وسیله اشاره درکړي او که ستا له خوا ځواب ورکړل شو، نو ساحل ته رانژدې کېږي. په سل متری کې بیا درېږي او د سور او زرغون څراغ د پرله پسې لګولو او ګلولو په واسطه اشاره درکوي. ته به سرچپه ځواب ورکوې.

زه په خبرو کې ورولوېدم او ورته ومې ویل:

- په مطلب دې پوه نشوم!

ولف ګنګ وویل:

- مطلب مې دا وو چې د هغوی د سور څراغ په ځواب کې به ته زرغورن څراغ لګوې او همدارنګه سرچپه. دا شفر د ساحل د خوندیتوب له اړخه ډاډ ترلاسه کول دي... کله چې هغوی له بېړۍ راکښته او پر وچه ودرېدل، تا ته به ووایي: *(نباغلي د کب نیولو تور دې تول کړه!)* او ته به په ځواب کې ورته ووایې: *(زه خپل د کب نیولو تور سهار پر پنځه بجې تولوم.)* په دې ډول سره معرفي کېږئ او بیا به هغوی دلته راولې.

ور څخه ومې پوښتل:

- ایا په هغه بېړۍ کې له دغو دوو پرته بل دریم کس هم شته؟

ویې خندل او ویې ویل:

- مالومداره، یو بېړۍ چلوونکی هم شته، مګر هغه د دوی تر کوزولو سملاسې وروسته بېرته چابک پر خپله مخه روانېږي. ستا د لا ډاډمنتیا لپاره به د دغو دوو کسانو یو دوې نښې هم درته ووایم: دواړه ځوانان دي او یوازې دوه بیکونه ورسره دي بس خلاص. په فارسي او عربي رواني خبرې کولای شي.

دا شیبه یې خپل لاسي ساعت ته وکتل او زیاته یې کړه:

- اوس څه کم نهه بجې دي او ته باید یو ساعت وروسته حرکت وکړې!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

نور بې څه ونه ویل او په ګډه بېرته برنډې ته پورته شوو. په کوټه کې مابنامنی چمتو وه. څو ورځې مې سمه ډوډی نه وه خوړلې، ښه په خلاصه اشتها ورته اړم شوم.

تر ډوډۍ وروسته یې خپل مزدور ته وویل چې دوې چارګېلنې پېټرول ما ته راکړي... د سفر د وسایلو تر چمتو کېدو وروسته یې یو څانګړی لاسي څراغ راکړ. پر څه کم لس بجې مې مخه‌ښه ورسره وکړه او مخ پر کنګ مې هڅه کړل...

په هغو شپو ورځو کې د فارس خلیج په سواحلو کې هم د شکمنو کسانو تګ راتګ زیات وو. البته دا تګ راتګ له خطره خالي هم نه وو... دوې ضد ډلې یو او بل ته په کمین کې ناستې وې او په هره ممکنه لار یې هڅه کوله د سیالې خوا کسان په یو نه یو ډول یا له منځه یوسي او یا یې هم لږ تر لږه د کړنو خنډ وګرځي.

جرمني جاسوسانو خپله عملیاتي کړنښه د فارس په څنډو او خلیج په ساحلونو کې اچولې وه او د بې‌خرته پیسو په مټ یې د خپلو پلویانو شمېر زیاتاوه تر څو هم خپل له وړاندې چمتو پلانونه عملي کړي او هم یو شمېر نورو موخو ته ورسېږي. دا ټیک هماغه تاکتیک وو چې د لومړی نړیوالې جګړې په اوږدو کې متفقینو د جرمني جاسوسانو پر ضد کاراوه او په وسیله یې پلانونه ورشنډول.

له شقو څخه مې مخ پر کنګ حرکت وکړ. دغه لار د کمورستان په نامه یوه ځای کې پر دوو برخو وېشل کېده؛ یوه لار یې د (لار) خوا ته تله او بله یې پر لنګه بندر او نورو ساحلي سیمو تېرېده. نژدې دوولس بجې ساري ځاه ته ورسېدم. یو څه چې ولاړم یودم مې د بتیو په رڼا کې د سړک پر منځ یو پروت جسد ولید. بریک ته مې پښه ورکړه او په یو مترۍ کې مې یې موټر ودراوه...

پلټونکي حس له موټره راکښته او د لاښ خوا ته ور روان کړم. هغه پړمخې پروت وو. راسته مې کړ او د مخ په لیدلو مې یې تکان وخوړ. ډېر اشنا راته وایسېد، مګر هېر مې ول چې چېرې مې لیدلی وو... پر ذهن مې زور راوست. رایاد شو؛ هماغه کس وو چې یوه ورځ یې په تهران کې تعقیبولم او ان د انجیلا تر کوره پورې راپسې راغی، د پوسته‌رسان په توګه یې ځان رامعرفي کړ او بیا یې پر دروازه تکان وکړل...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه دوې مرمۍ يوه په نس کې او بله پر غاړه ويشتل شوې وې. ډېرې وينې څخې بهېدلې وې. له معمول سره سم مې يې جيبونه ولټول. له يو څه پيسو پرته مې بل څه ونه موندل. وروسته مې لاښ د سړک څنډې ته کش کړ، يوې کندې ته مې وروغورځاوه او بېرته د خپل موټر خوا ته څنې راغلم... ويل مې په غالب گومان دغه کس به ما پسې راوتلی او د فارس خليج تر ساحلونو پورې يې گام پر گام څارلم او که وژل شوی نه وای، نو بې مرگه يې نه پرېښودم. البته دا زما خپله انگېرنه وه، ممکن غلطه وه، خو په دې کې مې بيا شک نه ليد چې هغه زمونږ کسانو وژلی دی.

حس مې کړه چې پر څه يوه خطرناکه لار روان يم. مطلب مې تر کنک پورې تللې لار نه، بلکې همدا اوسنۍ دنده وه چې له خو مياشتو راهيسې ورلوېدلی وم... په لنډه موده کې مې گڼې خونړۍ او وېرونکې پېښې تجربه کړې وې. خواکمن سيال چې څو واره يې د مرگ کومې ته ورکش کړی وم، په هېڅ وجه لاس نه راخخه اخيست.

دې سوچ چې يوه نه يوه ورځ به بالاخره زما په نوم راويشتل شوې مرمۍ راپکې ونښلې او د ژوند پاڼه به مې را ورزوې، خورولم. د متفقينو هغه ټول ماموران مې يو-يو په ذهن کې راوگرځول چې په بېلابېلو بڼو دلته هلته ورسره مخامخ شوی وم... اديټ تر ټولو زياته راته قهرېدلې او خطرناکه ښوې وه. هر ځای يې څارلم او په دې لټه وه چې ومې وژني. پوهېدم چې که په لاس ورغلم نو څه کانې به راوکړي. اول به مې مرگونې شکنجه کړي بيا به مې په ډېر ناوړه او دردوونکې ډول ووژني. همدا د هغې او ملگرو تگلار وه. يو ځل خو مې يې د يوې شکنجې خوند هم کتلی وو چې دوی ناز باله.

په دوهم قدم کې کشيش لوديک راياد شو چې تهران ته تر راتلو وړاندې مې غاښ وربرېښولی وو. که څه هم وروسته يې خپل غچ راځخه واخيست، مگر پوهېدم چې لا هم پوره قانع نه دی او د يوه درانه گوزار په لټه په يوه مناسب فرصت پسې گرځي... بيا مې کريستين چې په ايران کې يې پر شتون او نه‌شتون شکمن وو،

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

زمن نه راغله او همدارنګه د هغې نور ملګري چې هر يو به نه ېې رما کړه،يه و،مالوم
ول، راباد شول او نول له يوه منخه نر وروستی جوړي خطرناک او بې رحمه ول.

اوس کېسه يوه خورا نازک او خطرناک پړاو ته رسېدلې وه او هرې غاړې هڅه کوله د هغې بلې خوا کسان له منځه يوسي. په دې اړه د نړلاسه کړيو مالوماتو له مخې پوهېدم چې د جنګ په اوږدو کې جاسوسان د يو او بل له وژلو او تښتولو پرته مطلوبې پايلې نه شي رسېدلای. نور کار تر کار تېر وو او جرمنيانو د مارګريتا او متفقينو د دوو دريو نورو جاسوسانو په وژلو سره مبارزه يوه نوي پړاو ته ور دننه کړې وه.

سره له دې چې هر خای مې پر سر د مرګ خونړی اوربخې تاوېدې. بيا هم نه لاس پر سر کېدم. له خطرونو او پېښو سره غريزوي لېوالتيا مخ په وړاندې کشولم او له ميدان‌پرېښودلو يې راګرځولم... مخکښې دنده مې هم له شکه خلاصه نه بزې له خطرونو او ګواښونو ډکه وه. مګر په بدل کې مې پوره‌پوره ازادي لرله او په اصطلاح د خپل سر پاچا وم.

پاو باندې يوه بجه د کنګ يو کېلومترۍ ته ورسېدم. نيک پر هماغه ځای مې موټر ودراوه چې د ولف ګنګ د راکړل شويو مالوماتو پر بنسټ يوې بېړۍ دوې ناپېژاندې سپرلی ورته راوړلې. تکه توره تياره وه. د لاس ګوتې نه ښکارېدې. له ساحل سره د سمندر جنګېدونکو کوچنيو څپو د شپې چوپتيا سينه پرله پسې ورڅيرله. له موټر څخه تر کښته کېدو وړاندې مې خپل ځانګړی لاسي څراغ څو واره وازمايه. وروسته مې ماشيندار راواخيست او د سمندر خوا ته ور روان شوم... ډېر ليرې نه وو. همالته پر لندو ريګو چې د اوبو څپې به مې تر پښې پورې راتلې او بېرته به تلې، ودرېدم... د ساعت د کتلو لپاره مې له خورا احتياطه کار اخيست؛ لاسي څراغ به مې د ساعت هندارې ته فول ورنژدې کړ او بيا به مې ولګاوه.

ان سګرېټ مې هم نشوای څکولای. څکه د ګوګړ د خاشې اور ممکن له ليرې څخه ليدل شوی وای. سره له دې چې تقريباً ډاډه وم چې په همدې شاوخوا کې کوم څوک نشته، مګر بيا مې هم احتياط لازم وو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بالاخره دوې بجې شوې. سترګې مې په درياب کې ګنډلي وې. يو وخت مې ليرې يوه ژړه رڼا وليده چې روښانه او خاموشه شوه. بیله څنډه مې په راسره څراغ خواب ورکړ. څو دقيقې وروسته زرغونه رڼا راښکاره شوه. ما په سره رڼا خواب ورکړ او د څو شېبو په واټن سره رڼا فول او ډيم شوه. د دې مانا دا وه چې بېړۍ ډېره رانژدې شوې ده. ما په زرغورنه رڼا خواب ورکړ... اخير مې د بېړۍ د ماشين کمزوره ږغ واورېد. ګړۍ وروسته ږغ بند شو. زه د سمندر تيارې ته لا زيات خير شوم او غوږونه مې بېړۍ په خپلو سترګو ووينم. د اوبو د څپو شرپا مې واورېده. بېړۍ خاموشه او د پارو وهلو په مرسته رارروانه وه. اوس مې نو سمه دمه ليدله چې په اوبو کې پورته کښته کېده. ساحل ته نژدې په کمو اوبو کې له بېړۍ څخه دوه تنه راکښته شول. له هر يوه سره يوه-يوه بسته ورسره وه. هغوی زه ليدلم او ما دوی ليدل. سيده زما خوا ته رارروان ول. ښځه مخکې او سړی ورپسې وو. دواړه راغلل او مخامخ راته ودرېدل. سړي خپل بيک پر ځمکه کېښود او ښځې هغه اوچت کړ. دا هم يوه شفري اشاره وه چې مخکې مې يې يادونه ونه کړه. وروسته سړي ما ته په خطاب کې وويل:

- ښاغلې د کب نيولو تور دې ټول کړه!

په خواب کې مې ورته وويل:

- زه خپل د کب‌نيولو تور سبا پر پنځه بجې ټولوم.

په دې ډول يو پر بل باوري شو. سړي لاس راوغځاوه او روغبړ يې راسره وکړ. د ښځې وار شو. هغې خپل بيک پر ځمکه کېښود او لاس يې راکړ. سره له دې چې تياره وه، خو بيا يې هم د مخ ښکلا په بشپړه توګه ليدل کېده. سړي راڅخه وپوښتل:

- ډېر وخت کېږي چې راته منتظر يې؟

خواب مې ورکړ:

- تقريباً درې پاوه کېږي.

ښځې وپوښتل:

- پر لارې خو به له کومې ستونزې سره نه يې مخ شوی؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- نه، مګر یو ځای مې پر سړک د متفقینو د یوه جاسوس مړی ولید.

- پېژندی دې؟

- تقریباً، څېره یې راته اشنا وه.

سړي وپوښتل:

- ستا په خیال چا به وژلی وي؟

ما په خندا ځواب ورکړ:

- باید زموږ همکارانو وژلی وي. دا ګړی باید د خپلو سرونو خیر وغواړو... درځئ چې ځو.

زما د موټر خوا ته سره روان شوو. ښځه مې اړخ ته او سړی شا ته کېنناست. سملاسي مو مخ پر ایسین حرکت وکړ. د سویچبورډ په کمزوره رڼا کې مې د ښځې څېره یو څه سمه ولیدله؛ ځوانه وه، تور وېښتان او اوږدې غټې سترګې یې لرلې. لنډه دا چې ښکلې او جذابه وه. خو هغه سړی بیا چې تر دې دمه یې د مخ په سم لیدلو نه وم توانېدلی، د رېږدو له اندازه فول خشک او خشن ښکارېد. همدې خانګړنې یې پر دې شاهدي ورکوله چې په خپل کار کې پوره-پوره برلاسی او د یوه عمر تجربې خښتن دی.

یو څه واټن چې مو وواهه، سړي له ورسره دسکول څخه زما ماشیندار ته ورته یو ماشیندار راوایست او ښځې ته یې ورکړ. ځان یې هم په وسله سمبال کړ. وروسته یې ما ته په خطاب کې وویل:

- احتیاط په‌کار دی. دا لاره زښته خطرناکه ده.

ورته ومې ویل:

- وارخطا کېږئ مه. زه ډاډه یم چې تر منزل پورې به هېڅ مشکل راپېښ نشي.

له چاه ساري څخه چې تېر او مخ پر کمورستان دوه‌لاري روان شوو، تر یوه کوچني چوک سملاسي وروسته ناڅاپه د یوې ډزې ږغ واورېدل شو. زه پورته وغورځېدم. دوې درې ثانیې وروسته بل تک وشو او یوه مرمۍ راغله د مخکني بمپر پر راسته لاس ونښته. د خدای فضل وو له ټایره خطا شوه. پر موږ دریو واړو له

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وارخطايي او حيرانتيا ډکې چوپتيا سيورى وغوړاوه. سړي ورو پر اوږه وټپولم او راته وېې ويل:
- درچابک شه ... د دوښمن کمين دى!
ما پر اکسلېټر پښه ټينګه کړه او ښځې ته مې وويل:
- سر دې ټيټ کړه!
په همدې شېبه کې مې پر يوه باري موټر سترګې ولګېدې چې شاوخوا پنځه سوه متره ليرې پر سړک په بره(عرض) ولاړ وو... ښځه پر څوکۍ ښوييدلې ناسته وه. همدا چې ياد موټر يې وليد، چابک ښغه کښېناسته او ويې ويل:
- کار کړوپ شو. کمين دى!
مرګ مې مخې ته ولاړ وليد. سر مې خلاص شو چې يوه خونړۍ نښته راته ګوري. د ژوندي پاتېدو چانس کم څه چې ان ناشونى ښکارېد، ځکه دوښمن مو په سترګو نه ليد او په بشپړه توګه راباندې برلاسي وو. سړي په غوسه وويل:
- ډېر ښه پلان يې راته ترلى دى. وګوره موټر يې داسې درولى دى چې حتا يو انسان هم نشي ورسره تېرېدلاى.
ښځې وويل:
هر څوک چې مې وليد، ضربه کوم يې!
ورته ومې ويل:
- د اوس لپاره زموږ تاسې وسلې د هيڅ ښې نه دي[1]، ځکه هغوى موږ ويني او ډېر اسانه مو په ښنه کولاى شي.
ما له اکسلېټره پښه ايسته کړې وه. موټر کرار-کرار وړاندې روان وو. د هغه ولاړ موټر په دوه درې قدمۍ کې مې بريک وواهه. له دې سره سم د يوه نه‌ليدل‌کېدونکي سړي امرانه اواز پورته شو چې د ډزو نه کولو اخطار يې راکړ... ما خپلو ملګرو ته مخ کړ او ورته ومې ويل:
- وامو ورېدل؟

*1 د هيڅ ښې نه دي - مانا په درد مو نه خوړل کيږي.*

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سړي وویل:
- د هغه په خبرو باید ونه غولېږو. که موږ هغوی ونه وژنو، نو هغوی به موږ ووژني.
ورته ومې ویل:
- په هر صورت، تکان باید ونه کړو!
سړي په امرانه لهجه راته وویل:
- نه پر موږ د امر کولو حق نه لرې. یاد ولره چې ته صرف یو لارښود یې!
د هغه دغې خبرې مې وینه راوخوټوله او په ډېره توندۍ مې ورته وویل:
- منزل ته تر رسېدو پورې زه یوازې ستاسې لارښود نه، بلکې ساتونکی هم یم او هره خبره مې باید بېله پنج و پروسه ومنئ!
زما غوسې دواړه غلي کړل، خو د سړي له قهرجنې خبرې ښکارېده چې زما د امر اطاعت خوند نه ورکوي. د کتلو شیطاني انداز یې وپوهولم چې یو احمقانه کار ته یې خیال دی. د شا له خوا د ځو کسانو د پښو کښهاري موږ درې چوپ کړو...
ښځې وویل:
- دې خوا ته راروان دي!
ورته ومې ویل:
- ټوپک دې کښته په پښو کې کښېږده!
وروسته مې سړي ته مخ کړ او ورته ومې ویل:
- ته هم همداسې وکړه!
هغه وویل:
- سر له همدې شېبې ته زما د ساتلو مسوولیت نه لرې!
- لېونی یې؟
- خپل غم دې وخوره، په ما کار مه لره!
ښځې پر پښه وټپولم او ورو یې وویل:
- رانژدې شول!

د هغوی ښکالو ورکه شوه. څو ثانیې وروسته ناڅاپه د موټر دواړو خواوو ته څلور وسله وال کسان چې مخونه یې پوښلي ول، راښنه شول. توپکونه یې زموږ لوري ته نیغ نیولي ول. په دې بڼه د هغوی لیدلو ارام کړم، وپوهېدم چې لاروهونکي دي او بوازې یې له پیسو سره کار دی. ښځې او سړي دواړو ته مې داډ ورکړ چې غله دي. ښځې ومنله، مګر سړی لا هماغسې پر خپل خره سپور وو او تینګار یې کاوه چې دا د متفقینو کسان دي او غواړي ومو نیسي. زما طرف ته ولاړ نقابدار کس د توپک په څوښکه هنداره راوټکوله. د هنداري له کښته کولو سره سم یې راته وویل:

- راکښته شئ!

ما خپلو ملګرو ته مخ کړ او ورته ومې ویل:

- مخکې تر دې چې هغوی مو په زوره کښته کړي، باید امر یې ومنو، کنه غلبېلوي مو!

ښځې مې خبره ومنله او راپسې راکښته شوه. سړی هم همداسې... نقابدارانو درې واړه د موټر بغل ته کتار ودرولو او خپله مخامخ راته ودرېدل. لکه په مرمیو چې مو ولي. ښځه پر خبرو راغله او له هغوی څخه یې وپوښتل:

- د سړک له بندولو څخه مو هدف څه دی؟

یوه یې ځواب ورکړ:

- موږ د خپل مشر راتلو ته منتظر یو. اوس راځي!

د مشر توري زه شکمن کړم. ویل مې هسې نه زما د ملګري خبره رښتیا او د دې خلکو مشر د متفقینو جاسوس وي. لنډه شېبه وروسته له کیڼې خوا څخه د یو چا د پښو کښهاری واورېدل شو. موږ دریو واړو هغه لوري ته وکتل؛ د موټر په رڼا کې مو یو سړی ولید چې وسله په لاس زموږ خوا ته وروورو را روان دی. د هغه څېره هم پوښلې وه. څو ګامه شا ته یو بل پټ‌مخی سړی ورپسې وو. لومړی سړي له رارسېدو سره سم موږ درې هر یو جلا-جلا وکتلو او وروسته یې خپلو ملګرو ته وویل:

- درې سره د موټر مخ ته بوزه!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د موټر بټیو ته یې مخامخ ودرولو. هغه سړی مو مخې ته تېر شو او بیا یې وپوښتل:

- تاسې څه کاره یاست؟

ما ورته وویل:

- عباس بندر ته ځو!

هغه وړاندې راغی، یوه ټینګه چپلاخه یې ووهلم او راته وېې ویل:

- ریما ستا ښځه مې پوښتنه نه ده کړې! پرېږده چې هغوی خپله ورغېږي.

د خپل نوم په اورېدو مې د هغه د درنې چپلاخې درد هېر شو او یودم اشنا راته وایسېد. یو څه چې مې پر اعصابو زور راوست ومې پېژاند؛ هماغه تېمور وو چې په کوېټه کې یې کور ته ورغلی وم او مرسته مې ځنې غوښتې وه.

له خانه مې تمه وختله؛ له دې زاړه همکار ښځه چې اوس په دوښمن بدل شوی وو، خلاصون ناشونی وو. ښځې او سړي د تېمور له خوا زما د نوم په اخیستلو ټکان وخوړ. ښځې خواب ورکړ او ورته وېې ویل:

- وادې نه ورېدل؟ موږ عباس بندر ته روان یو او که پیسې غواړې، ووایه چې دربې کړو.

تېمور یوه ځناوره خندا وکړه او وېې ویل:

- پیسې دې اوس وي، زه ځینې نور شیان هم غواړم چې یو یې نه یې. د شپې دا وخت، پر دې سړک د یوې ښایستې ښځې موندل لوی نعمت دی.

د تېمور شا ته راروان هغه بل پټمخی سړی د نوموړي په څو قدمی کې ودرېد.

ښځې خواب ورکړ:

- که دې هدف زه یم، نو بیا دغه نور دوه کسه پرېږده چې ولاړ شي.

تېمور زما مخې ته ودرېد، په سر اغوستې توره کخوړه یې ایسته کړه او راته وېې ویل:

- هېڅ به دې زړه ته نه لوېدل چې دلته به دې پیدا کړم!

ورته ومې ویل:
- مور، تاسې هر ځای یو او بل سره پیدا کولای شو. خو که د خپلې دوښمنۍ لامل راته ووایې، ښه به وي.
هغه خپله وسله یوه ملګري ته ورکړه، وروسته یې یو لنډکی چاکو له ملا څخه راوایست او ویې ویل:
- یو پخوانی کوچنی حساب مې درسره پاتې دی. په کوټه کې مې په دې خاطر ونه وژلې چې مبلمه مې وې، مګر تا په ډېره بیداری ځان راڅخه خلاص کړ او زماکسان ونه توانېدل چې پښې دې پر سر در واړوي.
خیر، اوس هم نه دی ناوخته، خپله به دې کار در وکړم. په عین حال کې به دا هم درته ووایم چې په دا نوې دنده دې خبر یم او پوهېږم چې په خښې اخته یې.
تر یوې لنډې چوپتیا وروسته یې زیاته کړه:
- ولې ګونګۍ یې؟ وړغېږه، د ځان دفاع وکړه!
له غوسې او کرکې په مالامال لهجه مې ورته وویل:
- ارمان چې ته یوازې وای، بیا به مې دربښودلې وای چې له یوه سړه څو پټېرې پخېږي او د ځان دفاع څه ته وایي. راڅخه وېرېږې. که داسې له څلورو خواوو دې نه محاصره کولم.
تېمور سوختې شو. وړاندې راغی، د چاکو په څوکه یې بازو رازخمي کړ او ویې ویل:
- څو دقیقې وروسته به دې ږغ د تل لپاره در غلی کړم. مګر په دې وسیله نه، بلکې تیک هماغسې لکه شانیها چې دې وواژه!
ما نور له ځانه لاس ومینځه او پوه شوم چې دا بدنیته انسان مې په هیڅ وجه ژوندی نه پرېږدي، نو ناڅاپه مې یو ټینګ سر په دا نس کې ورواهه. هغه تعادل له لاسه ورکړ او د شا پر تخته پر ځمکه ولوېد. وسله وال ملګري یې سره وخوځېدل.
یو یې زما خوا ته راروان شو.
- کار مه په لره، دی زما ښکار دی!

تېمور پورتنۍ جمله له ځمکې څخه د راولاړېدو په حال کې وویله. وروسته یې له هغه پټ‌مخي څخه خپله توپنچه بېرته واخیسته او ما ته یې وویل:
- یوازې دوې مرمۍ یا هم بنايي یوه دانه... د هغه موټر خوا ته در روان شه...
چې ویې لیدل زه بنور نه خورم، خپلو دوو کسانو ته یې امر وکړ چې ما له هغه باري موټر سره نژدې ودروي. هغوی تر تخرگونو لاسونه رالاندې کړل او په زوره یې وربنودلي ځای ته بوتلم. وروسته تېمور هغوی ته وویل چې راځخه لیرې شي. دغه وخت بنځې خپله چوپتیا ماته کړه او تېمور ته یې وویل:
- که ستا هدف زه یم، نو دی مه وژنه. دا زما ملګری او مېړه دی.
تېمور هغې ته وکتل او ویې ویل:
- ستا وار هم را روان دی.
د تېمور ساتونکی لا هم هماغسې پټ مخ د نومړي شا ته په څو قدمۍ کې ولاړ وو او د خپلې توپنچې میل یې کرار-کرار د چپه لاس پر ورغوي ټپاوه. زه د موټر د بټیو په رڼا کې ولاړ وم... تېمور مخاطب کړم او ویې ویل:
- رامخکې شه!
شانیها مې سترګو ته ودرېد. هغه هم الفرډ ټیک همداسې وویشت، په دې فرق چې هلته الفرډ د دوستۍ جامې اغوستې وې. زما عقدېي او له کرکې ډک دوبنمن غوبنتل کټمټ هماغسې مې ووژني. زه کرار-کرار ور روان شوم. د پښو شیمه مې ختلې وه او مړې-مړې کېدې. تېمور د خپلې توپنچې خوله زما خوا ته نیولې وه.
لا د نومړي څلورقدمۍ ته نه وم رسېدلی چې نابېره دوې پرله پسې ډزې وشوې... په رډو او حیرانو سترګو مې تېمور ولید چې پر ځمکه راونړېد.
د تېمور تر خوله اه راووت، سره ګونجیلیک[1] شو، خپل ورپاته ټول ځواک یې راغونډ کړ... تر دې شېبې هېڅوک نه پوهېدل چې چا ویشتلی دی، مګر همدا چې د پاڅېدو په نیت پر څلورو شو، موږ ټولو ولیدل چې هغه پټ‌مخي ساتونکي یې

[1] ګونجیلک – ورټول، سره نښتلی.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

توپنچه ورته سیخه کړه، دوه نور ټکان یې هم پر وکړل او د تل لپاره یې د ماجراغوښتنې او بدماشۍ داستان ورختم کړ.

د تیمور وژنه دومره ناڅاپي، غیرمنتظره او چټکه وه چې د یو څو ثانیو لپاره نه یوازې موږ، بلکې د هغه ملګرو هم په هېښنو سترګو د خپل مشر جسد ته کتل. لکه یوه اسماني ټکه چې راپاندې رالوېدلې وي. ساوې مو بندې وې او په زړونو کې مو یو ډول وارخطايي او وېرې ځاله کړې وه.

زه پر خپل ځای مېخ شوی وم او داسې مې انګېرله لکه خوب چې وینم. هغه ښځه او سړی هم له موټر سره وچ ولاړ ول او هېڅ ښور یې نه خوړ. دا پټ مخی څوک دی چې تیمور یې وواژه؟ اخیر هغه د نوموړي باوري کس وو، څنګه یې دا کار وکړ؟ لکه چې کومه ترخه خاطره یې خنې لرله، چې داسې وه نو ولې یې وختي کار نه ورکاوه؟! د ټولو په ذهنونو کې دا او دې ته ورته پوښتنې تاوېدلې راتاوېدلې.

ناڅاپه له هغو نورو پټمخو څخه یوه د ډار او تاثیر حاکمه فضا ماته کړه، د قاتل خوا ته یې توپک ونیو او چیغه یې کړه:

- انډیوالانو ولې ورته ګورئ، دا زموږ د مشر قاتل دی، چې ژوندی درڅخه ولاړ نشي!

د هغه چیغې نور درې کسان هم را پرخود کړل او توپکونه یې د قاتل خوا ته نېغ ونیول، مګر هغه کس غره غوندې بېخاره ولاړ وو او له ځایه یې ښور نه خوړ. زما زړه په ځای کې نه وو او هېڅ نه پوهېدم چې په دې سربدالوونکې ډرامه کې د چا خوا ونیسم. ان هغه سړي او ښځې چې تر ما په دې لار کې په وارو-وارو تکړه او باتجربه ول، ځان ته ښور نه ورکاوه. یوه لوري ته مو څلور دانې ډزو ته اماده توپنچې وې او بل ته مو هغه زړور ناشنا سړی. سره له دې چې زه یې له حتمي مرګه ژغورلی وم، بیا هم سل سلنه ډاډه نه وم چې ایا هغه تیمور د شخصي دوښمنۍ له وجې وواژه او که زموږ په خاطر؟!

پټ مخي چې څلور ورته سیخ توپکان ولیدل، مانداره خندا یې وکړه، وروسته یې خپله توپنچه د هغوی خوا ته ونیوله او ورته ویې ویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- ښور ونه خوری که نه تاسې هم په خپل بادار پسې وراستوم. توپنچه مې لا هم مرمۍ لري!

ویل مې دا سړی لکه چې لېونی شوی دی چې دومره په ځان غره دی. دغه شېبه د توپکانو د ماشو کړیچهاری واورېدل شو. پټمخې په لوړ اواز وخندل او ویې ویل:

- بیعقلانو ناحقه ځانونه مه ستړي کوئ، ستاسې توپکونه مرمۍ نه لري!

له دې سره یوه نفر د ډېرې غوسې او کرکې له وجې خپل توپک د هغه خوا ته ور وغورځاوه او دوو نورو پر ور منډه کړه، مگر هغه پټمخي په حیرانوونکې تېزۍ له موټره خپل ماشیندار راوایست او هغوی یې پر خپلو ځایونو مېخ کړل. ما هم چابک ځان وسله وال کړ، ځکه نور ډاډه شوم چې دا سړی چې هر څوک دی، زموږ ملاتړی دی.

کله چې هغوی ځانونه په کونج کې راگیر شوي ولیدل، نو خپل تش توپکان یې پر ځمکه کېښېښودل. پټمخی زما خوا ته راغی او له سره یې توره کځوړه ایسته کړه. په لیدلو مې یې سترگې رډې-رډې راوختلې، ځکه هغه هماغه شرابپلورونکی وو. په هېښتیا مې ورته وویل:

- ته او دلته له دغه لاروهونکي تېمورسره؟ هېڅ مې سر نه خلاصېږي.

هغه په خپله ځانگړې خندا ځواب راکړ:

- بس همداسې ښه ده چې سر دې خلاص نشي، ځکه بیا ډېر نور شیان هم شته چې غواړې ویې وینې او هغه دې سرخوږی لا پسې در زیاتوي، نو که زما منې ښځې یې هېر کړه.

- مگر په دې کې شک نشته چې ستا کارونو ته شیطان هم گوته په غاښ دی...

- دغسې شیطانان په ښخر دي، ته هم باید ورسره شیطان شې کنه کار دې ختم ویوله.

وروسته د هغې ښځې او سړي خوا ته ورغی، روغبړ یې ورسره وکړ او ویې ویل:

- ښاغلی ایکس په لیدلو مو خوشحاله شوم. زما نوم کلټ دی!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لومړی وار وو چې د شرابپلوروںکي نوم مې اورېد. اوس مې ان د هغه سړي او هغې ښځې نومونه هم زده کړل.

کلټ ښځې ته مخ کړ او ورته ویې ویل:

- مېرمن نایمن تاسې څنګه یاست؟

دا درې اړخیزه پېژندنه بې شفره تر سره شوه او لیدل مې چې اېکس او نایمن د کلټ په لیدلو هېڅ حیرانتیا ونه ښوده. ښکارېدله چې ایران ته تر راتلو مخکې یې د هغه نوم اورېدلی وو.

شرابپلورونکی چې اوس یې نوم کلټ وو، په خپلو دې شیطاني کړنو یو بل ډول بنیادم راته وایسېد؛ هر ځای او هر وخت یې له مرګه ساتلم. کله چې یې اېکس او نایمن ته د خپلې شبکې د یوه فعال او تکړه مامور په توګه معرفي کړم، ومې ویل:

- ستا کارونه حتا د شیطان له توانه هم نه دي پوره مونږ خو هلته پرېږده!

هغه په داسې حال کې چې سترګې یې په اېکس کې وې، وویل:

- مونږ ټول شیطانان یو، همداسې نه ده ښاغلی اېکس؟

هغه ورته وویل:

- ستا په اړه مې ډېر شیان اورېدلي ول او فکر مې کاوه چې دومره ژر به دې ووینم، مګر له نېکه مرغه داسې وخت مې ولیدې چې ژوندي پاتېدو ته مو هېڅ هیله نه وه.

کلټ وویل:

- اوس د دې وخت رارسېدلی چې سره بېل شو.

وروسته یې ما ته مخ کړ او ویې ویل:

- ژر تر ژره له دوی سره حرکت وکړه. ولف درته په تمه دی!

اېکس او نایمن موټر ته پورته شول. زه لا ولاړ وم. کلټ هغو څلورو تسلیم شویو پټ مخو ته امر وکړ چې خپل ټوپکونه واخلي او پر مخالف لوري روان شي.

هغو بدبختانو یې سملاسي امر پرځای کړ او د شپې په تیاره کې پر یوه ناڅرګنده خوا وخوځېدل. کلټ په منډه باري موټر ته ولاړ او زمونږ تګلور یې پرانیست. ما هم چابک موټر روان کړ.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هوا روښانه شوې وه چې ایسین ته ورسېدو. ولف ګنګ په غولي کې قدم واهه او داسې ښکارېده لکه ټوله شپه چې یې په ویښه تېره کړې وي. پر څېره او سترګو یې د ستړیا او بېخوبۍ نښې څرګندې وې. زما له لیدو سره سم یې وویل:

- خیریت وو چې دومره وځنډېدې؟

- پر لارې یې کمین راته نیولی وو، خو ژوندي ترې راووتلو.

- هغوی دې وپېژندل؟

په خواب کې مې یې د پېښې لنډه کیسه ورته وکړه. ولف وخندل او ویې ویل

- کاشکې ټول ماموران د کلټ غوندې وای. هغه جوړه نه لري.

ایکس یې په خبرو کې ورولوېد او ویې ویل:

- ایا کولای شو یو څه دمه سازه کړو؟

نایمن چې ډېره ستړې ښکارېده، وویل:

- ټوله شپه پر لارې وو. ان یوه دقیقه ارام مو هم نه دی کړی.

ولف نیم پاته سګرېټ پر ځمکه وغورځاوه، پښه یې پر کېښوده او ویې ویل:

- بالکل ملګرو، تاسې باید استراحت وکړئ. نن ماښام تر اوو بجو پورې ازاد یاست.

وروسته یې وخندل او زیاته یې کړه:

- مګر نه د هر کار کولو لپاره... ایکس همدلته زما سره پاتېږي او ریما ته مېرمن نایمن هغه کور ته درسره بوزه. همداسې کول اړین دي، ځکه ټول په یوه ځای کې راغونډېدل غټه بیعقلي او بې احتیاطي ده.

د سهارنۍ تر خوړلو وروسته زه او نایمن د روانېدو په تکل کې شوو. ولف راته مخ کړ او ویې ویل:

- لکه څنګه چې مې مخکې هم درته ویلي ول. د مېرمن نایمن ساتنه ستا پر غاړه ده.

هغه د جملې په پای کې سترګه راته ووهله. په مطلب یې وپوهېدم. خو سر مې خلاص نه کړ. د کومله په کور کې مې نایمن ته یوه بېله خونه ورکړه او مزدورانو ته مې وویل چې هر امر یې پرځای کړي. وروسته خپله د اړخ خونې ته ولاړم او پر

کښې وغځېدم. دا دواړې کوټې یو په بل کې سره سوری وې. تازه په خوب کښېوتلی وم چې یو چا ږغ راباندې وکړ. سترګې مې پرانیستې او له عادت سره سم مې سمدستي لاس د توپنچې خوا ته ولاړ. ږغ له ها بلې کوټې څخه راتلی:

- ریما ویده یې؟

- نایمن ما ته وایې؟

- هو، ایا ستا پرته هم دلته بل څوک شته چې خواب راکړي؟

- ښه، څه دې ویل؟ یو شی-می دې په‌کار دی؟

- نه، دلته راشه!

- ته خبره یې چې زه ډېر بد سترى یم!

- اوه دا وخت د خوب نه دی. راشه غواړم یو څو دقیقې مجلس درسره وکړم.

له کټه راکښېته شوم. د هغې کوټې ته ورروتلې دروازه مې پرانیسته. هنداري ته ولاړه وه او وېښتان یې وچول. ورته ومې ویل:

- خیریت وو زه دې ولې راوغوښتم؟

ویې ویل:

- هو، بس هسې زړه مې درسره غواړي.

- نایمن ته ښه وینې چې موږ پر څه حال یو، دا کیسې زموږ سره نه ښایي.

هغې پر اوږه سر راکښېښود او په ژړا یې وویل:

- هر څنګه چې شي زه بیا هم یوه ښځه یم... سر دې خلاص شو؟

- هو، پوه شوم، مګر زه و ته له یو او بل سره نشو اوسېدلای او حتماً باید سره بېل شو. له همدې امله نه غواړم چې په تا پورې زړه وتړم او ستا څخه هم هیله کوم چې ما له ذهنه وباسې.

- مګر زه بیا یوازې یم. په دې پراخه نړۍ کې هېڅوک او هېڅ شی نه لرم. څه چې مې لرل ټول مې وبایلل... اوس غواړم بیا یې له سره راپیل کړم... زه خپله هم پوهېږم چې دا ممکنه نه ده او باید تر پیلولو مخکې لاس څنې واخلم، خو په واک مې نه ده.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

یو څو گامه راڅخه لیرې شوه، سر یې پر دېوال تکیه کړ. له اوښکو ډکې سترگې یې راپکې وگنډلې او ویې ویل:

- نور سترې شوې یم. که یو څوک پیدا شي چې له ځان سره مې بوزي، ورسره ځم. نه غواړم چې خپلې دغې مردارې او له ډېرینو مقرراتو ډکې دندې ته ادامه ورکړم.

بیا رانژدې شوه، تر لاسونو یې ونیولم او راته کړل یې:

- زه د مینې لپاره پیدا شوې یم. ایا دا هم امکان لري چې ټول عمر له درواغجنو او کرکجنو عشقونو سره تېر کړم؟ ته باید د دې تورو په مانا ډېر ښه وپوهېږې. ما په خپلو بېلابېلو ماموریتونو کې د نه ویلو کارونه کړي دي.

له دې سره یې بیا وژړل او ویې ویل:

- ان یو څه وخت مې د بدلمنې ښځې رول لوباوه... مگر باور وکړه چې له ځان، دنیا او هر څه مې بد کېږي. لیکن بیا هم باید خپل ځان وژغورم. اخیر زه هم احساسات لرم. زړه لرم او غواړم د هغو نورو عامو ښځو غوندې د دنیا له ښکلاوو او ارامۍ څخه خوند واخلم... ولې باید له دې نعمتونو بې برخې شم؟

سترگې مې پر سترگو وربرابرې کړې او ورته ومې ویل:

- له دې هر څه سره‌سره زما بیا هم هېڅ له وسه نه کېږي او په دې ته هم خورا ښه پوهېږې.

نایمن مې لاس راخوشې کړ او ویې ویل:

- درواغ وایې. ته هر هغه کولای شې چې زړه دې غواړي. ان زما و ستا اړوند هم.

ولاړه، د کټ پر څنډه کښېناسته. زه یې هم اړخ ته کښېناستم او ومې ویل:

- (زما و ستا) په مانا مې سر خلاص نشو.

نایمن پر مټ سر راکښېښود او ویې ویل:

- ښایي دا به مې د برخلیک پرېکړه وه چې ستا سره مخ شم. سپینه به یې درته ووایم: مینه درسره لرم او هر څنگه چې کېږي باید ما یوه لیرې ځای ته بوزې. له دې ټولو جنجالونو گوښه او پټ ځای ته.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وروسته يې دواړه لاسونه تر غاړه راتاو کړل او ښکل يې کړم...
ورته ومې ويل:
- ولې نه غواړې وپوهيږې چې نه زما او نه هم ستا څه له وسه پوره دي؟ يوازنی کار چې فکر کوم کولای يې شم او هغه هم پوره ډاډه نه يم، دا دی چې قاچاقي دې هندوستان ته واستوم تر څو هلته د خپلې خوښي ژوند وکړې. دا وعده هم درسره کوم چې دغه راز به دې تل پټ وساتم.
نايمن راڅخه وپوښتل:
- او ته؟
ځواب مې ورکړ:
- زه همدلته پاتيږم. وينې مې چې د سر ګرولو ته وزګار نه يم.
هغه په خبرو کې راولوېده او په غوسه يې وويل:
- که خبره يوازې زما د تېښتې وای، نو بيا مې ستا مرستې ته له سره اړتيا هم نه لرله. بس پرېږده يې، ستا سره بايد سړی ببخې ونه ږغېږي.
هڅه مې کوله چې هم يې قانع کړم او هم يې له دغې لويې تېروتنې راوګرځوم. په ډېره ارامی مې ورته وويل:
- ګوره نايمن زما و ستا د شناخت يوازې يو څو ساعته کيږي. ډاډه يم چې د احساساتو دغه ژېغراند اور به دې ډېرته ډېر ژر کښېني، دوباره به خپلې دنيا ته ستنه شې او هر څه به د پخوا غوندې شي. بل دا چې ته په دې لار کې تر ما باتجربه يې او پوهيږې چې له هغوی څخه د دنيا په هېڅ کونج کې نشو ورکېدلای. خامخا او په هر قيمت مو پيدا کوي.
هغې بد-بد راته وکتل، يودم يې پر مخ په چپلاخه ووهلم او په لاس يې له خونې څخه د وتلو اشاره راته وکړه... بېرته خپلې کوټې ته ستون شوم، مګر د هغې فکر يوه شېبه ارام ته نه پرېښودم. ولې غواړي وتښتي؟ ايا دوه‌اړخيزه جاسوسه ده او په خپل دې پلان سره ما په لومه کې بندول غواړي او که ربښتيا هم راباندې مينه شوې ده؟ ايا وړانديز يې ومنم؟ دا او دې ته ورته پوښتنې مې په ذهن کې کښته پورته

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کېدلې. اخیر مې له ځان سره وویل چې هسې چېتې د احساساتو پر خره سپره شوې ده، له ولف او اېکس سره تر لیدلو وروسته به یې بېرته هر څه هېر شي...

* * *

پر شپږ نیمې بجې د نایمن کوټې ته ورغلم. راویښه شوې وه... کله چې مې ورته ووېل د ولف کره څو ځان چمتو کړه، په ماته خوا یې څواب راکړ:

- دباندې ودرېږه چې زه کالي واغوندم!

په موټر کې یې حتا یوه خبره هم راسره ونه کړه او د ولف تر کوره پورې یې سترګې دباندې ګنډلې وې. ما هم په چوپتیا کې خپل خیر ولید.

ولف او اېکس په برنډه کې پر څوکیو ناست ول. زموږ له ورتلو سره اېکس له نایمن سره په جرمني یو څه وګړېد. وروسته ولف ما ته مخ کړ او ویې ویل:

- څو دقیقې وروسته زموږ محترم مېلمانه له دې خاورې وزې...

سره له دې چې نایمن ته مې د نه څواب ورکړی وو، بیا مې هم خدای خبر ولې، د دې خبر په اورېدو زړه ولړزېد... همدلته مې احساس کړه چې هغې ښځې تېنګ اغېزمن کړی یم. ولف وخته لا هغوی ته یو موټر ځانګړی کړی وو. له کوره راووتو. نایمن له ولف څخه تر مخه ښې وروسته ما ته راغله او لاس یې راکړ. لاس مې یې ټینګ ورکښېکښېود. مړ یې راوکتل او کرار یې وویل:

- خدای پامان...

- د لیدو په هیله...

- مګر...

خپله خبره یې پر نیمایي پرېښوده، لاس یې راڅخه کش کړ او ولاړه. څو شېبې وروسته مې د موټر غرهاری واورېد چې وار په وار لیرې کېده او اخیر ورک شو...

د ولف راپکې سترګه وه او په کنایي انداز یې راڅخه وپوښتل:

- طبیعت دې څنګه دی؟

په مطلب یې پوه شوم. په څواب کې مې ورته ووېل:

- ښځې نامې دی...

وروسته مې د دې لپاره چې شک یې ورورباسم، زیاته کړه:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- په ټوله کې هغه یوه خشنه او وچ طبیعته ښځه وه، ټوله ورځ یې په خوب تېره کړه او تر پایه ان راسره وهم نه ږغېده.

ولف یو څه حیران شو او بیا یې وویل:

- ما خو داسې فکر نه کاوه. په هر صورت، بیا هم پر حق وه، په دومره کم وخت کې کله څوک پر چا دومره اغېز کولای شي چې حالات هېر او هر څه شا ته وغورځوي... موږ ټول له یوه ډېر حساس پړاوه تېرېږو او مالومه نه ده چې ساعت وروسته به څه راپېښ شي...

تر یوې لنډې وقفې وروسته یې زیاته کړه:

- نه د کومل په نامه کس پېژنې؟

- هو، د کرمان په ماموریت کې مې څو ځله ورسره ولیدل...

- بالکل، دا مې بېخي هېر ول...

- ایا یو څه په شوي دي؟

- نه، هسې غوښتل مې درنه ووایم چې نوموړی نن شپه دلته راځي.

- اوس چیرې دی؟

- ټاکلې ده نن شپه پر نهه بجې ایسین ته راشي. اوس به پر لارې وي نو.

بیا یې وویل:

- کومل زموږ له نکره مامورانو څخه دی چې د کرمان کارنامې یې له هېچا پټې نه دي...

ځنې ومې پوښتل:

- کوم نوی ماموریت ورسپارل شوی دی؟

ولف سر وښوراوه او ویې ویل:

- هو، فارس ته ځي او زموږ د شبکې د یوې برخې مشرتوب پر غاړه اخلي... اوه ربښتیا دا مې هېر ول چې درنه ووایم: لادزه خو دې په یاد دی؟ هغه څو ورځې مخکې له ځېل کور څخه په مرموزه بڼه تښتول شوی دی... ویل مې ښایي دا خبر تا نه په زړه پورې وي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

- ستا په خیال چا به تښتولی وي؟

- لمر غونډې ښکاره ده چې د متفقینو یوه جاسوسي سازمان دا کار کړی دی، خو مالومه نه ده چې کوم یوه. په هر صورت، زموږ جاسوسانو یې تر اوسه هېڅ څرک نه دی موندلی، خو په غالب گومان ژوندی نه دی.

ولف د لادزه په اړه ږغېدی، مگر زما فکر و ذکر په کومل کې وو چې ساعت دوه وروسته رارسېدی. کومل یو دوه اړخیزه لوبه پیل کړې وه او هېڅ نه پوهېد چې څومره یوه خطرناک قمار ته یې لاس وراچولی دی... پر دې مې ډېر سوچ وکړ چې ایا ولف ته یې رسوا کړم که نه. خو دومره مې سر خلاص وو چې چوپتیا مې د نازي جرمني په زیان ده. ولف راڅخه وپوښتل:

- په څشي کې فکر کوې؟

ساعت ته مې وکتل او ومې ویل:

- اووه نیمې بجې دي... او یونیم ساعت وروسته کومل رارسېږي، خو د هغه تر رارسېدو مخکې دې باید له یوې مهمې موضوع خبر کړم.

ولف وپوښتل:

- دا مهمه موضوع د کومل اړوند ده؟

- هو او نه باید په خبر شي.

- ژر یې راته ووایه، ډېر وخت نه لرو.

دغه وخت موږ په برنډه کې ناست وو. په فارسي سره ږغېدو، مگر د کومل اړوند مالوماتو بیانولو لپاره مې انگلیسي غوره وبلله. ولف په تلوار راته وویل:

- وږغیږه، ولې چوپ یې؟

ورته ومې ویل:

- ښاغلې ولف ته په دې سیمه کې د جرمني جاسوسي شبکې مشر یې او باید خبر شې چې کومل یو دوه اړخیز جاسوس دی او متفقینو ته کار کوي.

هغه ته دې خبر ټکان ورکړ. د اورېدو هېڅ تمه یې نه لرله. ویې ویل:

- ستا پر دې خبره باور کول زما لپاره بېخي گرانه ده.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ومې ویل:

- ما په خپلو سترګو د متفقینو له جاسوسانو سره ولید.

- د هغه په وړاندې اسناد دې باید ځواکمن وي، کنه کار دې خرابېږي.

- داده اوسه اسناد مې دومره پاخه او ځواکمن دي چې تا ته به د شک هیڅ ځای پاته نشي.

- ما په خپل ټول ژوند کې شک ځان ته نږدې نه دی راپرې ایښی، لیکن اوس مجبور یم ستا خبرې په احتیاط ومنم. نو مهرباني وکړه د نوموړي اړوند ټول شیان راته ووایه...

د کومل د لیدلو داستان مې ټکي په ټکي ورته تېر کړ... له ادیټ سره یې اړیکې، د باري موټر جنګېدل او بالاخره مې کیسه د لادزه په کور کې د کورت وژنې ته وغځوله او ورته ومې ویل چې زموږ د کرمان ماموریت خدای راناکامه کړ، کومل راناکامه کړ. کورت هم همده وژلی او باوري یم چې ستا سره تر لیدلو وروسته سملاسي په همدې ښار یا هم دباندې یو بل ځای له متفقینو سره اړیکه نیسي او د خپل نوي ماموریت له ټولو رازونو یې خبروي...

موږ پر همدې مجلس سره ګرم شوي وو چې نابېره د کور په سهیلي برخې کې د یو شي د لوېدو اواز پورته شو. ما و ولف سره وکتل. زه بېله ځنډه له برنډې ځغه لاندې وغورځېدم او د ودانۍ شا ته مې ځان ورساوه... یو سړی مې ولید چې لوېدیخ دېوال ته د ورختلو او دباندې اوښتلو په حال کې وو... وررومې ځغاستل... دومره تېز ورغلم چې سر مې له دېوال سره وجنګېد او له سخت درد سره‌سره مې هغه تر یوه پښه ونیو... هغه په دا بله پښه پر سر لغتې راته بندې کړې... په دې سره یې غوښتل ځان راخخه خطا کړي، مګر ما ټینګ نیولی وو او لاندې مې راکشاوه... ولف مې مرستې ته راورسېد، هغه تر ها بله پښه ونیو او په دواړو مو له دېوال ځخه لاندې راوغورځاوه... پر ځمکه له لوېدو سره سم یې ولف پر مخ لاسي څراغ ورولګاوه او په حیرانتیا یې وویل:

- دا خو زما باغوان دی!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ومې ویل:

- خو په اصل کې د متفقینو کرایي مزدور دی، د کومل اړوند یې زما و ستا خبرې اوریدلي او غوښتل یې ځان د متفقینو رابط کس ته ورسوي تر څو کومل له خطره بچ کړي.

ولف باغوان چې یو ډنګر بلوڅ وو، تر ګرېوان ونیو، راپورته یې کړ او پر مخ یې چپه و راسته چپلاخې ورته بندې کړې. دومره یې وواهه چې اخیر یې له خولې او پزې څخه وینې را ایله شوې. له ولف څخه مې وپوښتل:

- دی په انګلیسي پوهېږي؟

ولف چې سخت غوسه وو، وویل:

- تر دې ګړیه نه وم په خبر، مګر اوس راته مالومه شوه چې زده یې ده او زموږ ټولې خبرې یې اورېدلي دي... په دې سره مې د کومل په باره کې ستا دعوه هم زړه ته ولوېده.

باغوان مو یوې کوټې ته بوتلی. ولف هغه پر ځمکه وغورځاوه، توپنچه یې پر ونیوله او ورته ویې ویل:

- که دې خبرې ونه کړې د دې توپنچې ټولې مرمۍ درېکې تشوم...

باغوان په زاریو شو، پر ځان یې کابو یومخ له لاسه ورکړې وه، لاسونه یې د تسلیمي په دود پورته ونیول او ویې ویل:

- نه، ما مه وژنئ، ټول حال درته وایم!

ولف ترې وپوښتل:

- چیرې تللې؟

باغوان په هماغه انداز ځواب ورکړ:

- د یوه سړي لیدلو ته ورتلم، نوم یې نه دی رامالوم!

ولف په تشي کې په لغته وواهه او ورته ویې ویل:

- چیرې دې ورسره لیدل، د هغه په کور کې که کوم بل ځای؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

باغوان نر بو څه فکر کولو وروسته ځواب ورکړ:
- هر وخت مې د خلیج قهوه‌خانې شا ته ورسره لیدل، اوس هم که ناسې هلته ورشئ، وبه یې وینئ چې راته منتظر دی!
ما ورته وویل:
- درواغ وایې، نوم دې یې حتماً زده دی!
هغه په زاریو راته وویل:
- نه باداره، په خدای قسم که مې زده دی، حتا کور یې هم ولاکه رامالوم دی. گواښ یې راته کړی وو چې که د خپل بادار د کور مالومات ورنه کړم وبه مې وژني. ما هم وچ له مرگ څخه د ویرې له لاسه د هغه د هر امر اطاعت کاوه.
ولف خپل لاسي ساعت ته وکتل او بیا یې ما ته وویل:
- د کومل د راتلو وخت رانژدې دی، ته چابک قهوه‌خانې ته ورشه او که دې په دغو خانگړنو سړی ولید چې باغوان وویل، ورسره په اړیکه کې شه او خان د دوست په توگه ورو پېژنه.
- وروسته څه وکړم؟
- هیڅ سبا غرمه یې د هماغې قهوه‌خانې مخ ته راوغواړه. همدا د هغه د په لومه بندولو یوازنی لار ده.
په تلوار او گړندیو گامونو له کوره راووتم او په موټر کې د یادې قهوه‌خانې خوا ته روان شوم. له مقصد سره نژدې مې موټر یو ځای ودراوه او پلی ور روان شوم... د قهوه‌خانې مخې ته پر اوږدو څوکیو یو څو کسان ناست ول. ما د هغوی له پام را اړولو پرته لاره کږه کړه او د قهوه‌خانې شا طرف ته ورغلم. په شمېرلو گامونو او خانگړي احتیاط پر قهوه‌خانه راوگرځېدم، خو څوک مې په سترگه نشو. د قهوه‌خانې دروازې ته چې راورسېدم، نابېره مې یوه خیرن-پیرن سړي ته پام شو چې اخته وو چای یې څښلې... بنه چې یې مخ ته خیر شوم، ومې پېژاند؛ هماغه کشش لودویک وو چې خان یې په بله بڼه اړولی وو...

د نوموړي په لیدلو مې په مکمله کیسه سر خلاص شو او وپوهېدم چې باغوان د چا په ګوتو ورغلی دی. په دې هڅه کې شوم چې هغه مې ونهویني. پر راغلې لار بېرته د قهوه‌خانې پر شا راتاو شوم، څکه که یې مخې ته تېرېدلای خامخا یې لیدلم. چې څنګه مې د موټر دروازه خلاصه کړه پر غاړه مې د توپنچې یخوالی حس کړ او پر ځای وچ پاته شوم...

- په لیدلو دې خوشحاله شوم بناغلی ریما... هېڅ مې زړه ته نه لوېده چې دلته به دې پیدا کړم... مګر دېره هم حیرانوونکې نه ده، څکه دا ستا خپل وطن دی.

ومې غوښتل چې د ږغ د څښتن څېره ووینم، خو هغه مې پر غاړه توپنچه راکښېکښله او ویې ویل:

- ښور ونه خورې. که دې زما لیدلو ته دېره تلوسه ده، نو ناحقه تلوار مه کوه، زه خپله خان درپېژنم؛ کشیش لودویک یم. زه و ته خو زاړه یاران یو، کنه؟

- بالکل همداسې ده. دېر وخت کېږي سره پېژنو. اوس غواړې څه؟

لودویک لنډ وخندل او ویې ویل:

- ستا لګه چې خیال دی چې همدلته دې په یوه مرمۍ رخصت کړم... مګر نه، دا کار نه کوم. همداسې ښه ده چې هر څه وخت وروسته د یو او بل حال احوال سره اخلو... ښه غوږ راته ونیسه؛ یوازې یوه پوښتنه درڅخه کوم: د ولف ګنګ پر باغوان څه تکه رالوېدلې ده؟

- نه یم په خبر!

- ګوره ریما توپنچه مې په بې‌ږغه اله سمبال ده، که یسته شاجور درپکې تش کړم هم به څوک راخبر نشي. ان هغه د قهوه‌خانې مخې ته ناست کسان هم نه... نو ښه دا ده چې لږ هوښیار شې او پوښتنه مې سمه راځواب کړې.

ومې ویل:

- اجازه راکړه چې مخ دروارږوم او ځواب درکړم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لودویک مانادارہ خندا وکړه او ویې ویل:

- نه، همداسې بهتره ده، ځکه نه غواړم مخ دېووینم او ګوره په دې هم پوهېږم چې کیسه څه ده، صرف غواړم ستا له خولې یې واورم، نو دروغ مه راته وایه.

- چې خبر یې، نو بیا زما څخه ولې پوښتنه کوې؟

- بښې ډېر ږغېږې ریما، ځواب راکوې که نه؟

له دې سره جوخت یې تومنچه پر څټ راټینګه کړه او زیاته یې کړه:

- تر پنځو حساب کوم او وروسته دې ولم.

ومې لیدل چې بد پساو شوی وم او د خلاصون یوازنۍ لار د هغه پوښتنه ځوابول دي. لودویک چې څنګه وویل درې، ما ږغ پر وکړ:

- ودرېږه!

- بالاخره دې سر ته عقل راغی!

- ستا غوندې شیطان چې راځي عقل هم ورسره راوړي...

- مګر همېشه نه، ځینې وختونه دغه شیطان نور کارونه هم کوي... اوس خبره راته وکړه!

که څه هم زړه مې نه غوښتل چې رښتیا ورته ووایم، ځکه په دې ډول کومل ژغورل کېدی... خو چاره نه وه. د تومنچې خوله مې په څټ پورې نښتې وه او شا ته ولاړ سړي زړه‌سوی هم نه پېژاند... ورته ومې ویل:

- باغوان رسوا شو او د هر څه اقرار یې وکړ... وادې ورېدل؟ اوس نو څه مخ دې پرته کړه!

لودویک وویل:

- هیڅ مهمه نه ده، د موټر دروازه دې خلاصه کړه!

دروازه مې پرانیسته او شترنګ ته کښېناستم. هغه راته وویل:

- دواړه لاسونه پر شترنګ کښېږده، خبرې مې نه دي خلاصې شوي...

امر مې یې عملي کړ. وروسته لږ شا ته شو او ویې ویل:
-کله چې ولف ته ورغلې ورته وبه وایې چې هېڅوک دې ونه لیدل او باغوان درواغ ویل... بیا خان غوسه وښیه او هغه ووژنه. په خبره مې ورسېدې؟ د هغه د وژلو خبر سبا خپله ما ته رارسېږي، ته زحمت مه باسه. اوس ورځه کش پر واچوه!
د ولف د کور مخې ته یو څو دقیقې همداسې په موټر کې کېناستم؛ د خان، ژوند او گام پر گام پېښېدونکو خطرونو په اړه مې فکر وکړ... څو واره له مرگه ژغورل شوی وم، مگر داسې چانسونه خو هر وخت نه وي.
څه باندې نهه بجې وې. ډاډه وم چې کومل به نور هېڅکله رانشي... د ولف چې څنگه سترگې راباندې ولگېدې ویې پوښتل:
- هغه دې ولید؟
د کوټې په کونج کې ناست باغوان ته مې اشاره وکړه او ومې ویل:
- دغه بلاگي درواغ ویلي ول... هېڅوک مې ونه لید. د خلیج قهوه‌خانې نوم یې هسې زموږ د غولولو لپاره یاد کړی دی.
ولف له غوسې سور و شین شو، راوغورځېد او باغوان یې دومره ټینگه لغته په دا نس کې وواهه چې هغه سره وپېچل شو او پر ځمکه ولغړېد... ډېره هڅه مې وکړه چې توپنچه راوباسم او باغوان ووژنم، خو ونه توانېدم... ولف دومره ورته په خښم وو چې خان یې هم نه پېژاند. د کومل خیانت یوې خوا ته او د باغوان جاسوسي بلې خوا ته، پر خان یې کنټرول یومخ له لاسه ورکړې وو.
باغوان چې زگېروی وکړ او یو څه راپرخود شو، ولف توپنچه ورته سیخه کړه او په درد او کرکه یې ورته وویل:
- تا رزیل خاین قصداً درواغ راته وویل تر څو هغوی ستا په څنډېدو شکمن شي، د خطر بوی پر ولاړ شي او هغه خاین زموږ له منگولو وباسي.
باغوان په ژړا شو او ویې ویل:
- نه باداره ما درواغ نه دي ویلي. له هغه سړي سره مې هر وخت هماغته لیدل. باور وکړئ!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ولف چیغه کړه:

- غلی شه، تا هسي خوشي چتي ځان تر هغوی قربان کړ...

په دې پسې د کوټې په فضا کې د څو دزو ډغ وپېچل شو... باغوان په لومړی مرمۍ سره وځرخېد او په دوهمه او دریمه یې د تل لپاره سترګې پټې شوې.

له ټپونو څخه یې ګاټه(غلیظه) وینه راوبهېده او د ځمکې مخ یې سور کړ. ولف په داسې حال کې چې سترګې یې د هغه په جسد کې وې، وویل:

- دغه مرمۍ باید د کومل پر سینه لګېدلي وای، مګر د هغه نیول نور امکان نه لري.

هغوی چې ولیدل باغوان وځنډېد پوه شول چې کیسه څه ده.

وروسته یې ما ته وکتل او زیاته یې کړه:

- هسې نه له دې کوره یې ته د راوتلو په حال کې لیدلی یې... اوس نو کومل په ایسین کې دی، مګر زموږ سره نه، بلکې له هغوی سره... که په ګوتو راغی، زه به یې خوښ شم...

ترې ومې پوښتل:

- اوس باید څه وشي؟

هغه د کوټې د دروازې خوا ته روان شو او ویې ویل:

- د دې سېې لاښ باید له دې ځایه وایستل شي!

د هغه له وتلو سره سم مې باغوان ته وکتل. درواغ هغه نه، بلکې ما ویلي ول... مګر نو څه مې کړي وای... خپل ژوند مې په خطر کې لوېدلی وم... په حقیقت کې هغه زما بلا ته ودرېد... لودویک غوښتل هغه ووژل شي. د هغه یوازنی ګناه دا وه چې له دوښمن سره یې په پیسو کار کاوه.

البته په دې بیا خوښ وم چې باغوان زما نه، بلکې ولف په لاس وژل شوی وو. ویل مې ښه شو زما لاسونه یې په وینو ونه لړل شول. د باغوان وژنې هېڅ اغېز راباندې ونه کړ، ځکه د جاسوسانو د نړۍ هر اوسېدونکی تر دې لا په وارو-وارو بدو صحنو شاهد وو. ټول لګیا ول یو او بل یې تر خپلو هیوادنیو ګټو ځارول. یوازنی شی چې دلته یې ارزښت نه درلود هغه زړهسوی او رحم وو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په هماغه شپو مو د خرما ونو د باغچې په منځ کې یوه کنده وکیندله او باغوان مو پکې ښخ کړ. همدا د ستونزې تر ټولو غوره هواری راته وایسېد، ځکه که مو جسد له ښاره دباندې یو بل ځای غورځولای، نو ډېر ژر به یې غوغا جوړولای شوه، مګر اوس یې هېڅ نښه نه وه پاته. ولف خورا نارامه ایسېد، پرله پسې یې سګرېټ ځکول او په خونه کې لر بر ګرځېد راګرځېد.

ګړی وروسته یې له خپل بیک څخه یو وړوکی دسکول راوایست، پر مېز یې کېښېنود او خلاص یې کړ. یوه مخابراتي دستګاه وه. ساعت ته یې وکتل او ویې ویل:

- نیم ساعت پاته دی!

پر څه کم یوولس بجې یې دستګاه چالانه کړه او د خپل راپور مخابره کولو ته اړم شو. تقریباً نیم ساعت اخته وو. د کار تر تمامېدو وروسته یې وویل:

- څو دقیقې وروسته به په اروپا، افریقا، سهیل ختیځه اسیا او منځني ختیځ کې زموږ ټولې جاسوسي ځانګې د کومل له خیانت څخه خبرې شي او د نوموړي د نیولو تلاښونه به پیل شي. کومل د خلاصون لپاره یوازې یوه لار لري هغه دا چې د ځګړې تر پایه په یوه غار کې پټ شي.

له دستګاه څخه ږغ راواورېدل شو. ولف چابک د اورېدل کېدونکو شیانو په لیکلو شروع وکړه. د دستګاه تر بندولو وروسته یې پر پاڼه لیکلي شفرونه راته تشریح کړل. داسې یې ورته ویلي ول:

*(جاسوسانو ته امر وشو چې کومل له لیدلو سره سم ووژني.)*

ولف ګنګ یادانښت پر مېز کېښېنود او ویې ویل:

- ډېره مننه ملګرې. د کومل د خیانت په رسوا کولو سره دې زموږ سازمان ته ډېر لوی خدمت وکړ. زه کوښښ کوم چې ژر دې جرمني ته واستوم. ستا څخه تر دې ځای په انګلیسي ژبو هیوادونو کې غوره کار اخیستل کېدای شي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ورته ومې ویل:

- زما خپله تر نورو ځایونو ایران یا هم د منځني ختیځ هیوادونه خوښ دي.

هغه تر یوه لنډ ځنډ وروسته وویل:

- ستا مخ ته یوه روښانه راتلونکې پرته ده او یو عالم داسې شیان شته چې باید ویې وینې او ویې پېژنې. ستا وضعیت ته په کتلو سره د دې وخت رارسېدلی دی چې اړونده ځانګېزه پوهه او مالومات دې زیات شي.

- خیر، وګورو چې په راتلونکې کې څه پېښېږي.

- راتلونکې؟! فیصله باید وخت نه، بلکې موږ تاسې پهخپله وکړو. په هر صورت، تر دې زیات دې وخت نه نیسم. ستړی یې... کولای شې خپل استوګنځي ته ولاړ شې. سبا سهار سره وینو.

له ولف سره خدای پاماني وکړه او د خپل لنډمهاله استوګنځي پر خوا وخوځېدم. کور ته نږدې مې موټر ودراوه، ځنې راکښته شوم او دروازه مې یې وتړله. همدغه شېبه مې نابېره یو نارینه اواز واورېد چې ما ته په خطاب یې وویل:

- منه ګران ملګري!

چابک مې توپنچې ته ورحمله کړل. شاوخوا مې ژر-ژر وکتل، هېڅوک مې ونه لید. یوې خوا ته هم رڼا نه ښکارېده. دغ شناخته راته وایسېد. لودویک ته ورته وو. په همدې سوچونو کې وم چې د لاسې ځراغ رڼا مې پر مخ ولوېده. ځنې اړخ ته شوم، رڼا هم راپسې را ایسته شوه. نارامه یې کړم.

- توپنچه دې جېب ته واچوه!

- ته یې څوک؟

- درته ومې ویل چې توپنچه دې جېب ته واچوه، اړنیا یې نشته.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه سهي ويل، ځکه که يې زما د وژلو نيت درلوداى له موټر څخه د راکوزېدو په حال کې يې ېېخاره ويشتلاى شواى.

له مخامخ لوري د پښو کښهارى پورته او د ځراغ رڼا رانژدې شوه. انګېرنه مې پرځاى وه؛ هغه لودويک وو. هماغه شيطان چې هېڅ ځاى يې پر ارامه نه پرېښودم. چې ښه نژدې راغى، لاس يې پر اوږه راکښېښود او ويې ويل:

- منه، ډېر ښه ولوېدې. له دې پرته دې بله چاره هم نه درلوده!

ومې ويل:

- باغوان ووژل شو!

- په څو مرميو؟

- مګر ما ونه واژه.

- نو ولف ورته غوسه شو او مړ يې کړ؟

- هو او ته ېېغمه شوې، مګر زما په اند قاتل ولف نه، بلکې ته يې چې هغه خوارکى دې وواژه. هغه زما تر درواغو ځار شو.

لودويک لنډه خندا وکړه او ويې ويل:

- چې ربښتيا شي په موږ تاسې کې يو هم قاتل نه دى او که له بله اړخه ورته وګورې، نو ټول له يوه مخه قاتلان يو. حتا ته هم چې شانيها دې وواژه. مګر دا انسانوژنې مهمې نه دي. مهمه دا ده چې موږ لګيا يو انسانان وژنو، خو هېڅوک مو مخې ته نه درېږي. موږ تاسې خپل په خپله يو او بل ته سزاوې سره ورکوو. تر دې نو غوره محاکمه نشي کېداى.

زه يو څه سره وښورېدم. لودويک پر اوږه کښېکښېلم او ويې ويل:

- زه يوازې نه يم... دوه ملګري مې څو ګامه ها خوا ته ولاړ دي.

- په مطلب دې ونه پوهېدم.

هغه خپل څراغ‌والا لاس راپورته کړ او ویې ویل:

- دا دی وګوره توپنچه مې نه ده په لاس کې، مګر په جېب کې راسره ده. په دې حساب نو دا ګړی ته تر ما برلاسی یې. دا دی سر مې درخلاص کړ، هسې نه کومه بیعقلي وکړې.

په مطلب یې ورسېدم او ورته ومې ویل:

- صرف غوښتل مې پوښتنه درڅخه وکړم چې د شپې دا وخت دلته څه کوې. بل هدف نه لرم، خبره دې وکړه!

لودویک په مخ کې د جدیت نښې راڅرګندې کړې او ویې ویل:

- نو غوږ شه؛ ولف ګنګ خپله د شفرونو کتابچه چېرې پټوي؟ دا زما لپاره تر هر څه مهم سوال دی.

په ارامی مې ورته وویل:

- څنګه ده چې خپله یې له هغه ونه‌پوښتې؟

- ملنډې پرېږده، ځواب راکړه!

- په مطلب دې نه پوهېږم.

- ډېره ساده ده، غواړم چې ته هغه کتابچه راته راوړې.

په خلق تنګی مې ورته وویل:

- ښه په دې خاطر دې ملګری راته وویل... ستا نو خوله خوږه شوه؛ لومړی دې راڅخه وغوښتل چې باغوان ووژنم. هغه مړ شو. اوس نو فکر کوې چې هر امر راباندې وکړې زه به یې پر سر سترګو ومنم، مګر نه ملګرې دا ډېره بنده بولم.

- یانې مطلب دې دا دی چې دا وړاندیز مې را ردوې؟

- نو ستا خیال دی چې ویې منم؟

- بالکل، ځکه له هرې خوا چې یې راګز کړې ستا په ګټه دی.

- هر سړی په خپله ګټه ښه پوهېږي.

لودویک بد-بد راته وکتل، له اوږې څخه یې لاس ایسته کړ، د پتلون له جېبه یې توپنچه راوایسته، پر تندي یې راونیوله او ویې ویل:

- اوس دې خواب څه دی؟ ناحقه مې دې ته مه مجبوروه چې په زوره يې درباندې وکړم. غواړم په خپله خوښه يې وکړې.

سر مې يو څه شا ته کش کړ او ومې ويل:

- مجبورولای مې نشې، ځکه ستا له دې وړاندیزه مې کرکه کيږي. اوس نو بوازې يوه لار درپاتې ده: زما وژل. ان همدااوس چې گوته پر ماشه راته ولاړ يې...

لودويک ورو سر وخوځاوه او ويې ويل:

- سخت زړور يې... مگر زه دې نه وژنم. که يې په خپله رضا کوې، نو ښه به وي. يو څه وخت به درکړم چې فکر وکړې. ډاډه يم چې بالاخره به له خپل خره راکوزيږې، ځکه ډېره گټه يې تا ته رسيږي... هغه بيعقل باغوان ونه توانېد چې باده کتابچه پيدا کړي، مگر ستا رتبه تر هغه لوړه ده او بېشکه بريالی کېدلای شې.

سره له دې چې مرگ مې د سترگو په وړاندې ليدی، بيا هم ورته کلک شوم. تر يوې لنډې چوپتيا وروسته مې ورته وويل:

- نه دې گواښ گټه کوي نه بل شی. ښه به دا وي چې نور مې پرېږدې ستړی يم.

لودويک توپنچه کښته کړه او ويې ويل:

- سهي ده، مگر ستا خير به دې کې دی چې له سرتمبگۍ لاس واخلې. بل دا چې که دې خواب منفي وو، نو له ژونده لاس ومينځه. داسې نابېره به دې پښې پر سر در واړوم چې هېڅ به ونه پوهيږې. دوې مرمۍ دې اجل دی.

- نور څه خو دې نه ويل؟

- نه، ملگرې. د بيا ليدو په هيله. شپه په خير!

- شپه په خير!

هغه همالته پاته او زه د کومله کور ته ځنې نوتم. مزدور د دروازې تر تړلو وروسته راته وويل:

- تقريباً يو ساعت کيږي چې يوه ځوانه ښځه درته منتظره ده.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په حیرانتیا مې ترې وپوښتل:

- ما ته؟

مزدور په داسې حال کې چې خپلې خوبولې سترګې یې موښلې، وویل:

- هو، یو ساعت مخکې راغله او ویې ویل چې نوم یې انجیلا ده.

- انجیلا؟

- هو، په شانتي برنډه کې ناسته ده. پېژنئ یې؟

- هو، د راتلو په تمه یې وم.

له ډېرې خوښۍ په جامو کې نه ځایېدم. په منډه هغې برنډې ته ورغلم. انجیلا دلته څه کوي؟ ولې د ولف کره نه ده تللې؟ او زه یې څنګه پیدا کړی یم؟

دا او دې ته ورته سوالونه مې پر لارې له ځان څخه کول. له هغې خونې څخه چې یوه دروازه یې شانتي برنډې ته راخلاصه وه، تېر شوم.

- انجیلا، ته دلته څه کوې؟

پر څوکۍ ناسته ښځه چې شا یې زما خوا ته وه، کرار پاڅېده او مخ یې را واړاوه. په لیدلو یې له ډېرې حیرانۍ لړزې واخیستم. کټمټ لکه سړی چې برق ونیسي. پښو مې کار پرېښود.

- نه، نه، ناشونې ده... هغه مړه شوې وه.

- نه، زه نه یم مړه... دا یم ژوندۍ یم، دا زما اروا نه، بلکې زه خپله یم... راته وګوره. راشه لاسونه مې لمس کړه!

- خو ما خپله ولیدې چې مسمومه یې کړې... دا ناممکنه ده!

هغه مارګریتا وه. وړاندې راغله، تر لاس یې ونیولم او ویې ویل:

- ته ملامت نه یې چې دومره حیران شوې، ان ما خپله هم چې ځان ژوندی ولید، حیرانه شوم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

پر ځان مې لږ کابو پیدا کړه او ومې ویل:

- باني ډاکټر ګوان هغه ورځ زهر درونه لګول؟ ایله اوس پوه شوم چې هغه د کوم راز د ویلو سرنا راته ږغوله.

مارګریتا وویل:

- هغه یوه بېساري قرباني ورکړه. د همدې کار په بدل کې یې خپل سر وبایلود.

ځنې ومې پوښتل:

- اوس دلته څه کوې؟ لودویک راستولې یې؟

- نه، زه یو بل ماموریت لرم. تر هر څه لومړی باید درته ووایم چې کور محاصره دی او ته په بشپړه توګه بېوسه یې. د توپنچې استعمال هم یومخ له ذهنه وباسه.

- زما خو په دې سر نه خلاصېږي چې زه څو تنه یم چې مکمل کور یې راته محاصره کړی دی! تر اوسه دې لا د غځ نشه له سره نه ده وتلې؟

- له نېکه مرغه دا وار یو بل ډول معامله درسره کوم. خپل شیان دې ژر تر ژره راټول کړه، ځکه باید همدا اوس حرکت وکړو.

- نو ستا او ستا د ملګرو ماموریت دا دی چې ما وتښتوئ؟

- همداسې ده او ډاډه اوسه وژنو دې نه، خو که دې کوم چل وکړ، بیا دې نو خیر نشته...

هغې لنډ او اوږده شپېلکان ووهل. لنډه شېبه وروسته مې شا ته د پښو کښهاری واورېد... دوه تنه راغلل او دواړو اړخونو ته مې ودرېدل. مارګریتا مې د پتلون له جېبه توپنچه راوایسته او ویې ویل:

- اوس سهي شو!

وروسته مې د هغو دوو کسانو تر څار لاندې شیان راغونډ او په بیک کې واچول. له کور څخه د وتلو پر وخت مې ان د کومله مزدور هم ونه لید. کرار-کرار مې په هر څه سر خلاص شو؛ کومله او مزدوران یې هم د هغوی کسان ول.

د شپې په تیاره کې یې موټر ته پورته کړم. مارګریتا د موټروان څنګ ته کښېناسته او د یوه نامالوم مقصد پر خوا روان شوو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

له ایسین څخه دباندې تر یو څه لار وهلو وروسته موټر ودرېد... د بتیو په رڼا کې مې یوه دوه ماشینه الوتکه ولیده چې دوه نفره یې بغل ته ولاړ ول.

زما له ساتونکو څخه یو یې الوتکې ته ورپورته شو. وروسته زه یې وروخېژولم. مارګریتا او هغه بل کس هم راپورته شو. دروازه یې بنده او الوتکه په هوا شوه. دا کیسې دومره په چټکۍ تر سره شوې چې ښځې یې ګنګس کړم. مارګریتا مې د دې پوښتنې په خواب کې چې چېرې مې بیایاست؟ هېڅ ونه ویل... هر څه مبهم او تیاره ول.

هوا روښانه شوې وه چې الوتکه راکښته شوه. لا هم نه پوهېدم چې چېرې یو؛ په ایران کې دننه که دباندې! کله چې د الوتکې ټایرونه پر ځمکه ولګېدل، له لیرې څخه مې د ښار ځنډې ولیدلې. ښار ته زموږ د بېولو په مقصد لاندې یو موټر اماده ولاړ وو...

ګړی وروسته د کویټې د اورګاډي د رییس په کوټه کې وم. ګواکې ښېرنه یې هماغه ځای ته راوستلی وم چې له ماجراوو ډک ژوند مې ترې پیل شوی وو او اوس مخ پر ختمېدو وو.

له ځان سره مې وویل:

- یانې زه د متفقینو د جاسوسی سازمان ته دومره ګواښونکی یم چې دغسې چلند ته اړ شول؟!

په کوټه کې زه، د اوسپنیزې پټلی رییس، مارګریتا او هغه دوه ساتونکې موجود ول. څو دقیقې وروسته یو زوړ او سنګین سړی راننووت. سیده زما خوا ته راغی، لاس یې راکړ، د سګرېټ ست یې راته وکړ او ویې ویل:

- فکر کوم کار دې جوړ شو!

له سګرېټه مې لوخړه پورته کړه او ومې ویل:

- نه پوهېږم!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه سړي وويل:

- تاسې له دې ځايه سيده ممبيي ته ځئ. هلته د يوه ښه ژوند ټولې اسانتياوې درته په تمه دي.

په خبرو کې يې ورولوېدم او ومې ويل:

- دا کار مو ولې کړی دی؟

هغه وخندل او ويې ويل:

- دا کار مو ستا د يوه همکار د يوه ډېر لوی خدمت په بدل کې کړی دی. هغه ښځه ده او پر تا مينه ده.

ګنګس وم. ترې ومې پوښتل:

- پر ما مينه ده؟ ياني څه؟ ستاسې په خبره مې هېڅ سر منبکه خلاصېږي...

سړي وويل:

- د نايمن په نوم مېرمن پېژنې؟ هغې موږ ته ډېر مهم اسناد راکړل او ځان يې هم راوسپاره.

ترې ومې پوښتل:

- د هغې غوښتنه څه ده؟

ويې ويل:

- له يوه داسې سړي سره ارام ژوند تېرول چې تر ټولې دنيا پر ګران دی... او هغه سړی ته يې.

- اوس وپوهېدم. نايمن له خپل سازمان سره د خيانت په بدل کې ستاسې څخه زه وغوښتلم... بده معامله نه ده.

- ناخوښه يې؟

- نه پوهېږم څه ووايم. دا ګړی خو د خپل کار له ځايه سلګونه کېلومتره راليرې يم. نايمن ستاسې سره ده؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه وویل:

- هو، هغه په ډېره تلوسه ستاسې لار څاري... اندېښنه مه کوه، هغې ستا ژوند وژغوری، څکه وېره وه چې هسې نه په يوه ماموريت کې له منځه ولاړ شې. خپله هم وينې چې نور ستا او ستا د نورو همکارانو فعاليتونه بې‌ګټې دي، مګر اوس دا دی هر څه لرې: يو مسترح ژوند او يو ارام وجدان...

ناڅاپه مخامخ دروازه خلاصه شوه، نايمن پکې راښکاره شوه او وېې ويل:

- او ما لرې...

د هغې ځلېدونکو سترګو ته مې وکتل، بې اختياره ورپاڅېدم او په غېږ کې مې ونيوله. هر څه مې هېر کړل او په غوږ کې مې تر شونډو لاندې ورته وويل:

- څه يوه لويه فداکاري. بالکل، يو مسترح ژوند، يو ارام وجدان او يوه مينه...!

**پای**

۲۰۲۴م-اپریل-۵

**مالموء سویډن**

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary